# پښتانه ننګیالي

476-9

تصنیف ———— هلالی

مکتبه جمهوریت پشاور

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۹۵۸
۱۵۱

# ننګیالي پښتانه

## لومړنۍ برخه

الحاج محمد خانمیر هلالی

خپرونکی :- مکتبه جمهوریت پشاور

قیمت :- پنځه روپۍ ۵

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

476



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځکیالی پښتانه

# پیښکښ

دَ

هرهغې پښتون په نوم چه

دَ

# اِسلام

وقار او چت ساتل او پښتو پښتونولی ژغورل

دَ خپل ژوندون اصل

غرض ګڼړی

پښاور      اول دَ      ربیع الاول

کال ۱۳۷۷ھ

الحاج هلالی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دَ
# تنکیالی پښتانه دَ ماخذ دَ کتابونو نومونه

---

۱ :- مخزن وتحفه
۲ :- اکبرنامه
۳ :- نادرالتاریخ
۴ :- تاریخ هندوستان
۵ :- تاریخ فرشته
۶ :- تاریخ افغانستان
۷ :- تاریخ افغانستان سرویلم
۸ :- دَ پښتنو تاریخ
۹ :- تاریخ ازاد پټهان
۱۰ :- تاریخ شیرشاهی
۱۱ :- تاریخ افغانستان افغانی
۱۲ :- تاریخ پنجاب
۱۳ :- واقعات دارالحکومت دهلی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# فهرست
# د
# مضمونونو


اعلحضرت شهاب الدین غوری ۔

اعلحضرت شیرشاه سوری ۔

خوشحال خان خټک ۔

الحاج میرویس خان ۔

اعلحضرت احمد شاه درّانی ۔

غازی وزیر محمّد اکبرخان ۔

جرنیل بخت خان ۔

جرنیل عظیم الله خان ۔

جرنیل غلام غوث خان ۔

اعلحضرت محمد نادرشاه ۔

د آزادئ جنګ ۔

د قیدی آواز ۔




Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بسم الله الرحمن الرحيم

# رومبنۍ وینا

له قلمه دَ

ښاغلی دوست محمّد خان کامل - ایم - اے - ایل ایل - بی ایډوکیټ

(پښاور)

مولنا حاجي محمّد خانمیر صاحب هلالي دَ سابق صوبه سرحد یو ډیر ښه سیاسي کارکن، صحافي او لیکوال دے - او په نظم و نثر دواړو کښې ئې طبع روانه ده - هغوئ تر اوسه دَ مختلفو مضمونونو، مقالو او کتابونو په شکل کښې په پښتو ژبه کښې ډیر څه لیکلي دي - او لکه چې م عرض وکړو - دَ هغوئ دَ هغو آثار دَ ادب په دواړو صنفونو نظم او نثر مشتمل دي - چې په هغو کښې ښکلے رسول ربه نثر کښې دَ حضور سرور کائنات صلی الله علیه و آله و اصحابه وسلم دَ پاک ژوند حالات، دبدر غزا (نظم)، دَ نبیانو امام (نظم)، سیرة صدیق اکبر رض (نظم)، او سیرة فاروق اعظم رض (نظم)، تیغ کمال (نظم)، مولود خیر البشر ص (نثر)، دین دنیا (نثر)، وغیره کتابونه لیکلي دي - او خاص طور سره دَیادولو قابل او په پښتو ادب کښې دَ خپل موضوع له رویه دَ ډیرے مبارکے او قدر وقابلے اضافے ګڼلے کیدو مستحق - په دغو کښې څنے کتابونه دَ پښتو دَ امتحاني نو نصاب کښې هم داخل دي - له دے کبله دَ حاجي صاحب ذات په حیثیت دَ یو مصنف او مؤلف د کومے پیژندګلو محتاج نه دے - او نه دَ هغوئ ادبي تخلیقات اوس تعارفونو او



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پیش لفظونو ته اړی لری۔ خو هرکله چه هغوی ماته دَ هغوی په دَ نوی کتاب په طور دَ پیش لفظ دَ خپلې رائے لیکلو دَ پاره وفرمایل نو دا یو خو توری دَ هغوی دَ حکم په تعمیل کښې لیکم :-

دَ نذرالله نو دے کتاب " ننګیالی پښتانه " پښتو ادب ته دحاجی صاحب یوه بله ښه بخښښنه ده۔ په دے کتاب کښې لکه چه دَ نوم نه ظاهر ده۔ دَ هغو پښتنو دَ ژوند حالات او شاندارے کارنامے راغونډے او بیان کړیدی چه په دین او ملت، قام او ملک ئے په خپل خپل وخت کښې ننګ کړیدے۔ دَ اسلام دَ سربلندئ دَ پاره ئے لوئے مرستے کړیدی۔ او دَ کفر دَ چپاوُنو نه ئے مسلمانان ژغورلی او په امان ساتلی دی۔ خپل قام او ملک ئے دَ خارجی اقتدار استحصال نه بچ کړیدے۔ او په دے لار کښې ئے لوئے قربانئ کړیدی او داسے ئے کړی دی چه ئے دَ اسلامی سلطنتونو بنیادونه ایښی او مضبوط کړیدی نو دَ پښتنو دَ پاره ئے هم خپل واک او آزادی حاصله کړیده۔ او دَ هغوی اجتماعی او قامی ژوند ئے جوړ کړے او ښه کړے دے۔ دَ دے کتاب دلیکلو نه دَ هغوی مقصد په پښتو کښې صحیح اسلامی او پښتنی روح اوچتول او پیدا کول او ژوندی ساتل دی۔ دا مقصد په حقیقت کښې ډیر اوچت او دَ ستائنے وړ دے۔ او دَ دغه کسانو دَ حالاتو علم چه خپل عمرونه ئے دَ دغه روح او جذبے په حرکت تیر کړی دی۔ دَ دغه په حاصلولو کښې یقیناً تر ډیره حده پورے مدد او مرسته کوی دَ دے کتاب دَ لوستو نه پس زه امید کوم چه انشاء الله تعالیٰ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حاجي صاحب به د دهٔ په ذريعه په خپل مقصد حاصلولو کښې کامياب شي۔

په دې کتاب کښې خو داسې هستو ذکر هم شته چه هغوئ د خپلو کارنامو په وجه ډېرې ياتې شهرت درلود دې۔ او ډېر کم کسان به وي چه د هغوی د کارنامو نه به واقف نه وي۔ او څنې داسې کسان په کښې هم يادشوي دي چه اګر که د تاريخ عالمان او طالبان خو هغو سره متعارف وو ليکن عام اولس ترې خبر نه وو۔ خو د هغوئ کارنامې هم دې قابلې دي چه د قام هر فرد ته رسولې شوې دې۔ که هر څو لکه چه ما عرض وکړو په دې کتاب کښې يادشوي اکثر کسان ډېر غټ مشهور دي او تقريباً هر خاص وعام ورکړې ترې خبر دې خو بيا غلي مؤلف چه څه د دې کسانو د کردارونو متعلق ليکلي دي، په داسې تفصيل او وضاحت معلومات قام ته رسول د نظري او عملي دواړو زاويو له رويه يو ډېر مفيد او اهم کار دې۔ د دې کردارونو د ژوند ډېر واهم واقعات د تفصيل تو نه، مره د دې چه د هغو علم ضروري دې۔ د قام اکثريت ناخبره دې۔ مثلاً حمون د قام اکثر خلق چه لږ ډېر تعليم ئې کړې دې له دې خو خبر دي چه حضرت سلطان شهاب الدين غوري رحمة الله عليه په صحيح معنو کښې د هندوستان فاتح او په کښې د اسلامي حکومت بنيا د ايښودونکې دې۔ ليکن د دې اهم او عظيم الشان مقصد په حاصلولو کښې چه هغه د کومې لوړې جذبې او اوچت کردار ښيګنه کړې وه او د کومو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مشکلات نه مخامخ او پېر برشوے وُ هغه ډیرو لږو کسانو ته جوت دي. ځکه امید دے چه د حاجي صاحب کتاب به په دې حقله او د غیبے د نورو ښاغلو کردارونو د کارنامو متعلق د لوستونکو په معلوماتو کښې ډیرې مفیدې او قیمتي اضافې وکړي.

په دے کتاب کښې چه د کومو ننګیالو پښتنو حالات دي په هغو کښې ځنې په پښتونخوا او ځنې (لکه بخت خان، عظیم الله خان او غلام غوث خان) هندوستان سره تعلق لري. د پښتونخوا او هندوستان په تاریخ کښې ځنې داسے عظیم شخصیتونه تېر شوي دي چه هغوئ بېلکه چه یکاروو تاریخ په دې کتاب کښې نه مي مثلاً شهید حافظ رحمت خان رح روهیله. او که دده ذکر چرته په کتاب کښې راغلے هم دے نو ضمناً. ستائیلے حافظ صاحب د پاني پت په دریم جنګ کښې ډیر اهم کردار ادا کړے دے. او د دنه علاوه هم د هغوئ مجاهدانه کارنامے د هندوستان د پښتنو په تاریخ کښې لوئ مقام لري. ډاکټر بنا غلي مؤلف د احمد شاه بابا په احوال کښې خو د هغه اسداد ذکر کړے دے چه کوم یے دې جنګ کښې حافظ صاحب د اسلام د ښیکر کړے دے خو حمّا تر خیاله د هغوئ عظیم شخصیت خان له یو جدا عنوان غواړي.

د دے کتاب په آخري باب کښې "د آزادئ جنګ" کښې چه د پښتنو د تاریخ یو ډیرے اهم برخ سره تعلق لري. د ډیرو ننګیالو پښتنو لکه حاجي صاحب ترنګزي مرحوم، صاحبزاده عبدالقیوم مرحوم او فخر افغان خان عبد الغفار خان؛ ود د هغوئ د ملګرو د



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ژوند، کارنامو او قربانو چه هغوئ دَدين، قام او ملک په خدمت کښې دَ انګريزی استبداد برخلاف کړيدی حالات ليکلی شويدی په دے باب کښې دَ ډيرو داسے خبرو ذکر دے چه عوام خه چه ډير هغه خلق چه سياسياتو سره خاصه دلچسپی لری اؤ سياسی تاريخ په حيثيت دَ يو مضمون مطالعه کړی به ترِ هم نه وی خبر۔ او دغه غلی مؤلف حاجی صاحب چه په دے انقلابی تحريکاتو کښې په خپله هم ډيره موده کار کړے اؤ دَ تيلو او دغه تکليفونه ئے تير کړيدی دَ هغه لو ذاتی معلوماتو په بنا ليکلی دی۔ دَ بادشاه خان په سياسی ژوند کښې يو داسے دور هم تير شويدے چه هغه وخت ډيرو مسلمانانو خوا که دَ هغوئ اختلاف په محکم اساس ولاړ نه وو۔ په ډيره نيک نيتئ اختلاف کړے ؤ۔ خو دے خبره کښې شک کول به دَ سپينو دَ سپينوالی نه انکار او حقيقت نه سترګے پټول وی چه پير ګئی سره په مقابله کښې باچا خان دَ اسلام او پښتون قوم خدمت کړيدے او په دغه لاره کښې ئے چه کوم مصيبتونه تکليفونه او ظلمونه زغملی دی او دَ هغوئ مشرئ لاندے پښتنو چه دَ اسلام ملک او ملت دَ پاره کومے قربانئ کړيدی دَ هغو مثالونه به دَ دنيا په تاريخ کښې ډير کم وی۔

حاجی صاحب دَ هغوئ دَ تحريک حال دَ پاکستان دَ نظريئے په وجود کښې راتلو او ترقئ موندو پورے ليکلے دے۔ اګرکه حاجی صاحب ځائے په ځائے دَ هغوئ لکه څه يکا ودُ ذکر او ستائينه او ورسره ئے دَ خپل عقيدت او مينے اظهار هم کړيدے۔ خو ښه به شوے وه که دَ باچا خان دَ ژوند حالات او کارنامے هم دَ يو مستقل عنوان لاندے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بیان شوي وي - او د باچا خان شخصیت لکه چه ښکاره وو له هره
اړخه په ښه شان جوت شوي وي۔

په آخر کښې ښاغلي مولف حاجي صاحب باچا خان سره د خپل
اختلاف او تر د بیلیدو سبب هم ښودلی دی - زه د حاجي صاحب
په دې حقله ډیره ستاینه کوم چه سره د اختلاف او د ځینو د اظهار
هغوئ د باچا خان د عظیمو کارنامو او ملي خدماتو او د زوړ رفاقت
او د پښتونولۍ د مروت له رویه خوږ ګران او محبوب مشر په
حقله هغه لاره نه ده اختیاره کړې چه کومه عام طور سره د هغوئ
مخالفین اختیاره وي۔

په مجموعي حیثیت کتاب د ډیرو مفیدو معلوماتو حامل
دی - چه تر څو د ژبې تعلق دی - د حاجي صاحب خپله ژبه د
او مشاق لیکونکی دی - ښه صفا او روانه او سوچه پښتو یې لیکلې
ده۔

امید دی چه پښتانه به د دې کتاب هغه قدر وکړي چه
یې مستحق دی او ښاغلي مولف حاجي صاحب او نور پښتانه
لیکوال به د ادب خدمت ته چه د یو قام په اجتماعي ژوند کښې یې
اهم ځائ وي نور هم آماده کړي۔

دوست محمد کامل

نوې آبادي پېښور

۱۲ ۱۱/۵۷ ع



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# څو خبرې

په جولائی کال ۱۹۵۷ء کښې څو ځوئ انوریګ ماته اوو چه تاسو په سیرت او تاریخ کښې یوه سلسله د کتابونو لیکلې ده. نو د پښتنو په حقله هم څه او لیکئ. د انوریګ په دې مطالبې ما فکر اوکړو چه پښتون اوده منزرې دې. چه راوېښې شوې دې. نو عزم، میړه او حوصله ئې خوز ولی دی. د قامونو جغرافیه او د دنیا نقشه ئې هېره کړې بدله کړې ده. اوکنې خولې باد شاهانو تقدیرونه ئې د خپلې تورې په زور بدل کړی دی.

نو که د دې قوم د تاریخ هغه ارخونه اوڅېړلې شی چه د اسلام خدمت قومی غیرت وطنی محبت د آزادئ قربانئ سره تړون لری. نو کیدې شی چه او سنو ځلمو د پاره د لارې مشال اوګرځی. دا نوې کول یو ځل بیا دنیا خپلې ننداره ته اودروی.

د کتاب او د مضامین د پاره یوه نقشه څما د ذهن په تختئ لیک شوه. او د هغې په بنا ما دې کتاب له ترتیب ورکړو. د دې کتاب نوم دې "ننګیالی پښتانه"

په دې غرض چه دا پخوانی ننګیالی پښتانه د او سنو ننګیالو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتنو د ایمان غیرت جرأت مړانه سیالۍ او ځلمیتوب
رابیدارولو دپاره راهنمائي اوکړي۔

که د تاریخ یو باهر مسلسل تاریخ لټول غواړي نو
د هغه تنده به دے کتاب کښې ماته نه شي - ځکه چه دا د
پښتون تام مسلسل او مفصل تاریخ نه دے - هم دا سے
که د ادب یو شهسوار د سُوچه ادب په تلاش وي نو هغه
نه به هم معذرت اوکړم ځکه چه تاریخ یو خشک مضمون
دے - او دا یوه ادبي افسانه هم نه ده - او که تاریخ او ادب سره
مینه لرونکی په ارته سینه، فراخ زړه - سوړ دماغ،
"ننګیالی پښتانه" په ژوره نظر او لولي نو دا خبره به جوته
شي چه "ننګیالی پښتانه" د یو خاص غرض دپاره لیکلې شوې
دي - او هغه غرض دے د پښتون قوم په اسلام ننګ
په وطن غیرت - په قام مینه او په آزادۍ قربانیدل
په دے جذبه که دا کتاب او لوستے شي نو دا به سرګند شي
چه "ننګیالی پښتانه" د پښتو ادب او تاریخ په شریکه مزل
کښې یو نوے ګام دے - ځکه چه "ننګیالی پښتانه" د تاریخ
بلوشے هم لري - او ادبي خوند هم په کښې شته - او ځاے
په ځاے پکښې جنګي نظمونه هم موجود دي - د سیالۍ په
ډګر د ننګ په سنګر د قربانۍ په میدان کښې د پښتنو ځلمو
اُوده ډګونو کښې د غیرت وینه رابیداره وي - د نفاق نه
نفرت پیدا کړي - قامي مینه زیاته وي - ملي جوش تود وي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قوت عمل رالېږدوي - زړه او دماغ له ډېرو بنیادي تنکړې درکوي -

ښاغلي لوستونکي به په دې کتاب کښې اوګوري چه ما د کومو ننګیالو پښتنو ذکر کړېدې - نو ډېرو د ژوند ونه یو خاص اړخ رازلفولې دې - ولې چه د هرېو د ټول ژوند ښکاره کولو د پاره د کتابګې څه چه لوئ او ضخیم کتابونه پکار دي د اعلیحضرت احمد شاه نه پس د هغه ځامنو تیمور شاه او سلیمان ترمینځه ، بیا د تیمور شاه ځامنو شاه زمان شاه محمود شاه شجاع کورنی جنګونه او د سدوزو محمد زو تر منځه لاس ګریوان کیدل به یو بل غلي د پاره د سکانو او نیر ټکیانو سره سازباز کول ، پښتون تباه کول او پښتون قام سپکول به دې مرض بیان شوي دي - چه تاریخ بیاکردان او نکړي او پښتون د خپل کور ورانولو به بد نتیجو ځان خبر او ساتي -

لکه څنګه چه ښاغلي کامل صاحب به خپله "وړو مینې وینا" کښې یاد کړې نه کړیده - زه د دوئ ډیر ممنون یم چه یو هدرانه مړونی ننګیالي پښتانه ته ما ته رایاد کړل - واقعي چه حافظ رحمت خان بریځ د هندوستان په تاریخ کښې د لوئې مرتبې خاوند دے - همدا سے ایمل خان به پښتنو کښې یو خاص مقام لري ، که ژوندون موقعه راکړه نو د دې دوارو ښاغلو ننګیالو دا پوربه به خپل وخت ادا کړم د کال ۱۸۴۸ نه تر کال ۱۹۴۷ پورې انګریز دور د انقلابونو سرچینه دې - د کال ۱۹۲۰ نه تر کال ۱۹۴۰ پورې ما د باچا خان د تحریک



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او شخصیت بیان چې په کوم انداز سره کړې دې هغه د لوستلو نه په
ډاګه دے۔ پاتې شو د باچاخان د نوم ځان له عنوان او ټول
تفصیلي بیان نو ما په خپله دے نه ځان په ځنګ ساتلے دے۔ دا ځکه
چې د کال ۱۹۳۰ء نه تر کال ۱۹۴۷ء پورې د شریک هندوستان د سیاست
په میدان کښې هندوان او مسلمانان په یو نظر لیدل۔ نو دا واقعات
ټول به اوس په ښه ډهل دي چې باچا خان سره د ډېرو خواخوږو قومي
ښېګڼو مسلمانانو اختلاف وو۔ او هغه پورې په سره معقول دلایل
نو د یو واقع په بیان کښې د مورخ دا فرض دی چې څه او وینې یا واوري
هغه ټول بې کمې زیاتې په دیانت قلم ته امانت او سپاري۔ او د قلم عصمت
د خپل ایمان په شان سلامت وساتي۔ نو که د باچاخان ټول سیاسي
ژوند څه ما لیکلے نو د اختلافي دوره د نظریاتو تفصیلات بیانول
پکښې ضروري وو۔ په دې وجه ما خپله لمن د اختلاف او ورله ځنې نکړه
او ځان مې ورته په پوره وساته۔

په آخر کښې زه د ښاغلي کامل صاحب ډېر ډېر شکر ګذار
یم چې هغوی سره د علمي او د کالتي مصروفیت دا کتاب ولوستو
او خپله قیمتي رائے یې ورکړه ولیکله چې که ژوندئ نو د دوی په قیمتي مشوره
به عمل اوکړم۔

الحاج هلالي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

قلم پاسه خدائی ته سجده کړه | دَرب ثنا له ژبه لګیا کړه
بیا درود وایه په محمدؐ | چه دَ کمال پرے ختم هر حد

# ننګیا شهاب الدین

په دُنیا دی ننګیالو له دا دوه کاره
یا به وُخوری کېږے یا به کامران شی

دَ پښتو دے یوُ بیت کښې دَ قومونو دَ تقدیر فیصله بیان شوے ده۔ چه ننګیالی یا دَ خپلواکئ، آزادئ قامی حکومت په طلب سرخوری او یا د کامیابئ مینے سره غاړه غړئ شی۔ کېږے خوړل، دَ سرونه دَ ننګ مرګ له غېږ په غېږ ورتلل دَ ننګیالو کار دے۔ او چه ننګیالی میدان ته راوُځي نو بیا نه جاروُزی۔ یا منزلِ مقصود ته رسیږی یا په دے تکل کښې سر وُخوری۔

ننګیالی شاندار، روښان مستقبل، او خوندَ ور



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خپل واک لری۔ د هغوئ په مغزو کښې هر وخت دا آواز کړنګیږی۔۔ سه

تاسو راورېده د زمکې او سیدونکو
هاتف څه بنګلې غږ وکړو له آسمانه
یو ملت ژوندون بهتر د آزادئ دے
له ژوندون د غلامئ ترجا ودانه

هر زورور، د متو او دولت خاوند د خپل خواوشا کمزوری بے اسرے خلق مرئی کړی دی۔ د غلامئ جغ ورته په غاړه کړے دے۔ بیا چه د زمانے څپیړو په مخ وهلی کمزوری را بیدار کړی د خپل حق لپاره میدان ته راوستی دی او غلامانو حق او حقیقت ته ځان رسولے دے نو هم هغه کمزوری راپاسیدلی دی او د زورورو ګریوان ته ئے لاس اچولے دے۔ د آزادئ په منګلے د هغوئ ګریوان تار په تار کړید ے

غلامئ کښې بے فایدے وی تقریرونه تدبیرونه
چه سر کیږدی په تلی کښې نو زرغوس شی زنځیرونه
د شاهین ژوند راپیداشی د ملت په شا خلو کښې
منزل څه پاس په آسمان کښې ورته بنکاری منزلونه

داوېنا به هیڅ یوه څوک دروغ نه کړی۔ چه پښتون،



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتو، او پښتونولي دَ یو حقیقت بېل بېل نومونه دي وجود یَو دے ...... او که نا سے دُ دېټیلے شي نو بے ځایه به نه وي چه پښتو او غیرت، پښتونولي او ځوانمردي ننګ ترننګ پیدا شوي دي۔ پښتون دَ تُوپکو په ډزهار کښے سترګے غړولي دي۔ چه دَ خرپوسو نه وتے دے، شونډه شنه شوے مړانے وهلے دے، نو دَ ځان سره دا سے ګنړ یدلے دے۔ ؎

زهٔ یم ننګیالے پښتون کاروَنه تل دَ ننګ کوم
څوک چه بے غیرته او نامردي ورنه ننګ کوم
ماله دَ غیرت کوتي را کړے خپلے مورده
ځائے چه دَ غیرت راشي زهٔ هلته کښے غورځنګ کوم
شمع چه دَ تام دَ مینے کوم ساعت کښے بله شي
زهٔ په خپل سرلوبے هغه وخت لکه پتنګ کوم
یم تږے ملا ولاړ میدان دُ آزادے کښے تل
ویَره نه دُ توپ او نه پروا دَ تیغ تفنګ کوم
څوک چه زما قام او ملک ته وګوري په بد نظر
زه هغه مردود باندے دُ خپلے توره شرنګ کوم
سر په منګل اے هلالي زهٔ دَ قوم دپاره یم
چا چه دَ پښتون حق لاندے کړو ورسره جنګ کوم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حقه خبره دا ده چه آزادي، خپلواک، ملي افتخار او دَ وطن ښیرازي، یو لوئ نعمت دے - دَ دنیا هر نعمت دَ آزادئ نعمت نه قربان - دا آزادئ سورې کښې حکومت دے - دَ خپلواکئ جلب کښې اقبال او دولت دے - دَ استقلال بې رغ لاندے دَ دُنیا ټول شرافتونه او عزتونه دي -

دَ الله پاک خلافت دے استقلال
په والله چه لوئ نعمت دے استقلال
آزادئ نه لوئ نعمت په جهان نشته
حکومت او سیاست دے استقلال
چه قومونه ورنه لاس په نامه تل وي
دا سے شانے برکت دے استقلال
زمکه پرېږده په آسمان کښې الوتل کړي
دا سے شان قوت شوکت دے استقلال
آزاد قام په دے دنیا کښې په جنت دے
هلالي هغه دولت دے استقلال

او س راشئ دَ بل مرئیتوب او غلامئ ته - اُف! غلامي یو لوئ لعنت دے - په ژوندوني دوزخ دے دذلت جهنم دے - دَ رسوایئ سفر دے - دَ بدنامئ اسفل السافلین دے - قومي مرګ دے - دَ ملت



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

طاعون دے ۔ او دَ الله تعالیٰ لوئے عذاب دے۔

غلامي دَ خدائ لعنت دے غلام دے کله انسان
دَ غلام مونځ روژه څهٔ وي يو کالبوت روح تر روان
غلامي کښې تل پسواري دَ قومونو سر دا ران
په خپل کور کښې وي بے واکه هيڅ حق نهٔ لري دَ ځان
هلالي شکر انګريز لاړ
شو آزاد مسلمانان

هم دا وجه ده چه پښتانهٔ دَ ځان نه او دَ اولاد نه نهٔ زيات په آزادۍ مئين دي ۔ او هر پښتون دَ مرحوم خادم صاحب دچارسدے دا شعر دَ ايمان رڼا ګڼړي :- ؎

نه کلونهٔ دَ غلام په غلامۍ کښې
نه ساعت دَ آزادۍ که څنګ دون وي

غورستان[1] :- دَ افغانستان ، پاکستان ، او هندوستان په تاريخ کښې خدائے او بخښنه سلطان شهاب الدين پښتون دا سے شغلے کوي لکه آسمان

---

[1] سور او سام دوه پښتانهٔ رونړه وو ۔ سور دَ قبيلے سردار او سام سپه سالار وو ۔ دَ سور نور دَ سام په ځوئي شجاع واده وه ۔ شجاع دَ سمرنه خفه شو ے دَ غور غر و نو ته لاړ ۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کیږی شو۔ دَ افغانستان قطبی قبله ایز اړخ ته دَ هرات اوغزنی ترمینځه زمکه ته غورستان ویلے شی۔ او دلته اوسیدونکو پښتنو ته غوری۔ غوریه بادشاهانِ کیږی حضرت جنت مکان غازی ننګیال شهاب الدین دَ لوړ اقبال بیدار بخت بادشاه تیر شوے دے۔

---

(پاتے حاشیه دَ تیر مخ)

او فیروز کوه کیږی بادشاهی جوړه کړه۔ محمود غزنوی په ۴۰۱ هه کیږی دا ریاست ختم کړو۔ محمد سوری دَ خپل ځوی ۱۱۰۸ء حسن سره اونیوو۔ دَ محمد سوری په اجازت حسن دَ زندان نه اوتښتید غورته لاړو۔ بیائے حکومت جوړ کړو۔ دَ محمود کړوسی بهرام شاه چه خپل زوم قطب الدین سوری قتل کړو۔ نو دَ هغه بدل دَ قطب الدین رور سیف الدین واخست۔ او په غزنی کیږی ئے دَ مرکونو تیاری شروع کړو۔ بهرام شاه کرمان ته وتښتید۔ بیا څه موده پس دَ غزنویانو په فریب سیف الدین سوری ګرفتار شوے بهرام شاه هغه دَ خپل وزیر سید مجد الدین سره په ډیرے بے دردئ قتل کړو۔ چه دَ سیف الدین رور علاؤ الدین خبر شو نو اور مرے بل شو۔ او په غزنی باندے حمله کړه۔ دَ خپل رور دَ بدلے اخستو دپاره ئے دَستر لویه رپه کیږی فوځ تیار کړو۔ په غزنی ور او خوت۔ دَ بهرام ځوی دولت شاه دَ فوځ سالار وو په جنګ کیږی قتل شو۔ بهرام شاه هندوستان ته وتښتید۔ غزنئے دُښو او علاؤ الدین په جهان سوز مشهور شو۔ دَ بهرام شاه ځوی خسرو شاه هم دَ علاؤ الدین دَ ویرے نه وتښتید و۔ علاؤ الدین چه دویم ځل غزنی واخسته نو ترم سیر، فند باره تکیتنا با دفعه کړل او خپل وراره غیاث الدین ته ئے وسپارل۔ دا سلطان غیاث الدین او سلطان شهاب الدین سکه رونړه دی

(تاریخ هندستان ص ۱۲۵ تا ۲۴۹ جلد اول)



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګيالي پښتانه

کله کله وایئ دغه تېرے افسانے
تاندکه چرے غواړے خپل دا غوږ ؤسپینے

دے ننګیالي بادشاه ۳۲ کلونه حکومت کړے دے۔ ۱۵ ځله موږه په غزا کښې تېره شوے ده۔ دَدے بادشاه لویه خوشحالي دَ الله تعالیٰ په لاره کښې غزاکول وو۔ دَده مشغولا دکفارو سره جنګ په هغوئ غورزنګ دښمن په وینو رنګ اوپه پلو درنګ۔

دَ اِسلام په نوررو ښانه دي سینے دَپښتنو
دَاِسلام دَپاره تورے رنګینے دَپښتنو
دَ اسلام دقام په مینه دَوطن په محبت کښې
دَسرونه کے نه دی ارتینے دَ پښتنو

سلطان محمود غزنوی اوولس حملے په هندوستان کړی دی۔ خو دَسیلئ په شان راغے دَتندر په شان په دښمن پربوت اودَ طوفان په دود بیرته لاړے۔ ورپسے دَ سلطان شهاب الدین زړه کښې بله جذبه وه۔ دے ننګیالی بادشاه دا غوښتل چه دَهندوستان په کفرستان کښې دَ اِسلام مشال په داسے انداز روښانه کړے شی چه چا پیره نور تم روښانه کړي۔ چه دَوطن واکمن بدلمن وی، عیاش او بے باکه وی۔ نونو ل قام بد اخلاق اوګنده خوئ شی۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او چه د وطن واکدار د قام خدمتګار وي - بادشاه د دين دوست وي - د ملت غمخور او د وطن پالونکي وي نو قام خپرازه شي - په وړو لويو کښې يو ژوند د خوند پيدا شي - هر لوئ وړوکے د غيرت پيکر وي، د ننګ مجسمه وي - د اخلاق زلق وي - د ديانت ببرغچي وي - او د عمل په ژبه يو بل ته عذر کوي - ؎

پرين ده د ګل بلبل بنمايښت چنے شراب سندرے
راځئ چه وايو د خيل واک او انقلاب سندرے

که د پښتون شهاب الدين د ټول ژوندون حال بيان کړو نو دا کتاب يوازے د هغوئ د بيان د پاره هم کافي نه دے - صرف د دوه غزاګانو حال به دے غرض چه پښتانه زلمي يو زل بياوکوري چه ننګيالي پښتانه داسے وي -

يو ځل په کال ۵۸۷ھ کښے سلطان د هندوستان غزا له روان شو - پښتانه، ترک او تاجک ورسره وو پنجاب کښے د لاهور نه کوز بتهنډه نوم قلا ته چليدره شو - جنګ او نښت څو ورځو کښے قلا فتح شوه - نو سلطان په دے قلا او د خوا و شا علاقے د پاره يو افسر ضياؤ الدين مقرر کړو - په خپله بيرته غزني ته



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تلو چه په دے کښے خبر راغے چه دَ دهلي او اجمیر فوځونه راغله۔ رائے پتهورا راجه دَ اجمیر او دَ دهلي راجه کهانډي رائے سپه سالار دَ فوځ کمان کوي۔ دوه لکه فوځ او دوه زره هاتیان ورسره دي۔

ښکاري خوځ ښکار په تکل وتے وي او غازي دَ غزا په نیت۔ نو چه ښکار یا غزا مخے له راشي نو بیا خو واه وا سلطان بیرته راګرزیږي۔ دَ تهانیسر په زمکه او دَ سرسوتي دریاب په غاړه دواړه فوځونه مخامخ شو۔ جنګ جوړ شو او داسے جنګ چه میدان په ډیر تنګ شو۔ دَ ډیرو مسلمانان نه لس او دولس هندوان چاپېره شو۔ دَ سلطان دَ ښي اړخ او ګس اړخ فوځ ګډ وډ شو۔ مسلمانانو که ډیرے پښے کلکے کړے خو دَ هندوانو چپے نه ټینګ نه شو۔ دَ میدان نه هوا کېږ شو سلطان دَ یو تولي سره په میدان پاتے شو۔ سلطان نه چا ووے چه جهان پناه فوځ خو دَ میدان نه وتښتیدو او س یوازے میدان کښے پاتے کیدل ځان دَ مرګ خولے کښے ورکول دي۔ په ننګیالي بادشاه دَ بے ننګۍ دا خبره ډیره بده ولګیده۔ توره ئے وخکله او په هندوانو ورننوت۔ او دَ منزري په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دوى ئے هر خوا ته حملے شروع کړے - دَ هغے غاړے دَ دهلى راجه او دَ دے لښکر سپه سالار کهانډے راۓ په ډېر جوش راروان وُو - دَ هغه نظر چه په غازى بادشاه پريوت هاتى ئے ور پسے وُ زغلوو - دَ دے خوا نه سلطان په يوه داسے نېزه ووَاهه چه دَ کهانډے راۓ وړاندِينى دوه غاښونه ئے مات کړل - او تالو ته نېزه وُرسېده - کهانډے راۓ جوابى ګذار په سلطان وکړو - دَ سلطان ممت بے کاره شو - نزدے وه چه سلطان دَ اَسه ګذار شوے وے - چه يو غلجى زلمى ټوپ کړه - دَ شا دَ طرف نه په اَس سور شو - دَ بادشاه شا ته کېناست - او اَس له ئے داسے پوندۀ ورکړه چه اَس دَ باد سره سيالى کوله او لکه سيلئ ئے کړنده شل ميله لرے تښتيدلى فوځ ته ئے ځان وُرسوو -

چه تاجک، ترک او پښتانه دَ سيالئ دَ ميدان نه وُتښتېدل نو تر څلويښت ميلو پورے هندوانو ور پسے هيڅ وُ کړه - لښکر لا په تار په تار شو - دلے ټټمو چه دَ ميدان نه ستون شو - نو دَ بټهنډه په قلا ورغے مسلمانانو بنه مقابله وکړه - ولے دَ لکونو او زرګونو کله برابرى شوے ده - دَ سلطان نائب ضياؤ الدين

آخر په صُلحه قلا لمند وانو ته وُسپارله۔

اخوا سلطان چه غزنی ته ورسیږد و لا په پرتاوان ژوبل وجود او زخمی زړه۔ یا په سلطان دفتح او بریالتوب نغارو سره غزنی ته راستنیږد و۔ او یا اوس په داسے حال کښے سلطان راغے چه دَ لښکر رنګ زیړ، کوتے ورانے او دَ بادشاه زړه داغ داغ۔ دَ جشن او خوشحالئ په ځائے دَ باګلات او شکست ماتم وو۔ سلطان پرو جبے کار دا اوکړو چه دَ میدان جنګ نه تښتیدلی افسران سپه سالار او جرنیلان ئے سپک کړل۔ دَ افسرانو مخونه ئے تور کړل۔ دَ هغوی وګوا میلونه ئے ورته غاړه کښے واچول۔ زړولی ئے په خرونو سواره کړل۔ دَ خرونو لکئ ورته په خوله کړے۔ توبرے ورته په غاړه کښے واچولے دَ وربشو ډکے۔ په تول غزنی کښے اوګرزول۔ په شرمونو بانډے وُشرمول دَ خرو په شان ئے بازار کښے ګرزول۔ او دا حکم ئے وکړو چه کوم افسر دَ خره په شان توبره کښے سر ښکته کړے وربشے نه خوری نو دَ هغه سر غوس کړئ۔

میدان نه دَ مرګ له ویرے راتښتیدونکو افسرانو دَ سر په ژیړه دَ وربشے داسے چیچلے لکه پښے۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په نوحی قانون کښې د جنګ نه انکار کول بغاوت ګڼړلے شی۔ او د جنګ نه راتښتېدل خو د هر جرم سر دے۔

حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د تبوک غزا له روان شو نو دېرش زره اصحابان ورسره وو حضرت کعب بن مالک، حُمِّ، صباحُمِّ، دے کښې پاتے شو۔ دا د حضرت کعب سستی وه او د غزا نه د ښتنګ کولو اراده نه وه۔ خو سره د دے چه حضرت رسول د نخت مدینے نه راستانه شول نو د کعب په حقله دا فیصله وشوه چه د ده سره خبرے، کار روزګار، مرګ ژواک بند۔ و دانه مدینه په کعب سُور اُورشو، بخُوس ورځے په هغه د انکار په شان تېرے شوے۔ آخر چه خدائے پاک د کعب صفائی وکړه نو معاف شو۔

د میدانِ جنګ نه تښتېده او کافر ته شا کول مېدان نه فرار د اسلامی قانون د مخه د الله تعالیٰ په نزد دے ډېر ملعون عمل دے۔ ځکه مسلمان په میدان کښې شهادت د تښتې د ژوند نه زیات خوښه وی۔

چه د کافرنه تښتی ځان او مسلمان شرموی
په ننګ غیرت باندے توکی او چیل ایمان شرموی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

د بزدلۍ ذلیل دا غونډه په تندي باندې بد دي
دې بې عمله سره خپل ځان په هر میدان شرموي

د ځوانمردانو په جرګه کېنې ناست وي کوز سترګې
دا نامرده بې غیرته ټول خاندان شرموي

ننګیالي لاړمي په سرو وینو په سر لوبې کوي
کلي خپل ځان تمام او وطن په ټول جهان شرموي

قدم په وړاندې د ځوانمردۍ که ئې سر غوسیږي
په تېښته منډه همېشه ځان نامردان شرموي

پښتانه مړي د ننګ میدان کېنې تېښته کله کوي
د نامردۍ نوم په ځان نه بدي او نه ځان شرموي

اے هلالي سیالان په سرو وینو کېنې غسل کوي
دښمن ته نه پرېږدي میدان، نه کورستان شرموي

ننګیالي سلطان د خراسان امیرانو سره لیډل بند کړل۔ شوک ئے په ځان پورې نه کړل او دښمنه ئے جنګي تیاري وکړه۔ مسلمان او بیا پښتون په شان کوټلي مسلمان د میدان نه تښتېدل د اتور او کرکجن داغ بے د سرو وینو د صابون نه کله د تندي نه تللو۔

هغه د پښتو متل دے کنه :- "چه که پښتون سل کاله پس بدل واخست نو تندي ئے وکړه" سیال او ننګیال



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غازی سلطان په دویم کال یو تاسا یه دَغزنی نه روان شو یو نیم لک سوارهٔ په جلب کښې وو. پښتانه، ترک او تاجک سره په مټکل ځوانان ورسره پېښاور ته راغله. سه

چه پکښې نه وی غیرت نو پښتون نهٔ دے
چه ئے نه وی سخاوت نو پښتون نهٔ دے
چه میدان کښې دَ دښمن نه په شا تښتی
که دعوی کړی دَ جرأت نو پښتون نه دے
چه دَ قام په ننګ ناموس قربانی نه شی
که لری خانی عزت نو پښتون نه دے
په میدان کښې ؤ سپاهٔ چه وی سرکوزے
که وی کور کښې سر او چت نو پښتون نه دے
چه اسلام قام او وطن نه ئے قربان نه کړی
که انبار لری دولت نو پښتون نه دے
ھلالی چه چا کښې مینه دَ قام نه وی!
په دولت که وی لت پت نو پښتون نه وی!

یو نیم لک سوارهٔ پېښاور کښې ډېره شو. خلق حېران وو چه کوم خوانه روان یُو. د سفر مقصد څه دے؟ چا دَ ویرے د مه وهلے نه شو. آخر یو زوړ سپاهی زړه کلک کړو. بادشاه له راغے. سلام ئے ورته اوکړو. بیلهٔ دوے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَجهان پناه اِراده کوم خواره ؟ څومره دَرے لښکر مقصد څه دے ؟

دَرے په جواب کښے سلطان سوړاسویلے ګوکړو دَډېر جوش او غصے نه ئے سترګو له اوښکے راغلے - وے فرمایل :-

" اے دَزمانے تودو سړو لیده لیه ! ستایادړی چه په تېره عزا کښے زه ځپل قوم دَ اسلام دښمنانو تهٔ یوازے پرېښودم - ترک ، پښتانه او تاجک ټول په تېښته لاړل - هندوان په مسلمانانو برشو - دَاِسلام دَعزت تبا تار په تار شوه - دَکافرتندے رو ښان شو او دَمسلمان مخ زیړ شو - څمادو جور زجم جوړ شو - خو دَزړهٔ ژوبل م زوغ شوے نه دے - راسز دے شه زما داکمیس اوګوره دا هغه کمیس دے چه دَ جنګ په وخت ما اغو ستے وه - ما دَ هغې ورځے نه پس داکمیس بدل کړے نه دے - مالمبلی نه دی - په بستر اوُده شوے نه یم - ښه خوراک ما کړے نه دے - تاسو سره که یه ښمن اما خبرے کړی دی - په زړهٔ کښے ما تل ژړلی دی - ماسوګند کړے دے چه تر څو دَهندوانو نه بدل وانځلم دادَ شکست داغ دَ زړهٔ کونو څه چه دَ لکو نو هندوانو په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

ویښوا ونه دیمه - ترڅو چه د اسلام بایللے ناموس بیا ونه ګټم ترڅو چه د اسلام د فتح بېرغ د هندوستان په کفرستان کښې پورته نه کړم - نه بېرته جاروزم نه جامے بدلوم ، نه په بستر خوب کوم - نه ښه خوراک کوم او نه آرام؟

د غازی او ننګیالی شهاب الدین د زړه نه لوخړے پورته شوے او د طوفان شکل ئے اختیار کړو - دا هر لفظ د ایمان ، غیرت ، د پښتو او پښتو نولئ سرچینه دے - دا د پښتنې اسلام او حقیقی پښتو تفسیر دے د پښتنو را تلونکی پښت د پاره د ننګ درس دے - او د سیالئ یو بے پناه سمندر دے - چه تل به جوش وهی -

اے هلالی وګوره ننګیاله ځوانان دا سے وی
مری په خپل ناموس باندے والله غیرتیان دا سے وی
خوب آرام خوراک چه پخپل ځان باندے ګنړی حرام
څوچه بدل وا نخلی ولاړ په میدان دا سے وی
سرے ویښ شنډی تل په کلنډ ار د خپل ملت باندے
ځ دیځی په سرو وینو سیالان بهادران دا سے وی
وینځی په صابون د وینو داغ د بدنامئ مدام
اخلی خپل بدل دښمن له تندر طوفان دا سے وی
لوبے په خپل سر کړی د دښمن کله فتح بال ګنړی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګيالي پښتانه

خپل تقدير په خپله به نوي زلميان ډ اوي
پوخ ايمان په مټونازه په خدای باندې توکل مدام
خدايګو بريالي تل د سيالۍ په ميدان ډ اوي

جهان ليدلے سپاهي ور وړاندے شو۔ د اوښکو په سېلاب کښے ئے د ننګيالي بادشاه لاسونه ښکل کړل او عرض ئے وکړو۔ جهان پناه! تاسو د ايمان او مسلمان د نمايندګئ حق اداکړو۔ ستاسو وينا د قرآن د حکمونو تفسير دے۔ او ستاسو اراده ډېره پاکه، عزم ډېر مقدس او نيت خالص د اسلام نوم او چتولو او پښتون ښه اړولو د پاره دے۔ په حضور عالي کښے ځما عرض دے چه بس د جرنيلان او سپه سالار ډېر سپک شو۔ ډېر وُشرمېده ؤ نور ئے ونه ځنبه۔ اوس موقع ورکړئ چه د بد نامے داغ ووينځي۔ تېر په هېر او باقي روزګار۔ مهرباني او احسان ورسره وُکړئ۔ بادشاه دا مشوره خوښه کړه۔ چه ملتان نه وُرسېدل نو شاهنشاهي دربار ئے وکړو۔ ټول جرنيلان افسران او سالاران حاضر شو۔ بادشاه پاسېدو او افسرانو ته ئے وُفرمايل " اے مسلمانانو! تاسو د جنګ ميدان نه وتښتېدئ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زهٔ مو یوازې میدان کښې پرېښودم - ستاسو دے تېښتې دَ اسلام په لمن او دَ پښتون په جامه تور داغ لګولے دے - تاسو زهٔ او مسلمانان هند والو ته وشرمولو زهٔ اوس تاسو بخښم - او دُ خپلو ګناهونو بخښنه دَ خدائے پاک نه وغوارئ - الله پاک به تاسو هله وبخښی چه تاسو دَ الله پاک په مخکښې خپل ځانونه دَ اِسلام دَ زلفو لو دُ پاره قربان کړئ - په سرو وینو او دس وکړئ توبه او باسئ او په سرو وینو کښې لبېدلي دَ الله تعالیٰ په دربار کښې حاضر شئ - سر په منګل په دښمن ورخلاص شئ - تر مونږ کلک او ورانده کړئ نو ننګ به ستاسو قد مونږ بنکل کړی - دَ آسمان فرښتې به په تاسو آفرین ووائي - او الله تعالیٰ به تاسو نه رضا شی - او حضرت محمّد رسول الله خوشحاله[1]"

دسلطان سبکرد ملتان نه لاهور ته ورسېد - نو سلطان قوام الملک رکن الدین حمزه دَ خپل طرف نه اجمیر ته ولېږهٔ او رائے پتهورا ته ئے ولیکل :-

---

[1] ذکوری نفس تقریر تاریخ هندوستان مخ ۳۵۷ جلد اول تصنیف دَ شمس العلماء ذکاء الله خان -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# " دَ اسلام اطاعت قبول که "

دَ فتح په نشه کښے مغرور راۓ پتهورا په بر سمنت جواب ورکړو. او جنګ ته تيار شو. دا زل اُوه نيمے شپے راجګان ميدان ته راغله. بيا زاړهٔ سوارهٔ اونوړپېښن هغه سلطان شهاب الدين او هغه راۓ پتهورا او دَ هندوستان راجګان. دَ تهانيسر په زمکه دَ سرسوتي په خوا کښے دَ جنګ ميدان. چه دواړه خوانه فوځونه مخامخ شو. مورچے جوړے شوے. کهپونه او لکهنه لور راۓ پتهورا اونور راجګان يوے وُنے لاندے راغونډ شو يوېړ کلاس دَ شربت ئے وُسکه. پانونه ئے خوله کښے واچول. دَ تلسي پاڼړے ئے وُخوړے. د سندورو سرهٔ خالونهٔ په تندو پورے کړل. دَ تورو په قبضو باندے ئے منګلے کېښودے. سوګندونه ئے وکړل. ځان وژلو او بل مړه کولو ته تيار شو.

دے خواته دَ اسلام فوځ په نوی جوش ژوندۍ جذبه دَ سرنه دَنګلی دجنت کتهلو ته ملا تړلی وو. مسلمانان يونيم لک او هندوان درے لکه. او درے زره تورے غونډے هاتيان. سلطان خپل فوځ په ځلورو برخو کښے وُويشلو او حکم ئے وکړو چه ځما دَ حکم نه بغير قدم وانخلیٔ.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

واریه وار به میدان - له څو

شپه پېره ناتلاره تېره شوه - مسلمانان د بدل اخستو د پاره سر په تلي و لاړ وو - چه شپې تورتمه در د ځ نه لرې کړو - او د نمر په پلوشو غروبه غونډې میدانو ځنګلونه مېرې رو بڼانه وپېرتېدل - د الله نوح د الله اکبر په چغه میدان نه ور خلاص شو - هندوان څه تیاره نا تیار میدان له راغله - جنګ شو او هر سپاهي په وینو رنګ شو - ګلورنیم لکه خلق یو دم غېږ په غېږ شو - د تورو او نېزو یو طوفان پورته شو -

حمله په دښمن وکړه د صبا نه پښتنو
قابل ئې بیا جهان کړو په مړانه پښتنو
هندوان لکه باد رنګ ئې غوسېدل د هر طرف
ښکاره زیاته یې بیالي کړه د هرځاینه پښتنو
سینې ورته چه شلېدلې، کیرې رغړی په وینو
جوړ کړې یو قیامت وو د هر خوا نه پښتنو
یو شور یو واویلا وه د قیامت وه ننداره
نن ځان وو ببر کړې د بلا نه پښتنو
اسونه که دیوان وو چه ورتلل به په هاتیانو
خونه واخسته د هندوانو د غوغانه پښتنو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

پښتون چه ځان ببرکړي نو دښمن زبروزبرکړي
دښمن دے خپل ورک کړے د دنیا نه پښتنو
سره "سرسوتي" نه شوه د ګنګا په سیلاب بونو
دغم په انګار وسوه ناکامانه پښتنو
پښتون نو مسلمان دے هلالي دائم ایمان دے
تاؤ کړے خپل مخ نه دے د میدانه پښتنو

د پښتنو طوفاني چپو په دښمن قیامت جوړکړو۔ هرخوا نه د مړو انبارونه د زخمیانو داسے دلی پرتے وے لکه پڼی کښے لؤ شوی وکی۔

بیا چه سلطان خپل تازه دم فوځ میدان ته ودیست نو راشر کړے کورے۔ تا به وے د اجل فرښتے راکوزے شوے۔ او د بدر، احد، حنین نه پس الله تعالی بیا د مسلمانانو امداد نه د فرښتو شملے ورسوا ره راولیږل۔ د هندوانو وارخطا شو۔ غزی ئے سُست شو لاسونه ئے وریږدل۔ پښے ئے وخوږے۔ په ماتے سر شو راے پتهورا د دریاب غوا کښے کرفتار او قتل شو۔ او ومینے ښلے راځکان۔ سپه سالار کهانډے راؤ۔ چورنډ آراے او دنو ربے شماره د هر سری قتل شو۔ زیکونه کرفتار شو۔ او باقي په تیښته لاړل۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بل کال سلطان اجمیر فتح کړو۔ جے چند قتل شو۔
هانسی، سمانه، کهرام، علاقے فتح کړے۔ بنارس، قنوج
فتح شو۔ بهار او بنګال ته د مسلمانانو لارے پرانستے شوے
سلطان د هندوستان انتظام د پاره خپل غلام قطب الدین
ایبک پریښودو او په خپله غزنی ته روان شو۔

سلطان آخری زل په کال ۶۰۲ھ برابر د کال ۱۲۰۵ء
بیا هندوستان ته راغے۔ او غزا ګانے ئے وُکړے۔ چه
وطن ته تلو نو د هیماک نوم ځائے کښے د ګهکړ قبیلے
هندوانو د شپے یو خوا په فوځ ډاکه وکړه۔ چه خلق اغوا
ته په دوړ شو نو یو څو کسانو غازی شهاب الدین باندے
حمله وکړه۔ او هغه شهید شو۔ دا واقعه په دریمه د
شوقدر د میاشتے کال ۶۰۳ھ برابر د مارچ کال ۱۲۰۶ء
وُشوه۔

سلطان ۳۲ کلونه او څو میاشتے بادشاهی وکړه
د بادشاه وزیر اعظم خواجه مؤیّد الملک ډیر ګکلکړ قتل
کړل۔ او څلور زره اوښان په خزانو بار کړی د جنازے
سره غزنی ته لاړ۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# اعليٰحضرت شيرشاهٔ

شيرشاه دے په رښتيا سره فريد دَ زمانے
ننګيالے، مدبر، عادل، سعيد دَ زمانے
پښتون بيدار ول، راغونډ ول او يو کول
دا کار دے دَ شيرشاه په شان وحيد دَ زمانے

دَ هند او پاکستان په تاريخ کښې د شيرشاه سورى نه غوره مدبر، لوړ منتظم، فراخ زړه عادل نيک عمل باچا تېر شوے نه دے۔ هندوستان کښې دهٔ تالا ترغه پښتانه راغونډ کړل۔ دَ پښتنو وران قومى کوردهٔ جوړ کړو۔ دَ پښتون سترګے په دنيا کښې اوچتے کړے پښتون ئے دَ بېرغ او نوبت خاوند کړو۔ دَ پښتون مرتبه ئے دَ مغلو نه اوچته کړه۔ پښتون ئے په سيالانو کښې دَ اوچت ځائے خاوند کړو۔ ؎

چا چه پښتانه کړه خاوندان دَ ګنج سپاه
هغه ننګيالے دے بريالے پښتون شيرشاه

دے عزتمند پښتون دَ سلطان بهلول لودى په زمانه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا ۱۴۸۵ء کښې سترګې وغړولې. د خپل نيکه ابراهيم خان سورى په جاګير سهسرام کښې د نيرو زګوه دننه.

د ماشومتيانه د شيرشاه تندى کښې د پښتونولۍ نمر زلقيده. حسن خان د دے څوئ په پيدا کېدو ډېر خوشحاله شو. د حسن خان نور ځامن هم وو. شيرشاه چه مور پلار روربانده ے فريد نوم ايښے وو. دے او د ده رور نظام د پښتنے مورنه وو. باقي سليمان او احمد د وينځے نه علي او يوسف د بلے مورنه. خرم او شادي خان د بلے مورنه وو.

سوريان په غوريانو هم مشهور دي. دا ځکه چه د دوئ اصلي وطن د غور غرونه دي. سام او سور دوه رونړه وو. په دوئ کښې د پېرلوئ بادشاهان تېر شوي دي. امير ماهويه. امير بستام. امير شنسب امير نولاد او امير کرور نه پس غياث الدين غوري شهاب الدين غوري او شيرشاه سوري دا سے فاتحان برياليٰ، وطن آباد قوم پرست پښتانه وو. چه ترقيامته به د افغانستان او هند و پاکستان د سياست امارت او تجارت په ډنګر ډنګو ګنبدونو او لوړو منارو کښے د دوئ د دبدبے نغارے ګنګيږي.

زمانه په یو حال نه ده . چه غوریانو باندے زوال راغے
نو ابراهیم خان سوری د دے پښاور نه هند ته لاړو او
سلطان بهلول سره ملازم شو. هغه پوخ دینهٔ صفا
اوسو چه ده لږه موده کښے د بادشاه باور ئے په ځان
پیدا کړو. بادشاه د ښه خدمتونو په بدل کښے دسهسرام،
بانړه، حاجی پور خاص پورپرګنے په جاګیر کښے ورکړے.

دے موده کښے د هندوستان د سیاست په شطرنج
کشمیر کښے سلطان زین العابدین. ملتان کښے سلطان
یوسف. مالوه کښے سلطان علاؤالدین جونپور کښے
سلطان ابراهیم بادشاهان وو. او پښتون سلطان
بهلول لودی په ډیر کښے اوچت وو. پښتانه تل د خیل
رونړو د لاسه تباه شوی دی. چه د کور مشران لړ شی
نو دل ول شی. پښتانه خیل منځ کښے لاس په ګریوان
شو. کورنۍ دښمنی دے حد نه اورسیده چه یو پښتون
خان خانان یوسف خیل کابل ته لاړو او مغل بابر بادشاه
ئے په سلطان ابراهیم لودی باندے د حملے کولو
ترغیب ورکړه. کورنۍ دښمنۍ او د بابر حملو د پښتون
قومی کور وران کړو. د سلطان بهلول نمسی او د سکندر
ځوئ سلطان ابراهیم د پانی پت میدان کښے په ډېره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځوانمردے مقابله وکړه - او په کال ۱۵۲۵ء کښے شهید شو

سپی نه لړ وکړیٔ نظر　　چه دے دښمن دے دَ قام
دَ بل په پښو کښے رغړی　　ذلیل کمتر تر غلام
دَ ټوک هډوکیٔ دَ پاره　　بل ته صبا او ماښام
پروت وی پلکیٔ خوزه وی　　پلیت نجس بدنام
پښتون چه پرېښود ننګ　　نو بایله دهٔ ننګ او نام
حکومت لاړو له دهٔ　　او دَ بل قام شو غلام
چه څوک دښمن وی دَ قام
هلالی سپک وی مدام

شیرشاه له مور پلار فرید خان نوم کیښود فرید خان په رښتیا فرید دَ زمانے وو. دَ ماشومتیا نه د فرید خان تندے زلقیدهٔ- دَ میرے مور بدی شو. فرید دَ پلار نه مرور شو. دَ جونپور حاکم جلال خان له ورغے - هلته کښے دَ وسپا ئیټوب نه علاوه دَ قاضی شهاب الدین نه ئے دَ تاریخ دَ فقے کتابونه، تاریخ، فلسفه، ولوستل. څه موده پس حسن خان جونپور ته راغے. جلال خان دا پلار او ځوے خپل منځ کښے رضا کړل - فرید خان جاگیر ته راغے - او دا سے انتظام ئے وکړو چه دهقانانو کښے ژوند پیدا شو وطن آباد شو - غریب اولس سنبرازه شو. لویو وړوړ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګيالي پښتانه

فريد خان د قابليت لياقت او ښکلي اخلاق صفتونه کول
د سليمان او احمد مور ورېنځه وه. خو دواړه په
صورته ښکلي. ځکه به حسن خان ناز ولے او زوره وره وه
د فريد خان په عام اولس کښې ځوک سړک او دَهر
نارينه او زنانه په زړه کښې د هغه د پاره مينه د مېرې
مور په زړه کله ځايېده. حسن خان ته ئے لمسون
راوخست. آخر دا چه پلار فريد خان له جواب ورکړو
فريد خان خپل سکه رور نظام سره د سلطان سکندر
لودي يو حاکم دولت خان له بهارته ورغلو. د حسن خان
د مرګ نه پس دولت خان د سلطان سکندر يو حکم واخست
چه د حسن خان جاګير د فريد خان په نامه شو.

چه د سلطان سکندر ځوی سلطان ابراهيم د
بابر د لاسه پانی پت کښې شهيد شو. او مغل بادشاه
هره صوبه کښې خپل حاکمان مقرر کړل. نو فريد خان
د مېړني روښړود د وېرے د بهار حاکم سلطان محمد
له ورغے. يو ځل سلطان محمد او فريد ښکار له
ووتل. په ځنګل کښې يو ناساپه يو زمری په بادشاه
حمله ونکړه. خو فريد خان د اسې ځواب په توره ورکړو
چه زمرے دوه ټوټے شو. سلطان محمد په دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړه ورتیا او میړانې فرید خان ته د "شیر خان" خطاب
ورکړو۔ اوس فرید خان په شیر خان مشهور شو۔

څه موده پس شیر خان د مانکپور حاکم سلطان
جنید برلاس سره نوکر شو۔ یو ځل سلطان جنید
برلاس د بابر بادشاه ملاقات له تلو۔ شیر خان
هم ورسره لاړو۔ چه بابر بادشاه د شیر خان کړه
وړه ته او کتل نو ډیرے خوښ شو۔ او په شاهي
فوځ کښے ئے داخل کړو۔ د جندیری جنګ کښے شیرخان
بادشاه سره ملګرے وو۔

یو ورځ شیر خان پښتنو ته وویل "که بخت ما سره
ملګرے شو۔ او پښتانه ما سره ملاؤ تړی نو د مغلو
هندوستان نه شړل هیڅ ګران نه دی"۔ د شیرشاهي
تاریخ مصنف نره شیخ محمد عباس خان وائی چه
یو ځل شیر خان وویل "زه شیخ ابراهیم او شیخ
محمد عباس تاسو ګواه اوسئ که بخت ما سره یاری
وکړی نو لږه موده کښے به مغل د هند نه وشړم
په دے وجه چه پښتانه د مغلو نه په توره وهلو کښے
ډیر میړنی دی۔ پښتنو خپل ملک او حکومت د کورنئ
بے اتفاقئ په وجه برباد کړو۔ ما مغل لیدلی دی چه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه په جنګ کښې د ټینګېدو نه دي. د غزنوي بادشاه په مزو چرچو کښې مست دے. ټول کاروزیران او افسران کوي. وزیران د امیرانو نه، امیران د سپایانو نه سپایان د عام اولس نه رشوت اخلي. اے ښځنانو صاحبانو یاد لرئ چه انشاء الله زر به واورئ چه ما پښتانه راغونډ کړل. یو ځائے م کړل او څنګه ما د مغل ګوترو د حکومت واګے پښتنو ته په لاس ورکړے. سه

ځوانان دی پښتانه تېره وی ژوند د منزرو
په شان د باز الوزی د روه په سر درو
پښتون چه چرے یوځ دو سیلے نه وو په جهان
وَلاړه زمانه ره د پښتون په ننداړو
پښتون چه اتفاق د خپل تام اوکړه ژوندون
چا پېره زمانه شوه د پښتون نه په رو رو
پښتون د منزری په شان یوځ نه دے په زور
چه راشی په خپل تاوُ نو بیا سربړی په خوارو
د دے قام به څه وائے د مړانے د جرأت
د دے د تورے برېښ آسمان لېدلے په وارو
ګیتے هیڅانه دے ترے میدان د سر بازئے
ننګیالی په صفت د دهٔ طوطی دے کۀ بنارو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالی پښتانه

ارمان دَ خپله لاسه ئې کړو خان دَ بادبېړه
نفاق دَ پښتنو وجود غوس کړې په اَرو
دے جهل کورنئ ځګړو سپک کړو دَدوئ تول
من دے په تول کښې هیڅ که چرے رو په خرواند
را غونډ که پښتانه شی بیا به ځګ شی په جهان
که یوشی هلالی دا پښتون قام ستنا په نعرو

ټم ورځ پس شېرخان بابر بادشاه له ورغ. بادشاه او وزیران افسران چه دوړے ته کښناست نو دَ شېرخان په مخکښې غوښه یا مځے راغ. شېرخان ډځنګ نه چاړهٔ راوُویستله غوښئ دَړه دَړه کړه. بشوروا کښې ئې کېږه کړه په څمسوکی سره ئې وخوړه. بابر دَ سترګو لاندے شېرخان ته کتل. خپل وزیر میرخلیفه ته ئې وُوے دا پښتون عجیبه سړے دے. ما پر پښتانه لیدلی دی. خو داسے نه دی. دَ دهٔ تندے زلقینږی. یو ورځ به داشی چه دے به بادشاه وی. نه دے دَ نظرولانګے ساته.

شېرخان په دے ګنګوسی بدګمانه شو. چه کوښلے بادشاه ماګرفتاره وی. نو دَ شپے شپے خپل جاګیر ته لاړو.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# بنګالي پښتانه

څه موده پس د بهار حاکم سلطان محمد سره نوکر شو هغه دَ خپل ځوئ جلال خان اتاليق مقرر کړو. چه سلطان محمد خان وفات شو. جلال خان ماشوم وو. دَ پلار په ځائې کېناست. دَ حکومت نظام ټول دَ شېر خان په لاس کښې راغې. دَ بنګال بادشاه سلطان محمود دان يو حاکم په حاجي پور کښې مخدوم عالم نوميده. دَ شېر خان هغه سره دوستي پيدا شوه. سلطان محمود خان دَ مونګير حاکم قطب خان ته حکم وُکړو چه شېر خان او مخدوم عالم دواړه نيولي مانه را وُلېږه. شېر خان پېرمنت وکړو چه جنګ وُنشي او مسلمانان خپل منځ کښې وُنه جنګېږي خو صُلح وُنشوه. بنګاليان او پښتانه ميدان ته شو. پښتنو بنګاليان په مخه کړل.

قطب خان مړ شو. پېرهاتيان، اسونه او جواهر شېر خان ته لاس له راغله. بيا سلطان محمود خپل ځوئ ابراهيم ميدان ته راوُلېږه هغه هم دَ شېر خان دَ فوځ د لاسه قتل شو.

دَ چنار ګړه بادشاهي دَ سلطان سکندر لودي د کورنئ يو شاهزاده تاج خان سره وه. يوه ورځ دَ تاج ځامنو دَ خپلې مېرې بي بي لاډو دَ مرګ فيصله وکړه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دشپې چې په صبرت حمله وکړه نو مغل غاجوړه شوه. په دے حمله کښې تاج خان راوينس شو. دَ نورو په کندا اولو لښې تاج خان قتل شو. دلاوري بي دور ميرا حمد، شېرخان ته خواست وکړو چه دَ چنار ګړه قلعه وا خله.

دَ جينور بادشاه سلطان محمود لودي دَ لوا ښه مانو په لسون په شېرخان پسے دَ لښکر تياري وُکړه. هر کله چه دَ بهار پښتانه دَ هغه سره ملګري شو نو شېرخان دَ پښتنو دَا تماد په غرض دَ سلطان محمود لودي فرمان ته غاړه کېښوده. دَ همايون او سلطان محمود تر مينځه جنګ وُشو. محمود ماتے وُکړه. بيا همايون په شېرخان پسے خپل سپه سالار هندو بېګ وُلېږه. چه چنار ګړه وُ نه. همايون سپه سالار ناکام راستون شو. بيا همايون په خپله دَ لوئ فوځ سره مقابلے ته لاړو او چنار ګړه ئے وا خستو.

اوس بيا په بيغه دَ شېرخان او همايون مقابله را غله. شېرخان پروبي کښې دا کوشش وکړو چه روغه وُشي. دَ پښتنو او مغلو منګلے دَ يو بل په وينو سره نشي. چه دَ شېرخان هره سعئ بے کاره شوه. نو آخر ئے پښتانه ميدان ته راوُ ويستل. شېرخان دَ بنارس



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بنارس په کال ۱۵۳۵ء کښې واخست. همایون په دېره پرېشانۍ اخته شو.

آګره ته ورسېد و.

د منګېر په ښار د همایون ګورنر خان خانان یوسفخیل و. هم دا خان خانان یوسف خیل کابل ته په بابر بادشاه پسې تلے وو. د شېرخان جرنیل خواص خان، خان خانان یوسف خیل لاس تړلے د شېرخان حضور کښې حاضر کړو. شېرخان خپل افسران لکه هیبت خان نیازي. جلال خان اوده او بلکهنو ته اولیږل. قطب خان، نصیب خان او حاجي خان ئې جونپور. مانکپور او قنوج ته اولیږل. هر جرنیل د فتح نغاره وغږوله او شېرخان ته راستانه شول.

په رهتاس، باندے د همایون او شېرخان سخته مقابله وشوه. همایون شکست اوخوړو. پښتنو د مغلو پښې هو آکیرے کړے. زمکے ته ئې پرے نه ښودے. مغل دا سے په منډه لشو. لکه چه د باد په راتلو ماشي تښتي. آسونه هاتیان جنګی اسباب هر څه په ځائے پاتے شو. د همایون بادشاه بیبیانے هم په ځائے پاتے شوے د شېرشاه چه په شاهي حرم ستر ګے ولګېدے. په تندۍ د آس نه راکوز شو. بیبیانو لره ئې د زړه تسله ورکړه. بیائے اودس وکړو. دوه رکعته نفل مونځ ئې پس ئې په زمکه سر



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کېښودو او ورته ویئیل :-

" یا الله ! زبرګی او قوت تا سره بنائی - ستا بادشاهی قوت ناکه بے زواله ده - تازهٔ غونډے ذلیل او کمینه سرفراز کړم - او دُهمایون بادشاه لښکر دِ پامال کړو - دَهغه اهل وعیال دے زما قیدی کړو "

بیائے حکم وکړو چه دَمغلو وارهٔ زنانه تر ول شاهی حرم ته ورسوی -

دے نه پس شیرشاه دَخپل پوزوړ افسر حسین په ذریعه همایون ته داتپدیان او لیږل - دُدے فتح نه پس یوُ ورځ مسند عالی عیسیٰ خان تول جرنیلان راغونډ کړل او دَشیرخان په حضور کښے دا سے عرض وکړو - مونږ پوهیږو چه دَ حضوریت دَبادشاهئ نه دے - ولے دَقدیم زمانے نه دا دستور راغلے دے چه سلطنت لوئے نعمت دے - تاسو کښے دبادشاهئ تول صفتونه شته - دَسلطان ابراهیم بادشاه کیدو نه پس چه پښتانه هرځائے نه تلی دی - خلقو ورنه پوزه پته کړے ده - او وائی او ګوری کنه ؟ دا هغه پښتانه دی چه خپل قومی حکومت ئے تباه کړو - په خپل کورنی اختلاف او دَبیغور په طور به ئے پښتنو ته ویئل - تاسو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خپل تومي حکومت برباد کړو. نواوس ځمونږ ملک ته راغلي چه مونږ برباد کړي." ستاسو د قدمونو په برکت خوارهٔ وارهٔ پښتانهٔ راغونډ شو. دښمنئ ترېګنئ لرے شوے. اختلاف ختم شو. پښتانهٔ پیئ اوشکرے شو. ټول پښتانه په دے پوئ شوی دی چه اتفاق کښے لوئ برکت دے. جناب والا بسم الله کړئ دٔ بادشاهئ بار په خپلو اوګو واخلئ. دا ټول پښتانه چه تاسو بیدار کړي دی. ستاسو شاته ولاړ دی. ستاسو تخت به سراو چت ساتی. کوم تام چه بادشاه نه لری. دٔ هغوئ نوم نشان نه وی."

بیا عظیم خان شرواني پورته شو عرض ئے وکړو مغلو خپل ځان ډېرا وچت ګڼړلو. پښتانهٔ ئے هیڅ و بنیادمان نه ګڼړل. پښتنو ته ئے سپک کتل. په جنګ کښے به ئے پښتانه هیڅ وخپل برابر نه ګڼړل. نن ستاسو دٔ ښه تدبیر او ملکو ینولو په برکت دٔ مغلو دٔ سر نه هغه نشه کوزه شوه. هر جنګ کښے مغلو ماتے کړے ده. او وړاندے په جنګ کښے دٔ هغوئ توفیق نشته ملک دٔ خدائ دے چه چاله دے او غواړی هغه له ورکوی. پښتانه به ستاسو دٔ تخت نه ځانونه قربان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړی.[1]

دَ سردارانو په ډېرو مجبورولو شېرخان بادشاهي
قبلولو ته تیار شو- او دَ "شېرشاه" خطاب ئې خاله
غوره کړو- سه

پښتون او ګټه هند کښې ننګ و نام بائیللے بیا
اصل ئې دشوکت کړولو مقام بائیللے بیا
راغونډ شو پښتانه په یو مرکز په یو امیر
دستر ګوړپ کښې جوړشولو نظام بائیللے بیا
پښتون چه دَ پښتو په میدان راغے په سیالئ
تو مونو ورته او کړلو سلام بائیللے بیا
شېرشاه پښتون ژوندے کړو دَ قوم به دَ ژوندے
پښتون دا خست دَ هند دَ ملک زمام بائیللے بیا
شېرشاه دَ پښتون شېرو و هند ئې تول وُخوړو
پښتون دَ دهٔ په مخ بیامونډ آرام بائیللے بیا
پښتون که یو مرکز باندے راغونډ شو هلالی
ناموس به والله بیا کړی دَ اسلام بائیللے بیا
دعا شورے په لسم تاریخ کال ۹۴۷ھ وو- دَ شېرشاه

[1] ګولډن تاریخ هندوستان ۳۳ ص-



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوهمایون آخري ځغره وُشوه ـ دَ قنوج په زمکه دَ ګنګا
دریاب په غاړه شیرشاه خپل فوځ په دے شان برابر
کړو. چه دَ لښکر مخکښے په خپله اوهیبت خان نیازي
عیسے خان شرواني ـ قطب خان لودي ـ حاجي جلواني
بلند خان ـ بجان خان اوسرمست خان ـ ښي طرفته
شهزاده جلال خان (چه دَ شیرشاه دَ وفات نه پس دَ
سلیم شاه په لقب بادشاه شو) تاج خان ـ سلمان خان
جلال خان جلواني ـ اوګس اړخ ته شهزاده عادل خان
قطب خان حسین خان اونورسرداران وو ـ شیرشاه
د فوځ په مخکښے دَ دے تقریر شروع کړو ـ

" زما رونړو! ما په ډیرکوشش تاسو را غونډ کړي
یئ ـ او ستاسو پالنه م اوکړه ـ هغه دَ نن ورځے دَ پاره
ستاسو بیداروم ، را غونډول او تیارول زما مقصد
وو ـ نن ورځ ستاسو دَ ازمیښت ده ـ هم دانن ورځ ده
چه هرڅوک په دے میدان کښے برشیو ـ دَ هغه مرتبه
به لوړه شي ـ داسے کوشش وکړئ چه دجنګ میدان
کښے ټول پښتانه یوځلے اویوآواز اوسئ ـ دَ پښتنو په
لښکر کښے که اتفاق وي نو په توره وهلو کښے هیڅوک
دَ دوئ مخه نیولے نه شي ـ زما خپلو عزیزانو ته دا خواست

76



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کوم چه حسد کینه او اختلاف پرېښي دي. د سلطان ابراهیم
وخت کښې هم دے کورنۍ دښمنۍ او اختلاف پښتانه تباه
کړي دي. تاسو بنه سزا ومونده. سپاهیان فتح او برے
په یو زړه کېدو مومي. اے عزیزانو! تاسو ته معلومه
ده چه ما څه اراده کړې ده. چه د دے جنګ د میدان نه
به زهٔ هغه وخت اوځم چه یا زما په لاس کښې د فتح او
نصرت بیرغ وي. او یا زما سر د دښمن د آسونو د
سُمونو لاندے شي. مګر یو ځل دے نو پکار دي چه
داسے کار کښې مړه شو چه ښه نوم اوګټو.

اے عزیزانو! دیره ونګړئ. میدان جنګ نه داسے
لاړ شئ چه د سر نه کفن تاو کړئ. یو سپاهي د پاره د دے
نه زیات بدنامي او رسوائي نشته چه د هغوئ سالار
قتل شي او سپاهیان ژوندي وي. په دے جنګ کښې
قدم ټکل کړئ نو هندوستان ستاسو دے. زهٔ
بوډا یم. په ډیر کوشش ما پښتانه را غونډ کړي دي
خدائ مه کړه. که په دے جنګ کښې تاسو شکست
وخوړ. سبکر تار به تار شو. نو بیا را غونډېدل
ناممکن دي. کومے پاڼے چه سانګې نه را پرېوزي
هغه بیا سانګې سره پیوند کېدے نه شي.»



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

جنګ او نخت او داسې سمنت چه آسمان زړګه وُرسيدل دَ همايون نوځ دَ پښتنو دَ لاسه دَ ميږ وملخ په شان دل شو - ډېر ميدان کښې قتل شو - ډېر ګنګا کښې ډوب شو پښتنو دَ مغلو پښې زمکې ته پرې نه ښودې - همايون ساه نيولې آګرې بنارته وُرسيد - او س همايون په شېرشاه پسې ملا وُتړله - همايون دَ آګرې نه لاهور ته لاړ - لاهور کښې تازه دم مغل راوُرسيدل - همايون جنګ له اوليږل - خو پښتنو شکست ورکړو - همايون دَ لاهور نه ملتان بيا بهکر ته لاړ - همايون دَ جوشه ميدان کښې شکست وُخوړ - په ځېله درياب نه پريوت - او سقه نظام که راو يستے نه وے نو ګنګا به ورے وو -

داسې وي ځوانان په قام مئين فدا يان داسې وي
داسې وي توريال او بريالي په جهان داسې وي
قوم چه جوړه وي په خپل تفتيبرا و په تب بيرمدام
اے هلالي هغه ننګيان فخر افغان داسې وي
داسې وي ليډر دَ قام چه قام نه تربانيږي تل
بيا ئې قام په لار دَ عزت مير کاروان داسې وي
قام چه شفاياب کړي په دارو دَ دروولئ په ژوند



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم نبض شناس دَ ملت او حکيمان دا سے وی
قوم کښے چه اوچت اخلاق پيدا کړی دَ حضرت رسول
قوم له نمونه دَ ښه اخلاق بادران دا سے وی
تل چه دَ خپل ژوند رخ ند سره مدام آشنا لری
هم دَ آزادئ علمبردار په ميدان دا سے وی
اے پښتونه! دَ وايه دنيا ته پښتون زنده باد

سيال ننګيال ګوريالے او بريالی دروړاڼ دا سے وی
پيدی واشنګټن کمال همتلر شيرشاه ته وګوری
تش لاس بريالی په خپل دښمن باندِ ګوانان دا سے وی

شيرشاه ښځلس کاله په امبرئ کښے او پنځه کاله په بادشاهئ کښے دَ هندوستان دَ پاسه دَ پښتنو غلبه ديو به قوت سرګند کړو۔ او دنيا ته ئے دا ښکاره کړه چه پښتانه دا سے حکومت کوی۔

## دَ شيرشاه آخری غزا

غزا ګانو آخری غزا دَ کالنجر وه۔ هم دا جنګ او دا غزا دَ دے غازی او توريالی بادشاه دَ شهادت سبب شو۔ دَ کالنجر په قلا چه جنګ اوږد شو۔ نو شيرشاه يو تدبير اوکړو۔ دَ تيمانو پيو کښے ئے دارو دک کړل۔ هغه پيپے به ئے دَ چو غنو په زور په قلا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ورخلاص شولے۔

یوه ورځ غازي بادشاه پورې ته ناست وو۔ چه شيخ جليل او شيخ نظام ولي راغلل پورې ته کيناست په خبرو کښې هغوي د غزا د اسې فضيلت بيان کړه چه شيرشاه د خوراک نه لاس واخست او سم د لاسه مورچے ته روان شو۔ د توپمانو پيپو نه ګوله باري په قلا شروع شوه۔ يوه پيپه د سرو لمبو سره د قلا ديوال نه په ستنه راغله۔ او په نورو پيپو کښې پروته دے سره هم لو پيپو اور واخست۔ اعلحضرت شيرشاه شيخ خليل، شيخ نظام او دريا خان شرواني په اور کښې جليل شو۔ شيرشاه محل ته بوتلے شو۔ په داسې حال کښې چه ټول وجودئ سوے انګاره وو۔ شيرشاه وے شا ليسے چه قلا پاتے نه شي۔ پښتنو داسې حمله په قلا وکړه چه ماښام نه اول د فتح زيرے بادشاه ته ورسيد۔

شيرشاه د ربيع الاول ۹۵۲ھ په دوېم تاريخ د اتوار په ورځ شهيد شو۔

شيرشاه پښتون بادشاه پنځه کاله حکومت وکړو داسې حکومت چه د هغې نظير د هندوستان په تاريخ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې موندے نشی۔ اورا تلونکو حکومتونو ته مثال دے
د شیرشاه جوړ کړی قوانین دَ مغل خاندان د پاره یو
دستورالعمل او انګریزی حکومت له او نن صبا د هند
و پاکستان حکومتونو دَ پاره دَ لوړے مثال دے۔

د پېښاور نه تر بنګال سړک جوړول۔ هر لس کروه
کروه باندے سرائے ورسره جماعت دَ ډاکخانے
انتظام۔ هر پړاؤ کښې دَ ډاک رسولو د پاره جوړه
آسونه تیار ولاړ۔ دَ زمکے بندوبست دَ مالیے مقررول
عدل کښې خپل ځوئ عادل خان او یو بقال یو کنړل۔
غل غدو د ملک نه ورکول۔ اسونه دا غل۔ دَ پښتون
نوم او چتول۔ دَ امن و امان ګلستان جوړول۔ غریب
او امیر ته په یو نظر کتل دا هغه صفتونه دی چه په
دَ شیرشاه نه بل بادشاه کښې موندے نه شی۔

شیرشاه خپل وخت داسے ویشلے وو۔ دَ حکومت ټول
کار به ئې په خپله کول۔ هره شپه به ئې تهجد کول۔ ځلور
ګینټے به ئې قرآن شریف لوستلو۔ وظیفه به ئې کوله
د صبا مانځه نه اول به ئې دَ وزیرانو کار کتو۔ او هغوئ
ته به ئې هدایات ورکول۔ دَ خزانے حساب به ئې
اوکتو۔ صبا به ئې بیا اودس اوکړو۔ جمعے سره به



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ئے مونځ اوکړو۔ ورد او وراد به ئے او لوستل ۔ بیا به ملاقانونه او سلامونه واخستل ۔ بیا به ئے جاګیرونه وویشل ۔ د فریادیانو فریاد به ئے واوریدو ۔ اکثر ژوندئے په غزا جهاد او د رعیت په ښېرازه کولو کښے تیر کړو ۔

د شیرشاه عملی ژوند ون دنن صبا سردارانو او بادشاهانو د پاره د عمل یوه نمونه وی ۔ سه

ژوند ے د شیرشاه نوم دے په انصاف او عدالت

وی نوم به د شیرشاه ژوندے تر ورځے د قیامت

---



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# "ننګيالی خوشحال خټک"

دَ اکوړ خان خټک قبيله او اکوړي کلي کښې دَ پښتون قام هغه ننګيالے او توريالے پښتون پيدا شو۔ چه دنيا هغه ته خوشحال خان خټک وائي۔ زمانے دا سے شاعر فلسفي حکيم شهسوار او بېرکم ليدلی دی۔ خوشحال خان دَ پلار نيکهٔ را سے دَ مغل خاندان وفادار او خدمتګار وو۔ په مغل دربار کښې د دے عزت شهرت حرمت او درجه نه وه چه خوشحال خان ته حاصل نه وی۔ و دَ مودونه دَ پښتنو او مغل ترمينځه پته پته دښمنی راغلے وه۔ دَ سلطان ابراهيم لودی او شېرشاه ترمينځه دَ وينو بهېدل د دے څيز يوه سياسي ترکيبی پيدا کړے وه۔ خوشحال خان ډير حساس او بيدار زړه خاوند وو۔ او قومي توهين دَ هغه په زړه کښې نوکے لګولے په دربار کښې د ننه او بهر په اولسي ژوند کښې د مغلو دَ لاسه پښتنو ته سپک کتل۔ پښتانه افغان غول ګڼړل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او پښتنو نه کړکه کول دي څېړونو خوشحال خان پورې
له رادست - نو دابه سلوکي خوشحال خان زغملې نه شوه
نو دَ خپل عزت، مرتبې، جاګیر هر څه نه يې او دنګل -
د قربانۍ میدان له راغی -او دَ مغلو مقابله کښې پښتو
او پښتونولي ښکاره کړه - قلم او توره دواړه يې دَ مغلو
خلاف استعمال کړه -

## پښتو څه ته وايي شي-او پښتونولي دَ څه نوم دې؟

د پښتو او پښتونولي کوتاه مطلب زما په خیال او علم
کښې دا دې :- د وطن په عزت او دَ قام په ناموس ځان
قربانول - د وطن خاورې څه چه خزلې هم دُ غیرو
په اشرټونه خرڅول - د جنګ میدان کښې د ښمن نه
شا نه ګرزول - دَ آزمېښت په وخت کښې دکوه قاف په
شان کلک ترم ساتل - دَ وطن دُ ښمن سره سینه
په سینه وهل -

خوشحال خان یوزیک نر ننګیال سیال او توریال
پښتون وو- هر عزت او شاهي د بدې له تندک ورکړ
آرام يې په ځان حرام کړو- ځتې دُ نخښتې په غرونو
ځنګلونو میدانونو کښې وګرزیدو- د پښتنو غافل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالي پښتانه

د مغل په اذوقه مست بې خوده پښتانه یې راویښ کړل
او د ژوند اله دا سبق یې ورکړو۔

## خپله ژبه مه هېروئ!

که تازي ژبه هر کوره ښه ده          پارسي هم ډېره په خوندوره ده
چا یې پلو د جمال وانه خست          پښتو لا هسې بکره پرته ده

ته چه ماته عربي خبرې وایې
د عربو ژبه څه زده عجمي؟
پارسي شعر م هم زده سلیقه لرم د واړو
پښتو شعر م خوښ شو هر څو که خپل کړي ښاغلي
ما ساده پښتانه څه زده چه یې وایې
په پارسي پارسي خبرې مغلځې
په پارسۍ ژبه م هم ژبه کویا ده
په پښتو ژبه م خلق بهره مند کړه
سل سرېښې نر یوه غزل ځارېږي
نن چه دا پښتو ده کړلا نړۍ خوشحال آویلې
چه خوشحال ختکـ یې والي په پښتو ژبه خبرې
په پارسي ژبه به نه وي که یو هیښې سخن هسې
په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کښې
پښتو یې م عین نر پارسي دي رسولي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

پښتو ژبه مشکله دَدے بحرمونده نه شی
هم مالره یوځو بحره په ډېر مخود سرا علی
دا نا به پرے پوهیږی د ناپوهه کار یږے لشته
دا ګُډ چه دَ بیان په تار خوشحال خټک پیئلی
کذاب دی که دا شعرلکه دهٔ پښتو بیان کړه
که هسے ویئیل اوس شی یا ځوادی چاویئلی
په پارسی ژبه که نورترما بهتر دی
په پښتو ژبه رمه عواړه مثال
وَ پښتو ژبے ئے ډېره خوبی ورکړه
چه خوشحال که په پښتو شعرآغاز
دَ خوشحال خټک په ژبه برکت شه
چه ویئیل که په پښتو له هره بابه

که زما ژبه پښتو ده — په پښتو وایئم خبرے
لو پښتون رانه ښکاریږی — چه پرے پوه شی نزدےلرے
په خوږ ولی کښے ئے فرق دے — ښه نږکورے دی شکرے
ګبینه لری مچیه ! — ډنبکی لری ښیرے
له یوه دریا به خیژی — مرغیچیچی مرغلرے

تفاوت ئے ترمنځ ډېر دے
په قیمت دی سره لرے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په دې ډول د پښتنو خوږ والې پایځ ته رسوی۔ او له دې ټولو څخه د خوشحال خان غرض هم دا یوه جمله ده۔ چه پښتنو ته وائی:۔

"خپله ژبه مه هیروی"

---

# د وطن د مینې په حقله ننګیالی خوشحال خان وائی

د پیلو پانړې خوره په غره کښې اوسه
نه چه پان د هندوستان خورې زما جنده

کړم یو ځله رسید وشی ترسینده
نور دِ نه وینم په تورو سترګو هنده

نه به سترګې د سرې په چا خوږې شی
نه ځې ما ته په اوبو شی د چا تنده

خدایه ماتې هغه خولې کړې | چه به وائی هندو بار بنه
بنه په هند کښې چنبا ګل دې | تر دا ګل د وطن خار بنه
هند په ما باندې دوزخ شه | که په نور عالم جنت دې
د بل حکم پرې زندان شی | چه په خپل حکم عادت دې
نه خپل ورکړل رانیول شته | نه خپل حکم حکومت دې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

که ګنډ رپه خبر آباد وکړې نسیمه
یاد مې ګشت وشي د سرائې دسیند په سیمه
په بار بار سلام زما ورته عرضه کړه
ورسره زما د لوري شو تسلیمه
اباسینډ وته نعره وکړه په زوره
د لښکرو نه د ښاو وا یه حلیمه
ګونډی وي چه بیا مستاسې جام نصیب شي
په ګنګا جهنا به نه وو له تدیمه
که د هند د هوا زار کړم شو به زار کړم
د اوبو بلاې لا بیده عظیمه
که د نهر او به ښینې کولې پرې باسي
هم د هر کوهي او به نه دي بې بیمه
چه سړې او به د غره نشته په هند کښې
ترې توبه که واړه ړک دي له نعیمه
همیشه به په هندنه اوسي خوشحاله
عاقبت به عاصي وُزي له جحیمه

مولا دِ خپل وطن نه بوزه
پردې وطن د مړو قدر کوینه
مورې لښړې قمیص راوُکه پردې وطن دې ترخې خولې راکوینه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالي پښتانه

دَ خوشحال دَ زړه خوښي نه شي بې سرایه
خپل وطن ئې په هر چا باندې کشمیر کړه
دَ وطن وُنې چندنې اګر دي　　خاوړې ئې واړه مشک عنبر دي
که سرائې نورو ونه سنګیږ دي　　کانړي ئې واړه ماته سره زر دي

ښښنې جُونې دې زلفې باد ته نیسي
چه شمال ئې بوئ راوړي په رتنبور کښې
لا منت لرم په دا هم له آسمانه　　ننداره دابا سیند له میرکلانه
یا او به دَ لنډي سیند یا دَ باړې دي
چه په خوله م تر شربت ګکي شیرینې
دَ مانړي غانښي ښخ دروي وآسمان ته

په خاته خاته لنډه پرې باندې سپینې
رحمت په اکوړي شه چه ئې وُنیو ځاې سرائې

چه ښه تهم ئې وکړه باور وکړه ځائې ځائې دې
تورغرئې دهوړي دې تر تیرا پورې سم تللې
نیلاب او لنډي دواړه عجب سره ایښي پرپائې
پرې سازه لویه لار دَ هندوستان وخراسان ده
ګذرئې دَ اټک دې چه ترې ترس که شاه ګکډ ائې
هم فیض دَ دې جهان شه چه یا دینړي پرې رادرومي
چه ملکدئې بارانی دې شه بهار لري هائې هائې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګيالي پښتانه

که سوات که اشنغر که پېښور دی دا سلګونه
رجوع لري وړه تر نبض ور دردوي د مرځلے
په هر لوري ئې ښکار ښته د شاهين او باز و هر څه
واه واه کاله پا منزئ چه ئې ښکار دی دلربائې
ځوانان ئې چاق درست چست و چالاک ئې په هر کار کښے
خو ښې سترګے سپين او سربلند بالا دي په نمائې
آسمان ختنئ جه اکره لاس د چارسي آسمانه
خوشحاله سرايه نه دے جه شوے په خير راغئ
ښه دی ترمينکو د وطن خاوړے
تو دے او ښه دی د وطن واوړے

---

## دَعِلم وهنر په حقله خوشحال خان وائي

چه ئې علم هنر نه وی ځنې تښتنه
بے هنر سړے که وګورے لاشے دے

علم تابيائي په نور ته جهل تابيائي په ښکته
يا عيسئ لره ور درومه يا قارون نه ځان وسپاره

چه ئې علم فضل نه وی چه په تخت د پاچا کښيني
يا ئې تور اين دے يا ليوه دے، يا ئې ګا د خر شماره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګیالي پښتانه

که په خوله، په غوږ په سترګو څه زده نکړې
نور ور درومه ازلي سیه ګلیم یې
پیر استاد مرشد به واړه درته شاکره
که په جهل مرکب کښې مستقیم یې
عاقبت به دې په برخه ندامت شي
چه دا هسې د جاهل سره ندیم یې
درست جهان په ناپوهانو سره ړک دې
ولې زیات که په کښې ګورې افغان دې
دولتمن دې په هنر په علم مټ کا
که هر څو ښائسته مخ وي بیا پساله شي
مرد به غم د خپل هنر کا نه د زر نه د دینار
هنر چه نه لري که دې پسر دې
سړې ئې مه بوله یو ګاو خر دې
که هر څو زور لري که هر څو زر لرې
ترا همه واړه بهتر هنر دې
که په اصل څوک سیّد یا شهزاده وي
چه هنرور نه وي مه ئې ستایه
ملائي په هنر تحصیل شي
شاعري ده له حکمته



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکیالی پښتانه

تر دا نارے نه ځارېږم    نادانان وا په ترما
نادان ځان لره بلا دے    هم جهان لره بلا
چه نادان وکا دا ورنه    هسې نه کا اژدها

چه نه ئې دین وی نه دولت وی
نه ئې په علم ښه خوئ خصلت وی
سړے ئې مه بوله یو ګاؤ خر وی
د ګاؤ خر به څه برکت وی

هغه استاد ګڼړه چه درته څه ښئ
کشر هم مشر ګڼړه چه درته ښه ښئ
په سینه بیرو به ئې منت لرم
که دیوے راشی راته څه وښئ

چه خبر په هنر نه هغه کم عقل    چه زخط سترګے ئې نه وی هغه کوړ
څه کم عقل نادانان دی    دا ړانده بے بصارته
نعمتونه په خپل کور کښې    مری له لوږے له هیبته
کانړی لعل د بدخشان، ګیاه کیمیا ده
چه ئې نه پیژنے ته، ګناه د چا ده

هنرمند سړے په هر دیار عزیز دی
په هر ځائے ئې قدر قیمت لری سره زر
د هر چا قدر قیمت په خپل هنر دی    ګنی قدر څه لری دلی خند کا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دَ اتفاق په حقله خوشحال خان وائی

که توفیق دَ اتفاق پښتانهٔ مومی
زوړ خوشحال به دوباره شی په دَ ځوان
هره چار دَ پښتانه تر مغل ښه ده
اتفاق ورځنه نشته دے ارمان
دَ بهلول او دَ شیرشاه خبرے آورم
چه په هند کښے پښتانه وو بادشاهان
شپږ اوه پیړۍ هسے بادشاهی وه
چه په دوی پورے درست خلق وو حیران
یا هغه پښتانه نور وو دا ځهٔ نور شول
یا دَ خدائے دے اوس دا هسے شان فرمان

چه مغل وته رو ترله توره
درست پښتون ړم وَ عالم ته ښکاره کړه
اتفاق په پښتانه کښے پیدا نه شو
ګنړه مایه دَ مغل ګریوان پاره کړه
سره یو تر بل اخته وی په خپل کور کښے
په نفاق ئے غم وماته اجاره کړه
دَ مغل په منصبونو غره کیږی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

يکباره ئې زه په نفس اماره کړم
ما دولت ورته ګڼلے وو په توره
دا زما دَ توري نقش ئې آواره کړم
په منصب چه غولول نه کا نور څه کا
مغل خدائ وپښتونه بے چاره کړم

که رښتيا وايم شېر شاه دا هسے نه وو
لکه مونږ يُو نه پيدا له کوهستانه
دَ خټکو دَ نفاق له نا پوهيه
يا چه غم لرم له خپله خاندانه
پښتانه چه بے ننګي کا ځوک ئې څه کا
ګورستان لره به درومو له ارمانه
دا دا غونه چه خوشحال لري په زړه کښے
رغيدل به ئې په تاکيږي سبحانه
چه په درونږو کښے نفاق کا نالائق وي
يائې ښه کړه يا ئې مه کړه زه وه نور

په بل عشق تړيک هيڅ ويشلے نه يم
که ويښتلے يم خو بيا په خپل تړينګ يم

دَ يو پلاره زو دلي سره تل شورو غوغا
که ځلوينبت دي که يخوسل سره داره شا په شا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

مال و مُلک دولت مې ژغوره     په دا حال کښې ربّنا
اتفاق پکښې باقي شي     دا نفاق دې شي فنا

خپل دې پردي کړل پردي به خپل نکړې
خصلت دې بد شو خصلت به بل نکړې
غم دې په برخه شو ښادي به تل نکړې
چې نا قابل دې ځان به قابل نکړې

بخت د مغلو پښتانه نه پرېږدي
چې اتفاق وکا په توره زړه کېږدي
ګڼه که څه هومره پښتانه نه دي
چې ئې په یاد کا د مغلو زړه رېږدي

پنځه دې ګوتې دي که یوه نه وي
د نورو ګوتو چار به دې څه وي
د لاس خوبي ده په پنځه ګوتې
چې سره جوړې وي کار به دې ښه وي

خدائ دې ورک د پښتنو کا دا درې توکه
یو بې جهل، بل بد نیت، دریم نفاق
دولت د خلقو په اتفاق کښې دې
هغه به خوار شي چې په نفاق کښې دې
زوهښوم یو یارم یک رنګ ونه لیده



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګیالی پښتانه

زړه م تر اوسه په اشتیاق کښې دے

خدائے چه ورک کا بنه میړونه په اولس کښې

پیښنه وی هغه اولس وته بیا ننګه

یا به کور په کور اخته شی په میرځیو

یا به ملک د مغل ورکا ندی بے جنګه

څو څو بنا دی دی په دا آفاق کښې

تا ډېره بیا مومئ په اتفاق کښې

څو څو عمونه یا محنتونه دی

یا په دروغ کښې یا په نفاق کښې

## دَ مشورے په حقله خوشحال خان وائی

بند و بست د کائنات دے په خبرو

یو تر سله صدقه شه سل تر زرو

دَ نما ځه تر قضا کړانه را قضا ده

چه قضا شی دَ څلورو مصلحت

نورانی کا هغه ځائے چه سره کښینی

دیرینه څلور هوښیار په مشورت

په اخلاص چه په دعا لاسونه هسک کا

وَرُبه پرانست شی د فتح دَ نصرت



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ښکیالی پښتانه

بې ګنګاشه به هېڅ کار په لاس رانه خلی
چه خبر شی دګنګاش په برکت

په هر کار کښې مصلحت بنه	خپل پرې نه نصیحت بنه
چه لر بر له مصلحت شی	کله خیر په برکت شی

چه د خپل عقل ویل کا هغه کله خردمند دی
چه پوښتنه مصلحت کا هم هغه د عقل بند دی
چه مې فهم فکر وکړه په دا خپله دانائی کښې
بل نادان را ښکاره نه شو که نادان دی خودپسندی

که سړی په مصلحت کښې لر بر نه شی
زه ضامن چه د ده کار به ابتر نه شی
د رستم د مړنتوب خبرې آورم
ولې څوک به بې لښکره صفدر نه شی

هر څوک چه کار کا بې مصلحته
هېڅ به ونه خوری بر له دولته
که بخت ئې هر څو کارو نه ساز کا
خالی به نه وی له ندامته

مصلحت لکه ټوپک دې	ستا مراد لکه نخچیر
که دې بنه ګندار پکار وی	قراول ئې کا بنه څیر
په ګندار کښې هول مکړه	په خپل ځان اوسه خبیر



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نور ماشه کړه بانډ کوزه    لرو برمکړه نظير
زهٔ خوشحال ختک ضامن يم
که خطا شي يوځ تير
درست پښتون له ننګهاره تراټکه
سره يو دَ ننګ په کار پيټ او آشکار

## دَ مړانې په حقله خوشحال خانوالیُ

کل کښته ده بې توره    که کابل دے که کشمير
مړنی دی چه ياديږی    په سندرو يا په وير
پښتانه چه نوره فکر کا ناپوه دی
بې دَ توره خلاصے نشته په بل کار
چه سرکنده سربازی کاندی دَ تورو
زه خوشحال ختک ترهسے هنر جارشم
يا تکيه دَيره خدائ ده يا دَ توره
په جرګو مرکو نه شي کار تمامه
که دِ نقش دتورے کښيني راته غوښکه
کامران به شے هله له هره کامه
بنه ځوانان به خيل هوړيږينه بندے دلاسه
که ئے سرشي دَ خپل زړی تر زامه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګيالي پښتانه

چه زړنه وهي په دواړه لاسه توره
چا ملکونه په ميراث نه دي موندلي
چه تر سرو تير مال تير نه شي په عشق کښې
څوک د جونو په پالنګ نه دي ختلي
داهمه زما د توري صدقه ده
پښتانه چه پکښې خوري سيور غال
يګانه ځوانان که زړه له ماسره وي
نور زما ور په پنجاب باندې برغال

چه په توره ترک تازي کا — هغه هر کله کامګار دي
مور دې نه شي باندې بوره — چه ميړونه د کارزار دي
څوک چه شته تر شړته غړه — د تورزنو خدمتګار دي
چه په ځان سره تورزن وي — بل کار نشته تر دا بنه
که ميړن وي په تورزنو — خو نامردي هم لا بنه
که نه داري نه هغه وي — هغه څه دي وڅچ وابنه
چه د اور لمبه پرې راشي — وابنه سيزي بلا بنه
چه ميړن په وسله نه وي — مرد دې نه والي وځان ته
لاس د سره کاسته ترې توري — ځان د وجوره وي ځوان ته

د توروپه ميدان کښې چه سوداوي د سرونو
هغه زمانه مرکوره تل به سوروي زما اس



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دخوشحال خټک خوښي به هغه وخت وي
چه بريښنا د سپينو تورو وي د زغرو
تر اورنګ بادشاه م ووېست تاؤ د بند او د زندان
نقش م کښېناوو د تورے په هندو په مسلمان
لا په خوب کښې په لړزه پرېوزي لکه
چه د چا تر غوږ زما د تورے شرنګ وي
زه خوشحال کمزورے نه يم چه به دا رکړم
په ښکاره نارے وهم چه خوله ئې راکړه
يا به سر د خيل ورمېږ په وينو رنګ کړم
يا به ښکل کړم دغه ستا شونډے ملوکے
يا د ښو زلميو به غږ دے په ميدان کښې
يا د ښو دلبرو ځي په جهان کوکے
ګرتا سره سامان د سلطنت دے
چه په هوډ م سينه خوله غوارے خټکه
په درست جهان به نه وي يو د ما غني نه رسوا بل
ورځم توره وکښلے چه مئين واورم په تا بل
يا د ښو زويو سندرے وي د زړو
يا د تورے په ميدان کښې هړي ځهائي دے
مزري توب بويه د تورو په ميدان کښې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګيالي پښتانه

په خالي ميدان هريو ښکېږي مزرے دے
که دَ جنګ په کار کښې پرېږدی حکمتونه
چه دَ سر صرفه ونکړی نوربری دے
مردی دے هغه ده که په زړه شېر نه ئے
څه خوښه که زړه ورتېر نه ئے
تر سر چه تېر شي ويره هغه نه وي
ويره ده هُمره چه تر سر تېر نه ئے
مست هاتيان خوني مزري تورے وکښلے
که دَ سر ويره دِ نه شي کار آسان دے
ننګيالي چه دَ اخلاص توره په لاس کا
ډېر سنګرے تر همت پورے کاروان دے
دا يوه څمڅه دَ ځان وينے بلا شوے
چه سړی سره ئے غم په هر زمان شي
که تل تورے غښتي خوري ماتے دجنګ دړی
مرد به سوړنه شي په زړه له اِنتقامه
که په توره ئے ځواب ورکړے مردي ده
که وجود دے څوک آزار کاندي په چوب
که ئے کښېنوے په باغ کښې — مرد به وُنه کا آرام
څو يوره په غليم نه کا — هره چار دَ اِنتقام



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

فراغت کا خبر نه دی　　نامردان په ننګ ونام
سر دې نه عزه وی خوشحاله
دَ بلا نه چه سردار دی
دَ سردار دریاست وُنه په ویښو
په لړ شپیتو دَ اعداء کا شړ ونه
بې دَ تیغ له آبه نورې اُوبه نِشته
چه جنګجوئ سره ساړه کا تهترونه
هغه چه تورې دَ برې په رخت وهی
هغه ئې واړه دَ بل په بخت وهی
سپاهیان دَ طمعې دَ خپل مقصود دی
دَ ننګیالي تورې ښبتن دَ تخت وهی
سرداري لره بویه دا درې توکه
یو همت، دوهم توره، دریم اخلاق
مرد به نه شي په ګفتار　　څو پیدا نکړي کردار
چه دې ونبکنئ مرد نه ئې　　که له تانه وی په ډار
چه څه دی خو انتقام دې　　دَ مردانو کار و بار
عفوه هورته ځائې لرینه　　چه نه عیب وی نه عار
چه غیرت ورځنه نه وی　　هغه مرد نه دی پکار
هم مهره لری هم زهر　　ښه مردان دی لکه مار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه هم تند ره هم باران وي
ترڅنګ مرد اوس ځار
مرد به غم دَ خپل هنر کا
نه دَ زر نه دَ دينار
مرد به غم کا دَ خپل شرم
دَ عزت دَ اِعتبار
نامرد فخر په نسب کا
مرد نه مور لري نه پلار

مردان هغه دي چه همت ناک وي
په هره چار کښې چست و چالاک وي
که غم پرې راشي پروا دُ غم نه کا
خواره له هر چا په زيست وژواک وي

واړه زړونه فراغت وي په بنا دې ليدې
چه په غم کښې فراغت شي زړهٔ هغه
دَ عالم په برې خبرې، لور په لور تورې لبنکرې
زړهٔ مې نه خوزي له ځايه غرض هسې وي کنه
دَ جهان غمونه واړه په کښې ځائے شول
شکر دا چه زړه ئې لوئې راکړه ماهم

نه سره سم دي واړه ميړونه
نه سره سم دي د هر چا زړونه
زړونه هم هغه کړه چه لکه غرشي
که بارش ے راشي هزار غمونه

په جهان کښې که مردان دي هم هغه دي
چه دَ سختې وَنه وُنيسي ځانونه
کيد په بے زړهٔ دے وهم وسواس لري



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

مزرے زړه ورد ے کله هراس لري
هغه مزرے نه دے هغه ګیدړ دے
په کار و بار کښې چه زړه کرزپاس لري

غم په زړه کښې بې غلیم دے      څو توانیږی خواره وی
یا غمخوار څرته پیدا کړه      ورنه کښېنه خواره وی
یا تېره توره راوا خله      څو چه ری همواره وی
یا فریاد فریاد تا رے کړه      ژاړه تار په تاره وی

یا خوشحال غونډ زړه راوړه
ځاے ئے کړه انباره وی

دَ لوړچا وَته وران مه وایه خوشحاله
چه په قول، عهد وران شی وران هغه
یوه نښه درته وایم دَ بے شرم
په وعده په قول نه وی سرګرم
مرد به خپله وینا ژغوری څو ژوندے وی
دَ نامرد وینا ن شته، نشته سبا
مرد هغه چه همت ناک برکت ناک
دَ عالمه سره خوښ په زیست ژواک
مخ ئے مخ، قول ئے قول، عهد ئے عهد
نه دروغ، نه ئے فریب، نه تشې تیاک



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالي پښتانه

لږ ویل، ډېرے کول په غاموشئ کښې
دَ غنچې غوندے خوله پټه سینه چاک
مرد به نه شي په ګفتار
څو پېدا نه کړي کردار
چه دروغ تر خولے اوباسي کله خوله ده
چه رښتیا تر خولے وباسي خوله هغه
چه ځوان وُم داوُم زوړ شوم په رښتیا رښتیا خبرو
علم دَ ځان دښمن کړم که دا عیب وي هم دِ وي
دروغ ویل هغه کا چه يې وېره وي یا طمع
خوشحال په دا اړنه دے حق به وائي څو يې سر شته

راستي لار ده بادشاهي
په کښې نشته ګمراهي
د رښتو نو پر رالښته
دَ جهان په بې خواهي
دَ رښتینو سره مل وي
تل نصرتِ الٰهي
دَ رښتینو ځائے جنت دے
د قرآن په ګواهي

کله منت اخلي دَ یوې کېږدۍ دَ پاره
هر چه همت ناک دی که په کور لړي جوینه

دَ سړي همره بنا ري ده
چه په زړه کښې يې همت شته
چه همت دَ سړي نه وي
مهیّا ورته نکبت شته
سرهاله په تنه بند دے
که دَ سر سره عزت شته
دَ سړي چه عزت نه وي
دَ ژوندون يې څه حالت شته



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

کہ ئې تہ په منت مړے وې مه خله

کہ دَ چاپه باغ کښې بوټې دَ کیمیا وی

دَ منت دارو که مرم پکار مې نه دی

که علاج لره مې راشی مسیحا هم

دَ نر ښتو آمین منت دے په دعا کښې

لا جرم ورځنې پټه کړم دعا هم

دَ خپلے خوړے نغن دَ خمچړ ... نه چه عنمینه د بل په کچو

نه اور دَ خپل نغری رلنډ پچو ... نه اور دَ بل نغری دَ دېرو وچو

چه سرے شنه وی ښخښم په وخت دَ اوړی

بادشاهی دَ اورنګ زیب ده زما عنرکه

چه خوشحال باندے ناستے کا ... دا یوزے نه دے اورنګ دے

که درست باغ دَ میوو ډک وما ته کښې دی

تر همت پورے مه څه دے یو خسنړے

لکه باز په لوئی لوئی ښکار زما نظر دے

نه چه ګرزی ګرنګټ نیسی بادخورک یم

چه په عن خوئے رنګ کا رهغه زمرے یم

نه چه ولے وابښه خوری هغه منږک یم

خسا جونه مردار هم ونه ... سپے ګیده شرم کفتار خوری

دَ مزریو هغه دا دے ... چه یا صبر یا خپل ښکار خوری



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

چه خپل بار په هیچا نه بدي بار د بل وړي
هم هغه سړے لویق دے د ثنا
که آسمان دے د زمري په خوله کښے ورکا
د مزري په خوله کښے مه پرېږده همت
د نامرده سره مکے نه رسیږي ښه د مرد سره په بیابیا یاری کړ
پس له مرګه ښه د مرد تر قدم ښه یم
ګور دِ مه شه د نامرد له ګوره سم
پاکښتي له زوره ورو سره مکړه یا د روئ غونډے پښ اکړه مړونه
خونه چه پاکه وي ښږے برکت اوري
وربانده هرکله عزت دولت اوري
پاکي چه نه وي په هغه خونه کښے
وربانده هرکله عزلت نکهت اوري

چه بهتر تر هر نعمت دے که نعمت دے روغ صورت دے
چه یے دا نعمت روزي دے سرتر پایه عنایت دے
که یے پېژنے ته قدر روغ صورت لوئ غنیمت دے
ستا د ګوبنی ځان پوارے تر جهانه زیات قیمت دے
که دے ځان نه وي جهان وي په عدم یے اشارت دے
دا جهان لکه معنیٰ شو ستا وجود یے عبارت دے
چه په ځائے یے عبارت وي د معنیٰ هومره قیمت دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د صورت د خوشحالیه مدار داوړ په صحت دے
چه صحت د صورت نه وي ورته هس مال و دولت دے

## د لوړې ارادې په حقله خوشحال خان وائي:-

که غوټے پیښے وهے په لاس به دې رشي
چاوے دا چه په دریاب کښے ګوهر نشته
چه نه د دین نه د دنیا دی
هغه که ګرځي په کار د چا دی
پرېږده چه ومري جهان ترې خلاص شي
په دا جهان کښے یوه بلا دی
چه په دواړو سترګو ړوند په غوږ و کوڼ شوے
لاړ په خوله غفلت په لاسو پښو هم شل کړے
چه مزرے خپلے منګلے نه کړه کښېلے
هومره نه وي خرېے غوښے ورته تلے
مرجو نیا ندر مرجان هله ولجه کا
چه قبول کاندي د بحر شوني چپلے
عاشقان چه ترسرتېر شي هله ننګ کا
د دلبرو پستې خولے لکه بخسلے
باز چه والوزي نه چاله هله کړي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

دکبکانو بنایسته ستر ګی کچلې
چه دا ور بجړې باد سره رفیق شي
بیا هاله کا په ملکونو لیبې ببلې
چه سیلاب د غره د سره نه روان شي
بیا هاله بیاځی په مخ د پیرې خځلې
چه محنت په ځان قبول کا نو راحت شي
په عارف د مصیبت شي عافیت شي

څوک چه پروېږی د دهقانی خوری | خواره د خرو د مهمانئ خوری
چه یې په ظلم خوری واړه دِ زهر شي | که سالونه د سلطانی خوری

تخم شته هم زمکه هم قلبه لرې تیاره
هر اسباب دِ جوړ دے ولې نه کړې کار دکر
درنه چاوې چه پرې مه پرانزه عزته
تاملل د هر سرې ګره کشائی دے
چه ودانې چارې [illegible] په [illegible]
چه دے و نیوه په چارو کښې تلوارو

چه دانسته ددرمی چه آهسته دی | نشته هغه مرمی نصرت هغه مرمی
چه کا هلی کا یا پېر تلوار کا | نامرد هغه نرمی ناکس هغه نرمی

مردان هغه دی چه همت ناک وی
د ننګ په کار کښې چست و چالاک وی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالي پښتانه

کار چه آغاز کا انجام ئې فرض کړي
په زړه هم پاک وي په خوله هم پاک وي
تر مطلوبه پورې شرط د رسیدو دې
که تمامه لاره په وینو شي آلوده
یا د لېچو زور پکار دې یا د زرو
خوار هغه شو چه په دواړو وي کمزورې
خپل پردي راته په خوله وائي زر زر
د عالم نه تر هغه دي بهتر زر
اوس په دا دور ما ولیدل خوار دي
تر پلار تر برادر تر پسر زر
نورو چارو ته څه ګورې دا ګوره
چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
فیروزه الماس یاقوت لعل له کانه
له دریابه نه وکاږي ګوهر زر
زمکه څه چه د آسمان ښایست په زر دې
ستوري زر دي، آفتاب زر دی قمر زر
زور قوت، حرمت هر ځای درومي چه زر وي
د بادشاه په سر څوک کېږدي افسر زر
ښه ځوانان ئې لېدل نه مومي له ورایه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکیالی پښتانه

دَ نامرد په غېږ کښې ورکا دلبر زر
دَ ګیدړو نوم په خوله څه لره اخلی
دُ مزری دَ تنه هم پرے کا سر زر
هر مراد چه دَ سړی دی په دنیا کښې
دَ طلب په وخت ئے ورکا دربر زر
نه به دے په لږو زرو نظر وکا
نه به پریوزی د خوشحال ته عزعزنه

زر په بد ورځ پکار شی　　هوښیار ځکه ساتی زر
دَ زردار بلا په زرو　　د نادار بلا په سر
چه سپر دی ګذار په سپر شی　　چه سپر نه وی لاس شی سپر

زر دی چه هر چا ته، اعجاز معلوم کا
معدوم موجود کا، موجود معدوم کا
وینځه میرمن کا، خادم مخدوم کا
زر په سندان کین دی سندان هم موم کا

بو دولت ته رسیدل دی　　بل دولت تر سرول دی
دنادان سره ګډ وړ شی　　دواړه ګوکه د عاقل دی

که هر څو مشکل کار وي نه درته پیښ شی
فکر مکړه چه آسان به په زر نه شی
ما چه ولیده څو زردی په دنیا کښې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالي پښتانه

خو سړي دې په مینه کافر نه شي
دَ دنیا د سود دَ پاره کومې او کوره
څه خو شرم مروت ورته وګوره
په درست عمر هغه ځائې ورپیښ غواړې
چې دې پریوزي له پلوه چرته توره
په زړګي باندې دِ توره سوې داغ شي
چې دِ توره یا پیسه روزي له کوره
دَ لوئ کنده په تا باندې پریوزي
چې د کوره دې ډوډۍ وزي نان کوره
دَ دنیا مینه په تا باندې دریاب شوه
نه په دا دریاب کښې ډوب لاړې ګوره

دولتمند سړې هغه بللې بویه — چې له سینه یې جدا دَ چا والۀ شي
دولتمند دې په هنر په علم متکا — که هر څو بنا یې نه مخ وي بیا پیساله شي

څوک د دنیا ورته مړیونه دي خوشحاله
شاه زلمیو ته دَ لوبو چنغاله شي
چې څوک دنیا لري په ځانِ نه خوري
د کور دا توري خاوري دِ وخوري
چې مال یې پاتې شي وبل شریف ته
چې یې له خپلو یارانو سره خوري



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

په هغه خوړو پېښېږي نه شي چه يې نه خوري
سړي هسې په ليدو ورته سوځيږي

چه زړه د غم شي هسې زړه دار مه شي
چه زړه د هيڅ نه وي هسې پېشکار مه شي

په دالاس راشه په دالاس دروم‌ه
د لږ و ډېر په حساب په شمار مه شي

همه ړک طباخ په سپي خوړلي ښه دي
چه ترخنګه يې د عورتو په سپرو خوري

لکه کمته د مال هنرلري — هسې خوړنه د مال هنرلري
لکه بازنه د مال هنرلري — هسې ساتنه د مال هنرلري

که په خره بار ندي د زرو صندوقي بار کړي
خر به هيڅ په دا ښه نه شي خرغرخروي

د دنيا په مال د نيکو نام حاصل که
تل جهان وچانه نه پريږدي مالونه

هسې مال را مه کړه چه يې ځاى وي ترزړه ښکلته
هسې اموال راکړه چه يې ځاى د زړه د پاسه

ته کرم لاس ور دسترم نشته تلنديم — کمزوه مابه دنيا و باز له کله
کرم لاس لکه درياب له درو تش دے
ولي سترګې رم درياب عوند ے دي سري



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالي پښتانه

مړ هم هغه ګڼه چه زړه ئې مړ دی
سترګې مړې لري که ووړ که شړ وی

که د ډېر دولت لري چه طمع خواست کا
د ګدا ایښۍ د کار ته هغه جوړ دی

زر زما تر لاسه نه راځي ویرېږي
که هر څو ئې د لاسه ورسره کېږي

زما لاس ورته نزاوره هم بتر شر
لا په اور کښې ئې پو د رنګ ساعت تېرېږي

زه او زر سره له ځایه غلیمان یو
په جهان کښې غلیمان سره رغېږي!

چه غلیم د مړني په نظر کېوزي
نور ئې زړه د ده د مړک ورته پرېکېږي

شاه ځلمي به خپل غلیم کا تر ځان وړاندې
د نامردو نه به سل چیلې درېږي

کانړي زر که سره وکوړې پو رنګ دي
فرق ئې دا دے چه په زړو زړه رغېږي

هغه زر تر کانړي لوړ ئې لا بتر دی
چه ئې ومنړې په زمکه نه خوزېږي

په اوبه په ځائے حصار شي نور سیماشي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګيالي پښتانه

صفائي ئې هم په داره چه بهيږي

چه زړلري په کور کښې — ښه هاله شي سرداري

درستي ئې بده چارده — بده نه ده زر داري

لا به کله هغه ګنج ورکوي بخته

چه خوشحال به ئې په پليو په سورو خوري

دَ زنانو په حساب دي مردان مشه

چه له زيبه له زينته هم آغوش دي

چه شرم ننګ ئې نه وي نه هنرلري پوهه

په مال ئې نظر مکړه نه په حُسن نه په ذات

که په کور راشي زرګونه — هسې دروُمي لور په لور

خپل روِښ به اوس نور نکړم — که م لنډ کړه مخ م تور

که زما ننر لا سه راشي — خزانې د درست لاهور

تار په تار به ئې خوره کړم — ځان به نه کړم دَ پيغور

زړهٔ نوم دَ پاره ښه دي — هيڅ پکار نه دي په کور

هيڅ کار نه شي بې له زړهٔ — چه پيرې وُرپوهيږم نهٔ

ګرم څه نه دي داوګړي — که پيرې و باسي لېمهٔ

چه سپين وسرهٔ پرې ورکا — هغه ښکل کاسپينه خولهٔ

هم زړدي که ئې ګوري — چه په غرهٔ بياني اوبهٔ

که نصرڅو له تا زړهٔ بد وي — بيا په زړور غيږي زړهٔ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

---

# د پښتو د ننګ غیرت په حقله خوشحال خان وائی

ننګیالی د ننګ د پاره    په هر څه لګوی اور
چه په نام و ننګ اړ نه وی    که تل ئے وننګی مخ ئے تور
سر یې دار لک شو بنده دے    نه لک شوے په میغور
جهان شرم نام و ننګ دے    که دا نه وی جهان ړنګ دے

چه د ننګ په چارو نه وی خوشحاله
که ئے نروینے په سترګو هم ماده دے

څو دے توان توفیق رسیږی بیرون مشه
په هر دم د پښتانه تر ننګ و نامه

چه نه لری ننګونه    وړئے مه وینه رنګونه
دا د ننګ د پاره کړم    په دا هسے کړ ننګونه
صد رحمت دا بابانِ بنائی    په دا هسے آدمکونه

بله هیڅ لید له نه شی په دا منځ کښے
یا مغل د منځه ورک یا پښتون خوار

پښتانه چه تور څه فکر کا نا پوه دی
بے له توره خلاصے نشته په بلکا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

نر مغلو پښتانه په توره ښه ړي — که په پوهه پښتانه وي څه هوښیار
هره ورځ ور تلل دربار ته — ګوره دا څه مشقت دے
د بل حکم پرے زندان شي — چه په خپل حکم عمارت دے
نه شیرین خوابده یاران شته — نه د چا سره صحبت دے
نه خپل ورکړل رانیول شته — نه خپل حکم حکومت دے

که هم عمر په شماره تر شپیته تیر دے
لا په کار د سوارۍ لکه اوزبک یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالے د زمانے خوشحال خټک یم
اورنګزیب راته یو کال وشو چه پروت دے
په صورت حیران پریشان په زړه افګار
مغل نه چه ګورم هغه هسے مغل نشته
د ترور وارے تیر شو اوس وریا یې قلم دے
پښتون په زر و نیسي په فریب په تیتالو نه
په ما ئے اثر نشته لا په ما د خدائے کرم دے
نه چرګ یم نه کارغه چه به په کور د موږ کړم
باز یم یا شاهین یم په خپل ښکار زړه خرم دے
که ما غوندے نور هم وے په دا کار به زه خوشحال وم
چه ما غوندے نور نشته ځکه پروت راباندې غم دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

دا منصبونه دا اِنعامونه　　　　واړه زنځیرونه دي واړه دامونه
پښتون مغل به سره درست نه شي　　　　خوشحال یې مه وینه دا انعامونه

یو نه شول پښتانه په منصبونو
خدایه ما ژغورې له هسې غضبونو
پښتانه لره لوی عیب دی که یې ګوري
چې نازیږي دَ مغل په لقبونو
شرم ننګ نام و ناموس یې په یاد نه دي
خو ویل کا دَ منصب دذ هبرنو
پښتانه که جنګ مغل سره په تیغ کا
هر ختک بیوې مغل تر جلبونو
دَ ختک دَ ننګ جرګه نشته خوشحاله
لا وتلي دي له کومو نسبونو؟
څه پروا زې ننګ په ما راغلې نه دې
پښتانه ډیر دي په غرونه په سمونه
یا به واړه دَ مغلو درم پرېږدي
یا به زه هم په لاس واخلم درمونه
چې بنورروا خوري دَ مغلو واړه سپي دي
دَ سګانو په خوله څه آخلم نومونه

څو وانه خلی له غلیمَ اِنتقام　　　　مردنه خوب کړه، نه خواړه کړه نه آرام



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالي پښتانه

چه د ننګ او د ناموس اندېښنه
د هغه سړي به نه وي احترام

که همت او حمیت غیرت پکښې وي
تر خښتنه نه بهتر کړه غلام

په ورو ورو به قدم دې ور باندې خېژي
په یو ځله ټوک نه خېژي په بام

په طلب کښې که سستي نه وي باور که
د ژوندون اوبه به بیا مومې په کام

واړه ورځې سره نه دي برابرې
کله درد کله دارو کاندي ایام

د کمبخت غصه م وړونه له دله
خدائے چه راکړه په دوده د بري کام

چه په ځمځ برسه دروي عابد خان دے
په هر ځائے د خپل بابا کا تازه نام

خدائے دې عمر د خپل پلار کا، کام و نام هم
په غلیم دې دے لاس برلاسي مدام

علیمان دې تره خدرخوري که پوهېږے
تېره تېغ ئے اژدها دي خون آشام

چه داسې توربن روزي خدائے پیدا کړه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

پرې دِ فخر کا همه ورونړه مادام
د ښکرو کار څه هسې آسان نه دے
چه پرې هر سړے به موږی انتظام
چه رښتینی تر سر تېر مخبل خوشال کا
دهغه د وړاندے سر کیږدی انام
د زمری بخره ورمیږ دنیلی کاږ دے
ګیدړ، تروږی ئے مرېږی په لحام
د "کنبت" جنګ مې په ننګ د پښتانه وو
بل غرض مې په منځ نه وو نه مرام
بله هیڅ لیدله نه شی په دا منځ کښے
یا مغل د منځه ورک یا پښتون خوار

د میړانے او غیرت دے مجسم پیکر د مرګ په وخت دا وصیت اوکړو " ما هلته ښخ کړئ چه د مغلو د سورو د اسونو ګرد نما په ادیره رانه شی" د پښتو ژبے د تورے میړنے او د قلم خاوند د ډېر سرګردانونه پس په تیراه کښے د ۷۸ کلونو په عمر د ربیع الاول په ۲۸ کال ۱۱۰۰ هجری مطابق کال ۱۶۹۰ء وفات شو. او خوږه کښے په ابدی خوب اُوده شو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)



د افغانستان د آزادۍ لومړني علمبردار الحاج میرویس خان هوتک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# امیرخان یا میرویس خان

پښتو، پښتونولي، ننګ او غیرت ښه ځلمیتوب
دا ټول چه سره غونډ کړے دے نه جوړیږي پښتون

ننګیالي پښتانه! یو ښکلے داستان دے۔ دے خونده ور داستان کښے دَ هوتک امیرخان چه په میرویس مشهور دے بیان دَ مزے نه خالي نه دے۔ لکه دَ یوسفزو، غلجي قام هم یو لوئي شاندار قام دے۔ هوتک او ابدالي دَ غلجي دوه لوئي ښاخونه دي۔ هوتک دبارو زوي دَ توران نمسے او دَ غلزي کړوسے دے۔

دَ پښتنو ټول ژوند ورن په آخ او ډب کښے تېر شو۔ دَ آرام وخت په پښتنو ډېر کم راغلے دے۔ او که راغلے دے نو داسے لکه دَ خوب لیده! کله پښتنو باندے مغل راوُختل او کله دَ ایران پارسیانو پښتنو باندے چپاو اوکړو۔ دَ محمد هوتک زمانه کښے یو ځل مغل په قندهار ورا وختل۔ هوتک ورته سینه ډال کړه۔ که یو خوا ته هغه توره وهلے نو بل خوا ته دَ قلم او ژبے نه دَ شمشیر کار واخست۔ او په ملي سندرو باندے دَ پښتنو وینے تودے کړے۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په سور غزني راته ننوتے
وګوره په جوړ را ته پېغور دے

په کلی کور باندې مغل راغلی
هم په غزني هم په کابل راغلی

غښتلیو ننګ ونه کړئ دا مو وار دے
مغل راغلی ننه په تلوار دے

په پښتونخوا کښې جوړېدند وکار دے
هر کلی کور باندې مغل راغلی

آ د مرغی غښتلیو را شئ
په ننګ ولاړ د پښتونخوا شئ

توره تبره غښې تړ ملا شئ
هر کلی کور باندې مغل راغلی

ځانی په عشق کوی وارونه
د تبرو تورو کړئ ګذارونه

ورورانو کړئ ننه خیل تورونه
په کلی کور باندې مغل راغلی

زما د زلمیو وینې بهیږی
مړګے اوغورځونه به پر سره کېږی

منزرې زغلی واړه ترهیږی
هر کلی کور باندې مغل راغلی

پښتنو زغلئ په غزنو جنګ دے
سور غزنی وینو باندې رنګ دے

مهال د توره او د ننګ دے
هر کلی کور باندې مغل راغلی

د هوتک جوش مغل په هوش کړل . او د پښتنو د لاسه مغل ارغنداب ته راوتښتېدل ۔

د هوتک زوی ملک یار هم د مغلو سره سینه په سینه اووهل ۔ د ملک یار نه پس هوتک قبیله کښې درېیم نامور مشر شالم خان دے . هم دا شالم خان د میرویس پلار دے چې د چا بیان مونږ دلته کوو . د شالم خان څلور ځامن وو میرویس خان ، عبدالعزیز خان ، یحیی خان او عبدالقادر خان ۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

میرویس خان په توخو کښې مشر وو. د میرویس د زیږیدو نیټه کال ۱۰۸۴ هـ بیانیږي.[1]

د غلجو دوه لوئې ښاخونه دي. یو توخي او بل ابدالي. په توخي کښې سلطان ملخي مشر وو. او په ابدالو کښې سلطان خداداد د تربورانو کندران په مینځ کښې تون وي او په ډیر شوا خون. د سلطان توخي وفات نه پس حاجي عادل خان د قام مشر شو او د هغه نه پس دولت خان (د احمدشاه ابدالي نیکه) چه د ابدالو مشر شو نو په غلجیانو باندې حمله او کړه. او ډیر مرکونه د واړه خوا نه او شو. د میرویس خان پلار شالم خان ئې د صفا ښار ته بوتللو. دا وخت د میرویس شونیږه شسنه شوې وه ځوانۍ ته رسیدلے وو. د خپل پلار سره دے هم د صفا ښار کښې وو د ابدالو یو لوئې خان جعفر خان نومیده. د جعفرخان نږبر درخو چه د میرویس د ښایست او حلیمتوب نه خبر شوه نو خپله هغه لور چه په حسن کښې ئې ثاني نه وو میرویس له ورکړه. د دے جینۍ په وجه د غلجو او د ابدالو ترمنځه د دښمنۍ په ځائې دوستي او درورولي پیدا شوه. تربګني ختم شوه او دواړه خیلونه په خپلو کښې پخ او شکرې شو.

---

[1] حیات افغاني ص ۲۵۷ - او خورشید جهان ص ۲۰



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَميرويس وُنه دنګه، څهره ښکلې، وَيناخوږه او اخلاق لګه دَارليا وُو- په قامي معاملو کښې بهترين سياستدان او دَپښتنو دَناموس علمبردار وو-

دَايران ګورنر ګرګين دَاصل نه ارمني او په مذهب عيسائي وو- دے په ګرجستان کښې حاکم وو- دحکومت نه ئې بغاوت اوکړو چه ايراني لښکر دَده غوږونه تاو کړل او تو بکار شو نو بيائې دے قندهار ته حاکم مقرر کړو- ګرګين دَګرجي ارمني فوځ سره قندهار ته راغے- ترې پراتستل دَګرګين دخپل لاس کار وو- ډير بے خويه ظالم او سفاک وو- دَپښتنو پاره يو جلاد وو- د راتللو سره هغه په پښتنو مشرانو لاس صفا کړو دابدالو خان دولت خان دَخپل زامنو نظر محمد خان او رستم خان سره شهيدان کړل- او دَهغهٔ بل ځوئ زمان خان ئې کرمان ته قيدي اوليږلو-

چه ګرګين دلاسه ابدالي دل دل شو- نو ميرويس دَ غلجو او ابدالو يوازے خان شو- دهٔ په ډير چل ول ځان سا ته خي ګرګين ميرويس خان دحکمت نظر کښې بدنام کو لو دپاره اصفهان ته بندي کړے اوليږلو- ميرويس خان ونږدے نه دَايران دَسياست ننداره اوکړه- په دے پوهه شو چه دَ ايران حکومت دننه دَ اختلاف وينو خوړلے دے- او داوُنه نن دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د صبا را پیروزی - نو دده زړه له دا غله چه پښتانه وطن د ایران د غلامئ نه آزاده شی - دا خیال بیا بیا د میرویس زړه کښې راپورته کیدو - دربار نه تګ راتګ او د وزیرانو سره ملاقاتونو د میرویس د قابلیت جوهر ښه پرانستو -

یو ځل د وزیرانو مجلس ته او بللے شو - په جرګه کښې ورته اعتماد الدوله وزیر اعظم اووے " میرویس خانه ! د قندهار نه ډیر ډیره ونکی خبر ونه راځی - نه په اصلی حالت موږ خبر که " میرویس یو اوږد تقریر کښې د قندهار او ګرګین حال داسے بیان کړو - چه د وزیرانو غوږ زیک شو - خو د ګرګین طرفدار دیوان بیګ وزیر زړه کښے خفه شو - د میرویس بادشاه سره ملاقات اوشو - پابندی لرے شوه او تګ راتګ آزاد شو -

څه ورځے پس میرویس د حج په نیت بیت الله شریف ته لاړ - چه د حضرت رسول الله په دربار کښې حاضر شو - نو د ریدی خان مهمند د قول په برابر دخیل قام د پاره ئے داسے دعا اوکړه -

ولاړ د شپے ئے په یثرب کړو فریاد
رسول د خدائ ته چه شو قوم مې برباد
ستا په امت راغے د ظلم دوران
داوره رسوله ! د دے قوم نه فغان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتنانه

پښتون خو ستا په نامه ګمان کړو ښه دا
اے خیر الناسه! واوره نه ئے ښه دا
وژغوره دوئ نه د ظالم د لاسه
ګرګین له مینځ د پښتون را وُباسه
ستا په نامه کلمه ګو دے پښتون
نه به شی هیڅکله ناته را ستون
مرګ وژوندون مو د اسلام د پاره
ستا د دربار ستا د اسلام د پاره
مه موکړے هیر خیر الوریٰ رسولهؐ
فخر کونین بدر الدجیٰ رسولهؐ
او ښکے رم څاسی په دربار یم ولاړ
قوم شو په اور د ظلم واړه لټاړ
یو وار نظر او کړه په مونږ چه شو وړ
د ظالمانو نه ترڅو به یُو پېړ
ستا لطف و مهر دے شامل په جهان
هر خراب زړه دے ستا په مهر ودان
که ستا نظر نه وی خراب شو پښتون
په اور د ظلم تور کباب شو پښتون
را غلم له لرے ستا دربار ته نبیؐ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

ته م شفیع شه خدائی غفار ته نبیؐ
لاس د ظالم له ګریوان نه کړه لنډه
وچ شي د ظلم ډکنډه او خیرو ونډه
ستا شریعت ټینګ شي په مېنځ د پښتون
ورک شي بېداد او کم شي رنځ د پښتون
دارم دے سوال ولاړ دَ در ته یمه
محتاج د تش وَلې نظر ته یمه
د قوم حال کړم ما در ته عرض په ادب
نه بے بادار د کل عجم او عرب
بې له تا نه لری پښتون خواله ګر
نه ئې مرهم د خوږ زړه د پرهر
نه دژغورے زمونږ ناموس له بېداد
کړو بے ناموسه ظالمانو برباد
سر کړه را پورته زمونږ حال وګوره
دَ ظالم ظلم بد احوال وګوره
نه ئې له تا شرم حیا شته نبیؐ
نه شرم کاندی له عیسیٰؑ ارمنی
عرض م دَ حال وکړو تا ته پېشوا
بل څوک مو نشته خواله ګر په دنیا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم دا ربیدی خان مهمند وائی چه میرویس همغه شپه
خوب کښے حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اولیدو. همغوی
میرویس ته اووے. سه

وے اے سپین بږیریه نور څه غم مه کوه
قوم دِے خلاص شو کوریږ ماتم مه کوه
ولاړ شه قوم خپل ته دا زیرے کړه زر
چه د ظالم کم شو نقصان او ضرر
پښتون به خدائے کړه له ظالم نه آزاد
نه به ئے شی ننګ او ناموس برباد
خدائے به دا قوم کړه په خپل رحم ودان
نوم به ئے خور وی مجاهد په جهان
تل به د خدائ په بندګئ کښے وی لوړ
ثوک به ئے نه کا سر په ټیټه او زوړ
کلیمه د خدائ به وی جاری په افواه
ورکوی دوئ به په دے لاره کښے ساه
څوئے طره وی د اسلام په پګړئ
نه به شی نوم ورک د دے قوم په نړئ

د دے نه پس چه میرویس اصفهان ته ستون شو نو یوه
بله کشاله را پیښه وه. روسی حکومت " اسرائیل اری"



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نوم يو داسے كس اصفهان ته سفير مقرر كړو چه هغه دَ سر نه تر پښو شرارت وو۔ خپل ځان هغهٔ دَ ارمنيانو شهزاده گڼړلو۔ او داے مشهوره كړے وه چه دا اسرائيل ارى به دَ ارمنيانو بادشاهى بيا په حال كوى۔ ارمنى مذهبى كتابونو كښے دَده نوم ذكر او پيشنگوئ ده "۔ دے غليلے دَ ايران دربار وار خطا كړو۔ دَ شيروان، آذربائجان او گرجستان ارمنى عيسايان دَدے سفير په راتگ ډير خوشحاله وُو۔ دَ وزارت هنگامى جلسے ته ميرويس هم اوبللے شو۔ دَ بحث په دوران كښے ميرويس ټول زور په گرگين داچوو۔ دَ گرگين او اسرائيل ارى شجرهٔ نسب ئے يو ځائے كړه۔ او په وزيرانو باندے ئے دَ خپل تقرير په زور دا ثابته كړه چه اصل كښے دَ گرگين وجود دَ هر څه نه زيات خطرناك دے۔ دا سے انداز سره ئے تقرير اوكړو چه دَ وزيرانو دواړو ډلو دَ ميرويس سره اتفاق اوكړو۔ او داے ضرورى اوگڼړله چه ميرويس قندهار ته اوليږى۔ او دَ گرگين دَ فساد لارے بندے كړى۔

ميرويس په ډير عزت دَ اصفهان نه قندهار ته رخصت شو۔ په قندهار كښے گرگين عام اولس او قامى مشرانو دَ ميرويس شاته ارهركله اوكړو۔ او دَ ميرويس لوئى قدر او شو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ټولو پښتنو په عمل دا لیدلی وو چه میرویس دَ دعویٰ
خوا خوږ دے - پر دَ قوم خان، بل نظر بندی، او دَ ګرګین دُښمنئ
دے ځیز وټو دَ میرویس قدر په اولس کښے زیات کړو - نو ځکه
د خپل قومی مشر ستړی مشی له راتلل .

چاچه دَ ملت دَ پاره مال سر نه ځنګلی دی
داسے خلق عزت ته دَ آسمان همیش ختلی دی
چا چه دَ زمری په شان سینه دَ طوفان څیری کړه
داسے همت ناک دَ هر سیلاب موج نه وتلی دی
ژوندے حرکت کښے زمانے سره جنګریز دے ژوند
لوړ فکر لوے عزمُ خلق همیش پورته ختلی دی
هیڅ شاه زلمو د کامیابئ نارے مونډلے ده
چاچه دَ طلب میدان کښے هرڅه نه ځنګلی دی
اے هلالی یا تخت یا تخته چه وی دَ چا اصول
هیڅ خلق په تال د کامیابئ همیش زنګلی دی

ګرګین ته دَ اصفهان نه لیکلی شوی وو - چه "میرویس
ډیر قابل او ایماندار سړے دے - ستاشکو نه بے ځایه دی
په ده باور کړه - او بے دَ ده دَ صلاح نه هیڅ کار مه کوه - او
میرویس دَ قندهار رئیس بیا مقرر شوے دے ."
د میرویس په دے قدر ګرګین جلبل شو - او زړه کښے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ترل پرانستل - چه میرویس په څه شان پښتنو کښې بے قدره کړم - آخر دا فیصله ئے زړه کښې اوکړه چه د میرویس فلانئ لور خپل کورته اوغواړم - که په خپله ناوے کړے زما کورته راولیږله - نو د میرویس قدر و عزت به د خاورو سره خاورے شی - او زما د لاره نه به دا ارزغ اوځی - او که انکار ئے اوکړو نو بیا به ئے کار ختم کړم.

ګرګین میرویس ته پیغام اولیږلو - چه ستا دغه لور چه ډیره ښایسته ده - ناوے کړے په ډولئ کښې زما ځوئ دپاره ډیر زر ما کره راولیږه - ( د شرم په نیت)

په لوئړو خو پاندی د نورو خلقو کورونه ودان وی - لیکن د ګرګین غرض خو د میرویس سپکول وو - نو ځکه دا پیغام په اصل کښې د جنګ پیغام او د پښتنو ځان نه پاره ډول د و - دا یوازے د میرویس لور په بے عزتئ او شرم اړه ولو په غرض خپل کورته غوښتل نه وو - بلکه د ټولو پښتنو شرم ته لاس اچول وو -

ګرګین ته د دغه اوړنا جواب ورکولو نه اول میرویس خپل قوم خپل کلی کورانو ته راوغوښتل - او دا ټول حال ئے ورته په وړاندے کیښود - د ګرګین د لاسه یوازے میرویس په

ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

سله تاریخ ایران سرجان ملکم ص ۱۹۸

زړه غلبیل نه دو۔ دَ هر پښتون زړه داغ دو۔ زمکه تیاره وه۔ او دَ لوی کوشش ضرورت دو۔ دَ میرویس په دے بیان پښتانه سرهٔ لمبهٔ[له] شو۔ هر چا دَ تورے په قبضه منګل کیښودو۔ په قرآن شریف سوګند اوکړو۔ چه ګرګین سره نوره ګذاره نه کوو۔ یا تخت یا تخته۔ یا به مونږ نه یُو او یا به ګرګین دَ قندهار په زمکه نه وی۔ حاجی میرویس د رحمٰن بابا دیوان را واخست۔ چه پرانست نو په دے شعرونو ئے ګوته کیښوده شوه۔

دَ مکتوب غوندے په پټه خوله ګویایم
خاموشی زما بهتر ده تر غوغا
کښت دَ عشق په توره زمکه آسان نه دے
سمندر بویه چه ژبیت کړه په صحرا

فیصله اوشوه سمدلاسه صبر یکار دے۔ او میرویس چه هر قدم اوچتوی۔ قوم ورسره ملګرے دے۔ خو لوړ به دَ ګرګین کره نه لیږی۔ میرویس قوم له تسله ورکړه۔ چه دا کارمانه پریږدئ۔ په وخت به تاسو ته غږ اوکړم۔ چه دا ظالم دَ وطن نه اوباسو۔

صباله میرویس ګرګین له جواب ورکړو چه ستا دَ حکم

---

له تتمة البیان سید جمال الدین افغانی مخ ۷۷۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تعميل به په ‌بزر زړا وشي. څه ورځې پس ميرويس خپل خدمتګار ته ناوې کړې ګرګين کره او لېږلو. او ګرګين ئې په دې بشان غافل کړو. او پټه پټه ئې تياري شروع کړه. دَ دغه[1] دَ تباهۍ دويمه جرګه ميرويس په مانجه نوم کلي کښې را غونډه کړه. دې جرګه کښې سيدال خان ناصر هوتک. بابر خان بامئ. بهادر خان ترين. ملا پير محمد عرف مياں جي يوسف خان هوتک. عزيز خان نورزی. ګل خان بابړ. تور خان بلوچ. نصرو خان الکوزی. يحيٰ خان دَ ميرويس ورور. محمد خان دَ ميرويس وراره. يونس خان کاکړ. يعني دَ پښتنو دګټلو نورو قبيلو مشران را غونډ کړې شو. ميرويس اوس زمکه هواره کړې وه. او وخت را غلے وو چه دَ قومي بنا موسي بې عزتئ په بدل دَ ګرګين نه را خسته شي. چه ټولو مشرانو يو زل بيا په قرآن شريف لاس کېښودل، طلاق ئې وا خوړل سر ورکولو او سر غوښتولو دَ پاره آخري ګل اوددې دل نو ميرويس ورته په يو جوشناک تقرير کښې دَ ايران دَ دربار کمزوری دَ را فضيانو ظلم و ستم او دَ پښتنو دَ بېد اری اتحاد او شاندار مستقبل باندې رڼا وا چوله. دې جرګې دا فيصله اوکړه چه کاکړ او ترين خپلونه چه دَ قندهار نه لرې

---

[1] پټه خزانه مخ ۱۴۰ او مخ ۱۴۷.

# ننګیالی پښتانه

مستونګ کښې اوسی مالیه ورنه ورکوی - او چه ګرګین په درئ لیسے ګرجي فوځ اولیږی نو د قندهار پښتانه به په ګرګین باندے ورهغۍ کړی. میرویس بیا د رحمٰن بابا دیوان پرانست نو دا دوه بیتونه د ګوتو لاندے راغلل سه

چه آسمان ئے څو پټ کړے په سحاب وو
خدائی وماوته ښکاره کړو هغه مزیبا
چه رقیب ماته تړلے په زنځیر وو
خپل حبیب را باندے پرانست هغه وزیبا

جرګه جوړه شوه- غوږ په غوږ څوک خبر نه شو- او د پروګرام مطابق ترین او کاکړ قبیلو د مالیو ورکولو نه انکار اوکړو- دا پوهے ځل وو چه ګرګین د پښتنو سرکښئ نه خبر شو- ګرجي فوځ په تندئ کاکړ او ترین قبیلو لیسے اولیږلے شو- میرویس خبر شو چه معامله جوړه شوه نو پښتانه ئے خبر کړل چه د ځوانمردئ ښکاره کولو وخت راغے -د پښتنو او پښتو نولئ سرکند ولو نیته دا ده چه ما وے رابه شی -

میرویس خبر شو چه ګرګین په خپله کاکړ او ترین قبیلو لیسے زر شورو سره روانیږی - نو دوه زره پښتانه سره په منګل ننګیالی د ځان سره واخستل او د ګرګین



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لاره کښې اودریدل. ګرګین ګمان اوکړو چه ګنډے میرویس ماسره په چپاؤ ځي. چه ګرګین اوکړجي سوارهٔ د دوی ترمنځه داغلل نو پښتنو وربانده رنړا ورکړه توره شپه کړه. ګرګین او زرسوارهٔ په میدان کښې د ګاذرو په شان ذرے ذرے شول.

نا کاره عملونو کښې عمل دے د حسد
د دے حسد انجام به همیشه رااوځي بد
کشتئ چه ډیره ډکه شي دریاب کښې اوډوبږي
دنیا کښې انصاف ظلم همېشه کارلره دے حد
چه اوکړي زقوم بیا نو ترے امید کړي د خرما
د خپلے بے عقلئ غوږ وي جار پښیمانه مد
شراب او شربت یو نه دي نه زهر او تریاق
د خپل عمل میوه به هر څوک مومي په څېر احد
میدان د ظلم لنډ دے د ظالم پاتے شي نوم
د سترګو رپ کښې تیر شي کال پنځوس او که صد

دیدی که خون ناحق پروانه شمع را
چندین امان نه داد که شب را سحر کند

ګرګین[1] د قتل په تاریخ کښې رنګارنګ دینا شوے ده. خو

---

[1] جهان کشائ نادری مخ ۶ -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اتفاق په دے شوے دے چه ګرګین دذوالقعدے په نولسم تاریخ کال ۱۱۱۹ھ دَ مراد خان نر بنځیُ دَ لاس نه قتل شو۔ او هم دا تاریخ دے دَ هوتک پښتنو دَ شهنشاهئ رومبنئ ورځ ده

اقبال اخلی بلا ګانے هغه قام — چه پوهیږی په ناموس قربانیدل
چه دَ مرګ نه ویره نه کړی دَ ننګ خت کښے — تخت او تاج کړی دَ هغوئ نه زاریدل

چه سر ور کړی او ذلت نه سر کوز نه کړی
کړی هر قام په دغه شان تیاریدل

هر اقدام دَ هغے قام مخ په برے وی — بے خطر ژوند دے دَ آخر سرداریدل
دَ هغوئ سینه شیرک او ننګل به وړاندے — شاندار ژوند له دا عمل پکاریدل

بے له خدایه چه له بل چا نه ویریږی
دَ هغے قوم به نصیب وی خواریدل

هغه لی دَ خوددارئ ژوندون کښے ژوند دے
دَ ژوندی قام نه کړی هر څوک زاریدل

دَ ګرګین قتل نه پس میرویس په قندهار قبضه اوکړه۔ دَ پښتنو ملک کښے دَ آزادئ نمر دَ غلامئ دَ تندر نه آزاد شو۔ قندهار کښے ایرانی ګورنر قتل شو او ایرانی حکومت هغسے دَ هانئ په عوض کښے اوده وو۔ هیڅ پرواه ئے اونکړه۔ شاه حسین او وزیرانو ګمان اوکړو چه پښتانه خود خالصے دل دی۔ زمونږ دَ سترګو په اړولو به دوه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لاسی سلاموته کړی. نو دَ اصفهان دربار محمد جان خان
نرم یو سردار سفیر کړے قندهار ته اولیږلو. دے سفیر
چه دَ میرویس خان په مخکښے دَ خپل حکومت شان شوکت
بیان کړو. نو میرویس په خندا شو او سفیر ئے قید کړو
او پس له دَ ایران حکومت چه ارشو او دَ هرات حاکم اعلیٰ ته
ئے اولیکل چه جرار فوځ ځان سره وا خله او دَ قندهار لوئ
واړه ټولی اصفهان ته راوله.

هغه دَ پښتو متل دے "خرا ړے دَ یو کُن اره لاړے"
په ډومبئ حمله کښے ایرانیان داسے اوتښتیده لکه دَ سیلئ
نه ماشی. میرویس صرف پنځه زره پښتانه میدان ته
دادستی وَو.

په اتلسو میاشتو کښے ایرانی فوځ شلور ځله په پښتنو
حمله اوکړه. او هر ځل ئے ماتے ماتے شو. شلورمه حمله
ئی ډیره سخته اوکړله وه. دَ تبریز حاکم محمد خان چه ډیر
نامور جنګیالے وو. دَ پنځو زرو غوره او تجربه کارو ځوانانو سره
راغے. پښتانه پنځه سوه ورمخامخ شو. دَ ایران دَ خوا نه په
جنګ کښے زرسپایان قتل او باقی په تښتته لاړل. او سپه
سالار محمد خان دَ خپلو دوه ځامنو سره ژوندے ګرفتار
شو. دے پرله پسے ماتے او تښتے دَ ایران حکومت اوبګنوو.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغوئ خو داسے کنهل چه پښتانه اورا غونډ یدل؟ پښتانه او اتفاق؟ دا خبره په پښتون کښے محال دے۔ او چه اتفاق په پښتون کښے نه وی نو بیا په میدان کښے کله اودریدے شي پښتانه اوس بیدار متفق او متحد وو۔ نو ایران څه چه د ټول جهان مقابلے ډپاره تیار وو۔

هرات ننه هارته د اصفهان په حقله خبر نزدے دے پوهیږي د هرات حاکم چه ننه هارته راته نو د دغه په ځای بلګور نر راغلے وو۔ او د ده نوم محمد خان وو۔ دے هم په جنګ راغے خو فرار شو۔ د دے نه پس د ایران حکومت آخري مقابلے ډپاره یو دیرش زره ځوانان د ټول ایران نه راغونډ کړل۔ ځوانان د ټول ایران چونډ کړي، وسله لا ثاني او سامان د جنګ بے حسابه د رستم سهراب او اسفند یار وطن نه د پښتنو مقابلے ډپاره هغه ځلمي میدان ته راوستے شو۔ چه د ټول ایران یوزه کنهلے شو۔ هر یو په وجود لکه پیلتن۔ په جوش لکه اژدها۔ په عزم لکه زمرے۔ په قوت لکه دیو۔ په جنګریز کښے بے مثال سه

په نوسي چونډ کړي ځوانان د ایران
بهرشو میدان ته دیوان او پیریان
چه هر یو به خپل ځان نه وے یم رستم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

اولاد د سهراب وو او پښت د رستم
نوسي کړوسي وو د افراسیاب
د برزو د دهقان په اولاد وو حساب
څوک وو د تبریز څوک د مازندران
څوک وو د کاکیشیا آذربایجان
په نوم د ضحاک کیقباد باندے مست
تقدیر کښې لیکلي شکست په الست
روان شو په داسې نوي ساز او سامان
رنګ زیړ شو د نمر سرګردان آسمان
توپونه په شان تورها تیاران دي غنهي
پښتون به کړي ماتې د دوي مرکنهي
سوارهٔ داسې مست الوتل په هوا
د تورو ذولفقار به پرې نمر کړه رڼا
ځوانان د مستۍ نه په جوش چاودېدل
اسونه په شان د نمرو غړېدل
روان شو نو ځونه په داسې دهشت
لوخړې کړې دونه هرخوا شوا وچت
اسونو کړو جوړ په سمسونو غرباس
زلزل شو په دشت او ځنګل کښې پروار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

سينه شوه د زمکې په شان د غلبيل
نو څونه روان شو او جوړ تېل ماتېل
ځوانان د ايران ځي وهي تنده هار
په سخت باندې سور مړګ د هر شهسوار
په دې نيت ورځي چه وهو پښتانه
په خپله ميدان نه به نه شي ستانه

خسرو خان د ګرګين وراره د دې نوځ سپه سالار شو. د دې اول هرات ته راغې. د لته د ابدالي قبيلې سردار عبدالله خان حکمران[1] وو. خسرو خان خيال اوکړو. دا شه پښتانه به پښتنو باندې ورواچوو. نو هغه عبدالله خان د ايران د طرف نه حکمران اومنلو. د خسرو خان خيال وو چه عبدالله خان به ضرور ماسره په ميرويس باندې حملې له د ابدالي پښتنو سره لاړ شي. ځکه چه د هغه دښمن دې.

پښتنو کښې دا عيب ډير بد دې چه د تربورو ينې غښتې اونل د تره د ځوئ په وينو د دوئ لاسونه رنګ وي. سره د دې چه " بد تربور په بد ځائ کښې پکار يږي." د دې عيب سره دا يو صفت هم لري. چه عين د جنګ په وخت

---

[1] عبدالله خان ابدالي په ملتان کښې اوسيدو. د هرات پښتنو ته دے راشه. د هرات حاکم شه عبدالله خان د خپل ځوئ اسد الله خان سره هرات ته راغې (خورشيد جهان ص ۱۲۲)



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه دَ یو بل په وینو لامبي - که دَ بهرنه دَ پښتون قوم یو دښمن په پښتنو حمله اوکړي ، نو پښتانه خپل منځ کښې تیږه کینږدي او شریک دښمن ته په شریکه مخامخ اودرېږي -

عبدالله خان ځان سره فکر اوکړو چه هر تک غلجي ځما دښمنان دي ولې اوس خو دَ پښتون ټول قوم په خطره کښې دے - دا ځما حمله په میرویس نه ده بلکه ایغه بیغه په خپل قام په خپل ځان او خپل ځګر چاړهٔ منډل دي - نو دَ خسرو خان نه ئے ځان په ډډه کړو -

خسرو خان پُردیرش زره فوځ سره قندهار ته اورسیدهٔ

ایران نه روان شو لښکر په ډیر زور
په یا سے قوت خوزه وي کلے کور
ځوان ترپالي دَ ایران منتخب
پښتون کړل ثابت په میدان کوڅه رب
یو دیرش زره کل شهسوار آزموده
پښتون کړل ثابت په میدان فرسوده
دَ اوډیوُ لمبه وو روان وو په قار
په دے خیال چه وران کړو یو ځل قندهار
په دے خوا تیار پښتانه کړل میرویس
هغه چه مشهور په اولاد دے دَ قیس



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه.

په ملک دَ پښتون کښې داخل ایرانی
میرویس ورته ادښود جوهر افغانی
مورچې ځائې په ځائې جوړې شوې د جنګ
پښتون په هر ځائې په دوی وکړو غوڼ زنګ
تر یو کاله جوړ وو میدان دَ جنګریز
پښتون ایرانی دَ یو بل نه وو تیز
په میاشت دَ روژې او تاریخ دوا ووم
فی ځونو آخر یو ځل واخست قدم
دَ یو کال نه پس پښتانه ایرانی
یوُ وړ شو اخیر جنګ له دوی میدانی
یوُ دیرش زره فوځ منتخب دَ ایران
ناموس دَ رستم وو په دوی کښې هر ځوان
یو دیرش زره فوځ او دهر ځوان وو جرار
سامان په سرو زیات پښتون نه په شمار
یو دیرش زره قتل دَ ایران اصفهان
پلونه او تکړه بهادر دَ میدان
یو دیرش زره هغه چه چری دَ مستۍ
قائل نه دی دوی دَ پښتون دَ هستۍ
یوُ دیرش زره هغه دَ مرګ کړی تکل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

دوئ پوئ په میدان کښې دَ جنګ په اټکل
یَودیرش زره فوځ وو سالار خسرو خان
خبر نه وو زر به پرې ګړشي تالان
یو دیرش زره فوځ او چه تیر وو تر سر
ګړي خیال چه پښتون به کړو زیروزبر
میرویس شپا ړس زره ځوانان پښتانه
راوستي توریال په میدان پښتانه
میرویس دَ پښتون شاه ځلمي په میدان
راوستي بریال فاتحان دَ جهان؛
میرویس شپاړس زره په شمار پښتانه
هر تیر دَ خیل سر نه جرار پښتانه
پښتون دَ پښتو دَ غیرت ترجمان
پښتون دَ جرأت دَ قوت ترجمان
پښتون دَ سیالئ په میدان کښې توریال
پښتون دَ سیالئ په میدان کښې بریال
پښتون دَ ایمان دَ غیرت وویر نمر
پښتون دَ شرف په میدان کښې یو نمر
پښتون دَ اخلاق دَ عمل یو مثال
پښتون ننګیالے په سیالانو کښې سیال



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

پښتون چه یو ځل وکړي عهد و پیمان
پښتون نه کړي څنګ که پرې راشي طوفان
پښتون به ښکاره کړي نن خپله سیالي
پښتون به دښمن راولي پائمالي
پښتون نه ولاړ پدے زاوزاد دَ رستم
پښتون به میدان ورته کلک کړو قدم
پښتون به ښکاره کاندی خپله پښتو
دښمن به غلبیل کړي سینه تر پښتو
یودم شو به جنګ ایرانی پښتانه
بحر په میدان توراني پښتانه
یو دیرش زره تول ایراني خوزیږ
هیبت نه غونډۍ غرونه تول لرزیږ
اودے خوا پښتون دَ خپل سرنه دے تیر
دَ جنګ تول هنر به دښمن نه کړي هیر
ناسا په فوځونو کړو جوړ یو زه هر
دَ تندر په شان دَ ګولو غره هر
دَ اور سرے لبے پورته شوے په هوا
یودم تکه سره دَ آسمان شوه فضا
آسمان ووتک شین دَ سرو وینو باران



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

میدان شو چقړ وینې وُری پرشان
دَسترګو په رپ کښې شه جوړ قتل عام
ورځ توره تیاره شوه بس راغې ماښام
لښکر دَ ایران ډیره کړه رستمی
په وینو رنګ ښکی پارسی وان تمامی
په نوځ دَ ایران کښې پردم شوه غوغا
ځوانانو کړے چغې هرخوا واویلا
زرګونه بے سره تنے تار په تار
زرګونه لاس غوسی اخته په کوکار
زرګونه لاهو کړل دَ وینو طوفان
زرګونه غلبیل اودلځ په میدان
زرګونه تر پښو دَ اسونو لتاړ
زرګونه په غشو سوری په کوکار
پښتون په میدان کښې ښکاره کړو جوهر
پښتون خپل دښمن کړلو زیروزبر
پښتون دَ پښتون ښکاره کړو کمال
پښتون نن دَ خپل ملک دښمن کړو حلال
پښتون نن ښکاره کړلو شان دَ پښتون
چه راشے په لاس وی میدان دَ پښتون



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

یو دیرش زره فوځ ایرانی شو لښکر
سالار ورسره په میدان شو رهبر
میدان اوګټه د ایران نه پښتون
دښمن کړو په تیښته میدان نه پښتون
پنځه سوه ټول ایرانی سلامت
په تیښته شو دوی د اصفهان نه رخصت
اووم د روژې او وه میاشت د رمضان
چه فتح پښتون اوکړه بیا په میدان
وه ورځ د اتوار اتلسم د اګست (سپتمبر ۱۹۵۷ء)
چه ما هلالی پښتانه کړه بیا مست

د ایران دربار چه د خسرو خان د قتل نه خبر شو. نو د پښتنو منزرو جرأت او مړانے ته حیران شو. میرویس ترهرات ټول وطن آزاد کړو. دا جنګړه په کال ۱۱۲۶ھ د روژې په اووم تاریخ اوشوه. د دے نه یو کال پس د ذی الحجے په اته ویشتم تاریخ کال ۱۱۲۷ھ کښے میرویس وفات شو

د ننګ هوتک به مې هر هډوکی
که پس له مرګه په مزار راشے مینه

---



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دَ پانی پت بریالے احمد شاه

ښکلے خاورے غنے، عزم میدان دَ پانی پت
والئ پښتون قام او احمد شاهٔ باندے رحمت
مُلا دَ کفر ماته کړه ځئ انانو پښتنو
واخلئ مشرانو نه سبق اے اوسنو

مغل شهنشاه اورنګزیب په میراث کښے دا سے سلطنت پریښود چه دَ چین نه پس په ټولے دنیا کښے لوئے وو۔ پنځلس لکه مربع میل وطن او دیرش کروړه دَ بنیادمو آبادی۔

دتاریخ استاددَرس په وخت په دے ځائے تل کوته ایښی ده۔ چه تقدیر او تدبیر اقبال او کامرانی تل دَ هغے ترمونو سره ملګرتیا کړے ده۔ چه دَ هغوئ ژوند دَ اَس په شاوی دَ عمل میدان کښے توره په لاس او نیزه او دَ موجوده زمانے وسله ځان سره ګرزه وی۔ او چه کوم قام شل شوئے ناست دے۔ لاس نر لاس ایښی دَ پلارنیکه په نوم نازیږی۔ دَ وړاندے تګ همت



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه لري- نو زمانې په شا ديکلې دے - او هر زغليدونکی قوم ذ پښتو لاندے چغړي کړے دے - د قدرت په قانون کښې ذ بې عمل سُست کاهل او پړزيوتو خلقو ذ پاره ذ عزت ځائے نشته - ذ تاج حرص او ذ تخت جنګ مغل شاهزادګان په ديو ننګ کړل - هندوستان ذ سياسي پالوانانو کاړه جوړه شوه سِکان، جاټ، راجپوت او مرهټې قبيلې ذ اورنګزيب عالمګير زمانې راسې ذ اسلام او مسلمان نوم لرے کولو ذ پاره داړے ووراکے اچولے - مرهټي په تيښته کښې ډير مړلي چه څوبه شاهي فوځ تيار يدو- او ذ لاؤ لښکر سره به افسران ذ دے غلجکو ښولو له تلل نو دوئ به ډير تاوان قتلان او ځونان کولو لونه پس ډير لرے ذو لښې نه بهرتلي وو- ذ بهرنه دا حال وو- او کور کښې دننه صوبيد اران او شاهزادګان په خپل منځ کښې لاس په ګريوان وو- اسلامي حکومت د سحر ذ شمعې په شان سلګئ وهلې په مړه کيدو وه-

| | |
|---|---|
| ذ مسلمان ذ لاسه | شو مسلمان در په در |
| ذ دے نفاق په وجه | ذ مسلم تول شو وزر |
| زار ذ طارق ذ توره | ذ راډرک يخ که ټټر |
| د انبکس واړه عالم | ذ مسلمان شو نوکر |
| محمود شو هند ته روان | لکه ذ شير ببر |



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

محمدؐ زوئ دَ قاسم
دَ داٰهر چُنجړے کۀ سر
چه خود غرض شر مسلم
اندلس کښے اُخوړو سر
دَ مسلمان په تکړو
لوئے عیسایان شو ببر
دَ مسلم غاړے نه لاس
واچوو هر یُو کافر
اندلس کښے لاړه شاهي
مسلم شو خاور په سَر
چه خپل غرض واخستو
شو دین دُنیا نه بهر
لاړو عزت دبدبه
زور دَ خالدؓ او حیدرؓ
دشر مخانو په شان
رنګ شو په وینو اکثر
نفاق چه راغے په کور
سپک شو دننه بهر
یو ړمامه شوه هر خوا
چه مسلمان شو اوتر
دَ دهلي تخت اونیسئ
مسلم کړئ هند نه بهر
خوب او خوراک په مُسلم
حرام - الله اکبر

چه مسلمان دَ یو بل جامے اوشلولے بنه بربنډ شو نو دَ اسلام دښمنان خو دَ مُودو راسے دَ دے وخت په انتظار وو. چا پیره نه راپاسیدل په وطن کښے غوغا جوړه کړه مرهټانو اول داړے راواخیستے. بیا ئے رو رو دَ سلطنت بنیاد کیبنو دو. جاټ قوم دَ دربانئ نه دَ ملک خاوند شو. دَ اکبر آباد شاهي محل کښے غوا میښے اوتړلے - او دَ سنګ مرمر



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

فرش بانده دَ سوځو اخيږو ورکړو۔ دَ ګورو نانک مريد انو دَ مهترۍ نه بادشاهي ته ملا او تړله۔ مرهټو دَ هماليه غرنه ترسمندر او دکن نه تر اټک غاړے پورے وطن خپله ولقه کښے واخست۔ سه

خپل غرض او نفاق ټخنګه مسلمان کړو ذليل
مسافر راغے بادشاه شو، بادشاهي ځی په تعجيل
دَ نفاق په زهرو غوسے شوے ګلے دَ مسلمان
دښمنو تربګنو ورک کړو چه ئے نشته دے تمثيل

لکه چه شير خان نيوسان ګرکسان او ګيډ پان په نو مرکاني زمرۍ بانده را غونډ شي هم داسے دَ هندوستان په مسلمان او مسلماني حکومت دَ اسلام دښمنان راغونډ دو۔ دينه به زيات تور تم څه وی؛ دَدے به زياته دَ مسلمانانو په زړو تو تياره څه وی؛ چه سرے سيلاب په مخه واخلی نو هريو بوټي او ټيږے ته لاس اچوی چه ګونده په امان شم۔

دے نازک وخت کښے دَ قندهار په زمکه دَ شرافت شجاعت، غيرت، حميّت، ننګ، پښتو، پښتونولئ يو فانوس زلق واهه چه افغانستان او چاپير ملک وربانده روښاني کوله۔ دا ذات ګرامي دَ احمد شاه ابدالي دُراني وو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غازی احمدشاه دزمان خوړی په هرات ښار کال ۱۱۳۵ھ
کښې پیدا شو۔ ذهغه نه پښتون، خیل نه ابدالی او لقب
دُرانی ابن نه دوه سوه کاله مخوا هندوستان کښې اسلام
داسې پرې کړو لکه چه حضرت ابوبکر صدیق رض ذ مرتدانو
اوکافرانو په مقابله کښې ذ اسلام عزت په نازک وخت
کښې ساتلے وو۔

احمد خان چه مړانے اوو هغه نو ذ نادرشاه ایرانی
فوځ کښې نوکر شو۔ لږه موده کښې ذ خپل دیانت لیاقت
اوفراست په قوت ذ بادشاه ذ سرخوکئ افسرانو کښې داخل
شو۔ ذ نادرشاه افسرانو سازش اوکړو او په اکتوبر کال ۱۱۶۰ھ / ۱۷۴۷ء
کښې بادشاه قتل کړو۔ احمد خان خبر شو چه دا مرګ په
سازش شوے دے نو قندهار ته راغے۔ ذ قندهار پښتانه
مشران په شیر سرخ زیارت کښې راغونډ شو۔ حاجی جمال
خان بارک زی۔ محمد خان پوپلزی۔ موسی خان اسحاق زی
نصرالله خان نورزی۔ نور محمد خان غلجی۔ په بحث
کښې توده مرخه واخسته۔ اته ورزے جرګه راغونډه او
خوره شوه۔ په نهمه ورځ صابر شاه نومې یو درویش راپاسیدو
هغه اووے "اے پښتنو! دا غوغا نوره بس کړئ۔ او
جرګے خورے کړئ۔ قدرت خپله فیصله اوکړه۔ هغه کوزې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَزمان ابدالی زوئ احمد خان چه حکومت کښې ناست دے ۔ تاسو تول کښې الله تعالی په تاسو مشر کړو ۔ که تاسو دَده مخالفت اوکړو نو تباه به شئ ۔ بیا صابر شاه دَغنمو پو قوده را غوسه کړه اودَ احمد خان پټکی کښې کیښوده وے دا ستا تاج !
ټول پښتانه په دے رضا شو ۔ احمد خان دَ احمد شاه په لقب بادشاه شو ۔

احمد شاه دَخو کنو دَ میان عمر صاحب مرید وو نو هغه ورته اُوے نه خیل نوم سره دَرّے دوران لیکه ۔ او خیل قام ته دَرّانی وایه ۔ دَبادشاه کیدو وپه وخت دَبادشاه عمر ۲۲ کاله وو ۔ احمد شاه دَحاضرو پښتنو مشرانو وزارت جوړکړو ۔ حاجی جمال خان بارکزی وزیراعظم ۔ اونور محمد خان غلزی سپه سالار مقرر شو ۔ احمد شاه په پښتنو ډیر مئین وو ۔ هغه دا غوښتل چه پښتانه دَ قبیلو په ځائے یو قام شی ۔ اودَ قام دَښیګړے اونقصان په سوال غور کوی ۔ نو هغهٔ دَ هر خیل نه مشر په خیل حکومت کښې شریک کړو ۔ چه پښتانه دَ آزادئ او خیلواکئ په خوند پوه شی ۔ دے ته ویلے شی اسلامی جمهوریت اودَ پښتنو جمهوریت ۔ اقبال مرحوم څنګه ښه ویلی دی
دموجوده یورپ دَجمهوریت په حقله ۔ ؎



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

گریز از طرز جمهوری غلام پخته کارِ شو
که از مغز دو صد خر فکر انسانی نمی آید

هر کار دَ حکومت به دَ دے جرګے په صلاح او مشوره کیدو
احمد شاه چه دَ کابل نه ناصر خان په مخه پنجاب ته او زغلوو
او پښاور ته راغے نو دلته کښے یوسفزی، خلیل، مهمند
دَ اشنغر محمدزی، داؤدزی، بیټنی، کاکړ، ترکلانی،
ګګیانړی، اتمان خیل، افریدی، شنواری، اورکزی،
خټک، بنګش ئے برتی کړل۔

الفنسټن پیرګے وائی چه احمد شاه ټول پښتانه خیل
رونړه ګڼړل۔ دَ ټولو سره ئے یو شان مینه لرله۔ او ټولو ته
یو شان خوګړے وو زمونږ مراد دَ پانی پت دریم جنګ دے نو ځکه
دَ احمد شاه دَ ټول ژوندون حالات قلمبند کوو۔

دَ هندوستان مسلمانان چه جاټ، راجپوت، مرهټه
او سکانو نه پوزے وا غلے۔ نو سوونه خطونه ئے غازی
احمد شاه ته اولیږل چه دَ خدائے په خاطر او دَ رسول الله
په غم زمونږ مدد له راشه۔ دَ هندوستان په علمی کورنئ
کښے حضرت شاه ولی الله صاحب دَ علم وفضیلت او تجدد
په آسمان کښے دَ نمر په شان ښغلے کوی۔ هغوئ هم په
دے نازک وخت کښے خپل خاص مُرید نیروز بخت دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

رهبرالملک رئیس اعظم دهلی زوئ ته یو کاغذ ورکړو چه په خپله قندهار ته لاړ شه - او غازی بادشاه دخان سره راوله - فیروز بخت دخپل اعتباری نوکر جسونت رائ سره اول کابل بیا قندهار او بیا کوټه ته اورسیدو - دے شپو ورزو کښے غازی بادشاه د بلوچستان باغی نواب نصیرخان بلوچ پسے سنګر کړے وو - د شاه ولی خان سپه سالار په ذریعه فیروز بخت غازی بادشاه ته پیش شو -

فیروز بخت د شاه ولی الله صاحب کاغذ د بادشاه حضور ته پیش کړو - داکاغذ څه وو؟ د اسلام د مظلومئ زړه لړزونکے داستان وو - د مسلمانانو د خوارئ او میانئ د بے عزتئ دفتر - د اسلامی عزت او ابرو بربادئ طوماد - د اسلام ننګ عزت د هندوستان جهاد له د بللو پرد عوت وو -

غازی احمد شاه چه دا دردناک داستان واوریدو نو سینه کښے زړه د اسلامی ننګ او غیرت په جوش لړ پړه اوودهل - په رګونو کښے ئے د غیرت د بنو جوش اودانه شلو - د خالد رض او حیدر کرار په شان د کفر مقابلے ته تاو را تاو شو او چغه ئے کړه - سه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

### احمد شاه که د غيرت توره تر ملا کړي

بيا به جوړ کړي په دښمن باندې قيامت

د بلوچستان مستونګ نوم ځائ نه د درۀ بولان په لار شکارپور ته او بيا د ډهنګ ځائ نه دا باسين په غاړه د عاشورې مياشت کال ۱۱۷۷ هـ برابر دسمبر کال ۱۷۴۹ء کښې اټک ته اورسيده - ځينې خلق وائي چه د خيل پير مياں عمر صاحب سلام له ځمکنو ته راغي - او دعاګانې ورنه اوغوښته

او وې مياں عمر د څوکنو غوث الزمان

اے احمد شاه ته يې بريالے په هر ميدان

ستا سينه کښې زړه ډک په غيرت دے د ايمان

ستا په مخکښې نه شي او دريدلے مرهټيان

ستا د سر د پاسه سورے دے د پاک رحمان

ستا د قدم لاندې دي نم واړه دښمنان

ځه په مخه ښه ستا او را ستون شې بريالي

ستا په لاس شه فتح د سيالۍ هر يو جولان

اے ننګيال پښتونه ستا غيرت دے په اسلام

تا سره مل ګړي دي د خدائ نيک ښندګان

اے هلالي لښته د احمد په شان پښتون

چا چه د اسلام د پاره هر څه کړه قربان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دمیاں عمرصاحبؒ[1] دُعا نه پس غازی بادشاه د پښاور نه
پنجاب ته روان شو. د پښاور برتی کړی پښتنانه په دے لښکر
کښے د فیض الله خان جرنیلئ کښے روان وو. د غازیانو فوځ
اباسین نه تیر شو ے تیغ وزیرآباد ته اورسیدو. دلته
دُرانی سپه سالار نورالدین د بادشاه په انتظار وو.
لاهور کښے مغل او مرهټو د پښتنو مقابله اوکړه. خو شکست
اوخوړو. د راوی دریاب نه غازیان پورے وتل او ستلج ته
اورسیدل. مرهټے سایاجی تیغ پونے ته وُ تښتیدو. د
مغل برائے نام بادشاه وزیراعظم غازی الدین ډیر پل غلط
اوخبیث سړے وو. هغه د مرهټو دسوری لاندے په
هندوستان حکومت کول غوښتل. په کال ۱۷۵۳ء کښے مغل
بادشاه احمد شاه د تخت نه کوز کړو. او د هغه وراره عالمګیر
ثانی په تخت کیناوو. بیا په کال ۱۷۶۰ کښے عالمګیر قتل کړو.
د مرهټو دریم واکمن بالاجی پیشوا د ډیر قوت او دبدبے خاوند
وو. د هغه د حکومت لمن د سمندر نه ترکوره همالیه او دکن ته

---

له وخوکنو میاں عمرصاحب ته غازی ابدالی بادشاه
دیارلس زره جریبه زمکه د سیرے په طور ورکړه
دا زمکه د مردانو کړی کیوره، کړی دولت زی، اسمٰعیل زی
او د پښاور کچوری میره ده. نن صبا ورباندے د اوقاف محکمے قبضه ده.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه تراباسين خوروو- دراني غازي چه سيلږ ته او رسيد - نو درياب نه پورې وتو- دلته د نجيب الدين وزيرا عظم ګوئ مير منو د احمد شاه مقابلې د پاره ډير سامان راغونډ کړے وو- دا ټول د احمد شاه لاس ته راغے - لکونه روپئ هاتيان اسونه توپے غله او نور سامان- دلته نه چه وړاندے سهارنپور ته اورسيدل نو د سهارنپور نواب نجيب خان سعد الله خان رحمت خان دوندے خان احمد خان بنګش د روهيل کنډ علاقو نه د نوځو نو سره غازي بادشاه له راغله -

غونډ شو د اسلام توريالی خيل سپه سالار ته
راغله پښتانه جمع شو خپل پښتون سرکار ته
راغلے په چپو د پښتنو د غيرت وينے بيا
راځی انګته په ميدان کښې د کفار سره
هر کله پښتون قام چه ميدان ته راووتلے د
سيال د دے قام نشته په عمل او په کردار سره
دے پښتون د خپل ملت دښمن تل پرے ووتلے
څوک مقابله نه شي کولے دے جرار سره
جمع احمد شاه کړه پښتانه د پاکستان دهند
دوئ له ئے سبق د توحيد ورکړو په يو دار سره
دے پښتون ميدان کښې د سيالئ سر ښکته نکړو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا دعوه لرم دَ پښتون توري شرنګار سره
اے هلالي مرکبا اسلام او خپلے خپلواکۍ سره
زه ئے شهادت بولم ګاونې خيرالوری سره

مسلمانان چه دَ پښتنو دَ راتګ نه خبر شو. نو دَ الله تعالے شکرئے اوکړو. چه دَ تورو ښامارانو ټيولوډ پاره پښتانه پارونکان راغله.

دلته خو اوُ شا کښے دَ مرهټيانو ډيرش زره فوځ پروت وو. په يو لښکر بانسے د دتّا جي پټيل سالار وو او په بل لښکر جنکوجي پټيل سالار وو. دَ شاه جهان آباد خوا کښے دَ مرهټه او پښتنو مقابله اوشوه. شل زره مرهټې دَ مولوکا ذرو په شان سترې شو. جنکوجي دَ خيل ملګري امداد له راروان وو. پښتنو دَده قوت هم نس نس کړو.

مهلرراوُ مرهټه سردار دا وخت سکندره نوم ځائے کښے وو. چه دَ پښتنو دَ راتګ نه خبر شو نو دَ خپل لاوَلښکر سره په ډير زور راروان شو. او دَ ګنګا درياب نه پورے وتل. احمد شاه غازی خبر شو. چه کوم ښکار پسے زه دَ وطن نه راغلے يم. هغه په خپله مخے له راغے. شاه پسند خان او شاه قلندر خان ته ئے حکم اوکړو چه دَ دوی مقابله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ورشي ۔ دَ دے ننګيالو پښتنو د توري حرب نه صرف دره درے
سوه مرهټيان پهٔ شو ۔ باقي ټول دَ خاورو تل کښې دچينجو
خوراک شو۔

دَ نجيب الدوله پټو غيب دَ روهيل کنډ فرمان رواشجاع
الدوله دَ لس زره پښتنو سره پښتون بادشاه سره ملګری
او غزا کښې شرکت له دَ لوئ اختر په ۴ تاريخ کال ۱۱۷۳ه
راغے ۔ احمد شاه يو ځل بيا دِ ډهلي وا خست ۔ لوئ شرير
او مفسد غازي الدين د ډهلی نه او تښتيد ۔ او ملهاراؤ
تهٔ ئے ځان اورسا ور ۔

سدا شيو ابهاؤ دَ مرهټو سترواکمن په دکن کښې
خبر شو چه پښتنو هر ځائے مرهټي دل وَل کړل ۔ نو
دَ لښکری ماربه شانِ پيچ وتاب ئے اوخوړ په ډوندوني
اورواخست ۔ او آخري جنګ دَ پاره ئے ملا او تړله ۔

سه جنګ له روانيږی دَ دکن نه مرهټي
دا دَ ابو جهل دَ وليد دی پرکتي
خيال لري په زړه کښې زورهو به پښتانهٔ
دوئ چه په ميدان شي بيا به شي راستانهٔ

دَ هندوستان چونړ مهلي ترپالي او جنګيالي مرهټي
امتياز وه تيار شو۔ ځوانان هغه چه دَ زړکونو انتخاب، وسله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه چه وسلو کښې انتخاب. اَسونه هغه چه په هند کښې لاجواب او سالاران هغه چه یو په زرګونو حساب. سردار شیرداو بهادُر خېل ستره ځوَیَ بالاجی راوُ د قول لښکر سپه سالار اعظم مقرر کړو - او خپل مشر ځوَیَ بسواس راوُ به دے غرض چه پښتانه دَ منځ نه او باسی نو مغل بادشاه به دَ تخت نه کوزکړی - او بسواس راوُ به تخت دَ تیمور او بابر کیناوی.

دَ پښتنو مقابلے ته دا لښکر هم داسے په کروفر په جوش او خروش په سازوسامان روان شو. چه دَ تاریخ استاد چغے کړے" هم داسے اتیا زره نوځ دَ هارون بادشاه کشر زوئ خلیفه آمین خپل مشر رور خلیفه مامون پسے لیږلے وو. هغے نوځ یوازے سر او نه خوړو بلکه دَ مامون سپه سالار طاهر ذالیمین دَ لاسه آمین هم سر او خوړ. که هغه هر څو چغے او وهلے چه زهٔ ستاسو دَ بادشاه رور یم دَ رسول الله اولاد یم مامهٔ وژنئ" دغازی احمد شاه دَ لاس نه به بسواس بهاوُ راوُ سر او خوری - و سدا شیوراوُ بهاوُ به زړه او چوی -

دے اتیا زره سورو نه علاوه لس زره دَ تو پخانے سپایان وو. ابراهیم لمان ګروی ددے تو پخانے جرنیل وو. ډیر افسوس چه دَ تنخواه په خاطر هغه خپل رور مسلمان سره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دکانړو دَ پاره مقابله اوکړه - دا لښکر چه اکبرآباد ته اورسيد نو سورج مل جاټ دَ خپل ديرش زره سورو سره دَ دے لښکر مَلګرے شو- چه متهرے ته لښکر اورسيد نو ديرش زره راجپوت دے سره مَلګري شو-

متهره کښے عماد الملک وزير اعظم هم مرهټو ته اورسيد بالاجي په تهم دَ لوئ اختر کال ۱۱۷۳ھ شاه جهان آباد ته اورسيد - په قلعه باندے حمله اوکړه - يعقوب خان قلعه دار سخته مقابله اوکړه- خو آخر دَ قلعه نه احمدشاه ته لاړ- او قلعه مرهټو لاندے کړه -

په ۲۹ دَ صفرے مطابق ۲۲ جولائ مرهټيان دهلي ته اورسيدل او مغل بادشاه شاه جهان ثاني معزول کړو- مرهټو شهزاده بسواس راؤ په هاتي سور کړے په غول ښار کښے اوګرزوو- اراده دا سے وه چه بسواس راؤ بادشاه کړي خو سورج مل جاټ او نورو سردارانو مخالفت اوکړو چه لا پښتانه او احمد شاه په سر موجود دے اول دا الزغي لرے کول پکار دي -نو بيا تخت او تاج ستاسو. نو په دے وجه دَ شاه عالم عالي ګوهر زوئ مرزا جوان بخت بادشاه کړو- مرهټه نو غم ګنج پورے ته مخه اوکړه - دا ښار د دهلي نه قطب ارخ ته شپيته ميله لرے دے - احمدشاه هم په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دے خوا روان شو۔ مرهټو اول دا ځائے په ډیر اکتوبر قبضه کړے وو۔ د غازیانو او مرهټیانو فوځونه په جمنا دریاب غونډ شو۔ یو څو ورځے پس چه د دریاب تاو کیناست او به لږے شوے نو په ټولو کوډدونو مرهټه فوځ پروت وو آخر احمد شاه په مرهټه فوځ د حملے کولو فیصله اوکړه او عبدالصمد خان یوسفزی جرنیل ته ئے حکم اوکړو چه پنځه زره سواره واخله او په داسے ځائے چه کیږی د دریاب نه پورے وځه۔ او په مرهټو باندے حمله اوکړه دے غازی جرنیل په ډیرے مړانے خپل سوارهٔ په سیند وړکړو کړل۔ مرهټو او مغلو په شریکه په پښتنو داسے قسم ګوله باری اوکړه چه سورو یو ګام په وړاندے نه کړے شو۔ احمد شاه حکم اوکړو چه د خپل جرنیل مدد له ورشئ۔ خو هغه ټولے هم کامیاب نه شو۔ نو احمد شاه په خپله په آس سور د خپلے محافظے دستے سره په سیند ځه وړکړو شو۔ نو ټول فوځ ورپسے سیند ته ورداو د ټکل۔ مرهټو لکه د پشکال د باران ګوله باری اوکړه او جمنا دریاب د پښتنو مړونه ډک شو۔ خو پښتنو حوصله بائیلوده او د زمرو په شان مخ په وړاندے روان وو۔ په یخ زړه او کمال اطمینان سره د مرګ نه بے پروا د پښتنو لښکر په جوش



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مست دَ اسلام په خمار بے خود او دَ پښتو په جذبه سرشار په ډير شجاعت او مړانه دسيند نه پورے وتل - پورے وتلو سره يې مرهټو له داسے ګذار ورکړو چه پاني پت ته په تيښته کړل -

دشاه ابدالي واشن راتلو چه په اوم دربيع الاول کال ۱۱۷۴ھ بهاؤ په هغه فوځ ټولي حمله اوکړه او ډير نقصان ورکړو- چه ننګيالے ابدالي خبر شو نو په ۱۷ ربيع الاول په ډيره تندئ دَ "انوپ شهر" په طرف روان شو- دلته هم دَ جمنا درياب دَ هندوانو بچ کولو دَ پاره غيښه پرانستے وه - خو پښتانه غازيان په درياب داسے پورے وتل لکه منزری - څو کسان ډوب شو او باقي فوځ صحيح سلامت پورے وتل - بالاجي بهاؤ دَ خبريدو سره بے دَ ډيل نه خپل فوځ پاني پت ته اورسولو-

دَ پاني پت په ميدان دا دريم جنګ وو- بالاجي بهاؤ دَ جنګ ګټلو دَ پاره هرڅه په داؤ کيښودل - دَ دښمن دَ لښکر شمار درے لکو ته رسيدلے وو- درے سوه ورسره انګريزي توپے وے - دَ توپخانے سپاهيان او جرنيل ابراهيم ګردے دَ فرانس زده کړي جرنيلان په ټول هندوستان کښے بيشان رګهناته - دتاجي - ګيان چند - سورج مل جاټ - هلکر راؤ شير جنګ - بسواس راؤ - دَ ټول فوځ نګران او بالاجي بهاؤ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سپه سالار اعظم ۔

اوس راشئ د ااوګورئ چه غازیان په شمار کښې څومره
وُو۔ پنځوس زره د افغانستان او پاکستان پښتانه ۔ لس زره
د شجاع الدوله روهیلي پښتانه ۔ او دیرش زره پښتانه حافظ
رحمت خان او خان احمد خان بنګش سره وو۔

د پانی پت میدان کښې مرهټو د خپل فوځ نه چاپیره
لوئے خندق او کنستر تقریباً شل ګزه پلن او په میلونو اوږد
ډډے سره درے سوه توپے داسے د ځان نه چاپیره کړے
چه فولادی قلعه ورنه جوړه شوه ۔

لکه په ښکار پسے ښکاری چه په لوړ د ژدرو اَړنه وی او
وړاندے روان دی په دے شان غازی توریالے پښتون لښکر
پانی پت ته اورسیدو۔ د بادشاه د کمان لاندے دا جرنیلان وُو۔
شجاع الدوله د روهیل کهنډ فرمان روا۔ نجیب الدوله
یوسفزے ۔ بونیری د سهارنپور فرمان روا۔ دوندے خان
روهیله سردار۔ حافظ الملک رحمت خان روهیله فرمان روا
عطائی خان پوپلزی ۔ فیض الله خان خلیل ۔ شاه پسند خان
شاه قلندر۔ او شاه ولی بامیزی ۔ احمد خان بنګش ۔ نصیر خان
بلوچ ۔ عنایت الله خان او فیروز جنت ۔ داهغه د اسلام او
پښتون قام عزت ابرو ساتلو د پاره سر په منګل وو۔ دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## تکیالی پښتانه

دغه پښتنو ذ اسلام نوم همیش کټلے دے
دے پښتون میدان کښې ذسپالئ کافر تللے دے
دا پښتون همیش دے او دریږے ذ اللہ په نوم
څه غیژ دے رستم ؛ پښتون رستم نه زیات کوټلے دے
څوک چه ذ پښتون مقابله کښې په میدان راغے
ده دُنیا ګواه هغه دښمن خپل سر خوړلے دے

مرهټي - جاټ او راجپوت ټګک په ټګک میدان ته راغلي وو- غازی بادشاه شل میله لرے خپل فوځ دیره کړو- او ذدښمن ژوندون تر بجرو ذ پاره چاپیره ذټک ر ټک لارے وربانده بندے کړے. سه

مسلمان چه په اسلام او نتړی مُلا
ورته کله بیا څوک او دریږی په دُنیا
مسلمان په هر میدان کښې بریالے دے
مسلمان ذ خدائے نائب دے په دُنیا
مسلمان ذ خدائ رحمت ذ امن نښه
مسلمان دے یو نائب ذ رب مولا
مسلمان او ذ کافر نه تښتیدل ؟
مسلمان او د کافر نه واز خطا ؟
مسلمان او بیا پښتون غوندے کوټلے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

دَ پښتون دَ توري زور دے په هر خوا
دَ پښتون دَ ننګ سیالئ په جهان څوک دی؟
دَ پښتون مقابل راغی څوک دَ چا؟
چه پښتون د ننګ پښتو ځنې کار واخلی
په ژوندون دښمن ته نه کړ زوی شا
پښتانه یا شهیدان او یا غازیان
په پښتون ویم ګلنار دَ شهدا
هلالی هر ز پښتون په دین مئین دے
دَ پښتون را صفت تل کوی رښتیا

یا څو مرهټیانو په ټول هندوستان کښے بړی بړی نعرے وهلے - هیڅوک هغوئ خپل سیال نه ګڼړلو - او س چه پښتانه میدان ته را غلو نو هندوستان دا مزری دَ پښتنو دَ هیبت نه دَ خندق او ترپو نو په تلا کښے داسے چپ کیناستل لکه باران وهلی ګیدړان - په نن عبا کښے ډیر وخت تیرشو - پوره یوه میاشت - نو په اتویشتم[۲۸] دَ ربیع الاول دَ نجیب الدوله سالار رئ لا ندے یو کنهک نوځ دَ پښتنو په مرهټو ورا و ختلو - مرهټي هم میدان ته را را ووتل - دَ صبا نه تر ماښامَ جنګ او شو - دَ مرهټو نومَ بلونت راوُ جرنیل په دے جنګ کښے قتل شو - دَ شپے تیرے امن قائم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړو او فوځونه خپلو کیمپونو ته ستانه شو۔ پښتنو د مرهټې سکه د دښمنانو په زړونو باندې کینوله ۔ سه

دَ بُنیر ګل دَ نمیر جرنیل نجیب
دَ پښتو غیرت ښکاره کړلو عجیب
دَ صبا نه تر ماښامه جاري جنګ وُ
پښتون کړې مرهټو باندِ غوز زنګ وُ
بلونت راۍ جرنیل شو قتل په میدان
او باقي لښکر شو کیمپ ته ګریزان

په دې کښې خبر راغې چه ګوبند راوُ بندیله دَ اټاوُ ضلعې لس زره فوځ بې شماره خزانه دَ خوراک څکاک ډېر سامان راخستې راروان دې او دَ شاه جهان آباد شاهدره نومِ ځائې ته رارسیدلې دې۔ دَ ګوبند راوُ چه کوم ځائې ته رسیدلې دې نو هغه ئې تالا کړې دې۔ او اراده لري چه مرهټه مسلمانان تالا کړي۔ غازي بادشاه دَ عطائي خان سالاري کښې پنځه زره سواره دَ هغهٔ مقابلې ته ورواستول دَ کنج پوره خوا کښې جنګ اوشو۔ شنکر راوُ قلعه دار قتل شو۔ بیا غازي آباد کښې دَ پښتنو او مرهټو مقابله اوشو دَ سرو وینو سیلاب روان شو۔ ګوبند راوُ بندیله جلال آباد ته اولښتیدو۔ غازي عطائي خان ورپسې دَ اجل دَ غشي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په شان او سیند ګو بند لاړ او ټول لښکر تباه شو - او خزانه مال اسباب ټول د غازيانو لاس ته راغې -

د اسلام تاریخ ګواه　　پرې لرمه زه والله
دا يو موږ ته مسلمان　　دې برشوې په ميدان
ګورئ څڼې ميدان د بدر　　اوګورئ ځوانان د بدر
کفار زر تکړه ډېر کس　　مسلم درې سوه[٣١٣] ديارلس
کفار ټول شو تار په تار　　اويا تنه ګرفتار
د موته اوګورئ پرسان　　په شماره يو لکه وو روميان
مومن درې زره په شمار　　پرې خالد[رض] سپه سالار
ډېر روميان کړل لښکر　　شو په تيښته ټول لښکر
د يرموک اوګورئ شان　　دې کوتلې رم بيان
پنځه لکه پنځوس زره　　رومي فوځ او نېر ترسره
مسلمان لښکر جرار　　دو شپږ ديرش[٣٦٠٠٠] زره په شمار
خالد[رض] وو د فوځ سالار　　يوناني شو تار په تار
يوناني سالار باهان　　دوه ټوټې شو په ميدان
يو نيم لکه يوناني مړه　　شو په خاورو کښې خړ پړه
بيا لږ اوګورئ ايران　　رستمي بهادران
دوه مغرور په نوم د زال　　تښتېدل لکه شغال
تر بينه هېره رستمي　　مسلمان کړه تمامي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټنګيالي پښتانه

ترشېن لکه دا لښکر ‌‌‌‌ ‌ وُرستمؑ دَ دوئ افسر
په ميدان دَ قادسيه ‌ ‌ دَ حضرت سعدؓ سره
دوه ديرش زره مومنان ‌ ‌ برياليٰ دَ ټول جهان
دولس زره ټول عرب ‌ ‌ دوئ اندلس کړو په ادب
طارقؓ واخستو اندلس ‌ ‌ "اُورا پرک" کړو تس نس
محمدؒ ځوئے دَ قاسمؒ ‌ ‌ دهٔ داهر راجه کړو وسم
دولس زره ټول لښکر ‌ ‌ عرب او پښتون زړه ور
په سل کاله کښې دښنه ‌ ‌ ما نه واوره اے خادمنه
شپږ ديرش زره قلعه ګانے ‌ ‌ ښارئ داسے ودانے
کړے مسلم ترخپښ نګين ‌ ‌ په مسلم شه آفرين
دے پښتون نرمسلمان ‌ ‌ ورګټلے هر ميدان
دا پښتون دے برمالي ‌ ‌ دا پښتون دے تربالي
دے چه مخ کړی په کوم لور ‌ ‌ دَ دښمن ورانه وی کور
چه دَ دوئ دَ توره خرپ ‌ ‌ دے خو پرے نه وهی ترپ
بيا ترځائے نه شو اوچت ‌ ‌ چه څو را نشی قيامت
پښتون زور ښکاره که خيل ‌ ‌ دښمنان ټنبتوی تل
اوس به او ګوری جهان ‌ ‌ دَ پښتون ټنګ په ميدان
پيښ به دا اوږد داستان ‌ ‌ دغه ګړاو دا ميدان

---

ـه رستم ځوئ دَ فرخ زاد۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

ګوښه راځه ښه یله اولس زره مرهمتي و غیره د پښتنو دلاسه
تاترین نه اوریسیدل ـ سه

ای پښتونه ستا دی په دنیا کښې مثال کله
ستا د ځوانمردۍ دی په میدان کښې بل سیال کله
ستا د توری شرنګ نه په میدان څوک اودریدلی دی
ستا مقابله اوکړی دی چا کښې مجال کله
ستا د ننګ غیرت انګازه ده په ټول جهان کښې
ستا په شان ښکاره که چا میدان کښې کمال کله
نوره خو لری اُف د قلم سره آشنا نه ئې
تا چرې غور اوکړو په دې قال او مقال کله
ستا وحدت کښې ژوند دی ستا نفاق د تباهۍ سبب
ستا د ځان سره په خپل ژوندون اوکه خیال کله
ستا وحدت تنظیم چه نشته اوګوره احوال د ځان
تا اولیدل تمام د ځان په شان پرکال کله
ستا وحدت تنظیم رورولی ستا د ژوندون نښه ده
تا الله ازه اوکړله د داسې جلال کله
شان او ژوند خوځول ای هلالی دی د اسلام په ژوند
بیا به د اسلام د ماضی راشي ښه کال کله
د دښمن حال ورز تر ورز خرابیږه ځکه چه په مرهمتو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ هرا پرخ نه لاړے بندے شوے ۔ دښمنه په کیمپ کښې قات راغے۔ خلق دَ لوږے نه مړه کیدل ۔ دَ بول و براز دَ بد بوئے په وجه مرض راغے ۔ په سوګونو خلق مړه شو۔ یوه ورځ نجیب الدوله او شجاع الدوله غازی بادشاه له راغله او عرض ئے اوکړو " چه زمونږ فوځ ډیر تنګ شو ۔ هغوئ درخواست کوی چه دَ میدان د تلو اجازت راکړئ ۔ چه معامله یو خوا ته شی " بادشاه ورته جواب ورکړو " دَ جنګ کارمانه پرېږدئ په دے زه پوهیږم " دَ بادشاه خیمے سره یوه دَ ریښمو سره خیمه ولاړه وه۔ بادشاه دَ اشراق مونځ دلته کوو۔ دَ خیمے خوا کښې یو نیارزین کړے اَس ولاړ وو۔ غازی بادشاه به هر صبا په اَس سوار شو او چا پیره شپیته او یا میله سفر به ئے اوکړو۔ دَ ماښام دوډئ به ئے سره خیمه کښې اوخوړه هندوستانی جرنیلانو ته به ئے اوفرمائیل۔ تاسو آرام اوکړئ زهٔ ستاسو څوکیداری کوم ۔ او چه دَ جنګ میدان جوړ شی نو بیا به ستاسو ایمان او غیرت ګورم "

مرهټې سالار بالا جی بهاؤ ډیر کوشش اوکړو چه احمد شاه سره صلح اوشی ۔ خو نجیب الدوله هر ځل دَ ئے مخالفت اوکړو ۔ یو ځل بهاؤ خپل زوړ دوست شجاع الدوله ته اولیکل " چه معامله ډیره نازکه ده۔ پیاله تر خولے ډکه شوې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ يو ساسکي ادبو ځائ پکښې نښته. که دَ لاسه دے څه مدد کېږی دا درخت دے"۔ دَدے سره بالاجي مرهټه لښکر تیار کړو۔ هر جرنيل په تندی سوُرداغ دَ سندور وکيښود۔ پان ئې اوخوړو۔ دَ مرګ دَ پاره ئې سوګند اوکړو۔ او ميدان ته بهر شو۔ دَ جمادی الآخر په شپږم تاريخ مطابق ۷ جنوری سنه ۱۷۶۱ درے میاشتے پس دَ مرهټوُ لښکر دَ شپے شپے دا سے دَ مېږی په قدم روان شو۔ چه غوږ تر غوږ پرے خبر نه شو۔ جاسوسانو شجاع الدوله ته خبر راوړو چه دښمن راروان دے۔ هغه په تندئ دَ بادشاه خيمے له ورغے۔ څه ګوری چه توریالے ټنګيالے غازی تیار دَ وسلے سره ناست دے۔ په تندئ بادشاه په اَس سور شو۔ او میدان ته روان شو۔ د پښتنو لښکر دَ جنت ګټلو په نيت سر په منګل دَ يو بل نه وړاندے شو۔ ~

میدان به دَ پانی پت کړم دربنکاره
په سترګو ځما اوګورئ دا ننداره
هغه ګورئ جوړ شو لو میدان دَ جنګ
تیار شو یو آن کښې بیا جولان دَ جنګ
هغه ګورئ هر خوا تیار مرهټې
راوتي میدان له یو وار مرهټې
هغه ګورئ جوړے مورچے کړے لښکر



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

توپونه شو ښخ بیا دَ جنګ په سنګر
هغه ګورئ چری دَ غضب نه را جپوت
پښتون به ئے پائمال کړی په شان دَ شاتوت
هغه ګورئ اُووت لښکر دَ اسلام
هر ځوان دے یو شیر او ببر دَ اسلام
هغه ګورئ سورشو په آس احمد شاهٔ
ښکاره به خپل زور کړی په وَس احمد شاهٔ
هغه ګورئ جانړ په میدان اودنګل
پښتون به ئے ورک کړی که زروی که سل
هغه ګورئ امر کړو بس اس ترا وَ
چه را پښتانه کړئ په وینو ارتاوَ
هغه ګورئ څنګه نوریال پښتانه
بهرشو میدان ته بیا سیال پښتانه
یوځا مست دَ کمزیه ننګ مرهټي
بل خواته پښتو ن کړل بدرنګ مرهټي
یوخواته توپونه درے سوه په شمار
بل خواته دیرش توپے آسره کردګار
یوخواته درے لکه په شمار مرهټي
دَخپل سرنه تیر او جرار مرهټي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو خوا ته د "هر هر مهادیو" سلورے
بل خوا ته د الله اکبر نعرے
یو خوا جاټ راجپوت د دوزخ میلمانه
بل خوا د اسلام نه قربان پښتانه
یو خوا د کافر دے په کفر غیرت
بل خوا د پښتون لوئ ارمان شهادت
نو څو نه یودم شو په جنګ فنګ فنګ
ګرد و نه اوچت شو هر خوا ته دریګ
سینے نه د زمکے غوګرد دا اوچت
شپږ زمکے اتم د آسمان جوړ شو چت
هیبت داسے راغے په دشت او جبل
زمرو غارنه او زغا ښتل راغے اجل
آسونو کړو جوړ په سمونو غبار
سینه شوه د زمکے هر ځائ غار غار
بغری بغری شو لو میدان پانی پت
یودم په هیبت شو لرزان پانی پت
توپونو کړو جوړ په دے شان پزهار
زمری او پړانګان شو ځنګل نه فرار
ناسا په شو بند د توپونو باران

ه لکه مونږ په جنګ کښې د الله اکبر نعره وهو داسے هندوان "هر هر مهادیو" چغې وهي۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

ادس شو عین په عین مسلمان کافران
دَ زمکې سینه په هیبت رپیده
ځنګل غر میره په دهشت خوزیده
سورو کړې دَ تیکی نه نورې بهر
شو جوړ په آسمان کښې یو دم پړقهر
غلور لکه تورې یو دم زلقیدې
نیزې په هوا کښې هر دم زلقیدې
شغلې کړې نمراونګ شین وو آسمان
شیبې دَ سرو وینو وې بس په میدان
چقړ شو په وینو میدان پالی پت
سیلاب کړو دَ وینو روان پالی پت
مصرئ تورې پاس په هوا زلقیدې
په وینو رنګ بنګ او بیا بیا زلقیدې
نیزې سرې کوکې په فضا چورلیدې
په شان دَ شتو په بیدیا چورلیدې
نیزو کړې بغرئ سینې او هم پښتې
هرچاته ور مخکښې دَ مرګ شوې سختې
سرو نه په شان دَ مولو غوسیدل
په پښو دَ سرو کښې هرغواړغړیدل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکیالی پښتانه

لاسونه دَ لیچونه ښکلنه کهذار
مړوند بازوګان عوس پراته تار پهٔ تار
نیزے ښخیدے او وتے ستر ځیګر
پهٔ شانے دَ ګل پهٔ مُښکے شو پرهر
برجے لمبیدے نن پهٔ شان دَ مرغیٔ
سینے دَ ځوانانو نیزو کړے بغریٔ
ځوانان رپیدل ژوبلیدل خلاصیدل
اَسونه شاتورې هر خوا زغلیدل
دَ مړو جوړ شوے هر خو اته انبار
سوونه زرګونه بے حد او بے شمار
زخمیان دَ پښو لاندے دَ اَس چقیدل
او څوک دَ هیبت نه پهٔ شا زغلیدل
راغونږ پانی پت کښں اولادَ دا جنګ[1]
دَ بهیشم پتاما، زاوُزاد راغے نن

---

[1] پهٔ هندوستان کښں زرګونه کلونه مخوا یو جنګ شوے دے۔ دے جنګ ته دَ مهابهارت یا دَ کورو پانډو جنګ وئیلے شی۔ دَ دے فوځ سپه سالار ارجن، بهیشم پتاما او کرشن چه هندوان ئے خدائے ګڼړی۔ دَ جنګ تر ټولو سبب دو۔ ار رام چند تهٔ هم هندوان خدائے وائی۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالی پښتانه

دَ کرشن بندګان او دَ رام پرستار
پښتون کړل دل ول په ميدان خوار زار

واه واه دَ نر ځويه! پښتونه غازی
په مرګ دَ کفارو نا خدایٔ کړو راضی

واه واه دَ اسلام منزریه پښتون
کافر چه ژوندے نه نشی ورستون

شاباش تا رو ښانه کړو قوم دَ اسلام
شاباش چه تا کار دَ کافر کړو تمام

شاباش تا رو ښانه کړو قوم دَ پښتون
شاباش هو ربے شانه کړو قوم دَ پښتون

پښتون په ميدان کښ ښکاره کړه پښتو
کافر تهٔ ور کړو ګذار په پښتو

پښتون په اسلام کړو ښکاره ننګ غيرت
پښتون را ښکاره کړو قومی شجاعت

پښتون دَ پښتو را ښکاره کړو جوهر
پښتون دَ اسلام نه قربان کړو کافر

پښتون په اسلام باندِ او کړو غيرت
پښتون دښمنان کړه ميدان کښ لت پت

پښتون نه ايسار نه دے څوک په ميدان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

پښتون دے مؤمن پاکیزه مسلمان
پښتون په اسلام باندے ورکړے لوسر
پښتون په میدان کښې دښمن کړو ګسکو
پښتون دا ښکاره کړه نن پښتون ولی
پښتون سره څوک شی کولے سیالی
پښتون پانی پت کښې کړه ورک مرهټې
دنیا کښې تر اوسه دی سپک مرهټې

غازی احمد شاه د شجاع الدوله په ډیر نازک وخت کښې چه د مرهټو په منګلو ګیر وو امداد ورکړو۔ د اسلام غازیانو د ایمان او اسلام قوت په میدان کښې ښکاره کړو

لرزان شو په یو آن واړه میدان د پانی پت
آسمان شو د هیبت نه په لرزان د پانی پت
سمونو د آسونو داسے جوړه کړو غبار
د زړکے نه شو جوړ اشم آسمان د پانی پت
رنګ زیړ شو لو د نمر د ده په مخ راله پرده
غازیانو چه زلزل جوړه کړه کوم آن د پانی پت
سر او چرلیب د ډیر هیبت دهشت نه د آسمان
هزار جوړ د توپونو کړو طوفان د پانی پت
قیامت نه وړاندے جوړ شو پانی پت کښې یو محشر



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

حیرانے فن بیستے شوے په قتلان دیانی بیت
پښتون ښکاره پښتو کړه په میدان کښن د سیبا
توریال بریال او سپیال پښتون هر ځوان دیانی بیت
تاریخ کښن پښتنو د ځوانمردۍ پرېښود مثال
وی یاد به تر قیامت د جنګ داستان دیانی بیت
پښتون چه کړه زه یمه پښتون پوخ مسلمان
ما جګ د حق بیرغ کړو په جولان دیانی بیت
پښتون دے د دے قول مسلمان فخر به والله
پښتون تود هلالی کړو په بیان دیانی بیت

د پښتنو مزری د هرخوانه په دښمنانو ورخلاص شو۔ داسے چه د دهغوی نه رګ ګودر هیر شو۔ هر یو پښتون جرنیل او سپاهی غازی د اسلام او قام فرضی حق ادا کړو۔ ـــ

آسمانه اولید تا ننګ او غیرت د پښتنو
میدان کښن د مړانے شجاعت د پښتنو
پښتون اوښود دنیا ته ځوانان داسے کوی کار
ښکاره شو په دنیا کښن ننګ غیرت د پښتنو
پښتون داسے حملے اوکړے حیران شو منزری
دنیا ګوره په خوله کړله همت د پښتنو
پښتون کو بری د کفر کړے په سر د نیزے بار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

قابله ده دنیا په دے جرأت دَ پښتنو
پښتون دَ کفر زړه څیرے کړو منګلېن د میدان

جو ړنه شو چه چا او منل جراحت دَ پښتنو
پښتون ته وړاندے کړه قومی ملی غیرت اے دهلا

دینی غیرت کړه بیا بیا را او چت د پښتنو

دَ تیمور او بابر په تخت د کیناستو په مینه را غلی مرهټي کوټره کوټره شو۔ شهزاده بسواس راؤ۔ دَ هول فوځ سپه سالار اعظم سداشیو راؤ۔ جنکوجي۔ سورج مل جاټ۔ رګهناټهه۔ شمشیر جنګ ابراهیم ګردی او دوه لکه مرهټي قتل شو۔ شل زره ژوندی ګرفتار شو۔ باقی اتیا زره په تیښته لاړل۔ پښتنو ورپسے تر څلویښت میله یرغل او کړو۔ ؎

پښتونه تا دَ پانی پت دریم میدان اوګټه
میدان دِ څه ؟ په والله تا دین او ایمان اوګټه
تر اوسه ستا دَ توره برېښي دَ بهارت په وطن
سر دے قربان که تا ناموس دَ پاک قرآن اوګټه
نه دَ خیل زور نه خبر نه ئے دَ دوران زمریه!
دنیا ده کړے ننداره تا دهر میدان اوګټه
ستا په شان کله بل مین دے په اسلام په وطن



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تا په دمرځاے با پېلے نوم دَ مسلمان اوګټنه
بخوا اله دے نه دَ محمود سره غزا له لاړے
ستا په قوت سومنات دے غازی سلطان اوګټه
نقط یو نه ئے چه په ایېر شوے ټول تمام مسلمان
تا دَ اسلام عزت ناموس په هر اوطان اوګټه
ستا په ژوندون کښې دَ اسلام دَ ژوندون رازونه
یو ورز به غزی شی چه پښتون تمام جهان اوګټه
اے ټلالی! پښتو اسلام نه دی یو بل نه جُدا
هم دے پښتون دین دَ رسول آخرزمان اوګټه

دَ دنیا دا اعظم بریالے دَ پانی پت نه دهلی ته لاړو۔ او شاهزاده عالی ګوهر دَ شاه عالم ثانی په لقب بادشاه کړو شجاع الدوله وزیر اعظم او نجیب الدوله ئے امیرالامراء مقرر کړل۔ او دَ کامیابئ نغاره سره قندهار ته ستون شو۔ چه دے شکست نه بالاجی خبر شو۔ نو دَ ډیره غمه دَ هغه زړه پړق او چاودو۔ دهر مسال کښې کیناست او دَ سنسکرت وردِ شروع کړو۔ څو ورزے پس مړ شو۔

دَ پانی پت نتیج نه پس ټول هندوستان احمد شاه ته خوشے پاتے شو۔ که احمد شاه دَ پښتنو سلطنت جوړ کړے وے نو دا دَ مغل نه خیل فرض آخستل وو۔ ځکه چه بابر هم دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پانی پت میدان کښې دَ ابراهیم شاه لودهی نه سلطنت آخستے وو۔ کوم چه داسے شوے وے نو درے څلور سوه کاله به دَ پښتنو حکومت په هند و پاکستان کښې وو۔ دَ مرهټو په لاس با یُللے سلطنت بیا مغلو ته سپارل یوه لویه سیاسی غلطی وه چه دَ احمد شاه نه شوے ده۔ ځکه چه مغل هم ودَ چا دَ مقابلے پاتے نه وو۔

احمد شاه پنځویشت کاله حکومت اوکړو۔ دَ هغے کوتاه حال دادے ۱۔ په ستمبر ۱۷۴۸ء په پنجاب حمله۔ په ۸، جنوری ۱۷۴۹ء په شاه دره حمله۔ په ۱۱، جنوری دَ مغلو او پښتنو جنګ۔ په یکم مارچ ۱۷۴۹ء ستلج نه پورے وتل۔ په لدهیانه حمله۔ په ۴، مارچ په سرهند قبضه۔ په ۱۱، مارچ دَ مغل وزیراعظم قمرالدین خان په پښتنو حمله۔ په ۱۷۴۹ء سیرلی کښې په هرات بیا رحمله او فتح۔ دَ نور محمد خان علی زی سابق سپه سالار دَ بادشاه دَ مرګ سازش او هغه قتل۔ په دے کال دَ اباسین نه پورے پنجاب ته تګ۔ دَ لاهور ګورنر معین الملک خراج ورکول په ۱۷۵۰ء سیرلی کښې نیشاپور ته تلل او دَ عباس قلی ګرفتارول۔ هم په دے کال دَ بلوچستان نواب نصیر خان باغی کیدل۔ دَ احمد شاه ورتلل او هغه لاندے کول۔ دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

علی مردان قتل. د نومبر میاشت ۱۷۵۶ء کښې د احمدشاه بیا پنجاب ته تلل. ادینه بیګ تښتول. په ۷ ر جنوری ۱۷۵۷ء دهلی قبضه کول. په مارچ ۱۷۵۸ء سرهند ته ورتلل. په ۱۷۵۹ء کښې د افغانستان د ننه ځول کړبړ قلاره ول. او مرهټه چیچړی کول. د فروری میاشت ۱۷۶۲ء کښې د سکانو سره مقابله کول او شل زره سکان وژل. او د پټیالې راجا د لها سنګهه ګرفتارول. ۱۷۶۳ء کښې بیا د سکانو او یا زره فوځ سرهند کښې تباه کول. په ۱۷۷۳ء کښې ناجوړه کیدل. د آب وهوا بدلولو دپاره د اچکزو علاقه کره سلیمان کښې د طوبې یخ ځای ته تلل او آخر د جون میاشت کښې د سرطان په مرض ۱۷۷۳ء کښې وفات مونډل. ۶ قندهار کښې دوامی آرام کول.

پښتانه د خپلو وینو د کیله مجبوردی چه د پښتون احمدشاه ستائینه اوکړی. صفت خو نن د بل د خولې نه کوی.

فیریر فرانسی په خپل کتاب "هسټری آف دی افغانز" کښې لیکی. د احمدشاه د حکومت زمانه د هغه د ښیګړو او خوشحالو د پاره مشهوره ده. چه کوم هغه په چاپیره ملک کښې پیدا کړې وه. په شاهی شان وشوکت کښې د هغه ساده ژوند د خلقو په زړه کښې مینه پیدا کړه. ملاقات آسان. وینا خوږه.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# سکان او پیرنګیان تښتونکی

# اکبر خان

چاچه میکنائن اوهری سنګه کولے شلولی
چاچه پیرنګیان او سکان دواړه شرمولی دی
چاچه په زلزل کړلو پنجاب هند انګلستان
هغه بریالے غازی پښتون دے اکبرخان

"ننګیالی پښتانه" لوستونکی خوتردے دَ پښتنو په اقبال هست دَ پښتنو په ترقئ ډېره خوشحال او دَ پښتنو دَ اتحاد اتفاق په ذکر په جوش دی چه دَ پښتنو برے ورته هرځائے ښکاری. ولے په دے تیرو اوه شلے کلونو کښې چه پښتنو دَ ذاتی مشرے، شخصی غرض دَپاره څه کړی دی او دَ هغے خمیازه ئے اوزغمله اولا په ډیره مُوده زغمی - که دَ هغے کوتاه ډېره لمنډونکے داستان بیان نه شی نو موجوده پښتانه به دَ تیرو اوو شلو کلونو دَ خود غرضو او دَ هغے درد انګیز انجام نه څه نتیجه وا نخلی - که دا یو نقصان په پښتنو کښې نه وے، او نه وی چه ذاتی غرض ذاتی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عدل او انصاف نه. دَ هغه اصول وو. دَ هغه دَ مرګ په وخت دَ حکومت
لمن دَ جیحون او کافرستان نه غرونو رسیدلې وه. دَ ښیلاؤ حدونه
دَ خلیج عمان پورې نمخامخ طرف ته کوهستان. تبت. ستلج او
دریائے سند هم حدونه وه. قبلې ته خراسان ایران او کرمان دَ
هغه دَ سلطنت حدونه وو.

یو انګریز مؤرخ کرنل ټمیلسن لیکی: دَ ټولو نه زیات کوشش
دَ احمد شاه دا وو چې زه هر یو کار له قامي رنګ ورکړم. هغهٔ به
وئیل. زه ځکه بادشاه شوې یم چې دَ پښتنو سلطنت جوړ کړم. دَ
پښتنو قومیت جوړ کړم. احمد شاه به ټل دَ پښتنو دَ قومیت په نوم
دملګرتیا سوال کولو. دَ هغه خیالات لوئ او چت دَ عزیزولۍ او
قومیت وو. په دې وجه پښتانه ټل دَ هغه ملګري وو. رهسټری
آف افغانستان مخ ۲۷۷ - ۲۷۸)

هم دا سې نورو مؤرخینو دَ رائے خلاصه دا ده چې احمد شاه
په اصلي معنو کښې پښتون وو. دَ پښتو نولئ او قومیت باني وو
دَ هغه په زمانه کښې غیرت او عزیزولئ ته پښتو وئیلې شو. نیک چلن
میلمه پالل بهادري ورپښتو بللې شوه. هر نیک او ښه کار
ته پښتو وئیلې شوه. د ناکاره او قومیت ته نقصان رسوونکو کار ته
پرېښودل پښتو وه. دَ پښتنو دَ عزیزولئ ټکے دَ هغه زمانه
کښې عام شو. دَ هغه درباري ژبه پښتو وه.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)



د مړي منګو او سکالن کاتل غازي وزير محمد اکبر خان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مشرۍ د پاره د ترپکنۍ په جوش نه يو ازې تربور او خپل ځان ته نقصان رسوی۔ بلکه کله کله ټول قوم او وطن ته دا سې تاوان ورکوی چه ډيره موده د هغې نيمګړتيانه پوره کيږی۔ که دا عيب الله پاک د دې نجيب او نجيب قوم نه لرې کړو نو بيا خو سبحان الله بالشئ

چه د تاريخ نه تپوس اوکړو چه هم دا پښتانه نه وو چه ځرک د حضرت محمد بن قاسم ثقفیؒ کورنر شيراز سره د مکران په لارې بلوچستان نه تيرشوی سنده کراچئ ته را غلۀ۔ او د خپلې تورې په پرتار باندې د سنده تورملک د اسلام په رڼا اوز لفوو۔ راجه دا هرئ قتل کړو۔ اوتر ملتانه ئې د اسلام سلطنت خورکه۔

هم دا پښتانۀ نه دی؟ چا چه سلطان محمود غزنویؒ سره ملا اوتړله۔ سر په منګل د مشرکانو سره هندوستان له د غزا د پاره را غلی وُو۔ او په ګجرات کاټهياواړ کښې د سمندر په غاړه د سومنات دهرمسال درې وړې او د سوم بُت ذرې ذرې کړو۔

هم دا بريالی پښتانۀ نه وو؟ چه د سلطان غياث الدين پښتون بيرغ لاندې را غونډ شو ی افغانستان۔ خراسان هند او ايران کښې د اسلام د قوت او د پښتون د دبدبې نوبت او غکاؤ۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم دا توریالي پښتانه نه وو؟ چې د سلطان شهاب الدین غوري پښتون پښتي شو نو د پاني پت په میدان کښې اول اوده نیم شلې راجګانو له داسې ډغره ورکړه چې د غوري مړي د غوري د وینو په سیلاب کښې لکه د ګنګې ورولاهو کړل۔

هم دا غیرتي پښتون نه وو؟ چې د خپلواکۍ د پاره د میرویس هوتک خواکښې اودریدل۔ نو میرویس او د هغه ځامنو شاه محمود او شاه اشرف د ایران توران ؤستهانونه رستمي هیره کړه۔

هم دا سیال پښتانه نه وو؟ چې (خدائ ئې ترې راضي) احمد شاه ابدالي پسې ملا اوتړله نو د پاني پت دریم جنګ کښې مرهټو له خاورې په خوله کړې۔

د تیمور او بابر په تخت د کېنا ستو ارمان د هغوئ په زړونو کښې ښخ کړو۔ او دوه لکه مرهټیان قتل کړل۔

خبر دې تمامي جهان په ننګ د پښتنو
مړانه خوانمردي غیرت غرور ننګ د پښتنو
بیرغ د دین اوچت ساتل په خپلو کېږو
د خدائ لاره کښې تل د توروشرنګ د پښتنو
په مینه د وطن دقام په ننګ اورته دګل
دنیا لیدلے دے دغه آهنګ د پښتنو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکیالی پښتنو

پېښ آزاد مېږن په آزادۍ او خپلو اکېٔ
آزاد او سېدل دا دے اصل رنګ د پښتنو
په یو لاس کښې قرآن په بل کښې توره تل غزا
د هټول ډوډوون تفسیر دے دا خوشرنګ د پښتنو
د دین وطن او قام دښمن ته شا نه کړه زړول
د مرګ نه په سیالۍ کښې نشته سنګ د پښتنو
د تورے چلولو کښې ترے نشته مړنے!
پوهیږی پرے چه چاکړے دے جنګ د پښتنو
تاریخ د پښتنو به لکه نمر کړے پلوشے
که مخ په خیل غرض نه وی بدرنګ د پښتنو
پښتون دے انتهاپسند چه ورشی په کوم لور
بیا نه دے پاتے شوے په زړه زنګ د پښتنو
تر او سه په هوا د دعوی زه آورم ژړا
خوړلے چه دے چا یو زل خدنګ د پښتنو
میدان که ترد یو زل شی بیا د کفر د اسلام
بیا ګوره هلالی زور دغه درنګ د پښتنو

اسلام د ټولے دنیا بنیاد مانوله د اتحاد سبق ورکوی۔ نو پښتون خو په اسلام مېږن تام دے ځکه هرچانه زیات پښتنو له د اسلام په دے پاک تعلیم عمل کول پکار دی۔ سه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغلا لی د ژوندون راز دے اِتحاد
همیشه دے اِتحاد قام شی زنده باد
چه تورمخے مچیٔ غونډے اِتحاد کړی
خدائے ترے خوږ ګبین پیدا کړه په شتاباد
اِتحاد کښ د ژوند خوند ګله د قند شی
اِتحاد د قامی ژوند اصل بُنیاد
اِتحاد کښ لوئ سبق د خودداریٔ دے
اِتحاد وطن ودان که قوم آباد
اِتحاد د قام په جسم کښ یو روح دے
اِتحاد کړی مونږ قام په جهان یاد
اِتحاد د نفاق رنځ لره تریاق دے
اِتحاد د نفاق نرغے کړی برباد

ابدالی شهنشاه د خپل وفات ۱۷۷۳ء نه پس لوئے حکومت پریښودو چه پکښ ملتان لاهور شکارپور بلوچستان کشمیر پښاور ډیره اسمعیل خان قندهار کابل هرات بلخ بدخشان خلم غزنی شامل وو۔

احمد شاه په خپل ژوند خپل دویم زوئ تیمور ولیعهد مقرر کړے وو۔ خو د شاه ولی خان په کوشش د هغه زوم او مشر شاهزاده سلیمان بادشاه شو۔ تیمور په هرات کښې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ شیخ یحییٰ په دعا بادشاه شو. بیائے په قندهار حمله اوکړه
سلیمان گرفتار او پنجره کښې ترمرګه قید کړل. شاه ولی خان
قتل کړو. تیمور دَ قندهار نه پائے تخت کابل ته بدل کړو
دَ دُرانو نه خفه وو. څلور میاشتے به ئے پېښور او باقی کابل
کښې تیرولے. په تاجک او قزلباشو ئے زیات باور وو. په
ځائے دَ پښتنو ئے تیمور شاه شل کلونو حکومت کولو نه پس
دَ سپرلی موده کښې دَ واړه اختر په اتم تاریخ سنه ۱۷۹۳ء کښې
وفات شو. وئیلے شی چه دَ هغه درے سوه بچي وے. او یوه
هم پښتنه نه وه. او دوه دیرش ئے زامن وو.

دَ تیمور شاه نه پس همایون مرزا قندهار کښې بادشاه
او دَ جمال خان بارکزی دَ مشر ځوئ پائینده خان په مرانه
زمان مرزا په کابل کښې بادشاه شو. شاهزاده محمود
په هرات کښې. شاهزاده عباس پېښور کښې شاهزاده
کندل په کشمیر کښې شجاع الملک په غزنی کښې حاکمان وو
شاه زمان خپل رور محمود له شکست ورکړو. بل رور همایون
مقابلے له راغے. شاه زمان هغه له هم ماتے ورکړه. او ملتان
ته اوتښتید. گرفتار شو او سترګے ورته اوخکلے. شاه زمان
خپل یو وزیر رحمت الله چه مشهور وو په وفادار خان مقرر
کړے وو. دَ دهٔ په وزارت ټول تام خفه وو. دَ دهٔ سلوک دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتنو سره ښه نه وو ـ دَ شاه زمان زمانه دَ پښتنو دَ پاره دَ مغلو[1] نه کمه نه وه ـ په دے وجه په حُل سنه ۱۷۹۹ء کښې سردار پائینده خان ـ حکیم خان علکوزی ـ امیر ارسلا خان ـ محمد شریف خان منشی باشی ـ یوسف علی خان ـ سلطان خان نورزی ـ رحیم خان علی زی ـ راغُنډ شو او دَ وفادار خان دَ مرګ او دَ شاه زمان دَ معزول کولو فیصلے اوکړه ـ خو دَ فیصلے نه اول محمد شریف منشی باشی راز فاش کړو ـ او دَ شاه زمان په حکم پائینده خان او نور سازشیان قتل شو ـ فتح خان دَ پائینده خان ځوئ دَ قندهار نه کرشک نوم ځائ ته اوتښتید او هلته دَ شاه محمود سره ملګرے شو ـ چه دَ پلار بدل واخلی دشاه زمان خلاف شاه محمود اُوه کاله جنګ اوکړو ـ آخر دَ کابل نه را ښکته جګدلک نوم مقام کښې شاه زمان دَ ملا عاشق شنواری تلا کښې ګرفتار شو ـ وفادار خان زهم دهٔ شاه زمان نه دَ سردارانو دَ قتل صلا ورکړے وه) سره دَ رورنړو قتل ـ شاه زمان روند او قید شو ـ او شاه محمود دَ کابل بادشاه شو ـ دا سنه ۱۲۱۶ھ وو ـ شاه محمود خپل وزیر سردار[2] فتح خان مقرر کړو ـ

---

[1] تاریخ افغانستان علامه جمال الدین افغانی مخ ۶۱ ـ

[2] سردار فتح خان په سنه ۱۱۹۲ھ کښې پیدا په سنه ۱۲۱۹ھ کښې وزیر ـ په سنه ۱۲۳۲ھ کښې په هرات کښې روند او په سنه ۱۲۳۳ھ کښې په غزنی کښې هم دَ دے بادشاه دَ لاس نه شهید شو ـ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شاه محمود ډیر عیاش اوباش سړے وو. خپل ټول کارونه وزیر فتح محمد خان ته اوسپاره. وزیر محمد خان د ملک انتظام په دے شان اوکړو چه خپل رونړه رحمدل خان په بلوچستان. سلطان محمد خان یار محمد خان او پیر محمد خان په پیښور. پوردل خان په قندهار. کندل خان په بامیان شیردل خان په غزنی. محمد اعظم خان په کشمیر. او نواب جبار خان نواب اسد خان خپل ځان سره نائب وزیران او سردار دوست محمد خان د بهرنو کارونو د پاره مختیار خاص مقرر کړو.

د شاه زمان ډیر یو وړه پس د هغه سکه رور شجاع الملک د خپل رور بدل اخستو له په کابل په یکم ستمبر ۱۸۰۵ء حمله اوکړه. شاه محمود شیعه عقائد منلی وو. د فوځ نوئ افسران قزلباش وو. سُنی خلق د اسے وو. لکه په کور کښ میلما نه شیعه ګانو په سُنیانو رنګارنګ ظلمونه اوکړل. په باز ار کښ ئے د خلقو نا مرس نه لاس وا چوو. په ۴. جون ۱۲۱۹ء کابل کښ د شیعه ګانو او سُنیانو ترمنځه بلوه اوشوه. د شاولی خان (د احمد شاه د وزیر اعظم) ځوئ شیر محمد خان چه د باد شاه ډیر اعتباری وو. د کابل نه تښتیدلے شاه شجاع له لاړو. او په ۱۲ جولائی په ډیر شان سره کابل کښ د شجاع الملک سره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

داخل شو۔ شاه زمان آزاد۔ شاه محمود قید او ملا عاشق قتل کړے شو۔

انګریزانو د اوخت د هندوستان نه فرانسیسیان او پرتګیزی ویستلی وو۔ او د روس د حملے د ویرے نه یوے خوب حرام وو لارډ ایا کلینډ ګورنر جنرل شاه شجاع له خپل سفیر ایلفنسټون پیښور ته په سنه ۱۲۱۹ھ کښې راولیږه۔ شاه شجاع خو د تخت هوس کښې سیلاب په مخه کړے وو۔ هرڅه ته ئے لاس اچولو۔ هغه فرنګیانو سره یو معاهده لوظنامه او کړه چه "زه به د انګریزی حکومت خلاف نه بلو سیمن م"۔ داجرګه په ۲۵ فروری را غله او تر ۱۲ جون دلته کښې وه۔ وزیر فتح خان سره د شاه محمود د آزادئ فکر وو۔ آخر د وزیر فتح خان په کوشش شاه محمود قید نه آزاد شو۔

شاه شجاع او شاه محمود بیا انبر چیمبر شو۔ د جون میاشت وه چه د ګندمک خوا کښې نیلے سره شاه شجاع شکست او خوړو۔ بله حمله په سنه ۱۸۱۰ء کښې او کړه خو په مات شو۔ بیا په سنه ۱۸۱۱ء کښې په اکوړی کښې شکست او خوړ د اټک خوا کښې د کشمیر ګورنر عطاء الله خان شاه شجاع ګرفتار کړو او کشمیر ته ئے بوتلو۔

د شاه محمود ځوئ کامران ډیر عیاش ظالم خونریز



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غرڅه او سفاک سړی وو.

د شاه زمان ځوی قیصر مرزا د شاه محمود بادشاهۍ ته غاړه ایښې وه. خو دې کامران ظالم هېڅ بې ځېڅ هغه قتل کړو. په دې وجه وزیر فتح خان ده له د ګورنرۍ واګې په لاس کښې نه ورکړلې. کامران دا د ځان سپکاوی اوګڼړه. په سپک طبیعتو نو کښې چه څو مره ناکاره خبرې وی هغه ټولې په محمود او کامران کښې موجودې وې. په هرات کښې وزیر فتح خان د ملک ورانې سمولې. میدان تش وو نو کامران په هر کام د پلار غوږ وته د وزیر فتح خان خلاف د کول او رنګا رنګ چغلې او شیطانۍ به ئې ورته کولې.

فیروز الدین د شاه محمود رور د هرات حاکم د خپل رور نه بغاوت کړې وو. وزیر فتح خان دې ادینو او نیولی کابل ته راغلو [illegible] چه په دې اګوله کښې سردار دوست محمد خان د فیروز الدین حرم سرای لوټ کړو. کامران ته یوه موقعه په لاس ورغله. او پلار ته ئې اوګی جه د وزیر فتح خان دبدبه دومره زیاته شوې ده چه د ټول وطن واکمن دی. د هغه رور دوست محمد سنتا د لور چه د فیروز الدین د ځوئ ملک قاسم ښځه ده. د هغې

---

۱ د افغانستان تاریخ ولیم ایچ وډي مخ ۳۱۸ -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پرتوږ نه جوړ اوشو کول - که د روږ به پر ډګئ غیرت
نه درځئ نو د خپلې لوڼړ به شرم خو غیرت اوکړئ" د کامران
ده بیغور د محمود په زړه کښې اور او لګاوُ - په ځائے د دے
چه دغه وزیر فتح خان نه تپوس کړے وے - سمد لاسه
ئے کامران ته اجازت ورکړه چه څنګه غواړے فتح خان
له سزا ورکړه -

کامران د کابل نه هرات ته راغے - وزیر فتح خان د
بادشاه د ځوئ په حیثیت د ده پوره تابعداری کوله - یوه
ورځ چه وزیر فتح خان شاهي باغ ته د کامران سلام له
لاړو او یوازے وو نو یوناساپه ئے ګرفتار کړو - او په
ښندئ ورنه سترګے او خکلے - او د ده ورور پوردل خان
ئے قید کړو - باقی دوه ورونړه شیردل خان او کندل خان
په تیښته د نادعلي کړی ته ځان اورسول - څو ورځے
پس پوردل خان هم ور اورسیدو - کامران دغه لوئ
وفادار له دا انعام ورکړو چا چه اته کاله پرومبے سنه ۱۸۰۰ء
کښې ورله بادشاهي ورکړے وه - ؎

اے ظالمه! تا په پښتون اور او لګاوُ
دا اور تا د ټول پښتون په کور او لګاوُ
کور د پښتنو د ورولئ دابه وانه شولو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا ور فتح خان مړ کړه تا نور اور لګاوه

بیا شوه ډېرې وېرې د پښتون د ورورولۍ جرګه

سرې لمبې خېژي چه تا پرې نور اور لګاوه

تا د پښتنو په کور کښې د لسې نفاق واچوه

بیا هر ځا په کور د پښتون شور او لګاوه

یو څو د زمان محمود د لاسه پښتون سپک شول

تا لاؤ د پښتون په فنا ور اور لګاوه

اے هلالی نه د علی خان په ژبه ووایه

اور چه د پښتون په باغ مسرور او لګاوه

پښین شو علی خان په دا چوړو خوځوړ

چه وژلے زده نه وه پرې ئې لور او لګاوه

کامران او د هغه پلار محمود دا کوشش کولو چه د بارکزو د مشرانو نوم پرے نه بږدی - او د سردار پائنده خان قتول ځامن د تیغ نه تیر کړی - په وزیر فتح خان باندے ئې پیر زور واچو و چه رونړه دا او عواړه چه ماسره مخالف خبرے او کړی - زه به ئې منصب او عزت زیات کړم - خو چه په دے منافقت او بے ایمانئ کښې کامیاب نه شو نو بیائې په غزنی کښې قتل کړو - لیکن د بهادرانو بهادر او د صابرانو صابر زیګ او کلک پښتون سنه ۱۲۳۴ھ کښې ئې په دا بے دردئ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## تنکیالی پښتانه

قتل کړو چه دَ هغې په آوریدو دَ بنیادم غوڼی زیږ شي۔ ـــ

ننګ غیرت او قامیت چه چا کښ نه وی
په جوسه که دَ ننګ پلوښوی انسان نه دے
دَ قام مینه حقیقت کښ اصل ژوند دے
خودغرضی نه څوک تور مخ په جهان نه دے
خودغرض یوازے ځان نه ملک تباه کړی
دا سبب دے دَ پښتون کور ودان نه دے
دَ پښتون کور دښمنو نړیکلو وران کړو
کنی څوک دَ دے پښتون په شان ځوان نه دے

چه څه کړے هغې به ریبے۔ دے سفاک کامران بیا خپل پلار محمود نه بغاوت اوکړو۔ او دَ ده ځوئ جهانګیر دَ ده نه بغاوت اوکړو۔ کامران او محمود یوازے وزیر فتح خان قتل نه کړو بلکه دَ پښتون په سینه کښ ئې دَ زهرو ډک نشتر ښخ کړو۔

اُف دَ پښتنو قام کښ که نه وے کورجنګی
پورته به کتلی ورته وُو سپک پیرنګی؟
څو پورے چه دی دا پښتون قام لاس په ګریوان
دی به په دے قام نن هغے ورزے بدرنګی
څوک چه دَ خپل قام په ننګ ناموس لوبے کوی
بیا وهی دَ بل مخکښ طبله او سارنګی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګیالی پښتانه

جګې جګې بل ته به کړي لکه برګړا
نه لري په خپل باغ کښې اختیار د نارنګي
هغه ټام دُنیا کښې ځي په وړاندې ډلالي
وي چه دَ کوم ټام عمل دُنیا کښې یکرنګي

فتح خان دَ پښتنو سترګې، دَ پښتنو دماغ اودَ پښتنو زړه وُ دَ فتح خان په مرګ دَ کشمیر نه تر بلخ هر ځائې دَ سدوزو خلاف بغاوت پورته شو. ټوله زمکه دَ افغانستان په کامران محمود او فیروز باندې اوړشوه. نو هرات نه لاړل. دَ دینه پس دَ پښتنو په ټول وطن کښې کورنے جنګ او مخت. دا سې جنګ چه دَ هغې بیان دَ بې غیرتۍ ټام دَ پاره په چونګ او بوکښې دوبیدوله کافي دے.

که څه هم دَ پښتنو دَ زوال اصلي سبب او دَ پښتنو دَ دُنیا دَ نورو قومونو نظر کښې دَ سپکیدو اسباب اولتولے شي. او دَ زړه په سترګو دا ذره ځیرونکے داستان اوکتلے شي. نو دا سبب به سرګند مخې له راشي چه پښتانه دَ پرو جنبو، کینه بغض. بے اتفاقۍ او دَ مشرۍ دَ جنګ په مرض اخته وُو. دے نامراده رنځ دَ دے قوم په سیاسي جسم دَ نزي رنځ په شان دا سې جینجې لګولي دي. چه دَ ټول تام وجود ئې غلبیل غلبیل کړے دے او دَ ځنکدن په سلګو اخته دے. یو خوا ته دَ دُنیا نور قومونه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ټکیادی خیل کورجوړه دی۔ دخپل قوم ورانے ستوی۔ خپل ملک کښې تنظیم اوپو والے پیدا کوی۔ دَ ترقئ او قومی خوشحالئ پام ته ځان رسوی۔ او زموږ قومی خصلت کښې دَ اتلسمے صدئ نه تر دے شلمے صدئ پورے هیڅ بیلتون راغلے نه دے۔ کوم بغض حسد کینه تربګنی۔ پره جنبه خودغرضی او کورجنګی چه دشاه زمان شاه محمود او شاه شجاع زمانه کښې وه او دَ کومے ذاتی لوئیئ شوق چه هغه موده کښې موجود وو۔ او پښتانه سرداران ئے لیونی کړی وُو هغه اوس هم موجود دے۔

برباد کړی چه کوم یم یو اوس لا هم شته
خراب کړی چه کوم غم یو اوس لا هم شته
هم هغه پرے جنبه او تربګنئ دی
چه نوے موږ سترګے په نم یو اوس لا هم شته
خپل غرض له ورانه وُو تمام وطن د دا په
کوم مرض نه چه برهم یو اوس لا هم شته
غلامی کوو دَ بل او وژنو رور خپل
په خپل منځ ځپل آرم وُو اوس لا هم شته
حسد بغض او نفاق هم موږ خوراک دے
په هم دے جهان ته کرم یو اوس لا هم شته
چل فریب دَ ګله سوګند او بے لوظی کړو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګیالی پښتانه

نه الیسارمونږ په قسم یُو اوس لا هم شته
په تندی څمونږه داغ دَ خود غرضئ دے
چه بد نام پرے چم په چم یو اوس لا هم شته
دسلالی څمونږ شاتلی ژوند ون داغ جن دے
دَ نفاق په رنځ مبتلا خم یُو اوس لا هم شته

دیرژوندی شریف غیرتمند مهذب سیال قام دَپاره بے دَدے نه دَ ژوندون بله لار نشته - چه خپلو کښ اِتحاد اوساتی - ذاتی مشرئ دَپاره نړَل قام او وطن په اور نه سوزوی دکامران خیل ذاتی غرض سدوزی او محمدزی خیل منځ کښ وانه چول - ټول پښتون دکورجنګی په اور کښ اوسوزیدې په داسے اوراو سدوزیو چه ایرانی حکومت په اصفهان کښ سکانو پنجاب کښ او انګریزانو هندوستان کښ پړلاسونه تاوَده کړل -

دَپاینده خان سردار رحمن دخپل مظلوم رور سردار فتح خان بدل آخستوله را غونډ شو - ولے سره دَدے ځے دَ احمدشاه اولاد سره مینه لرله - نزدوئ خپل یو رور سردار پوردل خان شاه شجاع پسے ښکار پورسنده ته اولیږلو - شاه شجاع پیښور ته راغے - ولے هغه دَبارکزو دے شرط منلو ته تیار نه شو - چه دَبارکزو او نورو پښتنو عزت به په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خپل حال وي. او حکومت به په صلاح مشوره سره وي. شاه شجاع انکار اوکړو. بیا هغوئ شاهزاده ایوب بادشاه کړو. ایوب شاه د شاه محمود سره ملګرے شو. نو بارکزو هغه لرے کړو. او سم د لاسه کار سردار محمد اعظم خان لاس کښې واخست.

اصل مقصد خو د وزیر اکبر خان ابن امیر دوست محمد خان د سکانو او فرنګیانو سره د جنګ حال بیانول وو. خو د احمد شاه بابا نه پس تر امیر دوست محمد خان پورے تاریخ په دے غرض بیان شو چه ؎

کله کله لوله تیرے شوے انسانے

تۀ که ساتل غواړے تاند داغونه د سینے

چه د خپل غرض د پاره شاه شجاع، شاه محمود څه کالے په پښتنو باندے اوکړے. او دا پښتانه په څه شان د سکانو او فرنګیانو د لاسه سپک او ذلیل شول.

رنجیت سنګهه ړومبے ځل په ۱۸۱۸ء کښې پېښور ته راپورے وت. او جهانداد خان ئے د پېښور حاکم کړو. ولے ډیر زر سردار دوست محمد خان د پښتنو په زور د پېښور نه د سکانو د لاس پتلئ جهانداد خان په منډه کړو.

په ۱۸۱۹ء کښې رنجیت سنګهه په کشمیر باندے حمله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوکړه - دَ اتیا زره فوځ سره سردار عبدالجبارخان دَ پاڼيمڼا ځان ځوئ لس زره پښتانه خاوُشا غزونو کښې پټ کړل - او په سکانو ورغلل - نو پښتنو سکان داسې کښته کېر کړل - لکه ګا ذرے مولئ - زدګونه سکان قتل او ځلوېښت زره ګرفتار شول [۱]-

رنجیت سنګه په ۱۸۲۱ء کښې نزېره اسمعیل خان راغے - او احمد خان ئے په دے علاقه ګورنر کړو - بیا دَ پښتو حیطے له ئے اته زره فوځ دَ هرت سنګه جرنیلئ کښې اولیږه - رنجیت سنګه په خپله ۱۴ مارچ ۱۸۲۳ء کښې راغے - دَه سره دَ یورپ تجربه کارجرنیلان لکه ایلوړ او وینچورا دَ لښکر کماندران وو - نوښار کښې په ۱۴ - مارچ دیوسفزو او سکانو مقابله اوشوه - یوسفزو دَ پیرزاده محمد اکبر په مشرئ کښې سره دَ نا تجربه کارئ بے ترتیبئ او کم خرڅ داسے په مړانه ځوانمردئ جرأت او دلیرئ سکانو سره سینه په سینه اوو هل چه تاریخ ئے حیران کړو - سه

اووے فرښتو په یوسفزو باندے رحمت
دے دَ یوسفزو ځوانانو ډیرو دو غیرت
دے دَ یوسفزو ځوانانو سره او دنګل

---

[۱] تاریخ افغانستان جمال الدین افغانی ص ۶۸ -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

جوړې په سکانو باندې کړلو یو قیامت
واه د یوسفزو ننګیالو ستاسو په مردئ
تاسو د پښتون د ناموس او ساته عزت
تاسو د وطن په آزادئ شولئ قربان
تاسو د پښتون د قوت او ښود شوکت
تاسو د خپل پلار یوسف نامو کړلو اوچت
تاسو د وطن په آزادئ او ښود جرأت
تاسو په عمل دنیا ته او کړلو اعلان
"تل ننګیال پښتون په خپل وطن کوی غیرت"
تاشو چه راغونډ شوئ نو دښمن کیږ شو په غم
ستاسو اتفاق د اسلام او ساته شوکت
تاسو شیر سنګه خدایګو جوړه که ګیته سنګه
تاسو چه یو موټی دئ نو ستاسو دی عظمت
اتفاق هلالی تول راز د ژوندون دے اتحاد
بے د اتحاد نه هر قام کیږشی په ذلت

نه یوازې انګریز او نه یوازې سیکهه پښتانه خپل منګلښی ایرم کړی دی. او د دوئ په سرمال او ناموس ئې شنډې کړې دی. بلکه د اسلام هر یو دښمن هر ځائې مسلمان سره همدا سلوک کړې دے.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالی پښتانه

رنجیت سنګه بارکزی رونړو خپلو کښې واچول - او تر څه حده ئې کامیابی هم حاصله کړه - په ۱۸۲۷ء سنه کښې امام الجهاد سید احمد رحمة الله علیه بریلوی پښاور کښې سکانو سره غزاله راغلو - افسوس چه د وهابیت په نوم ځنې ناپوهه مسلمانان د هغه مخالف شو -

د سوات غوث الزمان عبدالغفور صاحب چه د پاکستان او افغانستان د روحانی اولیاؤ پیر دے - په دے غزاګانو کښې د پیر ټکیانو خلاف په امبیله او سورکاوی علاقه بُنیر کښې د زړه ارمان اوویست -

د غلور کاله پوره پسے غزاګانو نه پس حضرت سید احمد حضرت شاه اسمٰعیل صاحب د خپلو پیرو مُرید انو سره په ۱۸۳۱ء سنه د مئی میاشت د بالاکوټ کلی څوا کښې د دریای کُنړ ضلع هزاره (پاکستان) په غاړه ګډ غیور اسلام مجاهد اعظم مجدد روحت حامی شریعت امیرالمؤمنین د شهادت تاج په سر کړه - هغه د پښتنو متل پوره ځل بیا رښتیا شو چه "کښې شی نو په او کښې شی" پښتنو په کورنو جنګونو کښې ځان د هر سپی په نظر کښې سپک کړو - رنجیت سنګه د پښتنو په کورجنګی کښې نور زیاتے اوکړو - سردار دوست محمد خان رونړه چه پیښور کښې حاکمان وو - هغوئے د خپل رور سره راجول



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

کابل او پېښور مورچه شو. او چه هري سنګهه په پېښور باندې قبضه اوکړه - نو په مسلمانانو باندې داسې ظلمونه اوکړل چه چنګيز او هلاکو ورته حيران شو. چه دلته ئې په پښتنو باندې زړه تنش کړو. نو بيائې دکابل د نيوو اراده اوکړه. ځکه چه د پښتنو کور خو د بې اتفاقئ په وجه کنډ کېږ وو. نو په قول د حميد کشميري مرحوم. هري سنګهه د افغانستان غين ثمند سردار دوست محمد خان ته داسې کاغذ اوليکه

د زړه په عوږو واوره دکابل امير
زه يم هري سنګهه جهان سوزړم شمشير
هغه يم هيبت ئې زړم تبنتي ديوان
دي پټ کوه قاف کښ زما نه پيريان
ځما د نېزې دې ګنډارداسې مترېخ
برمه به په دې کړم سينه د مريخ
ځما په نظر کښ هيڅ ځيز کابلي
څه وي رستمي؟ او څه وي زابلي
درځم، په کابل چه جوړه کړمه غوبل
ځوانان پښتانه به ړم پښتو به ښي دل
ورځم په عوررنګ دې نه پس بيا په روس
چه هير ورنه شي سکندر فيلقوس



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په لاړکښې دهم کوره بلخ، بخارا
ورانوم ترکستان، او خیوه ورسرا
دَ دې نه په ورانده دَرحم زه په چین
خطا او خطن دَ خاقان سرزمین
په پښو کښې پامال به کړم زه دا ایران
چه هیر ورنه شي دَ رستم دلیران
دَ هر څه نه مخکښې په تا دې یرغل
قلبه کړ خوم په وطن دَ کابل
رو ميږم په تا با ندې هسک او ختو
نرم زه نیت دَ کابل دَ درتلو
پېچي سر او بڼې به ستا کړم قلم
هم نه دَ رحم امید لري کم
قسم خورم په تا تنګ په کو بند هري
ویرانه کړم زه هر څیز سرسري
درځم استالف او کابل کړمه دل
نه پاتې قندهار شي نه غزني کابل
کړم جوړ دَ توپونو یو داسې باران
چه زمکه دَ کابل اتم شي آسمان
نه پاتې کابل شي نه غزني نه غور



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تیار پښتنو له په هر ځائے شی ګوډ
نه تا سره فوځ نه دولت نه قوت
دَ ستړګو په رپ کښې به تا کړم لټ پټ
دا نه په څه نیغږے او ستا څه طاقت
دَ شاه شطرنج دے بس ستا حیثیت
یو کله څه؟ دوه لکه به تیر کړم له تیغ
په مرګ دَ پښتون کښې نه کړمه دریغ
ستا رورجبار خان څه؟ څه څیز دے عظیم
کړا شی میدان له نو وی به دوه نیم
خپل ځان بنه تیار کړه او جوړ کړه لښکر
بیامه وایه دا سے زهٔ نه وم خبر

هری سنګه دا کاغذ چه دوست محمد خان نه اورسید نو ورته دَ غیرت په اور دَ غضب پټرول توئ شو۔ دده ټولیان پښتون دَ پښتو زلئ ګونو له دَ ننګ او ناموس دَ تو تینګرئ ورکړے۔ او په ډیر جوش او غضب سرهٔ هری سنګه ته دا سے جواب اولیکلو۔ سه

خبر شوم هری سنګه امرتسری
ستا خط نه سرګنده شوه ستا خودسری
پښتون میدانی دے یوئ نه دے په لاف



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

سرګند به کړی تا ته میدان دَ مصاف
پښتون کوږنی جنګ کښِ خپل ځان که وړک
پښتون ته په تاروېنم ستا عزت سپک
څو کړو دَ پښتون بانډِ ستا راجه لوئ
دَ ننګ نشه پریده ارخپل ځان که بوئ
راپورته چه شی غیرتی پښتانه
میدان نه به ستا سکان نه شی ستانه
پښتون هله سپک شی چه پریږدی غیرت
پښتون چه پښتو کړی ستا سر دِ لت پت
میدان کښ به جوړے یودم کړے کوکار
په شان دَ کیدړ به پټیږے په غار
نه اوپه کابل کښ به جوړ کړے غوبل
والله وینم زهٔ چه ستا راغے اجل
میږی ته چه شی په غضب رب اکبر
هغه پورته شی په هوا په وزر
هو اکښِ ئے اوخوری په یودم مارغان
هم دا حیثیت لری ستن ورځ سکان
دَ خپل حیثیت نه ته زیاته کړے لاف

---

له رنجیت سنګهه دَ شاه زمان پرځی تر پښه دَ جهلم نه رادیستی ؤدو دهغے په بدل کښ ئے ورله هس به دارئ ورکړه ؤ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## تګیالی پښتانه

ځوانان پښتانه نه کړی لاف او ګزاف
ګیدړ چه خپل ځان ته نسبت کړی د شیر
مګر حقیقت د خپل ځان ورنه هیر
وار اوکه حمًا زړئ درځئ اکبرخان
چه جوړ ستا په نوح باندِ کاندی طوفان
شاید په پنجاب کښې دے قات د لړګو
دی عزونه د پښتون هتل ړک په برګو
هری سنګه پاتے که نه شوے ژوندے
نو بیا کابل واخله راځه کړندے
ماړه ستا په غوښو ملګرم ټپوسان
نو مامه ګنړه ځوے د پایندہ خان
پښتون رم خیل تمام مسلمان رم لښکر
په زور د اسلام ګوندے نه ئے خبر؟
زه یم منزرے ستا مثال د ګیدړ
که خدائ که میدان کښې به شے راته پیړ
راځه چه بهرتانه کړم لیونتوب
د اوړ به لمبو دے اوده کړم په خوب
دا زغله په دوئ مه کوه نامردی
پښتون به بهرتانه کړی بے خودی!



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځمانه به خلاص نه شي اَمرت سري
په مرستنه که ستاري نانک اوهري

اوس وخت راغی چه دَ جهاد دَ پاره امیر جهاد جوړ شي او دَ هغه جهنډے لاندے مسلمانان دَ اسلام خدمت دَ پاره تیار شي۔ بے دَ هرات نه ټول افغانستان دَ دوست محمد خان په لاس کښې راغے۔ دَ پښتنو دکورنو جنګونو په وجه ملتان۔ لاهور۔ کشمیر۔ پیښور۔ شکارپور۔ دَ پښتنو دَ لاس نه وُتي وو۔ په پیښور باندے سکانو قبضه کړے وه۔

په ۱۸۳۴ء کښې دَ پښتنو سرداران او مذهبي عالمان راغونډ شو۔ په کوم شان چه احمد شاه بابا قوم منتخب کړے وو۔ هم داسے دَ امیرالمومنین په لقب دوست محمّد خان بادشاه شو۔ اول کار امیرالمومنین دوست محمّد خان دا اوکړو چه بے اعتباره ګورنران ئے معزول کړل او خپل اعتباري سړي ئے مقرر کړل۔ دَدے نه پس لَس زره سواره دَ سردار سلطان محمّد خان مشرئ کښې دَ پیښور فتح له مقرر کړل۔ بیا دَدے نوځ د ناکامئ په وجه ۱۸۳۷ کښې امیر دوست محمّد خان خپل ځوئ محمّد اکبر خان دَ سکانو سره جهاد له مقرر کړو۔ او افضل خان شاهزادهٔ هم ورسره کړو۔ نواب عبدالجبار خان دَ امیر صاحب رور



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او سردار شمس الدین خان د سردار نور محمد خان ځوئے د امیر صاحب ورارهٔ په دے جهاد کښې شریک وو.

غازی محمد اکبر خان د خپل فوځ سره د جلال آباده په ډکه راتیر شوی د خیبر نه راکوز د جمرود میدان ته په اول د مئ د میاشتې راورسیدهٔ. باقاعده سرکاری فوځ او بے قاعدے فوځ غازیان په زرګونو د اسلام بیرغ او د پښتنو نشانونه لاندے راغونډ وو. دښت غرونه او د جم میره د الله اکبر په چغو اورسیده.

اے خیبره! ته خو د تاریخ یو داستان
راشه لږ د جم میدان ته هم اوکړه پرسان
راشه او د جم د میدان اوکړه ننداره
اوګوره د دے هره ذره په ستاره
اے خیبره! ستا په دروازه کښې د جمرود
دلته کښې د وینو روان شویے لویے رود
دلته اکبر خان غازی په هغه نسل پښتون
او د ایمان ګرګه په غیرت کښې افلاطون
دلته هری سنګه جرنیل کړو غوښ لکه بادرنګ
دلته پښتنو غازیانو او ولیست د زړه زرنګ
دلته یوسفزی، خلیل، مهمند، او داؤدزی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

دلته خوګیاڼي، شنواري، او محمدزي
دلته شلمانو، او افریدو او کګیانړو
دلته خوازه خیلو، باجوړو او نواړو
دلته د پښتون په اصل غونډ واړه حلیان
دلته کښې را غونډ هتول نارینه مسلمانان
دلته کښې را جمعه د جنت هیرېدا ران
دلته کښې را جمعه د رسول پاک غلامان
دلته کښې را غونډ دو دماڅي واړه بسکان
دلته کښې را غونډ د رنجیت سنګه کمادران
دلته کښې را غونډ تکړه پلونډ امرت سري
دلته کښې را غونډ سکان او مست په خودسري
اے خیبره! تا ولیدو هغه منډ اره
دے پښتون چه توره د ایمان که راښکاره
اے خیبره! تا به وی لیدلے هغه جنګ
کوم کښې چه پښتون سکان کړه غوس لکه بادرنګ
اے خیبره! تا به اکبر خان لیدلے وی
اے خیبره! تا به اعظم خان لیدلے وی
اے خیبره! تا به شمس الدین لیدلے وی
تا به هري سنګه غونډ لعین لیدلے وی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

اے دَجم سنګره! وا خلم ستانه زهٔ بلا
تاکښې په سِکانو باندِ جوړه هلا
اے هلالی! زهٔ یم دَ جمرود هغه میدان
دلته کښې راغونې مسلمانان ادهم سِکان
دلته دَماښې دَ امرت سر او دَ ناښې
ټول تکړه سِکان رارسیدلی وو دلے
دلته دَ خیبر دَ لوری راغے اکبر خان
هغه ننګیلے ځوئے دَ امیر دوست محمد خان
دلته مورچه جوړه کړه غازیانو پښتنو
دلته دعوت اوشو د دوزخ دَ میلمنو
دلته کښې څلویښت زره راغلی وو سکان
څوک پیاده او څوک وو په آسونو راروان
دلته دَ سکانو دَ توپونو وو قطار
دلته دَ شرابو په نشه مست په خمار
اوګوره په هغه خوا ته فوځ دَ رنجیت سنګه
اوګوره دَ کبر غرور موج دَ رنجیت سنګه
اوګوره سکان اخته شراب ادهم په جنګ
اوګوره سکانو دَ زړه اوویستو زنګ
اوګوره سکان اخته په نوبنو دَ جنګو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

اوګوره شراب سکلی په چاتي او په مټکو
اوګوره د "واهګے لر ونتح" دے کوڅکار
اوګوره په چغو د سکانو دے بغار
اوګوره بل خواته دی راجمع مومنان
اوګوره اسلام ته قربانی قول غیرتیان
اوګوره د الله اکبر جوش او غیرت
اوګوره غازیانو کښې لوئ جوش د شهادت
اوګوره خما په سینه ګرزی پښتانه
اوګوره د خدائ دپاره پرزی پښتانه
اوګوره ځوانان را غلۀ په دین کړی غیرت
اوګوره پښتون مست دے په شوق د شهادت
اوګوره پښتون چرشو راغونډ په اتفاق
اوګوره سکهان به او دهی ن په تاراق
اوګوره صفونه په هرخوا جوړ شو د جنګ
اوګوره سکان او پښتانه شو په غورزنګ
اوګوره د حق او د باطل دی پر زول
اوګوره پښتون ایمان ښکاره کړو بیا خپل
اوګوره هرخواته د توپو نو دے ګړزاد
اوګوره د زمکے سینے او ویسنو غبار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکيالی پښتانه

اوګوره رااووت په ميدان کښې اکبرخان
اوګوره هيبت نه د پښتنو جهان لړزان
اوګوره اکبر شير ببر او که غورزنګ
اوګوره سيکان شو په هرخوا په وينو رنګ
تورې اوچتې دي را پريوزي په سرو
هرخوانه ټوټې دي په چغو په نعرو
هغه د سيکانو رسالے اوکړو غورزنګ
هغه پښتنو وربانده اوولېست د زړه رنګ
هغه امير چپې شو سيکان او پښتانه
هغه دي په عين شو کافران او پښتانه
هغه دے د تورو په آسمان جوړ شو برقان
هغه دے چه هرطرف ته جوړ شو لوشرقان
هغه دے رااووت هرې سنګه لکه د ديو
هغه دے ځوانانو سيکان کړل په زمکه ليو
هغه دے د تورو د نيزو شو خړپار
هغه دے د وينو په هرخوا شو دړهار
هغه دے خړوب په وينو شو ميدان د جنګ
هغه دے پښتون نن په زړه بړے نه خوړي ننګ
هغه دي په جوش او په خروش دي پښتانه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالی پښتانه

هغه دی چه دین بانندے مدهوش دی پښتانه
هغه دے حملے اوکړے افضل او جبار خان
هغه افضل خان دے مشر رورد اکبر خان
هغه دے ور خلاص شو په کفارو شمس الدین
هغه دے راپریوت په سرو وینو کښ لعین
هغه دے حمله اکبر خان اوکړه لکه شین
هغه دے صفونه د سکانو تیرو بیر
هغه دے ور خلاص په هرې سنګه شو اکبر خان
هغه دے ایمان اولیس نو تښتی بے ایمان
هغه دے اکبر او دوبشت هرې د زړه په سر
هغه دے سکان شو په هر ځای زیرو زبر
هغه دے راپریوت د خیل آس نه هرې سنګه
هغه دے اکبر خلاص کړو د نسه هرې سنګه
هغه دے د جم قلا ته او تبل سکان
هغه دے پښتون نارینه اوکړه میدان
اے پښتونه اوګوره تاریخ د خپل ملت
نه بریالے ئے هرځای چه تاوکړو غیرت
اے پښتونه ستا په جهان نشته دے ثانی
کاش که نه منلے د شیطان تا شیطانی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

ستا کور که وران نه وي په حسد او په نفاق
ستا شانې بل قوم نشته هرګز په دې آفاق

غازي محمد اکبرخان پېښور کښې سکانو له شکست ورکړو هري سنګهه قتل او سکان تار په تار شو. نو پيرنګي سره فکر پيدا شو. چه که دا پښتون هم داسې په يو مرکز را غونډ پاتې شي نو هغه ورځ لرې نه ده چه پښتانه بيا د هندوستان په سمه غرا وچت شي. او د بخارا نه تر بنګاله بيا د پښتنو حکومت شي. نو پيرنګيانو د خپل شيطانت توب نه کار اخستل شروع کړل.

انګلس اف انګليس د ابليس د تره ځوئ دے. دے انګليس د ابليس نه زيات د مسلمان کور وران کړے دے. په شيطانئ په رشرت او په سياسي شرارت. چه هرڅنګه ئې داؤ بوشوے دے مسلمان ئې په خپل منځ کښې ورانهم کړے دے. او په خپله کله د يو او کله د بل په مرسته شوے دے.

شاه شجاع انګريز او سک دواړو له يو ښه توړاکے په لاس ورغلے وو. پيرنګيان د شاه شجاع نه شاته ولاړ د پښتنو د کمزورئ کولو د پاره په هيڅ بې ايمانئ کښې ئې کمے پنا کړے نه ده. د هندوستان ګورنر جنرل ارل آف اکلېنډ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

الیګزنډر برنس په مشرئ کښې وفد د ۲۲ اګست ډیوے څخه تئ ډیکاوړنه پس کابل ته اولیږه - دے وفد ډ میجر لیچ د او لفټیننټ وډ په اشتراک په ۲۱ ستمبر ۱۸۳۷ء امیر صاحب سره اولید - امیر دوست محمد خان د "پورغورځم" په اصول ولاړ وو - او انګریز "نورغورځم" باندے اصرار کولو - د امیر دوست محمد خان مطالبه وه چه پېښور سکاوړنه اخستو کښې دے انګریز ځموږ سره مدد اوکړی - او برنس وے چه نه موږ به سکان په کابل حملے ته نه پرېږدو خو تا سو به پېښور سردار سلطان محمد خان ته پرېږدئ لارډ اکلینډ دے خبرے منلو ته تیار نه شو - د ۱۸۳۳ء نه تر ۱۸۳۸ء پیرنګیانو رنګارنګ چیلونه کار واخستل چه امیر دوست محمد خان ځموږ د لاس لاندې راګے وی - خو امیر دوست محمد خان د دوئ لاس ته رانغے - نو ضرورت پیښ شو - چه د افغانستان په تخت یو داسے کس کیني چه لکه جهانګیر بادشاه د نورجهان د حکم نه بل څه کولے نه شو - داسے سړے کو ړاګے ډیهم د انګریز د رضا نه بل څه اونکړی - نو په دے لارډ اکلینډ د کمپنی د خوا نه په اول اکتوبر ۱۸۳۸ء د امیر دوست محمد خان خلاف اعلان جنګ اوکړو - دے نه اول په ۲۶ جون ۱۸۳۸ء لاهور



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کبنې ډېرې نکیانو. رنجیت سنګه او شاه شجاع ترمینځه یوه

لوظنامه اوشوه. ددې لوظنامې خلاصه دا ده . چه شاه شجاع

رنجیت سنګه ته کشمیر ، اټک نه اخوا قلاچچه . هزاره . کهیل

اب . پېښور . خټک . اشنغر . کوهاټ . هنګو . خیبر .

بنوں . وزیرستان . دوړ . ټانک . کرک . کالاباغ . خوشحال

ګړه . ډیره اسمٰعیل خان . ډیره غازی خان . کوټ متن

عمرکوټ . سنګور . هرنه . وجل . جاجیپور . کچه . منکیر

ملتان . دا وطن د سکانو . او باقی د شاه شجاع . ګویا شاه

شجاع د خپل غرضیکه کپاره وطن د خپله لاسه سکانو ته حواله

کهو.

که د خوشحال خان خټک زمانه کښې پښتانه سرداران د

مغل په خوروا مست وو . نو د دوست محمد خان مقابلے د پاره

پیرنګیانو د خپلے ځنی نه ځینې پښتانه دا سے چپ او غلی کړل لکه

چه څوک د بو سپو ته هډوکی ور کڼ ارکړی .

او د لفټیننټ سرجان کین د سالارۍ لاندے اته ولیشت

زره درے سوه او پنځوس ګوره ګان او هندوستانی د مارچ

میاشت کښې د شکارپورنه روان شو . دے نوځ کښې میجر

جنرل سرلوئی میکناټن میجر جنرل ډنکن لوئی افسران وو .

---

له اډکوری تفصیل د پاره تاریخ افغانستان قاضی عطاء الله خان م ۲۲

جلد ۲



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مخکښې دَ روپو باران او دَ ډېغ نه ورستو شاه شجاع او ورپسې انګریزي فوځ ۔ سه

اے دنیا ته ورکه شي په زور وړنے خپل زور
او کړه زخه اے دعوه فرعون هم ستا په زور
ستا په محبت دَ حسَینؓ مینه خلقو پریښوده
ستا په زور دَ دے پښتنو وران دېمنه کور
ستا دَ شرنګ په مخکښې دَ سړي زړه ټپلیږي نه شي
ستا دے دَ آسمان زړګے په مخکښې هرخوا شور
اے سروا شرفي تاسو تا مونه تل خښتانې دي
تاسو ملک آباد ! او وطن وران قام کړئ نسکور

پیرنګیانو دَ محمد طاهر په ذریعه د کندل خان وزیر ملا نسو خیل خان ته راواړه دُ ۔ او په ۲۰ اپریل حاجي خان کاکړ کندل خان نه تښتیدلے پیرنګیانو له راغے ۔ او ملا نسو په چلاکۍ بے ایمانۍ کندل خان ایران ته او تښتو ۔ د بابک شاه کښې پناه واخسته ۔ حاجي دوست محمد اسحاق زی ۔ حبیب الله سرکانړی ۔ فیض طلب نورزی ۔ رمضان غلزی ۔ اختر علي زی ۔ سرفراز اسحاق زی ۔ انګریزی لښکر له راغله ۔ او په ۲۵ ۔ اپریل سنه ۱۸۳۹ء انګریزان روستو ۔ شاه شجاع وړاندے تند هار کښې داخل شو ۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

دلته شاه شجاع په یوه ډبه تخت نشین کړے شو۔ سلامی ورشوه۔ دلته لارډ کین د فوځ کمانډر انچیف او میکناټن انګریزی سفیر او منلے شو۔

په ۴ جولائی انګریزان قلات غلزی ته ورسیدل۔ او د غداری په وجه د امیر دوست محمد خان ځوئ حیدرخان ګرفتار شو۔

په ۲۳ جولائی د امیر دوست محمد خان وراره رشید نیږنګیانو ته د غزنی پټ مورچے اوښودے۔ میجر ماسن او ډ او کپتان پیټ کابلی دروازه د الوزوله۔ غزنی فتح۔ افضل خان زار او غلام حیدرخان خیلخانے سره ګرفتار شو۔ نواب جبار خان د امیر دوست محمد خان رور غزنی ته راغے۔ د صلحے او د غلام حیدرخان د خلاصولو کوشش ئے اوکړو خو انګلیس برادر ابلیس یوه هم اونه منله۔

دننه هلته پس غزنی هم د پیرنګی کوتوته لاړے۔ کوم کار چه زردار کوی۔ هغه نه مورکولے شی او نه پلار ــ

زر کیږی ۰ د غږ دپاسه غریږدم هوار شي
او د ستړګو رپ کښی لوئ دښمن هم نابعدار شي
هر ناممکن کار نه چه چه د سرو زرو زلق اورسی
هغه کارشی ختم او آسان هر مشکل کار شي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پېرنګي په پښتنو باندې د توپو نو اُور او د اشرفو باران
راښکته کړو۔ د توپ د ګولې نه د اشرفو کڅوړه ډېر سخت دې
چه جاګیر انعام رشوت کوم خوا ته کړي نو غزاو میدان
یو برابر کړي۔ فرعون شداد او نمرود هم د دې رشوت
جاګیر انعام په زور د خدائي دعوې اوکړه۔ حضرت امام
حسین رض د کربلا میره کښې د خپل ناسکه ماما شمر او
ډېرنو دې عزیز عمر بن سعد "د رے" صوبې د جاګیر په
طمع د لوګو تندا ونه شهید کړو۔

چه زر خبرې کوی نو حق چپ کړې شي۔ د رشوت ایمانونه
دغره وی۔ پښتو او پښتو نولي نښتوی۔ غیرت او ننګ نه
سرې پاکه وی۔ پښتانه د خپل عرض نه ګنتي او ضمیرفروشو لو
په وجه د باد بېړې نه په توړل کښې سپک شوی دی۔ چه د روپو
سیلئ به د هرې ډېرې نه راله۔ نو دوئ به ئې په مخه کړل۔ امیر
دوست محمد خان د ښکو بند ونه جوړول خو د روپو سیلاب
نه کله تښتیکیدل۔ که هر څو دوست محمد خان بې ننګه اولس
نه تائ ننګ وطني عزت۔ ملي شرافت د اسلام عظمت
دیني غیرت د غزا جوش د مجاهد جذبه۔ او د ژوند د پاره
بلنه ورکړه۔ که هر څو ئې د خدائ د رسول د پښتو او پښتونولئ
دوئ ورنه ډیر اند ے کړو سه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

"د بې ننګو نه د ننګ خبرې څه وې"
قام وطن دين خرڅوي تل بې غيرت

په ټوډ ميدان د سيالئ سنګر نه بې سياله او بزدل خلق اوکښېدل - چه دوست محمد خان دا حال اوليد - نو د دوه زره سرو سره باميان ته لاړو - په ۳۰ جولائ انګريزي فوځ کابل ته روان شو - او په ۲۱ اګست د دوست محمد خان ګرفتارئ له کرنيل اوټرم او ميجر جيمس باميان ته اورسيدل نو دوست محمد خان د حاجي خان کاکړ په خبرولو وميځه وتے وو - په اوم اګست د پيرنګيانو د توپونو د سورې لاندے شاه شجاع ميکناټن سر الګزينډر برنس او فوځ اورسيد ديرش کاله جلا وطنئ نه پس د خپل قام د پاسه د انګريز په زور شاه شجاع بادشاه شو - الګزينډر د کابل ګورنر او ميکناټن سرپرست اعلى شو -

امير دوست محمد خان د قندهار حاکم خپل رور کندل خان خپل وراره غلام حيدر خان د غزنى او جلال آباد د پاره خپل ځوئ غازي محمد اکبر خان مقرر کړی وو -

د جم ناتح د هری سنګه قاتل وزير محمد اکبر خان انګريز او سکهو مقابلې له د مهمند و او افريدو فوځونه تيار کړل - د تاترے او آب خانے ساتنے د پاره د لعل پورے سعادت خان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

او خالو خان مقرر کړل . د سعادت خان ميرنی ورور توره باز خان
او صادق خان او د پنج پائی نواب خان د انګريز په اشرفو
خپل عزت پښتو او ايمان خرڅ کړل . هم داسے د ټهکال ننګيالي
بهرام خان ارباب ځوئ غلام خان . امير خان . ګوجر خان
او حبيب خان خپل عزت او شرف په انګريز خرڅ کړو . او
مير عالم خان د باجوړ عنايت الله د سوات . عزت د ديراو
فريد احمد د انګريز پس خوردو ختلو نه کينا ستل سه

اے هلالی مه کوه مانه د بے ننګ خبرے
مانه خو وايه د ننګيال پښتون د ننګ خبرے
پريږده هغه چه ځان د پاره تام وطن خرڅوی
مانه بيا بيا کړه د پښتون د توره شرنګ خبرے
د بزدلو نو نامردانو هيڅ بيان مه کوه
کوه په جوش د ز پښتون تل د غورزنګ خبرے
نامرد په هره کړئ مري د مرګ د يرے نه تل
ځوانمردان کړی د تورو برېښ کښې هر د بے ننګ خبرے
د قوم فروش ملت فروش هيڅ مه کوره کوه
د تام پرور د ز پښتون کوه د جنګ خبرے
چه تام د هر چا نه اوچت په کل اقوام کښې کړی
کوه د هغه توريالی تل د غورزنګ خبرے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

چه د وطن خاوره په سرو زرو ورنکړی چرې
کوه د هغه ننګیالی تل د آهنګ خبرې
چه تام وطن په اشرفو بانېږ د غیرخوی
مه کوه ماته هلالی د دې بدرنګ خبرې

خیبر د شینو مېښو وښوکن دے۔ د دے خیبر په غرو رغو کښې د پښتنې مورداسے ځامن اوسیدلی دی او اوسیږی چه پښتو پښتونولی ننګ اسلام او دین د دے په شا ځلمو تل د فخر خوئی کړه ساتلے ده۔

د خیبر په خوله کښې د اپریدو کوکی خیل قبیله اوسیږی د دوی ملک عبدالرحمٰن خان وو۔ د ملک دین خیل قبیلے ملک خانبهادر وو۔ د سپاه قبیلے ملک سلیم خان وو۔ د زخه خیل قبیلے ملکان الله داد خان او فیض الله خان وو۔ او د شنوارو ملکان سنګر خان۔ غالب خان او مهلک خان وو۔ پیرنګیانو دسے اوکړے چه د دوی ایمانونه په اشرفو واخلی۔ ولے دا غیرتمند ایماندار په دے پوهیدل چه د انګریز د اشرفو شانه غلامی ده۔ ذلت دے۔ رسوائی ده۔ شرمندګی ده د دنیا شرم او د قیامت دوزخ دے۔ د پیرنګیانو ټول چل فریب او کوششونه او بولا دعوکړل او دا ښنه امزری په کوړیئ کښې ګیر نه شو۔ سه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالي پښتانه

داده ځ پښتون او مسلمان ځ ایمان شان

نه خرڅیږي ایمان که ورکړي څوک داره جهان

دے چه یو ځل راشي په غیرت او په پښتو

نه آوړي که مے بوږي بوږي شي تر پښتو

تیغ په تیغ راځي ځ دښمن مخ له په جنګ

نه پریږي په وخت ځ غیرت زړه ځ پاسه زنګ

ننګ غیرت پښتو دي ځ پښتون اصلي جوهر

نر پښتون همیش ځ پاره وي په دښمن بر

لکه چه شاه شجاع سره لارډ اکلینډ میکناټن او الګزنډر

مقرر کړے وو. هم داسے ځ شاه شجاع ځوي تیمور سره سر

کلاډیډ ویډ کماندار مقرر کړے وو. ځ رواینډونه وړو چے ځ

لنډیانه پیرنګے ډاکټر لارډ ځ یوسفزو. اپریدو. شنوارو

خټکو او باجوړو ځ ایمان آخستو ځ پاره ځ مهرانو انبارونو

سره راغلے وو. دے پولیټکل ایجنټ اشرفۍ ځ کودرو په

دود او شندلے. سر کلاډیډ ویډ. لفټیننټ مکسن کوهاټ

ته اولیږه. دوي په ۲۳. پېښاور ته راغله او ۲۹. مارچ

بانډے یو لوي دربار اوکړو. ځ سیکانو جرنیل ابوطبیله

او جرنیل شام سنګه اټاري ځ شاهزاده تیمور سرکاري طور

سره سلام اوکړو.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غازی اکبر خان په ومبنئ مقابله د سِکهه انګریز فوځ سره د پېښاور نه شمال طرف ته پنجلس میله لرے په میچنئ کښې په ۱۸، اپریل اوکړه. رنجیت سنګهه خیل ځوئ نهال سنګهه د پیرنګیانو امداد له د فوځ سره رالیږلے وو. په ۸، مئ انګریزی کیمپ تهکال ته بدل شو. سرکلا یَمُرو دیهړ اول په شبقدر بیا په جَم تلا او علی مسجد حملے اوکړے. د اکبر خان د جنډے لانده سعادت خان د لعلپورے. محمد عالم خان اورکزی. د تهکال اربابان. او عزیز خان او نواز خان د فوځ سرداران وو. د توپ خانے افسر شاه محمد هندوستانی وو. د جولائی نیولے میاشت د پښتنو او سکانو پیرنګیانو مقابله اوشوه. په دې کام غازیانو دښمن غابښونه مات کړل. وے عام اولس بے تنظیم او بے ترتیب خلق کله د یو منظم فوځ مقابله ډیره موده کولے شی. ؎

دوه سوه جنګی ځوانان د سل زره نه غوره دی
ځوک چه منظم دی په تومونو بانده بره دی

په ۲۷، جولائی سِکهه انګریز فوځ علی مسجد لانده که. کابل کښې حالات دومره نازک شوی وُو. چه امیر صاحب شاهزاده اکبر خان کابل ته اوبله. انګریز او سِکهه فوځ د علی مسجد نه ډکے ته ادرسید. په ۱۳، اګست تیمور او



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کلاګانو ويجاړ د هزاره ناوه - چارده‌ی. علي بغان ته تیر په ۷ د
اګست جلال آباد ته ورسیدل - په ۲۱ د اګست چار باغ او په
دریم سپټمبر کابل ته ورسیدل.

امیر دوست محمد خان چه بخارا ته ورسیدل - نو د
بخارا بادشاه نصرالله خان د میلمستیا په ځای د هغه نظربند
کړو- او څه موده پس د هغه د مرګ بندوبست اوکړو. خو امیر
صاحب خپل ځان خبر د ارسا ته. آخر یو ځل شپه په شپه
د بخارا نه سبزواری ته لاړو- او غازي اکبر خان چه د پلار سره
تللې وو. هغه ئې ورسره ولي ته اوليږه- امیر صاحب د سبزواری
نه شهرسبز او بیا خلم ته لاړو د امیر صاحب راتګ نه چه خلق
خبر شو- نو بیا د ده نه تاووتاوو شو.

انګریز بیا د هغوی نو خولې پرانستې - اشرفو چه خپل
شر ګکار او که- نو نفس پرور او بې ایمان خلق بیوتی کړل.
ډاکټر لارډ - میجر میکریګر- کیپټان کنولي - الیګزنډر
برنس او برادفوټ چار چاپیره علاقو کښ د شرو سپینو
باران اوکړو.

د توپونو د درزهار په ځائ د اشرفو شرنګار شو.
د ایمان په ځائ د بې ایماني بازار تود شو- د دیانت په
ځائ خیانت مقبول عام شو- د غیرت په ځائ بې غیرتي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُولس خوښه کړه - د خودداریٔ په ځائے خوشامندو ځائے ونیو - داپښتون چه نیکګیٔ نه ملا اوتړی نوفرښتے ئے په قدم پریوزی ملا یک ورته سلامونه کړی - په آسمان کښ ئے د عزت او دبدبے نوبت ګګیږی - او چه شیطانئے بے ایمانیٔ ته ورمخکے شی نو واړهٔ شیطان کوټی خو پریدیٔ ابلیس هم ورته غوږ ونه اونیسی -

په والله داټول کائنات - د دزمکے او آسمان د مسلمان د نادریښه او غیرتی پښتون د تکیالی او سیال پښتون د سر د قیمت حیثیت نه لری - سه

اے پښتونه ! ته نه شوے خبر د ځان په تول
ستا د سر قیمت نه دے والله دا جهان ټول
نه د خدائے نائب ئے ستا میراث دغه دنیا
نه رونق د زمکے نه آمین نه رهنما
نه د بل خدمت د پاره کلے ئے پیدا !!
نه اصل واکدار ئے نه اصیل او نه پاک
نه چه د ایمان او د غیرت نه دا خلے کار
نه چه خودداری پښتو د ځان ګڼے شعار
نه چه ننګ ناموس د تام وطن پابند شے لږ
نه چه خپلے دینے په اسلام پابند کړے تږی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

نه چه دَ وطن په آزادئ قربان کړے سر
نه چه دَ وطن سنګرېز ورنګړے په ګوهر
نه چه په خپل لاس لړے بیرغ دَ استقلال
نه چه لکه څرک دښمن په پښوکښې لړے حلال
ستا په شان بیا څوک دے په دنیاکښې لوئ اشراف
ستا په شان ثانی نشته غیرت کښې قاف تر قاف
ستا په پښوکښې وینم دَ تاجونو یَو انبار
ستا په مخکښې راغے په سلام هر شهریار
ستا صفت او مدحه ده په زمکه په آسمان
تا باندے تل وائی آفرین فرښتګان
هو چه تا با ټیټے دے په کومه ورځ غیرت
هو چه تا په کومه ورځ آخستے دَ رشوت
هو چه تا دَ قام وطن نه اوګنړل زرښه
اے پښتونه! تا نه دے سپے غوره او خرښه
تا نه "تو تو" اورے هر خاوند دَ سیم و زر
ستا کور شو تالا او نه خپل کور کښې دے په در
ستا غیرت ناموس هر بے ناموس که تا په تا
ستا په آبرو شنډے او کړے هر ظالم عدا
نه او که انصاف چه چاکښې نه وی ننګ غیرت



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

څوک څه نه ګوري په نظر د شرافت؟
شان خو د پښتون دے په پښتو پښتونولئ
ده د ننګیالی پښتون هر ځائے کښ ده خوئ

په افغانستان د قبضے نه پس انګلستان کښ جشن اوشو او لارډ اکلینډ له د ارل او سر جان کین ته د "سر کین آف غزنی" او میکناټن ته بیرونټ او سر خطابونه ورکړے شو. وے ویر زر د بے دین کافرانو پیر ننګیانو خلاف ځائے په ځائے شورش پورته شو. اوزبک د امیر دوست محمد خان جنبے ته شے را غونډ شو. د امیر عبد الرحمن خان پلار یعنی د امیر دوست محمد خان مشر ځوئ افضل خان او غازی اکبر خان خواوشا علاقو کښ د غزا په تبلیغ زور راوستے وو. د ګورکه فوځ یوه دسته چه د سارجنټ ولکنسن کمان لاندے وه. افضل خان په ۳۰ اګست ۱۸۴۰ء په دغوئ حمله اوکړه او شکست ئے ورکړو. د کوهستان خانان بابا قاشقار خان او میر درویش خان د کوهدرے خان سیف الله خان په انګریزانو سختے حملے اوکړے. د پروان دره کښ دوست محمد خان او کرنل سالټر په ۲ نومبر ۱۸۴۰ء مخامخ شو. په دے جنګ کښ دوست محمد خان توره په لاس په دښمن حمله اوکړه. انګریز شکست اوخوړ. غازیانو لکه د زمرو په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

دښمن چپاؤ کوو۔ مسټر لارډ مشهور پولټیکل ایجنټ۔ لفټیننټ براډفټ او ایرجوانټ کرسپین قتل شو۔ او میجر بالسبني او میجر فریزر ژوبل شو۔ د دې جنګ نه پس فیرنګیان پوئ شو۔ چه د توپ په ګولئ اولس نه شو ورژلې دوئ د پاره د سرو زرو ګولې پکار دي۔ نو رشوت او بډو لمې زور ورکړو۔ او د مسلمانانو په جامه کښې پیرنګیان په غازیانو کښې خواره شو۔ په دې ورزو کښې د پښتنو اخلاق دومره کمزوری شوی وُو۔ چه د خپل تمام وطن عزت او ناموس په سرو سپینو خرڅول هم ورته بد نه ښکارېده۔ ځنې بې ایمانه خلقو دا تیاری اوکړو چه امیر دوست محمد خان لاس تړلې انګریزانو ته وسپاری۔ خو دوست محمد خان د شپې خپل قوم نه ښکنک وتښت شو۔ آخر دا چه دوست محمد خان په ۳ نومبر ۱۸۴۰ء ماښام خپل ځان میکناټن ته اوسپاره۔ پیرنګیانو اول کلکته او بیا لدهیانه کښې نظر بند کړو۔ امیر دوست محمد خان د مېنځ نه اووت۔ او س میدان انګریزانو ته وزګار شو۔

لارډ اکلینډ د هندوستان ګورنر جنرل د اکتوبر ۱۸۳۸ء په اول تاریخ اعلان کړې وو۔ چه "د پیرنګیانو غرض افغانستان کښې د شاه شجاع حکومت جوړول دي۔ چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## شاه شجاع با دشاه شي نو ځمونږ ښکر به واپس شي "

د پیرنګیانو هغول تاریخ د بې لوظئ دروغ دو که او شیطانئ نه ډک دے. دا سے پیرو لوظونو پابندے تو کلی دی. چه اوړله تللی دی نو د کورخاوندان شوی دی. د شطرنج په شان ګوډاګے شاه شجاع وو. په اصل کښ اختیار د انګلستان د برټش او سکنا ټن په لاس کښ وو.

د افغانستان جنتی میوو. مستے هوا. ېخو اوبو د پیرنګیانو انګلو کښ سرے ویښے تا ننے کړے. او مستئ په مخه کړل. د پښتنو عزت او ناموس نه ئے لاس وا چولو. کبر غرور د غوښتنو کرکه نفرت ورسره ظلم او عزت ناموس سره لوبے کولے.

ما جبونه مند او تنخوا ګانے د نوځ او میول کے کړے. امیر دوست محمد خان خو د وطن نه بے وطنه جلا وطنه شو. غازی محمد اکبر خان او افضل خان چا پیره وطن کښ ګرزیده او د پیرنګیانو خلاف پښتانه را پا سول. شاه شجاع هم د پیرنګیانو نه د ځان آزادولو د پاره پټ پټ کوشش کولو ځکه چه دا بادشاهی په اصل کښ غلامی وه. او دا شعر په اصلی شکل کښ خپله معنی ښکاره کړے وه. سه

حقاکه با عقوبت دوزخ برابر است
رفتن به پائے مردی همسایه در بهشت



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یوه ورځ عبدالله خان اچکزئ قرآن شریف په لاس امین الله خان غلجي له ورغے۔ او ورته ئے خواست اوکړو چه دَ راتلونکي انقلاب مشري قبوله کړه۔ بیا سیف الله خان یو قومي جرګه راغونډه کړه۔ په دګښې سکندر خان عبدالسلام خان۔ سید افضل خان۔ میر احمد خان محمد خان۔ محمد حسین خان۔ حاجي علي خان۔ حضرت خان کوتوال۔ میر جنید خان۔ محمد خان بیات۔ محمد عظیم ناظر علي خان۔ میر آفتاب۔ عبدالرحیم۔ میر محبوب۔ میر حاجي۔ میر سید خان۔ میر غلام قادر خان۔ آغا حسین میرداد خان۔ ولي میراخور۔ اکبر خان خوږکاه۔ عبدالرحمن او عثمان شریک شو۔ دوئ دا فیصله اوکړه چه دَ ټولو نه وړومبے برنس وژل پکار دي۔

برنس خبر شو چه دَ انقلاب بادراالوتونکے دے۔ بیه دوئیم نومبر ۱۸۴۱ء برنس عبدالله خان اچکزی پسے ئې نوکر اولیږلو۔ عبدالله خان په خپله توره هغه قتل کړو او بیا شپږ نیمے شلے کسانو سره ئے دَ برنس په کور حمله اوکړه۔

دَ دوئم نومبر صبا دَ لوڅه اوخوف انقلاب سحر ووه۔ دَ انقلاب طوفان راپورته شو۔ دا هغه طوفان چه انګریزانو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ پاره دَ کابل دَ جنت په شان ځائے یو کامل دوزخ شو۔ غازیان دَ الکزنډر برنس د کور ته چا پېره شو۔ برنس دَ مکناټن نه امداد او غوښتو۔ برنس چه دا تماشه اولیده نو خپل بُرج سورئے غازیانو ته اوئیلو۔ چه تاسو څه غواړئ زه هغه درکوم۔ برنس دا ګمان کولو چه پښتانه هم دَ پیسو خلق دی۔ روپئ ورکوه او کار پرے کوه۔ برنس بیا وسېټه دے سردارانو له اوئیلو۔ خو اوس او به دَ ورځه تېرے وے په دے وجه دَ برنس سیند تا صدله سکندر خان په توره واسے کُن اوروکړو چه دَ کاذے په دورو دَ هغه سر دَ تن نه لرے پرېوت۔ برنس دَ خپل کور دویم چت نه اُخوت۔ او دَ روپو همیانئ ئے راپرانستے۔ خو اوس څه کیدل۔ پرزے او بخنے۔ کپتان براډفټ په ګولئ اولګیدو۔ جګړه اونښته او په انګریزانو تالان جوړ شو۔ خضر خان کوتوال او حاجی هاشم دَ برنس دَ باغ دروازے ته اور اولګاؤ۔ دَ اور لمبے دَ هغه کمرے ته اورسیدے۔ برنس او دَ هغه ورور چارلس برنس پښتنو ته زاری منت را وا خستا۔ چه مونږ له دَ سر امان راکړئ۔ خو وخت تېر وو۔ بیا چارلس برنس باغ ته راواوست او دَ غازیانو دَ لاسه قتل شو۔

شاه شجاع په پلټن دکمبل دَ مشرئ لاندے امداد



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

له وېبن له. غازيانو په دے هم يو داسے قيامتي چپاوُ اوکړو چه يو کس هم په دوئ کښې ژوندے پاتے نه شو چه دَ اورلېږې دَ برنس کړے نه اورسيده. نو برنس دا او وژلو. ډيره عاجزي او منت ئې اوکړو. عبدالله خان اچکزي او خضر خان په دهٔ باندے حمله اوکړه. او په يو ساعت کښې ئې ټوټې ټوټې کړو. بيا غازيانو د کپتان بانس کور او خزانه لوټ کړل.

جرنيل ايلفنسټون. برګيډير شيلټن ته د حملے حکم اوکړو. دَ شاه شجاع او شيلټن فوځونو په کابل باندے ګوله باري وروله شروع کړل. ميجر ايورټ او کپتان هاپکنز. دَ لفټيننټ کرنل سيکرک او اينډرسن رسالو دَ لفټيننټ دابر. لفټيننټ واکر. لفټيننټ دار برټن. کپتان والش. کپتان پيټن. اسسټنټ کوارټر ماسټر جنرل کپتان هربورډ. برګيډير اينګلو يټمل. کپتان سالسن ميکنډي دَ فوځونو او توپخانو سره مقابلے ته اورسيدل. په دريم نومبر پېرنګيانو په ښار باندے ګوله باري اوکړه. جرنيل سيل دَ ګنډمک نه دَ فوځ سره رادرسيده. په دريم نومبر لفټيننټ رچرډ مال او لفټيننټ وحميلر د کوهستاني غازيانو دَ لاسه قتل شو.

په څلورم نومبر غازيانو شاه باغ کښې مورچه جوړه کړه او دَ انګريزي امداد لارے بندے کړے. اينسائن کارن



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قتل کړو. جرنل ایلفنسټن دوه کمپنۍ امداد له او لیږلے. خو په لاره کښې تم تمام شوے. دوۍ نه رابنسن او کپتان سوین قتل شو. لفټیننټ هلاهن او لوئنز او فورټن زخمیان شو. دکمسریټ قول راشن دَ محمد شریف قلعه کښې وو. په پنځم نومبر غازیانو دا قلعه لوټ کړه. سخته جګړه اوشوه. په شپږم نومبر لفټیننټ ایری او لفټیننټ واربرټن دوه کمپنۍ ګوله باری اوکړه. اینسائن وارن په دے موقعه قتل شو. دَ جنګ زور په قلعه محمد شریف باندے وو. چا ونه کړه نه چا پیره غازیان پریوتل. دَ انګریزی فوځ حالت ورځ په ورځ خرابیده. په دے وجه په "دکاب باشی" قلعه باندے عزمه پیاده رساله او توپ خانے حمله اوکړه. دَ کافرانو او غازیانو سخت جنګ او نښت. انګریزی فوځ قلعه ته نزدے شو. چه یوناسایه غازیانو چپاوی حمله وربانده اوکړه. ډیر سپایان دلته دلتۍ پریوتل. کپتان ویسټ مکاټ او کپتان میکډی قتل شو.

دَ انګریز بد سلوکۍ دقوم بے عزتۍ دَ وطن ذلت پښتنو له غیرت راوست. پښتانه اوس سر په تلی ایښی ځوانمردۍ په کمر بند هلا ترلی دغیرت ننګ سیالۍ پښتو او پښتونولۍ میدان ته اووتل. مرګ یا آزادی. تخت یا تخته. استقلال



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګيالي پښتانه

يا بيا بادي دَ هر پښتون په خوله سِبں دسم دا يو شو خبرے وے۔ دَ وطن دَ عزت دَ پاره۔ دَ قام دَ ناموس دَ پاره۔ دَ استقلال دَ حصول دَ پاره او دَ خپلواکئ دَ قيام دَ پاره۔ دَ دښمن کپروسره منځ بال کولو په عرض دَ خپل پاک وطن نه ناپاک او ګنده زړه دښمنان ويستو دَ پاره ننګيالي او غيرتي پښتانه دَ يرو ميدان ته اودتل۔ غريب پښتون نه اوں نابوره وو۔ او نه به بيا وی که " ورانه ده نو دَ خانه ده " او چه دَ وطن مشران ميدان ته اووتل نو اوس حال کوره ے

پښتون دَ ننګ غيرت په جوش کښې راغے په جلال
پښتون بيا دَ پښتو دنيا ته او ښود خپل کمال
پښتون بيا دَ وطن په عزت ځان کړلو قربان
پښتون بيا په سيالانو کښې ثابت کړلو ځان سيال
پښتون بيا دَ وطن دَ آزادئ بيرغ کړو جګ
پښتون بيا پورته کړو ښکلے علَم دَ استقلال
پښتون بيا دَ انګريز په ګلکښې شو سينه سپر
پښتون بيا دَ غيرت او ننګ اوکړو استقبال
پښتون بيا سر نه او د مکل دَ پاره دَ وطن
پښتون بيا په ميدان کښې دښمنان کړه خپل ځلال
پښتون بيا دَ انګريز کړيوان ته واچولو لاس



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتون بيا په ميدان کښې کړو ښکاره د ننګ مثال
پښتون بيا ځان دَ پاره خوښ کړه سرګ دَ شهادت
پښتون بيا دښمن خپل په مخه کړو لکه شغال
پښتون بيا دَ وطن په آزادئ ورکوی سر
پښتون بيا دَ سيالئ ميدان کښې په مرګ خوشحال
پښتون بيا دَ غيرت په تروه کيښوده منګل
پښتون بيا را سرګند کړلو جلال او هم جمال
پښتون اے هلالي چه دَ پښتونه وا خلی کار
والله دَ دے پښتون تاريخ له نشته دے زوال

غازيان په بيرشمار دَ قلعه کړکی نه راغونډ دے کړل
ميکرل چه دے کړکئ نه ورننوت نو غازيانو په تندئ
سره تطرے قطرے کړو۔

په دياړسم نومبر غازيانو يوه نويه حمله اوکړه ۔ او بيشماره
دښمنان ئے قتل کړل۔

د اکتوبر مياشت مطابق د ۲۲ شعبان غازی محمد
اکبرخان دَ باميان نه کابل ته راورسيد ۔او په هم دے
تاريخ دبيمارو په قلعه قبضه کولو دَ پاره انګريزانو فيصله
اوکړه ۔ ميجر ټټوين او ميجر کارش دَ مقابلے دَ پاره اووتل
پښتنو ناسا په وربانديے حمله اوکړه ۔ ډير انګريزی فوځ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قتل او میجر شلټون ژوبل شو۔ میجر کارش دا حال اولید۔ چه لس زره پښتانه دُ غزه دُ سرنه په دا سے ځائے ښکاره شو چه په آسانئ سره دُ غازیانو ګولئ دُ دښمن سینے بغرئ کولے شی نو دُ ځان نه ئے خندق اوکنستو۔ پښتنو وربانده حمله اوکړه۔ دُ انګریزانو پښے اوخوځیدے۔ پښتنو په انګریزی توپونو قبضه اوکړه۔ چه انګریزان دُ هر اړخ نه راګیر شو۔ نو میکناټن پښتنو له جرګه رااولیږله چه روغه اوکړو نو ښه به وی۔ دا وخت دُ پیرنګیانو خلاف دُ محاذ ټول انتظام غازی محمد اکبر خان په خپل لاس کښ آخستے وو۔ غازی اکبر خان جواب ورکړو۔ چه حمونږ صرف یو شرط دے۔ او ستاسو یو درخواست قبلولے شو۔ چه حمونږ په وطن کښ به یو پیرنګے هم باقی نه وی۔ دا شرط پیرنګیانو قبول نکړو۔ بیا دیر جنګونه اوشو۔ دُ روژے په شپږم غازیانو په قلعه محمد شریف خان قبضه اوکړه۔ او س انګریزان زیات تنګ شو۔ او دُ ناکامئ دُ پښتنو شرطونه اومنل۔ شلټان او ویکټل په لوظنامه لاس لیک اوکړو۔ لوظنامه دا سے وه۔

(۱) انګریز به قندهار۔ غزنی۔ کابل او جلال آباد وزګار کړی۔ او امیر دوست محمد خان به افغانستان ته راوستے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شی۔

(۳) پښتنو له پکار دی چه شاه شجاع له یو لکھ روپۍ د کال وظیفه مقرر کړی۔ او دَ هغه خو بنه ده چه افغانستان کښې اوسیږی اوکه بهر۔

(۴) انګریزی فوځ به دَ پښتنو دَ رضا مندۍ نه بغیر افغانستان ته نه راځی۔ وغیره۔ (دا وظنامه په اټلس نکتو مشتمله ده)

غازی اکبر خان حکم اوکړو چه پیرنګیان دے په تندۍ ټولے تلاګانے وژګارے کړی۔ په ۱۸۔ رمضان دا درے شروع شوے۔ غزنی نه دَ انګریزی فوځ راوتل مشکل شو۔ په شلم رمضان غازی اکبر خان غوښتنه اوکړه۔ چه انګریزان ډیرنیم اسباب موږ ته اوسپاری۔ انګریزانو دَ نا کا مه دا اومنل اوکپتان کیل اوکپتان ابرس دَ یرغمال په طور اکبر خان ته اوسپارل۔ دَدے هرڅه سره مکناټن دا کوشش کولو چه په څه چل انګریزان کابل کښې پاتے شی۔ د اکبر خان او ملګرو د ریاندے شک پیدا شو۔ نو غازی اکبر خان د ملګرو په صلاح په مکناټن باندے آز میښت دَ پاره خپل قیدی کپتان سکنر ته اووے چه زهٔ دَ مکناټن سره ځان له وعده کول غواړم چه مادَ شاه شجاع وزیر کړی۔ نو دَ آزادۍ دا تحریک هرڅه به ختم کړم۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ دسمبر په اووېشتم تاریخ مابنام محمد صدیق خان دَ محمد اکبرخان دَ تره ځوئ کپتان سکنر . سرور خان مکناټن له راغلل دا ټول شرطونه میکناټن اومنل. محمد صدیق خان دا خبره پې زیاته کړه چې پېرنگیان به سمدلاسه دېرش لکهه روپۍ نغدې او څلور لکهه روپئ دَ کال تر ژونده محمد اکبرخان له وظیفه ورکوي. میکناټن دا ټول شرطونه په پټو سترگو اومنل . او اکبرخان سره ملاقات او فیصلې ته تیار شو .

په ۲۳ . دسمبر سحر وختي میکناټن دَ کپتان ټریور کپتان لارنس او کپتان میکنزي سره دَ چوترې نه رابهر شو. غازي محمد اکبرخان دَ خانانو سره راغې . قالین خور شو پېرنگیان او پښتانه جرگې ته کېناستل. محمد اکبرخان دَ میکناټن نه تپوس اوکړو" ته بېگانۍ خبره باندې تهینک یې ؟" میکناټن اوویل" هو ورله پوهیم" اکبرخان چغې کړه " بگیر بگیر" او نیسئ او نیسئ . محمد اکبرخان دَ کس لاسه او سلطان جان دَ ښي لاس نه مکناټن اونیو. په قول دَ جمال الدین افغاني اول دَ مکناټن لاس غوس کړې شو. بیائې په زمکه را ښکلو را ښکلو ښار ته بوتلو. دغه چغې وهلې . پناه ئې غوښتنه. فریاد ئې کولو. بیائې دَ دغه نه سر غوس کړو. دکابل کوڅو کښې ښه اوگرزولو. او تر دار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

انګریزے په لاره کښې په سولئ کړو. او لفټیننټ ابوټ یا مکنزی دَ محی الدین خان پښتون په لاس کښې ګرفتار شو او هغه غازی اکبرخان ته پیش کړو. غازی اکبرخان هغه ته په غضب اوکتل. ورته ئے وے " اے پیرنګیه! هم تاسو څومونږ دَ ملک طمع کوله. تاسو ته دَ خپل عمل سزا درکړے شوه - و دے زهٔ تا معاف کوم. بیائے ملا مؤمن ته اوسپارلو. دَ مکناټن سره کپتان ټریور قتل شو.

چه سرولیم مکناټن قتل شو. نو دَ هغه په ځائے میجر پوټنګر مقرر شو. هغه بیا دَ روغے جوړے خبرے شروع کړے. غازی اکبرخان هغه ته دا شرطونه پیش کړل. چه فوځ دے ټولے توپے او سامان جنګ مونږ ته اوسپاری.

دریم دا چه خپله خزانه درئ هم مونږ ته اوسپاری

دریم دا چه لوئے لوئے انګریزان دے دَ برمتے په طور مونږ ته ځان او سپاری دَ بال بچ سره.

څلورم دا چه دیرش لکه روپئ مونږ له راکړی.

ځکه وزیرمقتول سرولیم مکناټن مونږ سره لوظ کړے وو. میجر پوټنګر دَ دے شرطونو مخالفت اوکړو. یوه جرګه راغونډه شوه. دے جرګه کښې جرنل ایلفنسټون. برګیډیر



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شلټن - بوکیم یرا ینکو ینهیل - کرنل چیمبرز - کپتان بیلو اسسټنټ کوارټر ماسټر جرنل - کپتان ګرانټ اسسټنټ ایډ جوټینټ جرنل وغیره -

دے جرګے د نائب امیر غازی محمد اکبر خان شرطونه قبول کړل - د ښځو او بچو د بر مئے سوال پر یښودے شو - او صرف کپتان ډرمنډ - والش - وابرټن - ویب - کپتان ویری او کپتان کنولی نواب زمان خان د سردار پائینده خان کوئ نه د یرغمال په طور وسپارلے شو -

په ۲۹ - دسمبر د شاه شجاع توپے او خزانه نائب امیر غازی اکبر خان ته وسپارلے شو - په دیرشم دسمبر باقی زخمیان لکه لفټیننټ هایئن - سکنر - او مکنزی او لفټیننټ ایونز د ډاکټر کمبل او ډاکټر بروبک د علاج د پاره د کابل ښار ته راوستے شو - د پرانستے هوا په غرض دا فیصله وشوه چه د نواب جبار خان د سوری لاندے به په شپږم جنوری انګریزی فوځ جلال آباد ته روانیږی -

د کابل نه تر جلال آباد لاره کښ درے سختے درے دی خورد کابل - تزین - پروان او جګدلک - پیرنګیان د داورو په باران کښ د کابل نه بالا بج سره روان شو - د یخنئ - د داورو - د لوږ وتندو د تکلیفونو نه را په دے خوا د پښتنو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د لاسه د درو په هر پيچومي کښې انګريزي فوځ تباه شو- دا هرڅه د پيرنګيانو د چلې غلطئ په وجه سره اوشو- غازي اکبر خان انګريز افسرانو نه اووے - چه تاسو د نواب جبار خان د مشورے نه بغير داروان شوئ- او غير ذمه وار خلقو حپ چوړ کړئ- يوه شپه ئے په بټ خاک کښې اېسار کړل- خوراک اونور سامان ئے ورنه اويې لو- جرنيل سيل په جلال آباد کښې وو- غازي اکبر خان دوئ نه اوويل چه شپږ انګريزان ماله نوريرغمال راکړئ چه تاسو به د تزين نه مخکښې نه ځئ- پيرنګيانو چلې بهانے کړے- او جرنيل د غزني او تندهار انګريزي افسرانو د جنګ د پاره تياري کوله-

" په خوله پاسته او په زړه کاږه "

دا انګريز اُصول وو- او دے- په اتم جنوري بيا ړزے اوشوے کپتان سکنډ غازي اکبر خان له ميجر پونګر- کپتان لارنس او ميکنزي په طور د يرغمال ورکړل- غازي اکبر خان پښتانه مشران وړاندے او پيرنګيان وروستے کړل- د خورد کابل دره کښې داخل شو- دا ورېځه ميله اوږده وه- د درے مخکښې خوړ او دواړه خوا سر په آسمان غرونه دي- غلجو پښتنو د غرونو سُوکونه په انګريزي فوځ ړزے شروع کړے- په اسونو سورو سپايانو خوځان بچ کړو- د جرنيل سيل ميم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زخمي شوه ـ پيرنګيانو نه يوه تن په پاتے شوه ـ ډير افسران
او سپايان قتل شو. لفټيننټ ايري بيګلي دي چه په دے
ځائے کښې درے زره انګريزي سپايان او افسران قتل
شو. او دوئ کښې کپتان پيټن ـ اسسټنټ کوارټر ماسټر
لفټيننټ سينټ جارج ميجر کرنيټ ـ ميجر سکاټ ـ کپتان
باټ او کپتان ټروپ قتل وو لفټيننټ سمتر بټ زخمين
او ډاکټر را ابيو سمنټ ژوبل شو. پښتنو په ډګام د دښمن
قتل عام جاري اوساتلو ـ

پښتنو د پيرنګيانو سره دا هرڅه په دے وجه وکړل ـ
چه دغوئ پوهيدل چه د حيله بازو حيلو نه ـ د مکارو مکارئ
نه ـ د فريب ناک د فريب نجاست د دغه د مکر خيرے د دغه
د دوکه بازئ ګندګي صرف د دغه د وينو سيلاب پاکولے
شي ـ او د حرصناکو سترګے د قبر خاورے ډکولے شي ـ په
دے وجه پښتنو د انګريزانو وينے توئ کړے ـ د دغوئ د
مړو قبرستانونه ئې جوړ کړو ـ او دغوئ ته ئې د بدعهدئ
او بے لوظئ مزه په خوله کړه ـ

د نهم او لسم جنوري شپے د انګريزي فوځ د پاره د قيامت
نه کمے نه وے ـ د قبرجبار ځائے د انګريزانو د پاره قبر کفا
ثابت شو ـ د قبرجبار نه هندت کوتل او بيا تنزين ته په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډیر شوا خون انګریزان د دولس زره فوځ ضایع کولو نه پس اورسیدل. د جګدلک دره لا د انګریزانو د پاره د مصیبت نه ډکه وه. دلته د انګریز آخری تو په هم پاتے شوه. او ډاکټر کارډیو په زخمی حالت کښې پرینبودے شو. هم دا سے ډاکټر ډف د سنو ماڼئ نه د سیابابا په دره کښې پاتے شو. دا دواړه ډاکټران د مخنئ نه هلاک شو.

په باریکاب کښې د پښتنو حملے د انګریزانو باقی حالت هم خراب کړو. د جګدلک پورے په یو یو سیک زمکه پښتنو په ګیرنګیانو ډزے کولے. غازی اکبرخان د اکمان اوکړو چه ایلفنسټون بے نوطی کوی ځان جلال آباد ته د جرنل سیسل پورے رسول غواړی نو بیائے مطالبه اوکړه. جنرل ایلفنسټون خپل کمان برګیډیر پرا نیکوییټل له ورکړو. او دے په خپله سره بریګیډیر شلټن او بریګیډیر جانس د غازی اکبرخان کیمپ ته راغله. غازی اکبرخان په ډیر عزت او ساتل.

په دولسم جنوری د جګدلک په دره کښې په انګریزانو ډزے اوشوے. میجر تمپن او نور دولس افسران چه پکښې برګیډیر ایټکوییټل او کرنل جیمرز وو قتل شو. افسرو لي سینډ باندے هم جګړه اوشوه. په دیارلسم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جنوري کنډ مک کښ میجر ګرفتهٔ او مسټر بیلوټ او کپتان سوین ګرفتار شو- فتح آباد نه چه رسیدګښ کپتان بلیو- کپتان کولپر- هیا یګنز- لفټینټ برو- ډاکټر هارپراد ډاکټر برایډن کامیاب شو- ولے دَ دوی نه هم یواځے ډاکټر براییډن پهٔ ژوندون ورته ونهٔ بے خوږه فتح آباد نه اورسیدل- باقی پیرنګیان دَ پښتنو دَ تورو خوراک شو-

پښتانه دَ عجیبه فطرت خاوندان دی- دا سے معلومیږی چه دَ پښتنو ختهٔ دَ اَخ او ډب په او بواَخلے شوے وه- هم دا وجه ده چه پښتانه په جنګ جګړو کښ بے شانه مرنی دی- دَ سرنه د تګل- تربانی ورکول دیئے شیندل- ترک له عینن په عینن ورتلل دَ پښتنو قامی ژوند دے- ولے چه جنګ بس شی- قلاره قلاری شی نو بیا دَ تعمیر او دَ امن په ژوند ون باندے هیڅ وخبرنه وی- دَ یو شریک دښمن دَ پاره خو خپلے کورنئ دښمنی پریږدی- په شریک دښمن شریکه حمله اوکړی- شریک دښمن له سینه په سینه بے غرضه یه اتفاق په یو آواز او په یو قطار دَ یو بل نه وړاندے کیږی- دَ وطن عزت دقام آزادی، دَ پاره ویئے دَ او بو په شان شندی- ولے چه څهٔ وخت دَ دوی لنډ نظر ځان دَ خطر نه بے خطراوګنړی- نو دا بے اندیښنے خلق



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په خپلو کښې امیر چمبړ شی - کورنی جنګونه راوا خلی - او خپل قومی قوت برباد کړی - چه دوئ خپلو کښې اهم شی - نوهغه دښمن چه دَدوئ دَ لاس زپلی شوی او تبنیدلی وی - بیا دَدوئ په ښتهٔ سور شی - دوئ برباد او تباه کړی افسوس چه تر دے وخته دا بد عادت دا ناکاره خوئ دَ پښتونه تلے نه دے - ه

اُف که په پښتنو کښې نه وے بغض اُحسد
اُف که پښتانه، نه وے بیمار په مرض بد
اُف دا پښتانه که بیمار نه وے په نفاق
ولے به دښمن تل ما تړو دَدوئ تاړاق
دا د پښتنو ګډ لوے مرض، دے کړو برباد
دے بغض وحسد کړلو یو بل سره جلاد
نشته دے په دوئ کښې دتام مینه محبت
نشته دے په دوئ کښې روروولی او مروت
نشته دے دَ دوئ زړونو کښې دتام سره الفت
نشته دے په دوئ کښې صبر او قناعت
خدایه! دے پښتون قوم لره ورکړے اتفاق
خدایه! دوئ نه بنکلنه کړے ملکونه تر عراق
خدایه! راپیدا کړے په دے تام کښې روروولی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

خدايه! دَ دوئ زړونه دَ حسد نه کړې خالي
خدايه! کړې پيدا په دوئ کښې مينه محبت
خدايه! ورنه لرې کړې دا خوئ دَ عداوت
خدايه! دا پيدا په دوئ کښې کړې رواداري
خدايه دَ جهان ورکړې دے قام له سرداري
دا پښتون دا ستا دَ اسلام دے امانت دار
دا پښتون دا ستا په دين څو ځله شو لوزار
دا پښتون دا ستا دَ پاک قرآن دے لوئ امين
دا پښتون ستا دين له شو قربان په هر زمين
دا پښتون راغونډ کړه په مثال دَ يوزنځير
داسوال که قبول دَ هلالي په نوم خا تمير

چه انګريزي فوځ هرځائ کسکر شو. نو هر دَ مهتر خاوند پښتون دَ تخت او تاج دَ پاره ذړه ورشو. دَ کابل دَ تخت دَ پاره هرخيل ملا او تړله. او دَ بل خيل ګريوان ته ئے لاس راچولو جرنيل سيل په جلال آباد کښې خپل طاقت راغونډه ور پښتانه خپل منځکښې ايم شو. انګريزان ورته بيا سم شو. دَ دَ جلال په زمکه خره پښه شو. دَ غازي محمد اکبرخان هر تدبيرې کاره شو.

اوس پښتنو شاه شجاع نه مطالبه اوکړه چه دَ انګريز



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مقابلې له میدان ته او ځی . شاه شجاع کله دے ته غاړه کیښوده آخر د کابل لوئے ملا میر حاجي میدان ته را او وتو . او د غزا اعلان ئے او کړو . شاه شجاع اوس د ناکام میر حاجي سره ملګرے شو .

په پنځم اپریل ۱۸۴۲ء د امین الله خان لوګری ځوئ د کابل ګورنر شو . د نواب محمد زمان خان ځوئ شجاع الدوله د شاه شجاع لوئ دښمن وو . چه په مقرره ورځ شاه شجاع د خپل محل نه په چوپان کښ رابهر شو . نو شجاع الدوله د خپلو ملګرو شاغاسي دلاور . نور محمد خان او نورو شپیتو سره په شاه شجاع باندے حمله او کړه او هغه ئے قتل کړو

د شاه شجاع د مرګ نه پس د هغه ځوئ شهزاده فتح جنګ د امین الله خان په امداد بادشاه شو . بارکزی او سدوزی بیا او نښتل . د لغمان نه غازی محمد اکبر خان کابل ته راغے . بارکزو او سدوزو سردارانو ته ئے جوله کړه او غوښتل چه د پښتنو مذهب ، قوم ، وطن عزت ابرو هرڅه په خطره کښ دی . دا کوشش کامیاب شو . ولے فتح جنګ دا غوښته چه پیرنګیان بیا په افغانستان یا د پښتنو په وطن خپل ناپاک سورے خور کړی . په دے وجه د غازی محمد اکبر خان او فتح جنګ تر منځه جنګونه او شو .



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

فتح جنګ د پيرنګيانو سره لاس ساتله۔ آخر په دے جوړه اوشوه۔ چه فتح جنګ بادشاه او وزير محمد اکبر خان۔ ولے دا سلسله ډيروخت اونه چليده۔ آخر دا چه وزير محمد اکبر خان فتح جنګ ګرفتار کړو۔ ټول فوځي او مالي اختيار د وزير محمد اکبر خان په لاس ورا خستل۔

د دولسم جنوري نه تر ۱۹۔ دسمبر پورې د غازي محمد اکبر خان او پيرنګيانو جګړے اوشوے۔ په ۲۲۔ اپريل جرنيل ايلفنسټون مړ شو۔ چه پښتانه په اتفاق وو نو پيرنګيان هرځائے مات په تاړاق وو۔ او چه پښتانه خپل منځکښ وران شو۔ نو ګيدړان ورته شيران شو۔

د جلال آباد نه جرنيل پالک د نوي تازه دم انګريزي فوځ رسيدو سره په کابل حمله اوکړه۔ په ۱۵ ستمبر کابل ته اورسيدو۔ دے انقلاب کښ د پيرنګيانو يو سل اووه افسران قتل شو۔ پيرنګيانو د خپل وحشيت او بربريت ښه مظاهره په کابل کښ اوکړه۔ د کابل بازار او بالا حصار ے وسوزه وُ۔

د کابل د فتح په خوشحالئ کښ لارډ ايلنبرو فيروزپور کښ په ۱۷۔ ستمبر لوئے دربار اوکړو۔ او ډيره خوشحالي ئے اوکړه۔ د دے نه پس امير دوست محمد خان د خپلے خيلخانے سره آزاد کړو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکيالی پښتانه

دَ وزير محمد اکبر خان په همت امير دوست محمد خان بيا کابل ته راغئ - په تخت کيناست - ادهر خوا نه امن ادنظارۍ شوه - سه

اے پښتونه شه بيدار

تيرشو وير ليل النهار
په هرچا راغے يو وار
خلقو اونبود خپل کردار
زمانه وائی په جار
اوس راغلے دے ستاوار

اے پښتونه شه بيدار

راغله لاړل چغتائی
مغل تام دے مرزائی
په دوئ لطف وُ خدائی
زور قوت انتهائی
قدرت راوست په تاوار

اے پښتونه شه بيدار

اے پښتونه بيا که ياد
دے ستا ژوندُ په اِتحاد
دے نفاق کړے برباد



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټنکیالي پښتانه

نفاق مرګ ژوند اتحاد
که ته غواړې شې سردار
اے پښتونه شه بیدار

د ژوند روح دے اتفاق
او مرګ رنځ دے نفاق
اتحاد تام کاندی چاق
نفاق رنځ، دوری تریاق
اتفاق ګل او ګلنار
اے پښتو نه شه بیدار

راشه کړه خیلونه یو
په دنیا کښې شه په دو
دے د ژوند نعم دغه رو
سترګے اوچے کړه له نو
شه د قوم علمبردار اے پښتونه شه بیدار

اتحاد کښې خوشحالی!
اتحاد ننګ او سیالی!
په نفاق کښې پامالی!
بیا بیا وائی هلالی
ځکه پاسئ په تلوار اے پښتونه شه بیدار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# جرنيل بخت خان

دَروه دَ سردرو غيرت پاللے بخت خان
هغه غازی چه چا په نزاره کړه فيرنګيان

" دَحضور والا مشرانو ددے نه زيات مصيبتونه زغملی دی۔ شهنشاه بابر دا سے په دښمنانو کښې ګېر شو چه بے دَ تيښتے نه ئے بله لاره نه وه۔ شهنشاه همايون څنګه پريشانئ کښې ايران ته وتښتيدو۔ ولے هغوئے خپل استقلال پرے نه ښودو۔ په هر مشکل ميدان کښې ئے قدم کلک کيښودو۔ او په هره سختئ ئے برے اوموندو۔ دَ هغے نه پس ستاسو کورنئ سوونه کلونه دَ دے هندوستان په زمکه شهنشاهي اوکړه۔ تاسو هم دَ بابر تيمور او همايون دَ بزم عالم افروز زلق وهونکے شمع يئ۔ او تاسو سره دَ هندوستان دَ ناريښو اوزونو۔ ماشومانو او لويو همدردی ده۔ ټول هندوستان دَ حضور دَ جنډے لاندے راغونډيږی او دَ سرونو دَ نذرانو تيار دے۔ که حضور والا ما سره تشريف يوسئ۔ نو زه به حضور دا سے ځائ ته بوځم چه دَ پيرنګيانو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټنګیالی پښتانه

بادبه هم ورا ونه رسی . او ظل سبحانی به یو ځل بیا د ګ
هندوستان حقیقی شهنشاه شی."

دا هغه ژوند پیدا کونکی او ژوند زلزلونکی د غیرت او ننګ سیالئ پښتو او پښتونولئ نه ډک الفاظ دی . چه د توپونو په ځهار د ټوپکونو تقهار او د ویښو درهار کښې د دهلی همایون مقبره کښې د سن ۱۸۵۷ء د جنګ آزادئ سرلښکر د انقلاب علمبردار د غازیانو سپه سالار جرنیل بخت خان یوسفزی د مغل بادشاه ابوظفر بهادرشاه په خدمت کښې د خولې نه وېستی وو . هغه ګړئ چه د مرګ او ژوند پر زونو کښې بادشاه ګیر وو . د اقبال نمرې د بدبختئ تندر نیولے وو . د هرخوا نه تیاره او د بدبختئ وریځې خورې شوې وې . په داسې نازک وخت کښې دے سیال او ټنګیال نر زیګ پښتون جرنیل بخت خان دا درخواست شاه ظفر ته وړ مخکښې کړو . که په دے درخواست عمل شوے وے . او شاه ظفر د بخت خان سره تلے وے . نو پیرنګیانو به په آسانۍ سره د آزادئ جنګ او د انقلاب شغلے او لمبے کېنولے نه وے .

دا جرنیل بخت خان څوک وو؟ د کوم هم . کوم نسل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کوم خیل او قبیلے سره دَده دَ وینو تړون وو؟

سل کلونه پس دَ ۱۸۵۷ء خونړی تاریخ نه پرده اوچته شوه۔ چه دَ ۱۸۵۷ء دَ انقلاب دا علمبردار دَ آزادئ دَ جنګ داسپه سالار دَ غازیانو کماندار غازی بخت خان په نسل پښتون په ههٔ یوسفزیٔ دَ روهیل کنډ علاقے سلطان پور پرګنے او سیدونکے دَ عبدالله خان ځوئ دے دَ پلار دَ طرف دَ حافظ الملک رحمت خان فرمانروائے روهیل کنډ۔ او دَ مور دَ خوا نه دَ نواب شجاع الدوله وزیر اعظم دَ هندوستان اولاد وو۔ سه

پټ دو سنګریزو کښې لکه لعل دَ بدخشان
جنګ دَ آزادئ روښان که قوم دَ بخت خان

هندوستان دَ سرو زرو مرغۍ ده۔ دَ خیبر دَ غاړے نه یونانی سکندر۔ زابلی محمود۔ پښتون شهاب الدین۔ ترکی بابر او تیمور پرے حملے اوکړے۔

دَ یورپ پرګنیانو خولو کښې هم اوبه راغلے۔ او دَ هندوستان لټون پسے اووتل۔ دَ سپین نه کولمبس او دَ پرتګال نه "واسکوډے ګاما" پرله پسے رااووتل۔ کولمبس خو دَ امریکے دنیا بیا مونده او واسکوډے ګاما دَ هندوستان غاړے مالابار ته اورسید۔ دا کال ۱۴۹۸ء وو۔ دَ پرتګالی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حکومت پوډیچري ګورنر "المیډا" وو۔ ورپسې امبرقرق مقرر شو۔ پرتګیزي په ۱۵۱۵ سنه کښې د ایران خلیج فارس پورې د هرمز جزیرې ته ورسیده۔ شپاړسمه صدۍ وه چه پرتګیزي د هندوستان د ننه نه شو ورننوتلې او خوابل خواته خواره شوي وو۔

د هالینډ وطن خلقو ته ولندیزي ویلې شي۔ دا ولندیزي په ۱۵۸۱ سنه کښې د هسپانیه د منګل نه آزاد شو. بیا په قلاره قلاره د مار په شان هندوستان ته راورسیده شو او د سمندر غاړه د پرتګیزي قام نه واخسته۔ او د سوداګرۍ یوه کمپنی جوړه کړه۔ د دې نوم ډچ ایسټ انډیا کمپنی۔ او بنګال کښې "چنسوره" نوم ځائې د دې مرکز وو۔ او د بنګال زمکه کښې د کلکتې ترڅوا "سیرم پور" د دوئ نوې ودانۍ شوه۔

انګریزان راغلل او ولندیزي قوم ئې تالا مترغه کړو۔ نو فرانسیسي قوم د انګریزانو مخې له راغې۔ او په ۱۶۶۴ سنه کښې فرنچ ایسټ انډیا کمپنی" د کوچین په غاړه جوړه کړه۔ او د هندوستان د سوداګرۍ واګې خپل لاس کښې واخستې۔ "پوډوما" فرانسیسي په ۱۵۱۵ سنه کښې د دوئ پوډیچري ګورنر وو۔ په ۱۸۳۱ سنه کښې د پوډوما په ځائې ډیپلې ګورنر مقرر شو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په سنه ۱۵۷۹ء کښې یو پیرنګے طامس سټیفن د ګوا په
لارے هندوستان ته راغے. پیرنګیانو فرانسیسیانو له شکست
ورکړو. او د سمندر په غاړه ئے غلبه اوموندله. بیا چه د
جګړونه وزګار شو. نو په سنه ۱۶۰۰ء کښې د ملکه الزبتهه په
اجازت ایسټ انډیا کمپنی جوړه کړه. او په سنه ۱۶۱۱ء کښې په
مچهلی پټم نومی ځائ کښې تجارتی مرکز جوړ کړو. یو انګریز
هاکنس په څه شوا خون د مغل بادشاه جهانګیر دربار ته
راغے. او په سورت نومی ځائے کښې د بادشاه نه د قوم په نوم
سوداګرئے د پاره اجازت واخست. (رحمونږ او د پیرنګیانو
د اخلاق فرق ته خو نظر اوکړئ. مونږ قام او وطن دواړه د
خپل ځان او خپل ذات د فائدے د پاره نه صرف دا چه
سپکه کړو. بلکه په دښمن باندے د خرڅولو نه هم دریغ نه
کړو. او پیرنګیان ځان خرڅوی او د قام ګټه کوی. خپل سر
ښکنته کوی. خو د قام سر اوچتوی. خپل ځان تباه کوی. او
قام آباده وی) انګریزانو بیا په سنه ۱۶۱۲ء کښې د سوآلی په
ځائے کښې پورتګیزیانو له شکست ورکړو. په سنه ۱۶۱۵ء کښې
د انګلستان بادشاه جیمز د جهانګیر دربار ته سر طامس
د سفیر په حیثیت راولیږلو. په ځائے د دے چه دے انګریز
ځان له څه ترخز وهلے وے. نه نه! ده د خپل انګریزی قوم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ پاره لوړے آسانتیاوے اخستے . په سنه ۱۲۳۱ء کښ پېرنګیانو دَ "کارومنډل" په ځائے دَ سوداګرئ مرکز جوړ کړو . دَ کلکتے ښار او دَ فورټ ولیم قلعهٔ ودان کړل .

اسلام چه مخ سرګند کړے دے . نو دَ عیسائیت او یهودیت سره ئے پرزول را غلی دی . عیسایانو په هر کام دَ اسلام مقابله کړے ده . او دَ اسلام دَ تباه کولو دَ پاره ئے رنګارنګ حیلے اختیار کړے دی . دَ سلطان صلاح الدین ایوبی علیه الرحمه دَ نورے برینښ دَ انګلستان او فرانس په لوړو ماړو کښ زلزلے راوستے . په مراته او توره کښ چه هر ځائے عیسایانو دَ مسلمانانو دَ لاسه شکست اوخوړو . او په سوونو کلونو کښ چه ئے په اسلام دَ بری روا او نه موندو نو بیا ئے بله لاره اختیار کړه . مسلمانان ئے په بیرو رشوت ځان ته راواړول . او په لمسون او شرارت ئے دَ خپل مسلمان قوم سره لاس په ګریوان کړل .

دَ سپین دَ مسلمانانو دَ تباهئ داستان دَ عیسایانو دَ ظلم ستم رشوت شرارت شیطانئ او بلیسئ بانده ئے تګ تور دے که یو مسلمان نواب له به ئے بیرے رشوت ورکړو . نو بل له به ئے فوځی امداد ورکړو . په دے جنګ جګړو مسلمانان خپل منځکښ دومره کمزوری کړل . چه آخر دَ عیسایانو دَ لاس نه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مسلمانان قتل او مرتد شو۔ چه څوک په اسلام کلک پاتے شو هغه د سپین د زمکے نه اوشړلے شو۔ جُماتونه وران او هديرې هوارے۔ زیاتونه دَ زمکے سره هموار شو۔ د سپین په زمکه اته سوه کلونه حکومت کوونکی۔ یورپ ته د خپل علم او حکمت د انسانیت ځوونکی۔ وحشی او ګناورصفت فیرنګیانو نه د سر پټوب لاره سموونکی مسلمانان د خپل غرض وذاتی مشرئ د کور جنګئ په سبب دا سے ورک شو۔ چه نن سپین شته۔ د سپین زمکه آسمان شته۔ عیسایان شته۔ ولے که نشته نو د مسلمان نښه نشته۔ د غرناطے د الحمرا د سیسلی د قرطبے سر په آسمان منارے او جُماتونه مدرسے او عمارات نن هم د مسلمان د کورجنګئ ماتم کوی۔

چه پیرنګیانو په هغه آزموده نسخه بیا تجربه اوکړه۔ د هندوستان مسلمانان نوابان خپل منځکښ واچول۔ کله د یو په ډډه۔ او کله د بل په مرسته۔ احمق خود غرض او ذاتی مشرئ د پاره قام او وطن قربانه وُنکے مسلمان د پیرنګی په خوړه خوله او غولیدو۔ کله به د شجاع الدوله سره ملګری شو۔ حافظ الملک رحمت خان به ئے پے او وهه۔ او کله به ئے د مرهټو په مرسته شجاع الدوله او غلام قادر خان پښتانه تباه کړل۔ او په دے شان ئے ځان ته میدان وزګار کړو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالۍ پښتانه

دَحافظ رحمت خان تباه شو ے کورنئ کښې دَ حسن او اخلاق نمر ۔ دَ مېرانې او تورې رستم ۔ دَ شرف او حيا کان عبد الله خان پښتون دَ کورنئ جنګونو نه تنګ شوے چه سلطان پور ته لاړو ۔ نو دَ شجاع الدوله دکورنئ يوه شهزادګۍ په ده مينه شوه ۔ او آخرے دَ عبد الله خان سره نکاح وشو عبد الله خان له سلطان پور جاګير ورکړے شو ۔ هم دَ دے بي بي عبد الله خان کره بخت خان پيدا شو ۔

دَ نواب عبد الله خان ځوئ بخت خان دَ نورو علمونو سره فنونِ جنګ هم زده کړل ۔ دَ سلطان پور جاګير دومره نه وو چه دَ ټول خاندان ګذاره ورباندے کيدے شوے ۔ ډير ځلې يو خوا بل خوا ته خواره شو ۔ بخت خان هم دَ خپل لوړ عزم او اوچت کردار په وجه چپ ژوند کله تيروِلے شو ۔ دَ فيرنګيانو توپ خانه کښې نوکر شو ۔ او لږه موده کښې دَ اوچتو افسرانو په قطار کښې شمار شو ۔ دَ بخت خان په زړه کښې اسلام او پښتو دواړه ځنګ په ځنګ اخلې راغلې وو هم دا وجه وه چه په زړه دَ پيرنګيانو غم سبنه نه کيدو ۔ دَ عالمانو مجلس دَ غزا او جهاد جرګه دَ پښتنو تير تاريخ دَ پښتو نولئ ژوندون بخت خان دے ته تيار کړو چه دَ پيرنګي په نوکرئ لعنت اُووليږى ۔ او ځان دَ پاره څه بله لاره خوښه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړی۔

پښتانه چه د سلطان شهاب الدین غوری سره راتلل
چه د بریالی احمد شاه ابدالی جلب کښی راروان شوی وو
مسلمانان چه د سلطان محمود غزنوی سره راتلل نو په
دوئ کښی اتفاق او اتحاد وو۔ په دوئ کښی د زړورولئ یوه
جذبه وه۔ د اسلامی جوش یوه ولوله وه۔ او ورسره عمل

په قامی ژوندون کښی روح دے اتفاق
اتفاق دے لار د ښه خوئ لوړ اخلاق
قامی ژوند کښی لوئ کردار شریک ژوندون دے
اتحاد کښی د ژوندون دے استحقاق
په پښتون کښی اتفاق اتحاد نشته
ځکه مات دے د دے قام هر ځائ تاړاق
ننګ غیرت او قربانی د ژوندون شرط دے
بے غیرت نامردی سپک په هر آفاق
موږ قام ری چه د یو بل سره مل وی
حکومت کوی په چین په شام عراق!
د پښتون کور د نفاق په لمبو او سو
که پښتون یو وے څوک دے د ده نه چاق
د نفاق د رنځ علاج یو اتفاق دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا علاج دَے د مرض لره تریاق
دَ اسلام خادم به دا دَ پښتنو قام وی
څوک کور جوړ کړی اول په اتفاق
هلالی قومی نفاق کښی قومی مرګ دے
متحد قوم په قومونو کښی وی طاق

پیرنګی چه هندوستان له راغے نو روستو ئے ګند ارئ په مسلمان باندے اوکړو۔ دَ مسلمان دسرنه ئے تاج کوز کړو۔ او مسلمانانو ئے دَ هرچا نه سپک کړل انګریز په دے پوهیدو چه هندوخو "سل یا پړه دَ بولوړ" قام دے۔ که دَ ژوند ښیے لری نو هغه مسلمان دے۔ په دے وجه په هرکار او هره معامله کښی، مسلمان دَ نظر نه ګنداړ کړو۔ په فوځ کښی په ملازمت کښی۔ په تجارت صنعت حرفت کښی۔ غرض دا چه په هرځیز کښی مسلمان سپک او بد سلوک حقدار اوګڼلے شو۔ که یو خوا ته عالمانو دَ انګریزی ژبے لوستل حرام اوګڼړل نو بل خوا ته مسلمان قومیانو خپل ځان په تول کښی دَ هرچا نه سپک اوګڼړلو۔ پیرنګیانو با دریان دَ لوئے دولت سره پر پښودل۔ خلق دَ خپل دین نه اړولے شو نو ورسره ئے دَ دیاستو نو ختم کولو باندے لاس پورے

کړو۔ او په دغه کښې د خنزیر وازدے او غوړ من د کارتوسونو پرانستو په وخت په غاښونو رانړول شروع کړل۔

په ۱۸۳۵ء کښې چه قانون راغے نو د مسلمانانو بچي ته د وړوکے د پاره بے دینه کړل۔ په اسلام او حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم پورے خندا او خندنه۔ دے حالات مسلمانان او نا مسلمانان او لړزول۔ عالمان را پیدا شو۔ د مسلمانانو مشران په دے پرئ شو۔ چه انګریزان د هندوستان نه هم اندلس جوړول غواړي۔ سلطنت خو لا پروت اوس مذهب هم ختمول نه لرے کول غواړي اول اول د آزادئ او انقلاب روح په فوځ کښې پیدا شو۔ او بیا کړه د آزادئ بیرغ هر ځائے پورته کړو۔ چه د هغے کوتاه تاریخ دا دے:۔

سنه ۱۷۶۳ء کښې۔ په بنګال سنه ۱۷۹۱ء کښې په وزیکا پیټم سنه ۱۸۰۶ء کښې حیدر آباد دکن نندئ ورګ۔ پالمپور۔ والا جاه آباد کښې۔ په سنه ۱۸۰۹ء مدراس کښې۔ په سنه ۱۸۲۴ء کښې بارکپور په سنه ۱۸۳۰ء کښې ایسی ګړه۔ مالیګاؤں۔ بمبئ۔ سکندر آباد په سنه ۱۸۴۳ء کښې جبلپور په سنه ۱۸۴۴ء کښې فیروز پور۔ بمبئ مدراس۔ وزیر آباد۔ په سنه ۱۸۵۰ء کښې کوبند ګړه۔ بهرام پور په ۳ مئ لکهنو۔ په ۱۰ مئ میرټه۔ په ۱۲ مئ دهلی۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په ۱۳ مئی فیروز پور او مظفر نګر- په ۱۹ مئی مراد آباد
په ۲۰ مئی علیګړه- په ۲۱ مئی نوشهره او بلند شهر-
په ۲۲ مئی مین پور او ټاوه- په ۲۳ مئی هوتی مردان-
په ۲۸ مئی نصیر آباد- په ۳۰ مئی لکهنو- متهرا- په ۳۱
مئی سنه ۱۸۵۷ء بریلی- شاه جهان پور- په اول د جون د میاشتې
بدایون- په ۲ جون مراد آباد- په ۳ جون اعظم ګړه-
سهارنپور- سیتاپور- په ۴ جون بنارس او کانپور- په
۵ جون جونپور- په ۶ جون اِله آباد او جهانسی- په ۷ جون
فیض آباد او جالندهر- په ۸ جون لدهیانه او پهلواړی-
په ۹ جون فتح پور- دریاباد- نوګاوں- سکرو او سلطانپور
په ۱۰ جون سلونی او کنهره- په ۱۲ جون ملتپور- په ۱۴ جون
بانده- ګوالیار- جبل پور- په ۱۵ جون اورنګ آباد- دکن او
په ۲۱ جون رهتک- په اول جولائی هاتهرس- او اندور
په ۲ جولائی جهلم- په ۹ جولائی سیالکوټ- په ۱۵ جولائی
دناپور- په ۳۰ جولائی هزاری باغ- په ۳۱ جولائی کولهاپور
مظفر پور- بهار- رانچی- په ۱۴ اګست بهاګل پور- په ۲۲
اګست دلی پور- په ۲۸ اګست د دره خیبر او نیرا مسیه ابیر
خان- په ۱۵ اکتوبر کوټا- په ۸ نومبر چټګاوں- په
۲۰ نومبر ډهاکه بنګال- په ۴ سټمبر مداری ګنج- په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۵ دسمبر جبل پیکوری کښې د انګریزانو خلاف یو طوفان راپورته شو۔ سے

چه راوچت شی په میدان د جنګ ځوانان د وطن
د پښتو د لاندے چیغې شی بیا دښمنان د وطن
ځوانان چه پاسی د ملت د پاره وینې شیندی
زمکه لاځه دنیا کړی جوړه په آسمان د وطن
د ننګ غیرت د خودداری شراب چه چاسکلی دی
د دښمن سرسره کړی لوبے په میدان د وطن
ذرې د خاورے کړی اوچتے د آسمان ستربلے
په ترقۍ باندے عالم کاندی حیران د وطن
پښتونه ستا د زورولۍ د ننداره په طمعه
سترګے په لار کښې دنیا ناسته په ارمان د وطن
راشه په منځ د دنیا کښې ته د خپل ځان که شریک
د ترقۍ اسن په لار بوزه کاروان د وطن
ویښ ځلمی نن د قوم وران شوی تقدیر بیا جوړه وی
راشه که جوړ یوزلے بیا دا تقدیر وران د وطن
په اتحاد په زورولۍ په اتفاق کښې دے ژوند
ځان پورے مه خندوه ورانه بدخواهان د وطن
اے هلالی د آزادۍ بیرغ په لاس کښې لره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غاړې ته پرې نه دې نږدې ته غلیمان د وطن چې د آزادۍ شمعې مخ سرګنده کړو. چې د انقلاب سپرلې راغې چې د خپلو ازلي دوړ خپل اتش خور کړو. نو پښتون بچا د ځمځ انانو ځوانمرد د ننګیالو ننګیال. د سرفروشو جرنیل او د غازیانو سالار بخت خان د ایمان او غیرت ښکاره کولو د پاره میدان ته راغې. چې د میرټه نه تر کلکتې پورې د پیرنګي خلاف د آزادۍ جنګ اونښت. نو بخت خان دې شپږ ویشو کښې بریلۍ کښې وو. هغه خپل پیر مرشد حضرت سرفراز علي صاحب نه اجازت واخست. او د آزادۍ په انقلاب کښې شریک شو. بریلۍ کښې د حافظ الملک نمسي نواب خان بهادر خان د بخت خان په بخت او په تدبیر قبضه اوکړه. او چاپیره ملک د هغه په ولقه کښې راغې. بخت خان هغه له بهادرشاه لقب ورکړو. سوبها رام دیوان ریاست. نیاز محمد خان جرنیل او مدادعلي خان سپه سالار مقرر کړو. بخت خان ډیر قابل سیاستدان وو. هغه د خپل ځان سره هندوان هم ملګري کړل. او بدایون بیا د فرخ آباد نه تیر شوې په بلب کړې ور اوخوت دلته هم د نواب خان بهادر خان سکه جاري شوه. انګریز د شیطانۍ او سازش په کارکښې درمره مرنې دې چې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ابليس ورته په غوږ ونو لاس ايښے دے ـ غداران په هر ځای کښې مُنډے شي ـ غدارانو په بچو او جاګيرانعام انګريز له ميدان صفا کړو ـ او نواب خان بهادر خان ځ خيل مقصود کښې ناکام کړے ګرفتار او بريلی کښې پهانسی شو ـ سه

اے دهلی نه ورانه شے تا خه ځوانان خوړلی دی
ستا کوڅے په وينو دَ مظلوم مُسلم لړلی دی
ستا په بربادئ باندے آسمان هميش ژړلی دی
اُف ستا په کوڅو کښې شرمخ څه ځوانان داړلی دی

دهلی دَ ډېرو هنګامو مرکز وو ـ بنا غلے بخت خان دمنزری په شان په ۲ جولائی ۱۸۵۷ء دهلی ته ورسيدو ـ يوازے نه ـ دَ څوارلس زره فوځ توپے او ټکونو دوپو سره ـ جرنيل بخت خان ښه جنوه په لاس دهلی کښې داخل شو ـ

جرنيل بخت ګذران کړلو ډير تنګ په فيرنګی
په شان دَ زمری ده او کړو غورزنګ په فيرنګی
پښتون ځوی دَ غازی بيا په تلی ايښے دے سر
په هغه کښې قيامت جوړ شو په يو ورنګ په فيرنګی
ورته ميسته راتلے جنت فردوس نه په هردم
ځوانانو دَ زړه او وسينلو رنګ په وفيرنګی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

را غلے غل د ځپل کورنه او باسی مسلمان
پښتون لکه رستم په توره شړنګ په فیرنګی
پښتون د آزادئ شمع نه ځان قربا نوی
پښتون بنځ که په زړه باندِ خدنګ په فیرنګی
والله د اسلام دشمنه فیرنګی نه زیات دښمن
جرنیل بخت خان زاواه ولو لمنګ په فیرنګی
را جمع شو غازیان او د دوئ سر غازی پښتون
او جوړ د هر طرف نه شو ړنګ ړنګ په فیرنګی
انګریز که خورے کړیے نه وے بیهے او رشوت
دهمن زمکه به وه په وینو رنګ په فیرنګی
لوئ عیب دے هلاکی د مسلمان رشوت خوړل
کړیے وے مسلمان که جهاتنګ په فیرنګی

د بخت خان او د بریلئ د غازیانو دهلی ته د رسیدو خبر شهزاده مغل خیل پلار بهادر شاه له ورکړو۔

" فرمان د فدوی عرض دا دے چه د حضور په اقبال شبیه او ورځ جانبازِ حملے کوی۔ که د علاپور علاقے نه څه کومک راغے۔ نو د حضور بختیار طالع نه به د خدائے په حکم آخری فتح را نزدے شی۔ خو د فدوی عرض دا دے چه د بریلئ جرنیل ته حکم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ورکړې شي چه هغه دَخپل نوځ سره علاپور ته لاړشي
دَ لښکروځ هغه خواته اوګرزوي - او په کانپور حمله
اوکړي - چه په هغه وخت به غلام دَخپل نوځ سره
دَدې خواته مدد ورکړي - چه دَ دواړو اړخونه
په کفارو باندې وبا ورپریوزي او کفار جهنم ته
ورسیږي - امید دے چه دَ جرنیل نوځ به علاپور
ته روان شي - نور رحمن دَ احمد ادسلسله به
بنده شي "

بهادر شاه په ډیر اخلاص دَ جرنیل بخت خان هرکلے
اوکړو - او دَ فرزند خطاب ئے ورکړو - یو بنګلے پال، دَ
جواهرو که توره ئے ورته عنایت کړه - او ټول دهلي کښ
اعلان اوشو چه دَ ټول فوځ اعلی افسر جرنیل بخت خان
مقرر کړے شو -

جرنیل بخت خان خپل فوځ دننه بیل جوړ کړو -
جرنیل بخت خان دَخپل شخصیت، انتظام او قابلیت په
وجه دَ فوځ په حیثیت کښ ډیره زیاتي اوکړه - په ۹ر جولائی
جرنیل بخت خان لس زره نوځ سره په انګریزي نوځ
حمله اوکړه - او په "تیس هزاري" میدان کښ ورله
شکست ورکړو - آسونه، توپې، وسله ډیر خیزونه دَ فازیانو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په لاس راغے۔ سے

شمع چه کوم دم دَ آزادئ دهلی کښې بله شوه
او په کوم ساعت چه فیض ننګیا نو باندے هله شوه
ملا بیا دَ اسلام دغې پښتون ننګیالی کلکه کړه
او دَ آزادئ جنډه په مینځ دَ دهلی ټکه کړه

بیا دَ فوځ دوه پلټنے دَ پنځو سوو سورو رسالے سپایان، شپږ توپے او ډیر اسباب دَ جنګ دَ غازیانو فوځ دَ جرنیل بخت خان په حکم "باغپت" ته روان شو۔ په دے غرض چه انګریزانو له دَ پُل جوړولو موقع ورنکړی۔ دَ دے نه علاوه یو لوئ فوځ دَ جنګی ساز و سامان سره علی پور ته اولیږلے شو۔ عزمه خبر جرنیل بخت خان له راغې چه غازیانو په یو ګټه کړے ده په دے خبر ټول دهلی کښې جوش خروش پیدا شو۔ او دَ غازیانو حوصلے اوچتے شوے۔

یوه ورځ دَ نوځو نو پریډ اوشو۔ جرنیل بخت خان په ډیر قابلیت او شفقت دَ فوځ نوے ترتیب برابر کړو دغوئ له ئے په ځوانمردئ او بهادرئ باندے مُبارکی ورکړه او دَ بادشاه دَ خوانه ئے دَ انعام او جاګیر پیغام او زیرے فوځ ته واوروو۔

توپچیانو دَ جرنیل بخت خان په مشرئ کښې دا سے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بهادری ښکاره کړه. چه د پیر ننګیالو صفو نه ئے دل ول کړل
فوځ عالمانو، عام اولس د جرنیل بخت خان په سالارئ کښ
د ځان او مال قربانئ ته ملا وتړله. د جرنیل بخت خان
سره سل عالمان د بریلئ او خواؤ شا نه راغلی وو. د دوی
نه علاوه د ټونک. جےپور. بهوپال. هانسی. حصار او
آګرے نه په ډیر زیات تعداد کښی عالمان راورسیدلی وُو

سه خدائیګو چه اسلام نه قربانی دی عالمان دی
خدائیګو چه میئن په دین ځانی دی عالمان دی
دغه عالمانو د اسلام عزت ساتلے دے
کړکے د غیرت او ایمانی دی عالمان دی
حق او حق د پاره عالمان په حق قربان شو
نورو لا نه دے تل حق بیانی دی عالمان دی
خوری سرے تکړے او د اسلام خدمت کوی عالم
او د دین بیان کښی لاثانی دی عالمان دی
دغه عالمانو دا اسلام ژوندے ساتلے دے
هو. که شرک د پاره طوفانی دی عالمان دی

که سپاهیانو د نورو او فوځیکو نو نه کار آخستو. نو د حق
عالمانو د مذهب په روح. د جهاد په جوش. د شهادت
په شوق. د جنت په نعمت. د حوض کوثر په شراب او د



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

الله تعالی دَ دیدار په امید او یقین دَ مسلمانانو ایمانی
غیرت کښې زیاتوالے کولو.

خلقو به دَ اسلام عالمانو ته مجاهدین ویل. او جرنیل
بخت خان مولوی سرفراز علی صاحب ته "پیشوائے
مجاهدین" خطاب ورکړے وو. هر ځائې په هندوستان
کښې دَ انګریزانو خلاف دَ آزادۍ انقلاب چه راپورته شو
دَ هغې سرپرستی جرنیل بخت خان کړے ده. د بیل بیل
ځائے نه به دَ انقلابی فوځ سپه سالارانو دَ جرنیل بخت
خان نه هدایات اخستل.

د ډهلې ښلور میاشتې او ښلور ورځې دَ جرنیل بخت خان
په لاس کښې وو. خو دَ جرنیل بخت خان په لاره کښې لوئ
خنډ مغل مرزا وو. بهادرشاه دا خپل ځوئ دَ ټول
فوځ سپه سالار مقرر کړے وو. مغل مرزا بې تجربې
بے کاره ناپوه او دَ دښمن دَ چل فریب نه بے خبره وو.
بله دا چه دَ فوځ دَ پاره تنخواه نه ده. هندوانو بنړیاګانو
به قرض ورکوو. ولے دَ دے مغل مرزا سخر مرزا آلهی بخش
لوئے بے ایمانه او دَ فیرنګی تالی څټ وو. دَ هغه په لمسون
بنړیاګانو قرض ورکول په جرنیل بخت خان باندے بند
کړل. حکیم احسن الله خان دَ ډهلی نه دَ فوځ یوه برښه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بهر اولیږلے - بل کار دے حکیم احسن الله دا اوکړو چه "دبیګم ثمره" په حویلئ کښې پنځه سوه کسانو ګولئ دارو جوړول. یوه ورځ هغې ته اور پورے کړو - اُوه سوه منه ګولئ دارو او هغه کاریګر پکښې اوسوزیدل.

دجرنیل بخت خان په کوشش عالمانو فتوه اوکړه چه دپیرنګیانو خلاف غزا کول فرض دی - او ویشت زره سپایان دجرنیل بخت خان دکمان لاندے شپه او ورځ غزا له تیار وو - چه احسن الله ګولئ دارو والوزول نو اوس ځوانان ؤو - غازیان ؤو - ایمان او غیرت وو - وے ګولئ او دارونه ؤو - فوځ د وسلے باوجود بے وسلے وو - بے کاره وو - بادشاه دا ول نه سوخته ځیګر او سوخته سامان وو - بیا مرزا الٰهی بخش څه داسے جادو ورباندِ پوکلے وو - چه بادشاه دَ قلعه نه مقبره همایون ته دَ پناه آخستو دپاره اوزغلیده - چه انګریز په بهرمیدان صفا اوکړو - او بادشاه اونښتیده - نو جرنیل بخت خان هم په دغه شپه دهلے اوزګار کړو - او دَ خپل ځان سره ئے هغه ځوانان واخستل چه دَ هغه ورباندے باور وو - بیا په دهم دے شپه جرنیل بخت خان دَ بهادر شاه په مخلس هغه الفاظ اووے کوم چه دَ هندوستان تاریخ بدلولے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شو۔ جرنیل بخت خان په ژړه غوني آواز کښې بادشاه ته
اووئیل:-
"حضور والا! سره ددې چه پیرنګیانو د دهلي ښار
آخستې دې۔ ولې دا دې نه خو نن ډیر څه زیات تاوان
شوې نه دې۔ ټول هندوستان مونږ سره دې۔
حضور دې د ترَدُّد نه ماسره روان شي۔ زه به په
غرونو کښې داسې ځائے مورچې جوړې کړم چه دې پیرنګي
شیطانانو ته به هم د هغه ځائے پته اونه لګي۔ دهلي
پائے تخت دې خو نوحي قلعه نه دې۔ په دې جنګ کښې
ټوله خرابي داوه چه د حضور فرزند شهزاده مغل
مرزا د فوځ کمانډر انچیف سپه سالار روو۔ او هغه
د جنګ د فن نه بې خبره وو۔ هغه ته دا معلومه نه وه چه
بې سره فوځ څنګه قابو کښې ساتلې شي۔ که مرزا مغل
ځما په کارونو کښې اهو بیچ نه اچولې نو یقیناً چه د دې
خود سره فوځ په زور به هم مونږ انګریزي فوځ له
شکست ورکړې وو۔ ولې اوس هم څه تلي راغلي نه دي
او بیا بیا عرض کوم چه هیڅ تلي نه دي۔ د هر ویاست
زیه مونږ سره دې د هغوی د پیرنګیانو نه بې زاري
او د هغوی دا یقین دې۔ چه انګریزان په قلاره نلاره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دهندوستان ټول ریاستونه هضم کړل غواړی ۔ هر کله
که لږ څهونږ پلوۍ دروند شو ۔ نو ټول ریاستونه به څهونږ
امداد له راپاسیږی ۔

جهان پناه ! دحضور آباوٴ اجداد ددے نه زیات
شکستونو او مصیبتونو سره مقابله کړےده ۔ شهنشاه بابر
او شهنشاه همایون باندے ددے نه زیات تکلیفونه راغلی
دی ـــــــ وے په بهادرشاه ددے الفاظو هیڅ اثر
اونه شو ۔ مرزا الٰهی بخش د بهادرشاه په زړونو کښې وینه
داسے سره کړے وه چه دبابر، همایون او اکبر دننګ اجولو
استقلال اوبے پناه توت پراو کیدنے پرے هیڅ اثر او نکړو ۔

جرنیل بخت خان دهندوستان بخت بید ارولو له راغلے
وو ۔ وے بهادرشاه د بید ارېدلو نه انکار اوکړو ۔ او ددے
انکار نه پس جرنیل بخت خان دخپل فوځ سره دهلی ته
آخری سلام په مخه ښه او وے ۔ اولکهنوٴ ته روان شو ۔
اول لکهنوته بیا دجلال آباد ضلع هردوئی ته لاړ ۔
بخت خان اولیدو چه غداران هر ځائ راپیدا شو ۔ دین
خرڅونکی ۔ ایمان خرڅونکی ۔ وطن خرڅونکی ، قوم
خرڅونکی ۔ غیرت خرڅونکی ۔ شرافت خرڅونکی ۔ ننګ
خرڅونکی انګریز پرستئ کښې دیوبل نه وړاندے کیدې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نو يوه شيبه دا سې دَ اُولس دَ منځ نه غيب شو لکه امام الغيب! او تر اوسه دَ هغه نښه نښانه معلومَه نه شوه.

سه بعد از وفات تربت ما در زمين مجو
در سينه هاى مردم عارف مزار ماست

دے نه پس پير ټکيا نو سوونه هالمان زرګونه سپايان او ډيرکاند اران زميند اران په سولئ کړه. په توپونو باندے والوزول. او دَ خپل وحشيت هغه ثبوت ئے ورکړو چه تول انسانيت پرے لعنت اووے.

(شاهين برقى پريس اندرون کابلى ګيټ پښاور)



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# غازي عظیم الله خان

دَ کال ۱۸۵۷ ء جنګ آزادۍ کښې یو بهادر پښتون چه دَ خپلې بې مثاله قربانۍ، سیاست او ترتوب په وجه دَ انقلاب آسمان کښې دَ نمر په شان ځلیدلے کوی. دَده نوم دے عظیم الله خان.

عظیم الله خان دَ یو غریب پښتون ځوئ وو. دَده پلار دَ دے وطن نه دَ روزګار په تلاش کښې هندوستان ته تلے وو. او په کانپور کښې اوسیده. هلته یو انګریز سره دَ باورچي په طور نوکر شو. انګریز چه دَ عظیم الله خان عقل او فکر ته اوکتل حیران شو. هغه انګریز دے په یو سکول کښې دَ سبق ویلو دَ پاره کینوؤ. چه سبق نه دے فارغ شو. نو عظیم الله خان بیا نورو هلکانو ته دَ ټولوټو کار اختیار کړو. په انګریزئ لیکلو او ویلو کښې ښه مهارت اوترکړه وو. بیا دَ نانا راؤ مرهټه آخری پیشوا سره نوکر شو.

په دے نوکرئ کښې عظیم الله خان دَ خپل ذهانت لیاقت او دیانت په وجه دومره ترقي وکړه چه دَ نانا راؤ مشیر خاص



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مقرر شو. لارډ ډلهوزي د نانا راؤ پيشوا پنشن ضبط کړے وو
په دے وجه عظيم الله خان د ډلهوزي د فيصلے خلاف اپيل
کولو د پاره په حيثيت د قانون دان لندن ته لاړو. دوه کاله هغه
په لندن او يورپ کښ تير کړل. فيلډ مارشل لارډ بروټن
سره اوليده. د عظيم الله خان ډيروخت په لندن کښ تير
شو. او په دے دوران کښ عظيم الله خان د دنيا د حالاتو
نه ځان خبرولو د پاره پيرس. استنبول او کولمبيا ته هم
لاړ. کولمبيا ته هغه په داسے وخت کښ اورسيدو چه
انګريزان د فرانس په مدد سره د بسټاپول ښهر نه چاپيره
شوی وو. عظيم الله خان د پيرنګيانو سره په لوړو مجلسونو
کښ کيناستو. په دے وجه د شاهزادګانو په شان د عظيم
الله خان په هر ځائے کښ هر کلے کيدو. يوه پيغلے پيرنګنړے
جينۍ د عظيم الله خان سره د واده کولو خواهش ظاهر کړو
د عظيم الله خان هم دا خبره خوښه شوه او کوژدن اوشوه
او چه عظيم الله خان هندوستان ته راغے. نو پس د هغه نه
يې دغه جينۍ سره واده اوشو.

دا ټول واقعات د هغه د خطونو نه راښکاره شوی دی.
چه څه زمانه پس د نانا راؤ پيشوا د کورنه راوتی دی. د نانا راؤ
محل په بيټهوره نوم ښهر کښ وو. څنی خطونه د ير



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

فرانسې دُ طرف نه دَ کلکتې دَ هغې کسانو په نوم وو. چه دَ انګریزي طرزِ حکومت نه بے زړه شوې وُو. هغوئ ته اپیل کړے شوے وو. چه په دے نازک وخت کښې دَ هغوئ مدد اوکړي. چه دَ انګریزي حکومت ختم کولو دَ پاره کوم کاروونه جاري دي.

عظیم الله خان په خپل ظاهري مقصد کښې خو کامیاب نه شو. دَ نانا راوَ پیشوا درخواست نامنظور شو. لیکن دَ عظیم الله خان دَ یورپ سفر او بین الاقوامي تعلقات، دَ هغه په خیالاتو کښې یو ترقي انقلاب دا پیدا کړو - او دَ بستاپول په جنګ کښې هغه اولیدل چه دَ انګریز خواتان شکست خوړی - نو دَ عظیم الله خان زړه له دَ بیداري هوا جوړه ورکړے. عظیم الله خان ته دا هم معلومه وه. چه دَ انګریزانو خلاف دَ نفرت جذبه دَ دنیا په هر ځائے کښې موجوده ده. او وخت راغے چه دا انګریزي زاغان دَ خپل ملک دَ ګلشن نه بهر کړو.

چه په ۱۸۵۷ء کښې دَ انګریزانو خلاف انقلاب پوره شو. نو مولنا احمد الله صاحب په خپلو فتوو دَ انګریزانو خلاف هر ځائے اور لګولے وو. عظیم الله خان خیال اوکړو چه اصل جګړه خو دَ مسلمان او انګریزانو ده. او مسلمان دَ آزادي دَ جنګ میداني ځوان دے. خو که



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هندوان دولتمند ځان سره ملګری کړم ۔ نو دا به لوئ کارادشی ۔ ځکه چه د انګریز د لاسه هندوان او مسلمان یو شان زپلی شوی وو ۔

عظیم الله خان استنبول کښې روسی سفیر سره هم اولیدل ۔ اود روسی اشرانو سره د خبرو اترو نه پس د عظیم الله خان په زړه کښې په لویه پیمانه د آزادئ د جنګ جذبے راخونه بدل کړل ۔

مشهور انګریز مورخ مسمتر کے نیکی چه داکیدے شی چه عظیم الله خان د روسی اشرانو سره خبرے اترے کړے وی ۔ په دے وجه چه یو خوا روس د کریمیا جنګ ارنمت نو دے سره په هندوستان کښې انقلاب پیدا شو ۔ او روسیانو ته ډیره فائده اورسیده ۔

عظیم الله خان د آزادئ د جنګ د یو ډیر لوئ مقام خاوند شمیرے شی ۔ د عظیم الله خان دا کار هرګز د هیرولو نه دے ۔ چه هغه استنبول (قسطنطنیه) نه لاړو او د روسی سفیر سره ئے ملاقات اوکړو ۔ د خپل بادار نانارائو پیشوا سره د انګریزانو خلاف اولس کښې بیدارئ پیدا کولو په غرض لکهنؤ او ډیلی ته لاړو ۔ چه د سرمایه دار هندوانو همدردی حاصل کړی ۔ د شپې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د روکښې د اوده صوبه تازه تازه په انګريزي قلمرو کښې داخل کړې شوې وه. په دے انقلابي کارکښې عظيم الله خان تر ډيره حده پورے کامياب شو. هندوستاني رياستو چه اکثر د مسلمانانو وو، ټول په خطره کښې وو. عظيم الله خان پښتون د انګريزانو د وطن آزادولو د پاره د هندوانو بنه کار واخست.

که يو خوا ته مولنا احمد الله شاه صاحب په خپلو تقريرونو د انګريزانو خلاف يو لوی محاذ جوړ کړو. د جهاد د پاره تبليغ تقرير او تدبير يو جوش په وطن کښې پيدا کړو. او د غزا جذبے په مسلمانانو کښې خوره کړه. نو بل خوا ته د پښتون عظيم الله خان تدبير او انقلابي جدوجهد په وطن کښې يو اور اولګاوو.

يو ځل خو مولنا احمد الله شاه د سهارنپور ترخوا محمدی نوم ځائے کښې د خپل حکومت اعلان هم اوکړو. يو رياست جوړ شو. او دا سيکه د مولانا په نوم جاري شوه. د عظيم الله خان په حسن تدبر

"سکه زد بر هفت کشور خادم محراب شاه
حامی دين محمد احمد الله بادشاه"

د جنګ آزادئ دا بهادر سالار مولوی احمد الله شاه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یوغدار راجه ګجن ناته سنګه په ټکلی شهید کړو. او د هغه مبارک سرې د شاه جهان پور د مجسټریټ په پښو کښې ګذار کړو. چه هغه پیرنګې د ماسختن روړې ته ناست وو. ـــه

"دا قام ئې کړلو خرڅ او څه ارزان بې قیمت"

مسټر جان کے اے یو مورخ وائی چه دیو محب وطن نښه داوی چه هغه دِ د هغې غاصبانو خلاف د جنګ نقشه تیاره کړي. او جنګ دِ اوکړی چا چه د هغوئ نه آزادی شوکولی وی. نو د ایمان خبره داده. چه دا مولوی یقیناً یو لوځ محب وطن وو. د هغه توره په بې ګناه بانده پورته شوې نه وه. هغه د چا په قتل کښې برخه نه وه اخستې. هغه په ډیر عزت مردانه وار په مړانه د جنګ میدان کښې د هغه غیرملکی خلقو په مخالفت کښې توره پورته کړه. چا چه د هغه په وطن قبضه کړې وه. د هر قوم د بهادر او حق پرست خلقو دا فرض دی چه د مولوی احمد الله شاه او عظیم الله خان نوم په ډیر عزت سره یاد اوساتی."

قیصر تواریخ لیکی چه د آزادئ په غزا کښې اووه ویشت زره مسلمانان شهیدان شو. او مجاهد اعظم بریالی ننګیالی پښتون عظیم الله خان خیل وطنی فرض په ډیره مړانه ادا کړل. او خپله سرې د آزادئ محبوب نه قربان کړو.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لاسل کلونه دَ هند دَ پاکستان دَ بدقسمتۍ پاتے وو۔ او په دے وطن دَ انګریزی دورِ حکومت دَ پاره لا وخت وو۔ نو غازیانو که هرڅو مره قربانۍ اوکړے وے شکست ئے اوخوړو۔ او دَ دے نه پس چه کوم وخت انګریزان بے خطرے شو۔ او دَ مسلمانانو سره ئے څه سلوک اوکړو۔ هغه دَ پاکستان او بهارت دَ تاریخ یو خونی باب دے۔

دا قوله نتیجه دَ مسلمانانو په منځ کښ دَ بے اتفاقۍ په سبب بده راووخته۔ او هرکله چه مسلمانانو وغیره سل کاله پس دَ غلامۍ احساس اوکړو۔ او پښتون قوم دَ قربانۍ په تلی کښ سر ایخے دَ عمل میدان ته اودت نو بیا نه دَ انګریز نښه شته او نه نوم نشان۔

هنګام دَ بیداریځ دے اے پښتونه شه بیدار
دا وخت دَ تیارۍ دے اے پښتونه شه تیار
قومونه را غونډیږی ورکوی یو بل له لاس
یونه ئے اے پښتونه ستا ملت دے تار په تار
قرآن په لاس کښی داخله دَ اسلام شال ستا په سر
میدان کښی دَ عمل کیږده قدم لکه سالار
ژوندون دے دَ اسلام په روړولیځ کښی ربنتیا
پښتونه! په پښتو، پښتو نولیځ که ځان جرار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

### ښکیالی پښتانه

تار تار ژوندون کښې مرګ دے ځان که پوهٔ په حقیقت
راغونه شه توت یو که ئې راغلے دے مستانه وار
داېو نکته د زړه په لوح که بیک د هـلالی!
ژوندون په اتحاد کښې دے دایادره بار بار

---



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# جرنیل غلام غوث خان

دے ګلزار پښتو او ګل هر لښتون ځوان
دے ګلونو کښې دے ګل غلام غوث خان

د ۱۸۵۷ء د آزادئ جنګ کښې د پښتنو کارنامے د زمریه شان زلق وهی - جرنیل غلام غوث خان د کښو هغه ټکیالے او توریالے بهادر دے - چه د جهانسئ د جنګ آزادئ تاریخ به د هغه په ذات تر تیا منه فخر کوی -

جرنیل غلام غوث خان د مهمندو نه بر د کښو پښتنو نه یو وے سیال پښتون دے - نور تاریخی حالات ئے مونږ ته رسیدلی نه دی - چه د چا ځوئے، چرے او کړد سے دے - البته دومره معلومه ده - چه د جهانسی راجه ګنګا دهر راؤ سره په فوج کښې دے نوکر شو - د خپل قابلیت لیاقت او شاندار سپاهی توب د توپخانے جرنیل کړو - د ټول ریاست فوځونه او توپخانه د جرنیل غلام غوث خان د کمان لاندے ووه - بهادر هغه دے - چه د هغه د مړانے ستاینه دښمن هم اوکړی - د جرنیل غلام غوث خان او مهارانی جهانسی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# شکیالی پښتانه

د توری شجاعت مړانې، بهادرۍ او قربانۍ صفت نیږنګیانو هم اوکړو۔

د ۱۸۵۷ء د آزادۍ د جنګ په نوم خاورو او وینو کښې لړلی بې شماره بابونه لیکلی شوی دی۔ د آسمان نه د وینو باران اوورید۔ دهلۍ نه پیرنګیان چاپیره وو۔ بنارس د انتقام د اور لمبو کښې سوزیدو۔ کانپور او سکندر باغ د لکهنو کښې قتل عام جاری وو۔ زرګونه ځوانان د آزادۍ نښان په لاس پورته شو۔ او سترګی شو۔ ښارونه سوی سوخته او ډایرو ویرانونه شول۔ لکهنو، بریلی، بانده، فرخ آباد ورانیدل آخری معرکه د جهانسۍ وه۔ یوه شعله پورته شوه۔ او دې رڼا کښې د جهانسۍ رانۍ او د جرنیل غلام غوث خان ذات وو انګریزی جرنیلان او انګریزی مؤرخان یو شان د مهارانی جهانسی او جرنیل غلام غوث خان په مخکښې د ادب سرښکته وینو۔

د ۱۸۵۷ء دا هیرو د خپلې دانائۍ، دلیرۍ، انتظامی قابلیت جنګجوۍ په وجه په تاریخ آزادۍ کښې په تل پلوشې کوی د جهانسۍ د رانۍ نوم منو بائۍ وو۔ چه واده شوه۔ نو د لکشمی بائۍ په نامه یاده شوه۔ د راجه ګنګادهر راو ځوئ نه وو۔ هغه د خپل خاندان یو هلک په ځوئ اومنو۔ او د مرګ نه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څو ورځې اول وائسرائے هند لارډ ډلهوزي ته ئې هم خبر ورکړو۔ خو ډلهوزي داهلک وليعهد تسليم نه کړو۔ د فرنګيانو اراده دَ رياستونو ختمول وو۔ ځکه ئې انکار اوکړو۔ چه ګنګادهر راؤ مړ شو۔ نو انګريزي کمپنۍ سرکار پنځه زره روپۍ تنخواه بائې ته دَ مياشتې وظيفه مقرر کړه۔ دَ خاوند ذاتي جائداد دراني په ولقه کښې وو۔ او په تلاره قلاره دَ رياست انتظام خپل لاس کښې اَخستو۔

دکمپنۍ سرکار په دے فيصله دراني په سنړګو کښې وينې داکوزے شوے۔ وے په ډيره هوښيارتيا سره ئې راز په زړه کښې پټ اوساتلو۔ او دَ وخت په انتظار وه۔

دجون مياشت چه دَ بره شوه۔ جهانسۍ کښې دَ انګريزانو خلاف دَ جهاد ميدان تود شو۔ نو انګريزي جرنيل ”سر هف روزيه“ دَ دے مورچے ماتولو دَ پاره جهانسۍ ته روان شو۔ د انګريزي فوځ اعلىٰ کمانډر سرلولن او وائسرائے لارډ کننګ خپل جرنيل ته هدايت وو۔ چه اول راجه چرکاري دتانتيا ټوپي د مينځ نه آزاد کړه۔ وے جرنيل سرهف روزيه ته لويه خطره جهانسي کښې ښکاريده۔ نو برطانوي فوځ ئې جهانسي ته ورانده شو۔ لاره کښې په دے ليد و حيران شو۔ چه انګريزي لارے بندے شوے وے۔ او لوئې لوئې وُنے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

غوښے شوے دَ سرکونو ځکښې پرتے وے۔

د جرګانسي دا نیځ په خپله دَ فوځ کمان کوو۔ جرنیل غلام غوث خان د تو پخانے انتظام دَ یوځ لړی په طورخپل لاس کښې ساتلے۔ او تو پخانه په هر محاذ دَ خپل فوځ حفاظت او د دښمن هلاکت دَ پاره تیاره بیداره او مستعده وه۔ راڼی په خپله میدان نه اوونه۔ جنګ نه ملا تړلے۔ دَ سرو جامے اغوستے، لو پټه ملا نه تاو کړے توره ترغاړے دَ پاسه کوټ۔ په سرخوټیے۔ دَ اس دا سے شهسواره چه نارینه ورته حیران۔

د مارچ دَ میاشتِ په ۲۳ تاریخ دَ جنګ نغارے له ډنګ ورکړے شو۔ انګریزی فوځ په قلا باندے دَ شپیتو شپیتو پونډو دَ توپے ګولے اوورولے۔

جرنیل غلام غوث خان دَ انګریزی تو پخانے خولے دَ خپلو توپونو په توت ادبے پناه ګوله باریٔ باندے ماتے کړے۔ دَ توپونو ګولے دَ شپے په توره تیاره کښې داسے معلومیدے لکه دَ اور ګولی دَ آسمان نه وریږی۔ د غازیانو دلښکر قیادت جرنیل غلام غوث کولو۔ دَ جرنیل غلام غوث خان ډیر لوځ قابلیت ا ر جنګی مهارت دَ پیرنګیانو نه روګډ ر دهیر کړل۔ کله به دَ پیرنګی پلو درروند شو۔ او کله به دَ جرنیل غلام غوث خان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لښکر غالب ـ که سحر به دے مورچه جنګ ـ نو ما ښام به هغه مورچه غورزنګ ـ ښن به دے سنګر د غزه ـ او صبا به به هغه ډګر کفار د برشو ـ

انګریز سره د تجربه کار فوځ، بهترین وسلے، او خپلے انګریزی شیطانئ، د دے هرڅه باوجود د جرنیل غلام غوث خان جنګ چه د آزادئ جذبه د دنیا د هرڅه نه زیات طاقت دے ـ دے سره جرنیل غلام غوث خان هره مورچه سنبال کړے وه ـ او د هرے مورچے نه به ئے به انګریزی فوځ باندے صفونه ماتونکے حملے او او جوابی ګوله باری اوکړے ـ

دا جنګ ښه ورزے جاری وو ـ د جهانسی امداد له د تانتیا توپي ۲۲ زره لښکر راغے ـ خو دے فوځ له فیرنګیانو د "بتوا" دریاب په غاړه شکست ورکړو ـ پنځلس زره انقلابی ځوانان د آزادئ په ناوے قربان شو ـ د تانتیا توپي، توپونه د انګریزانو لاس ته را غله انګریزانو ښوزله په قلا د ورختو کوشش اوکړو ـ ډیر جرنیلان او افسران د جرنیل غلام غوث خان د لاس نه د زمکے تل ته اورسیدل ـ او انګریزی فوځ بیا شکست اوخوړ ـ

دلته بیا رشوت اثر اوکړو ـ غداران پیدا شو ـ او د قلا په یو یه دروازه انګریزانو قبضه اوکړه ـ اوس د جنګ میدان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تود شو. او آخري منزل ته اورسید. انګریزانو خپل ټول زور دے طرف ته کړو. نو تباه کوونکے جنګ اونښت. دے جنګ کښې انګریزي فوځ هم ډیرے شو. دے غازي او ننګیالي جرنیل غلام غوث خان هم دَ شهادت تاج په سر دَ اجل جام نوش کړو. بهادر سردار خدا بخش هم شهید شو. په جهانسي اور پورے شو.

دَ جهانسۍ راني دلته نه یو هونه فوځ سره کالپي ته لاړه. سر ولیم روز ور پسے هلته لاړو. جګړه اوشوه. کنیځ پوره کښې جنګ اوشو. بیا راني ګوالیار پورته لاړه. تانتیا ټوپي ګوالیار فتح کړو. دلته آخري جنګ اوشو. راني جهانسي ویستلے توره په انګریزي ښنګرو ګډه شوه. او دَ توریالو ځوانانو په شان ځانِ حق ته اوسپاره. سه

زه یم مسلمان — قانون دَ خدایٔ قرآن
ملت م دے پښتون — په نوم پښتون افغان
مذهب م دے اسلام — رسول آخر زمان
مشرب م آزادي — او خوئ لرم دَ ځوان
خیلواک زما منصب — آزاد لرم ایمان
لعنت په غلامۍ — خیلواک نه شم قربان
زما دَ قوم تاریخ — په وینو دے روښان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټټیالی پښتانه

زما قومی ژوندون　　بې داغ دے تر جهان
پښتون دے عظیم قوم　　پښتون عظیم الشان
پښتون عظیم ملت　　پښتون مرد میدان
پښتون لوئے ټټیالے　　پښتون صاحب قران
پښتون لوئے بریالے　　پښتون فاتح زمان
پښتون تردہ رچا جهک　　پښتون رفیع الشان
پښتون په خوئ اوچت　　پښتون لوی پالوان
پښتون وعده وفا　　پښتون پوخ په پیمان
پښتون د سیالو سیال　　پښتون پوخ مسلمان
پښتون پښتو نولی　　ښه ښکاری په جهان
پښتون پښتو ښیت　　سرګنده په اوطان
پښتون که شی راغونډ　　سیال نه لری دځان
وحدت کښی د پښتون　　فائده د دین ایمان
یو والے د پښتون　　اوچت به کړی قرآن
غیرت د پښتنو　　اسلام به کړی روښان
جرأت د پښتنو　　پامال کړه دښمنان
همت د پښتنو　　ګټلے هر میدان
قوت د پښتنو　　دښمن کړلو حیران
هیبت د پښتنو　　دښمن لری لړزان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

اسلام او پښتانه — تفسیر دَ یو بیَان
پښتون په اسلام ناز — دے کړے په هر آن
اسلام بانی پښتون — قربان دے هر زمان
اسلام په پښتنو — کړی فخر په اوطان
پښتون په اسلام ناز — همیش کړی په ایمان
که بس اے هلالی
په ورانډے دا بیان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)



...ستان له آزادی او نجات ښونکے اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تنکیالی پښتانه

# شهید

# اعلیحضرت نادرشاه

تنګ غیرت پښتو په قام وطن قربان
دا اوصاف لري بس یو نادرشاه خان

که د امیرالمؤمنین فاروق اعظم حضرت عمر رضی الله عنه د خپل قام په خوار غریب مین۔ لکه د مصطفٰی کمال خپل دانه وانه قام را غونډ و نکے۔ لکه د عمر بن عبدالعزیز مساوات خوروونکے۔ لکه د سلطان صلاح الدین برياليے۔ لکه د احمد شاه بابا په پښتون مين۔ لکه د شیرشاه سوري پښتون ژوندے کوونکے۔ لکه د شهاب الدین غوري اسلامي بدل اخستونکے غوک؟

امیرالمؤمنین، پښتون شهنشاه جلالت الملک اعلیحضرت

محمد نادر شاه شهید

هغه د لوئ شان او مرتبے خاوند دے چه پښتون قوم به تل د هغه ذات او صفات باندے فخر کوي۔

د تنکیالی پښتنانه! لیکلو مقصد یو او صرف یو دے۔ او هغه دادے چه د پښتون قام اسلامي جوش۔ د پښتنو جذبه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ پښتونولۍ ننګ اوغیرت راښیي او کړے شي - او دَخپل نزدے تاریخ دَ ننګ او سیالۍ دَکاروونو نه خبردار کړے شي - دَ دے سره ورته هغه نور اړخ دَخپل تاریخ او دَ پښتونولۍ په مخ نوردا غونډه هم ښکاره کړے شي - چه وخت په وخت دَ دے قوم دَ ځینې نااهل خود غرض او په ځان مینُ خلقو دَلاسه دَقامي تاریخ په لمن ایښي شوی دی -

یوشمان دی خوې خصلت کښې سفاکان او خونړین
دَ یو نوم که چنګیزوو نو دَ بل نوم وا ئنګرېن

دَ امیرشیرعلی خان نه پس یعقوب خان افضل خان - عبدالرحمان خان او حبیب الله خان دَ افغانستان پرله پسے امیران شو - دا قوله موده دَ پیرنګی او پښتنو ترمینځه په اخ او ډب کښې تیره شوه -

په ۱۹۱۹ء کښې دَ فروری میاشت په ۲۰ ۱۹ شپه جلال آباد کښې امیرحبیب الله خان قتل شو - جلال آباد کښې سردارنصرالله خان دَ بادشاهۍ اعلان اوکړو - او کابل کښې امیرامان الله خان بادشاه شو دا نوے دور دَ پښتنو دَ آزادۍ وند دَ پاره یو شاند ار آغاز وو ــــ دَ افغانستان حکومت دَ پیرنګیانو سیاسی بند ونه دانه دانه کړل - دَ خپلواکۍ اعلان اوکړو - دا اعلان دَ پښتنو او پیرنګیانو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

ترمینځه د دویم جنګ شروع وه۔ د افغانستان د هر کوټ نه د خپلواکئ چغې اوچتې شوې۔ د وطن هره ذره د خپل واکئ په نور اوږ لغیده۔ په ځوانانو کښې یو نوے ژوند راپیدا شو۔ د لویو او وړو په خوله کښې د خپلواکئ داسندره وه۔ سه

د الله عظیم نعمت دے خپلواکی
بزرګی او شرافت دے خپلواکی
خپلواکی د انسان لویه درجه ده
د انسان قوت عزت دے خپلواکی
بے واک تام څه دے د خرو سپو نه تیر دے
د انسان قوت شوکت دے خپلواکی
خپلواکئ باندے پښتون ځکه مین دے
چه د تام ناموس اوچت دے خپلواکی
پښتون ځکه خپلواکئ نه نر ساتیګی
سر چینه د هر دولت دے خپلواکی
خپلواکی قرآن یادکړے په نعمت ده
د الله پاک خلافت دے خپلواکی
هلالی! غلام دے سپے ذلیل او سپک دے
په تامونو حکومت دے خپل واکی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکیالی پښتانه

دَ آزادئ اعلان سره پښتنو زلمو کښې یو نوے جوش نوے ولوله نوے ژوند او نوے زلمیتوب پیدا شو۔ په پیرنګیانو اول ګوذار دَ شنوارو سنګوخیل قبیلے زرشاه نومے زلمی په ۳، مئی سنه ۱۹۱۹ء کښې اوکړو۔ بله حمله په لنډی کوتل اوشوه

انګریز کله دا خبره خوښه ؤله
دَ هغه خپله خدائی په دے کښې تلله

دَ افغانستان دَ طرف نه دَ خپل واکئ اوآزادئ اعلان یو ناسابی تند روو چه دَ نوی ډیلی او لندن په ورو مانړو باندے پریوتو انګریزی اقتدار کښې زلزله پیدا شوه۔ پیرنګیان دلکئ غوسے نه په شان تاؤ را تاؤ شو۔ په ۴، مئ شنوارو دَ لنډی کوتل دَ اوبو سلسله برباد کړه۔ انګریزان هیر حیز بیز شو۔ او دجنګ اعلان اوکړو۔ سه

پیرنګی اوکړلو بیا اعلان دَ جنګ
نه دے پوئ پښتون به ئے کړی په ویښو رنګ
دَ پښتون په غاړه جغ دَ غلامئ بۀ دی
تیرا آخلی او کا بل نه کړی غوزرنګ
خپل قوت نه دے مغرور لتے به ؤخوری
دَ پښتون تیغ به ئے کړی غوس لګه باد رنګ
دَ پښتون په غیرت بیا انګریز چپاؤ کړی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

بیا آزمېښت کړی د پښتون ملت په ننګ
د اسلام عیسائیت سره بیا جنګ دے
پښتانه به زړه نه او باسی بیا زنګ
د زمرو په شان غرمبېږی پښتون تام
په دښمن باندے کوی د توری شرنګ
په عزت د خپل وطن بیا فتر بانېږی
د آزاد پښتون د مرګ نه ګڼړی ننګ
هلا چې که پښتانه چرے یو ځائے شی
بیا به ئې هر قام د پښتون د دړ ملنګ

د آزادئ شمع مخ سرګند کړه. په خپلو نورانی پلوشو ئے چاپېره ملک رڼا کړو. پښتنو شاه زلمو سرونه په تلی کښې ایښی د آزادئ محبوبه ته وړاندے کړل. د افغانستان د طرف نه د کوټه او چمن د پاره سردار عبدالقدوس خان صدر اعظم او دګه او لنډی کوتل د پاره سپه سالار صالح محمد خان او د خوست په طرف د تل پاره چنار. او کرهان د پاره سردار سالار محمد نادر خان مقرر شو. د دوئ مقابلے د پاره د انګریزانو د خوا نه د پاره چنار په طرف لفټیننټ کرنل جے ویلز پی ایس او. د ډکے په طرف جرنل سر اے بیرټ او د بلوچستان په طرف لفټیننټ جنرل آر. وا پ شیر مقرر کړے شو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دکابل با قاعده فوځ او غازیان سر په منګل هر محاذ ته روان شو۔ ذ ایمان او غیرت جذبے ذ غازیانو سینو کښې موجونه وهل۔ پښتانه ملاتړلی ذ اسلام بیرغ په لاس ذ الله اکبر په نعرو مست هرے مورچے ته ورسیدل۔ دا سے معلومیدل چه ذ پښتنو ځوانانو ذ ایمان او غیرت په سمندر کښې بے پناه موج راپیدا شو۔ ذ خپلو اکئ ترډے وینو دشان زلمو ګونه په موجونو کړل۔ ذ وطن مینے او مشق نارینه او زنانه دواړو کښې ذ جنون جذبه پیدا کړه۔

پښتنو میاندو خپلو ننګیالو ځامنو ته سرونه غوړه او سترګے تورے کړے۔ ټوپک په لاس او ګورډنئ ورنه په غاړه کړه۔ خویندو ذ خپلو ورونړو نه بیا بیا بلا واخستے۔ او ذ سیالو پښتنو یادګیرنے تازه ساتنے ذ پاره میدان ته ئے رخصت کړل۔ تازه واده شوو ناوو ذ ګلونو لختے خاوندانو ته توره ټوپک کارتوسونه راواخست۔ او په آخری دیدن باندے ئے سترګے خوږے کړے۔ او خدائے په امانئ کښې ورته اوفرمائیل:- ے

بیرغ ذ فتح په لاس راوړے

په ځومنه ماله او مبارکئ لره را ځینه

سر په منګل توره راواخله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

لکه زمرے په انګریز وکړه ګذارونه
که د وطن په ننګ شهید شوے
زه به په جونو کښې او چتے سترګے یمه!
پښتانه مری د ننګ میدان کښې
په وطن جنګ وے شاه زلمی په میدان لاځینه
د جنګ میدان کښې چه شانګړے
هسے نه مانه جو نه دکړی پیغورونه

په افغانستان د آزادۍ نمر را ختلے وو- یو یو تبرے
د آزادۍ په نمر زلفیده - د قندهار په سنګر - ابدالی
سدوزی - محمدزی - کاکړ - هوتک - او اچکزی
خیلونو د سردار عبدالقدوس خان بیرغ لاندے
چمن او کویټه کښې زلزله پیدا کړه -
صافو - مهمندو - شلمانو سنګو ارو - افریدو - او
خوګیانی ننګیالو لنډی کوتل او خیبر وچړقول - سه

حیران لری خپل ځان ته سکندر دهغه خیبر
په غیب کښې لوبه دی نمری زړه ور دهغه خیبر
هریو تورپال بریال د خیبر خپو کښې الښے سو
چه پورته نر آسمانه لری سر دهغه خیبر
چه هر سپرے غیب کښې یو ژوندے نری تاریخ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دهر لوئ انقلاب دے سر دفتر هغه دفتر
په ترو منز ورغو کښې دَ دے کرځی منزری
سر کوز ورته سکندر تیمور بابر هغه خیبر
زرګونه کاله تیر شو دے خیبر آزاد چپاوک
دهر چا ورته ویښ بخکلته سر هغه خیبر
دګرد په شانِ تیر شو طوفانونه پرے زرځل
وقار ساتی روښان لکه دَ نمر هغه خیبر
پښتون بچے آزاد لکه زمرے دے هلالی
مرحب دوه روله کړو علی حیدر هغه خیبر

ملاخیل - سلیمان خیل - منګل - ندران - طوری - غلجی
وزیر - مسعود - بیټنی - توریالی غازیان دَ ادګو منزرو
په شان دَ سردار سپه سالار محمد نادرخان کمان لاندے
په انګریزی رمو با ملګور خلاص شو - پاره چنار ادتهل څه
چه دَ کوهاټ عزونه دَ پښاور تصی امارت اودَ دهلی
دیوالونه او لړزول -

په ۴ مئی انګریزانو دَ باقاعده جنګ اعلان اوکړو،
داخل ټول قبایل دَ چترال نه تر وزیرستان پورے په
غزا کښې شریک اودَ پیرنګیانو خلاف په یو آواز میدان ته
راؤوتل - دَ هر کمانډار صالح محمد خان دَ انګریز مقابله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالې پښتانه

ارنګړه - اوپه چره زخمي په تېښته ځوګیس کابل ته لاړه چه میدان نه سالار اوتښتید. - نو ننګیالو پښتنو د پښتو ننګ او غیرت مړانې نقشه دنیا ته سرګنده کړه - خپلې سینې د انګریزانو ګولو ته وړاندې کړې - د پښتنو ننګیالي ځوانان په وسله آراسته د ایمان په نور ښایسته د غیرت په وینو ډک د اسلام په جوش بې هوش د وطن په مینه مست د قندهار او ډګ په میدانونو کښې داسې ترانه وې - سه

لوې په سر کوم دښمن پسې روان یمه زه
ځمه پښتون ځوان د میدان ځمه افغان یمه زه

ځما تمامي تاریخ کښې شروع سرکیدلې کښې
دغه جذبه ده د پښتون په هر رګ کښې
د جهاد جوش دې د پښتون په هر عالم جهان کښې

دښمنه وار اوکړه را وړې په میدان یمه زه
ځمه پښتون ځوان د میدان ځمه افغان یمه زه

پښتنې مورګوټي راکړې د غیرت په سینې
ما د ننګیالې پښتنې اوده نه تخکلي دي پېې
د وطن خاورې نه قربان شه د وطن اشرفې

د خپل وطن د آزادۍ په نوم قربان یمه زه
ځمه پښتون ځوان د میدان ځمه افغان یمه زه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټکیالي پښتانه

ځما زلمو ګټنه ار خوړلي چرې نه دي په شا
دښمن له غیبه په عیبه ورغلي هر ځلې دې ځما
یا مري په خپله یا دښمن ځانه کړي وړاندې فنا
دښمن د پاره قهر تندر او طوفان یمه زه
هغه پښتون ځوان د میدان هغه افغان یمه زه

د آزادۍ غزاله وتي ټکیالي پښتانه
ښکاره دنیا ته به د خپل قام کړي ټکیالي پښتانه
د دښمن سر ګټنړي په وس دا بریالي پښتانه
تاریخ نازیږي په ما فخر د دوران یمه زه
هغه پښتون ځوان د میدان هغه افغان یمه زه

د پښتون نژاد ښځې ټول ګڼي ایمان آزادي
پښتانه سرورکوي اخلي په مال ځان آزادي
د آزادۍ په جوش نعرې وهي قربان آزادي
تخت یا تخته وړاندې همیش په د پیمان یمه زه
هغه پښتون ځوان د میدان هغه افغان یمه زه

ځلمو د خپل قام په عزت دي نن قسم خوړلی
پښتون د خدای په جلالت دی نن قسم خوړلی
دې شاه زلمو په شجاعت دی نن قسم خوړلی
هر پښتون وائي په دښمن کښې په تالان یمه زه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

هغه پښتون ځوان د میدان هغه افغان یمه زه

د سر نه تیریم فتح تل ځما قدم ښکلوی
د ځوانمردانو د خپو تل فتح هر دم ښکلوی
زه یم غازي فتح په شونډو مې ګام سم ښکلوی
کفن په سرخ توره ترخنګ په عین قرآن یمه زه
هغه پښتون ځوان د میدان هغه افغان یمه زه

وایه د تام د ننګ سندرے دے نوبت هلالی
پښتون نه ډرانږ وړانږ که تامی غیرت هلالی
تازه پښتون کښې لوه شوق د شهادت هلالی
کړه اعلان چه د پښتون تام ترجمان یمه زه
هغه پښتون ځوان د میدان هغه افغان یمه زه

ننګرهار په مورچه سردار عبد القدوس خان صدر اعظم په فیرنګی توځ یو قیامت جوړ کړو. د صدر اعظم ځوی سردار پاینده خان انګریزي علاقه هندو باغ کښې تالان جوړ کړو کوټه چمن او سیبوی ټول په زلزل شو.

جنګ په داسے انداز شروع شو. چه د توپو غوړے سود الوان شوے. ټوپکو نه د ډیر تاؤ نه اوچاؤدل. هوائی جهازونو په رومبی ځل په ډکه، لال پوره، چارډهی او د جلال آباد په خواوشا د بمونو باران اوکړو. پښتنو شاه زلمو د زمرو په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالی پښتانه

شان سینے ایستلے هرکله ارته ځانونه ډال کړل. هرځلمی بل ته غښ اوکړو. سه

دګوره کابل مرغابۍ را غلے غازی پښتونه
شاباکړه جوړه په ګوره نیزه بازی پښتونه
ته سیال پښتون ئے، دبے سیال کانزه اونه تښتے
میدان کښې بیاکه راسرګنده شهبازی پښتونه
دشهادت مرګ کښې د ژوند دغه ژوندون خوږ که
ژوندون حاصل که په عقبیٰ امتیازی پښتونه
دشهید سرے وینے سپرلے په تمام وطن راولی
تمام شی ژوندے په وطن راشی نیمازی پښتونه
ددښمن سرله د منځ بال په شانے ورکه تندک
دښمن نه هیره د اسلام که غازی پښتونه
هغه لی دائ ستا نصیب شه د خالد رض برکت
شوکت ښکاره کړه بیا د پاک دین حجازی پښتونه

چه صالح محمد د مورچے نه او تښتید. نو کابل نه محمود سامی بغدادی جرنیل شو. دا سړے د صالح محمد نه هم نابوده، کم همت او پست حوصله وو. په څه حیله ئے ځان کابل ته ورسو پښتانه خوانان د غزا امر چونه پړاته وو. پښتنے میرمنو د جنت ګټلو کښې هغه مړانه ښکاره کړه. چه د اصحابانو رض بیبیانو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دیارلس سوه کلونه پس دَ غزا یاد تازه کړو۔ دَ بدر۔ احد۔ خندق خیبر۔ تبوک۔ یرموک۔ ایران او روم مید انونوکښې دَ اسلامی جوش او تاتی غیرت ننداره دنیا نه ښودلے وه۔ نو دے پښتنے مینې منو دَ توپونو او رشینو لوکښې غازیانو له پورې، او به ادکارتوس رسول۔ او دَ جنګ میدان کښې خپل فرائض دغه ننګ اداکول۔

دَ خوست په سنګر دَ غازی سردار سپه سالار محمد نادر شاه خان دَ کمان لاندے دَ پښتنو دغه ځوانان داغونه وو۔ چه دهریو پښتنو دَ انګریزی تهینګ جواب وو۔ ځوانان وو۔ که دَ ایمان ګرکے۔ دَ غیرت فنیږی۔ دَ پښتونولئی غزونه په ګړو اسره په ملی اتنړو دَ توپکونو په رقص مست ځوانانو دلسبنکر دا سے رجز وے۔ سه

خپلواک یم دَ وطن په آزادئ ورکوم سر
زه یم خدائی لښکر
دَ خپو لاندے به چیچنړی کړم دَ الله دښمن کافر
زه یم خدائی لښکر

ځما هم دے پښتون پښتونولی ځما ایمان
اسلام دے ځما دین نړم قانون دَ خدائی قرآن
چونکه خاوره دَ وطن نه ورکوم په ټول جهان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

سیلاب د دښمن دپاره یم دښمن به کړم کسکر
زه یم خدائی لښکر

یم هغه ځوان د نورو په برېښنا کښې شو لوی
په قدر او قیمت د آزادئ باندے یم پوی
د ملک په هر سنګر به د دښمن وینے کړم توی
دښمن دپاره یم خالدؓ، طارقؒ، علی حیدرؓ
زه یم خدائی لښکر

ګوتې ماله راکړے خپلے مور ده د غیرت
ځما ژوند د غازی دے مرګ یم د شهادت
ګڼدا په سینه آغلم دا ځما د قوم صفت
طوفان یمه دښمن له غوښوم د ده ځیګر
زه یم خدائی لښکر

ځما د صف نه تښتي چه بیرګی څوک په ځان
چه قتل نه شي نه مرے ځما قام نه هغه ځوان
ځما د قام نه زیات د هیچا نشته شهیدان
غزا توره میدان ځما د قوم دے دا جوهر
زه یم خدائی لښکر

ځما تاریخ روښانه دے تمام په ځوانمردی
ځما د قام تندے نه لري داغ د نامردی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څه وينې شينديل شي د وطن په آبادی
کافر څه دی؟ څه په پښتو کښې سر دی د کافر

زه يم خدائی لښکر

هر يو پښتون ځلې ډک په ايمان د جلالی
دے ژوند د دے پښتون تام تر جلال کله خالی
څماتر جهانی کړې هميش وه هلالی
ژوند ے په ننګ غيرت په دے او صفايم لکه غر

زه يم خدائی لښکر

د غيرت او ايمان نه ډک - د مړانے په جوش بے هوش
د پښتو نولئ په سيالئ مست - په اتفاق وينو سرشار -
سردار سپه سالار غازی محمد نادر خان سر په منګل
د وطن آزادی تامی سيالی او چتو لو د پاره په انګريزی
لښکر د تندر په شان ور پريوت - پښتنو شاه ځلمو د
ګورګانو په ښکار ملا او تړله -
يو طرف د جرمنی د فتح په نشه مست انګريزی فوځ
دو - بل خوا ته د ايمان او يقين په نور زلق وهونکی غازيان
يو اړخ ته د يورپ مخ په ترقئ وسله جنګی ساز و سامان
بل پلوُ ته بے سرو سامانی د يوقوی الله آسره. يو طرف د
انګريزی فوځ دا اراده چه د افغانستان پښتانه د سياسی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جغ لاندے راولو۔ بل خوا ئے دا جوش چه دَآزادئ محبوب پېغمبر کښې ځان قربانه وُو۔ دَ غلامئ زنځير شلِه وُو۔ یوه خوا ته دَ توپونو دَ اور ګلئ دَرَوُلو سره دَ سرو سرو وینو انبارونه۔ رشوت۔ قوت۔ شوکت۔ او بل طرف دَ دیو غازي دا ایمان چه ؎

ورېبه ئے نه کړمه په ملک دَ مسلمانانو زهٔ
از غو ړکه دَ وطن دګیګر ساتنګه

انګریزي فوځ پاره چنار ته ګلو دَ پاره خیل ټول قوت ترنګی نه غونډ کړو۔ سردار سنبه سالار دَ ملا په تیرګندار درګه دَ وزیرستان په لاره دَ سپین دام نه تېر شوی ټل ته مخامخ ورسید۔ په ۲۸ مئ سنه ۱۹۱۹ء ټل نه چاپېره شو۔ انګریزي فوځ پنځوس میله پاس پاره چنار کښې پاتے شو۔ او غازیانو دټل قلا بنده۔ او دَ کوهاټ لاره غوسه کړه۔ دلته دَ ډېر هیبت نه انګریزي فوځ دکند رشاته پټ شو۔ دا سے لکه چه منګکان سُوړو کښې پټیږي۔

دا خبر چه دهلی ته اورسید و نولا رډچمسفورډ وایسرائے او بوکنید۔ چه دا څه اوشو۔ پښتانه بے وسلے بے سامان بے تربیته او دا نه مړانه چه ځمونږ فوځ دَل دَل کړه۔ انګریز دے چه پښتانه جوهد خالصے دل دی۔ خبر نه ور



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه دَ تولا دو نیسي دي۔ او دَ انګریز غاښونه به دا ځل مات کړي په تندۍ کابل ته خبر ورکړو۔ چه کورنۍ او بهرنۍ آزادي غواړي۔ نو ځکه ستا خواهش ته ځمونږ سر کوز دے۔ نور څه وائې؟

دَ افغانستان مرکز کابل نه سردار عبدالقدوس خان په توم قندهار ته او سردار سپه سالار محمد نادر خان په توم ټل ته حکم اوکړو چه جنګ بند کړي۔ نو سردار سپه سالار محمد نادر خان دَ پیرنګیانو کمانډر جنرل ډائر ته اولیکل۔

"ما ته دَ مرکز نه حکم راغلے دے چه جنګ معطل کړه ما جنګ بند کړے۔"

جنرل ډائر په ډیر غرور ورته اولیکل:-

"زۀ به په توپونو او ټوپکو تاله جواب درکړم۔ ستا کاغذ ما ډوډ نل کمانډر ته لیګلے دے۔ نور جواب به هغه درکړي۔"

په اته ویشتم مئ سنه ۱۹۱۹ء ټل فتح او جنګ بند شو۔ بیا په اتم اګست سنه ۱۹۱۹ء راولپنډۍ کښې دَ افغانستان او پیرنګیانو ترمنځه دَ روغې جوړې خبرې شروع شوے۔ سردار علي احمد جان دَ پښتنو دَ طرف نه۔ او سر  همفري  ډالبس دَ پیرنګیانو دَ خوا نه بحث کښې حصه واخستله۔ بیا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په منصورۍ کښې محمود طرزی او پیرنګیانو خبرې اوکړې او آخر کښې سرحدمزی د آلس په خپله کابل نه لاړو او په دې فیصله اوشوه۔

"چه پیرنګیان به د افغانستان په کار کښې بیالاس نه وهي۔ افغانستان چه چا سره تعلق ساتل غواړی آزاد دی"

او دا سے د غازی سپه سالار محمّد نادر خان په توره ګټلې آزادی پیرنګیانو د قلم په سُوکه هم اومنله۔ ــــ

واه جرنیل نادره! ستا کارونه دی نادر
اے غازی! راضی تا په هر کار کړو رب قادر
ستا د تورې برېښن که په زلزل زړه د انګریز
هډ دا شر نه اووت که هر څو مره وو خونریز
اے بریاله! تا چه قدم کېښود په میدان
هندایکی په زلزل شولو دهلی او انګلستان
تا په ټول جهان کښې د پښتون نوم که روښان
تا آزاد وطن کړو۔ نه ئے هسې ننګیال ځوان
ستا د تورې آب، جوړه د ملت کړو د مخ آب
ستا قوت، قوت د استعمار کړلو خراب
تا وطن آزاد کړو، ستا یادګار دے آزادی
ستا په برکت په پښتون تام شوه آبادی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

امان الله خان څه داسې نظام نامې جاري کړې. چه ملایانو پرې بد اوګڼل. خوست کښې بغاوت اوشو. جرنیل محمد نادرخان په خپل تدبیر دَ بغاوت په اورواوبه توئې کړې. تلاره قلاري شوه. خوحاسدانو دَ امان الله خان اوسپه سالار صاحب ترمینځه زړه بدآوے اوکړو. امان الله خان یو بد خشانی ولی محمّد وزیرحربیه اوسپه سالار محمد نادرخان دَ فرانس سفیر کړو. په سفارت کښې هم دامان الله او سفیر تعلق ښه نه وو. آخرداچه محمّد نادرخان دَ سفارت نه استعفےٰ ورکړه. څه موده پس سردار محمد هاشم خان اوسردار شاه ولی خان هم دَ فرانس ملک پیرس ښار ته لاړل. او دَ مشر رورسره دیره شو.

په ۷ دسمبر ۱۹۲۷ء امان الله دَ دنیا په سیل روان شو او په ۱۹۲۸ء دَ جون میاشت کښې کابل ته واپس راغے. دَ تلو په وخت هغه خپل جانشین ولی محمّد بد خشانی مقرر کړے وو. یوخوا ته دَ پیرنګیانو سفیر همفری اوبل خواته دغه پل غلط بد خشانی امان الله خان ته په ملک کښې دَ نفاق ډډون پیدا کړو. امان الله خان را تلو سره څه داسې کارونه اختیار کړل. چه قول اولس ئې ځان ته توره بلا کړو. ځای په ځای په ۸ نومبر ۱۹۲۸ء انقلاب راپورته



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شور دا شورش په ټول وطن کښې خور شو۔ سرکاری افسرانو او پیر ننګیانو دَ انقلاب اودرته چیلے لمنے ښتنځ کړے۔ او بچه سقاؤ لهٔ بیخ بیخ مدد ورکول شروع کړل۔

هغه وخت ما په پېښاور کښې "همدرد افغان" اخبار جاری کړے وو۔ پېښاور ته دا سے خبرونه دَ انګریزی سفارت دَ شرارت را تلل چه په ماځ اوربل کړو۔ ما خپل اخبار کښې پرله پسے مقالے او پیکلے۔ او نو خپله وسه ما بچه سقاؤ، او انګریزی سفیر همفری بربنډ او دُنیا ته ملامته کړل۔ په همدرد افغان کښې مایو نظم دا چاپ کړے وو۔ سه

خدایَ پښتون کړلو آزاد | په تا مونو کښې شو یاد
سنبه بیرغ ئے با مراد | شو اوچت په هر هیواد
دَ پښتون زړه شو لو ښاد | نوے کښنو د شو بُنیاد

اُف دا څه وشو فساد
اے پښتونه شوے برباد

دَ ښه به نه کړے تمیز | شو برباد وطن عزیز
دَ عزیز په لاس عزیز | ن مُتاز دے دَ دوانیز
نمیز نشته دَ هیڅ څیز | دَ میر من او دَ کنیز

هر څوک تام لره جلاد
اے پښتونه شوے برباد



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالي پښتانه

په آرام دے هریو تام      او په تا دے قتل عام
چور چپاؤ تالان دے عام      مقتدي او په امام
ټول پښتون شو بدنام      امریکه یورپ ترشام
جهان ښاد او ته ناښاد
اے پښتونه شوے برباد

دَ دښمن په شرارت      په لمسون او په رشوت
ن تا بایلله خپل عزت      ښه ناموس ښکلے شهرت
شوے دنیا ته ملامت      تو به ګارشه دا ساعت
ګنی ستا اړځی بُنیاد
اے پښتونه شوے برباد

راشه او نیسه سقاؤ      دے په زمکه کړه اړتاؤ
کړه دښمن په مخ لګاؤ      زړه نه اوباسه داتاؤ
له هرات تر هزاره ناؤ      دے نه کوز او پاس خرسناؤ
دا وطن که بیا آباد
اے پښتونه شوے برباد

راشه جوړه کړه داوران کور      خپل ځان مه شړ موه نور
تا خو اوسوه کلے کور      هیڅ خبر نه ئے په زور
په دُنیا ګښ دے یو شور      چه پښتون کړلو مخ تور
دا اور مه کړه دَ فساد



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

اے پښتونه شوے برباد

بیرغ واخله دَ پښتون　　بیا دَ جهله شه راستون
خپل حال وګوره زبون　　ملک برباد روان دے خون
دا سے کله کړی مجنون　　دا ستا حال دے نن پرون

چه خپل قوم له شوے جلاد
اے پښتونه شوے برباد

ته که غواړے خوشحالی　　شه دَ کور په سنبالی
جوړه کړه دَ تام سیالی　　لکه کاندی ننګیالی
ستا خوانان دی بریالی　　تا نه واڼ هلالی

بیا ودان که خپل هیواد
اے پښتونه شوے برباد

دَ افغانستان دَ کورجنګئ دَ اورلمبے شنے او سرے داسے لوخړے پورته شوے چه چا پیره دُنیا او دَ فرانس هغه هسپتال کښ چه غازی محمّد نادرخان ناجوړه صورت په کښ په کټ کښ پروت وو۔ دغه وکار جوړ کړو۔

چه دَ سړی په کور اور پورے شی نو بیا دَ ځان او جهان نه خبر نه وی۔ هم دا حال په غازی محمد نادرخان راغے ناجوړه صورت چه دَ وطن دَ سوزیدو، ورکیدو او سپکیدو نه خبر شو۔ نو کورا د کړ شو۔ یو ناسایه دکټ نه پورته شو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او خپلو رونړو ته ئې وے: "چه د خدائے روئ ته او ګورئ ځما په کټ په او ګورا خلئ. ما خپل خوږ وطن ته اور سوئ د وطن چغو ځما زړه نا قلاره کړو. د وطن مور ما ته په زوره زوره چغې وهي چه محمد نادره! چرته ئې؟ دا د سپینو غلیچکو. لوچک او بد لمنو خلقو تباه کړم. د وطن مور فریاد کوی. زه نور دلته ایسار یدے نه شم. که لاړه کښې مړ شوم نو پروا مه کوئ. زما مړے وطن ته اوړ سوئ. او د وطن د مور غیږے ته م وسپارئ. د وطن د نجات د پاره زور ور انګار ته ورد انګم. د سر په داؤ د وطن او د مړ کوم ځکه چه ځما قام پښتون ورکیږی. ځما په زړه اوربل دے. یا به په دے لاره کښې خپل سر قربان کړم. او یا به پښتانه بیا غاړه غړئ روږه کړم."

د غانړے پښتون محمد نادر خان د جذبات ترجماني ما دا سے کړے وه:-

سنګرے م د ویښ وَره وی زړه م پړهار وطنه
وطنه زار وطنه
اُف وُسوے ته د کورنی جنګ په انګار وطنه
وطنه زار وطنه
د ننګ نکړئ شوه د پښتون د سرنه خلکته ګذ اد



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

سبک شو په هر یو دیار
تالا تړغه کړے یو لوچک د اکو خونخوار وطنه!
وطنه زار وطنه
ډاړی ارواح د میرویس خان د احمد شاه ابدالی
د اکبر خان ننګیالی
چه پښتون خپل عزت په خپله کړ تار تار وطنه
وطنه زار وطنه
ځمادوی د احمدشاه غازی په توره قسم
چه بیرته نه بدم قدم
د سر په دو ګټم بالیلے ستا د قار وطنه!
وطنه زار وطنه
بیا پښتنو ځلمونه به دمه مخکښ ننګ د پښتو
چه اوکړی جنګ د پښتو
هر پښتون ځوان په یو ځل ستا کړم حزب ار وطنه
وطنه زار وطنه
ځلمو آخیستے ده د سر په قربانو آزادی
د استقلال آبادی
بیا په سرونو جوړ دم ستا بنه مینار وطنه
وطنه زار وطنه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه پښتون يوشي او هم پر يږدي دا فرقې خيالي
خوشحال به شي هلالي

چه غم بنا دي د پښتون يوشي په هر کار وطنه
وطنه زار وطنه

د روژې آخري ورځې وې - چه د پيرس بنار نه ناجوړه په عمر زوړ په اراده ځوان مرد ميدان سپه سالار محمد نادرخان پښاور ته را ورسيدو - اخوا کابل کښې امان الله خان په ۷، جنوري ۱۹۲۹ء د تخت نه کوز شه - او د ننګرهار نبيا د چمن په لاره انګلي ته لاړو - عنايت الله د کابل تخت او تاج بچه سقه ته او سپارلو - سقاو کابل ته راغے - او د جمعې په ورځ ۲۸، جنوري افغاني مياشتې کښې د خپلې بادشاهۍ اعلان دا سې او کړو - " امير بچه سقه حبيب الله "
د هغه رور حميد الله معين سلطنت - سيد حسين وزير جنګ - عطا والحق وزير خارجه - عبدالغفور وزير داخله شيرجان وزير د آباد - د "همدرد افغان" يو نظم ے

اے د آرام او خوشحالۍ نه ناآشنا وطنه
اے په دردونو او غمونو مبتلا وطنه
اے سرچينې د صداقت مهر و فا وطنه
اے بد نصيبه ګير غمونو کښې بيابيا وطنه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالی پښتانه

بے کس وطنه اے غریب اوبے نوا وطنه!
نافرارئ ستا په دښمن باندے را وسیئ فرار
ستا د سرو وینو په سرخئ مخ د دښمن لاله زار
د خپله لاسه ستا ځامن دی په هر خوا خوار و زار
داور لمبے دی گیر چاپیر ستا نه هر خوا وطنه
بے کس وطنه اے غریب اوبے نوا وطنه!
ستا د ځامنو رورولی او اتحاد څه شولو؟
ستا رونق څه شه ستا هر کور کلے آباد څه شولو؟
ستا د پخو د خر شمالئ دور که دا یاد څه شولو؟
د کربلا په شان نن ستا ده واویلا وطنه
بے کس وطنه اے غریب اوبے نوا وطنه!
اُف دا پښتون قوم خو د خپله لاسه کور ورانه وی
د حماقت په شراب مست دی دوئ په زور ورانوی
خلقو آباد کړه خپل وطن دوئ لا نور ورانه وی
ستا د زړه سرغوس دے په تا جوړه غوغا وطنه
بے کس وطنه اے غریب اوبے نوا وطنه!
ټکالی وس نور څه نه رسی دا تاله کړی دُعا
چه خدائ په خودکه ستا ځامن چه بیا مین شی په تا
ستا د عزت نه خپل مالونه، کړی سرونه فدا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په خپل غیرت ننګ او سیالئ کړی تا زیبا وطنه
بے کس وطنه ، اے غریب او بے نوا وطنه !

پېښور کښې دَ غازی محمد نادر خان په راتللو یو نوے ژوند راغے - قبائلی مشران - دَ پېښور سیاسی لیډران - او هر رنګه اولس دَ پښتون قوم دے شمع له دَ پتنګانو په شان را اوزغلیده - دَ خوست پښتانه خبر شو - چه دَ وطن رښتینے خیرخواه په ملت مئین ، فداکار نامدار سردار دَ پیرس نه دَ امن سلامتی پښتو او پښتونولی آب حیات راخستی دَ وطن روزه وژلو له راغے - دَ روژے په آخری ورځو کښې یوه ورځ چه خلق خبریدل غازی پښتون مئین دوطن خیرخواه دَ خپلو رونړو سره دَ تل نه تیر شو ے کورمے ته اورسیدل - دَ خوست ننګیالی پښتانه دَ توغ ، ډول او سرنا سره ډمرګلی نه راروان شو - ډلے ډلے ځوانان دَ ډمرخوا دَ ډهراپرخ نه دَ خپل مهربان سردار نه راچاپیره شو -

دَ نادرشاهی خاندان بال بچ متول کابل کښې وُو - چه سقاؤ دَ غازی رحمه اللہ (تعالیٰ) (اللہ دے شه ترے راضی) قومانداں محمد نادر خان مرحوم نه خبر شو - نو هغه متول نوےٗ واړه اړک شاهی ته بوتله - او ځان سره ئے نظربند کړل - بیائے دَ هغوئ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

دطرف نه د وطن فسادی اور وژونکی ننګیالی نادرخان ته
اووئیل۔

" مونږ ټول دلته قیدیان یو۔ که تاسو حمله اوکړه
نو مونږ به دلته ټول اول قتل شو۔ بیا به داوی چه تاسو
کابل ته راشئ۔ تاسو سره به بیا اوګرے شی۔ او مونږ به
په امان شو۔"

دَدے په جواب کښې ورته ننګیالی نادرخان اووئیل۔

" هرکله چه د وطن د بربادئ نه خبر شوے یم۔ نو ځما
هوش په ځائے نه دے۔ زه خپل وطن هرګز په دے حالت
کښې لیدے نه شم۔ یا به دا ځان۔ خپل خاندان۔ او هرڅه
د وطن نه قربان کړم۔ او یا به وطن دَدے تباهئ او بربادئ
نه په امان کړم۔ د وطن د نجات د پاره زهٔ او زما خاندان
ټول نذر دے۔ د کورلوے واړهٔ په خدائے پاک سپارم۔"

احمدزی۔ علی خیل۔ سلیمان خیل۔ منګل۔ زدران
جاجی۔ وزیر۔ دوړ۔ مسیت۔ نوری یعنے د پښتنو د هر
خیل او هرے قبیلے ځوانان د وطن د نجات په نشه مست
د آزادئ ساتلو په خاطر بے خوره ټوپک په لاس کړدنئ
په غاړه۔ نزدے ملا په اتنڼ لکه مست مزری داروان او د
ځان سره کویان۔۔ ۵



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټکیالی پښتانه

تیرشو خزان سپرلے زمونږ ه په گلزار راغے
دَ قوم سردار راغے
دَ ایشیا فخر دَ پښتون دَ سروا کدار راغے
دَ قوم سردار راغے
تالا زمونږه شو کور، دَ ترېگنئ په وجه
زور لګئ او وژلی رور دَ ترېگنئ په وجه
نشان په لاس دَ رور ولئ غازی سالار راغے
دَ قوم سردار راغے
مونږ دَ شیطان په لمسون، که وطن ورانے وړے
وطن مونږ او سیزه نړول، خیژی هرخوا لوخړے
آب حیات ځان سره فرانس نه دا بیمار راغے
دَ قوم سردار راغے
پښتنو راشئ چه بیا ودان کړو ښکلے وطن
بیا دَ پښتون په لاس کړو، دَ لاسه تلے وطن
دَ اتحاد دَ اتفاق دَ ژوندون وار راغے
دَ قوم سردار راغے
هغه دَ ټل بریالے داکدار دَ دے سرونو
هغه مسیح دَ پښتون ملهم دَ ژوبل زړونو
پښتنو سستا دَ رور ولئ علمبردار راغے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دقوم سردار راغئ
سرپه ورغوی ایښی، راغلله ځوانان پښتانه
وژنی دښمن دَ پښتون بیا په میدان ښېښتانه
هرپښتون ځوان ځکه په لوئ غضب اووقار راغئ
دَ قوم سردار راغئ

دَ حوت افغانی میاشت ۱۹- او دَ روژې په اوو ویشتم تاریخ دَ قومونو په جرګه کښې پرو مېښې تقریر غازی سپه سالار دا سې اوکړو :-

" په فرانس کښې زه مرکونې ناجوړه ووم . هرکله چه دَ وطن تباه کونکی انقلاب خبر م داورېدو . دَ وطن دَ سرزیمو بربادیو او پښتون ورکیو خبرونه م واوریدل زه دَ خپل وطن دَ حال نه خبریم چه کورنی جنګونه څنګه تباهی بربادی پیدا کوی . او ځما وطن په خدائ مه که څنګه په هلاکت ګرفتار دی . نو سره دَ دې چه ډاکټرانو ځما ګرزیدل بند کړی وو . سره دَ بې طاقتئ اوناروغتیا خپل سوی سوخته وطن ته رار وان شوم . او محمد هاشم خان اوشاه ولی خان م دې ته مجبور کړل . چه ماجهاز ته اورسوی . او وطن ته م روان کړی .

هرکله چه پېښاور ته اورسیدم . دَ الله تعالے په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وفد ځما صحت ښه شو ـ نو دغه ځائ نه ما محمد هاشم خان سمت مشرقی ته ـ او زه شاه ولی خان سره دے خوا ته راروان شوم ـ او ذ الله تعالیٰ قادر یګانه نه دا آرزو لرم چه ذدے بلا ذ لرے کولو ذ پاره خدمت اوکړم ـ مونږ ټول ذدے وطن زامن یُو ـ ددے ذ امن سلامتی او ښیرازی ذ پاره خدمت په مونږ ټولو فرض عین دے ـ او ذ اخر په ورځ به ذ عالمانو خانانو او سپین ږیرو یوه جرګه دلته کیږی ـ چه مونږ له څه کول پکار دی ـ"

سپه سالار غازی ذ فوځونو جوړولو ـ او ذ قومونو رضا کولو ذ ځوانانو راویخولو سره ذ اصلاح په نوم یو اخبار هم جاری کړو ـ دے اخبار کښ ذ غازی په سالار پرجوش مقالے چاپ کیدے ـ

ذ پیښاور مسلمانانو ذ افغانستان انقلاب نه ډیر اثر اَخستے وو ـ په قلمی جهاد او مالی امداد کښ د پیښاور ضلعے پښتنو ذ خیلو ورونو پښتنو سره هیڅ نیمګړتیا نه وه کړے ـ زرګونه روپئ چندے اوشوے ـ ذ خان عبد الغفار خان او میاں جعفرشاه کاکاخیل دوه کسانو یو وفد ذ پیښاور نه ننګرهار ته روان شو ـ چه امان الله سره روینې ـ خو پیرنګی په سبئ کښ داوفد ورانه ے

تلو نه پرے نه ښودو۔ که د فیرنګی د افغانستان په شورش کښې لاس نه وے۔ د پښتون تباهي او بربادۍ مقصد نه وے۔ نو هرګز به ئے خان عبد الغفار خان او میاں جعفر شاه حال وزیر مواصلات مرکزی حکومت پاکستان د تند هار تلو نه منع کړے نه وو۔ خو د هغه خیل غرض وو۔ پښتانه ئے شرمول۔ سیکول۔ وفد راستون شه۔ او لوئ جلسو کښې د پیرنګی په دے حرکت به اوو یلے شو۔ په یو مینې جلسه کښې زما دا یو نظم ویلے شوے وو۔ سه

غمزن افغانه ! نه ئے پوهے په شرارت د فرنګ
د پښتون قوم سره ډیر زوړ دے عداوت د فرنګ
د پښتنو په وداني ده بربادۍ د انګریز
که پښتون یو شو نو بیا نشته حکومت د فرنګ
د پښتنو په کور جنګو کښې ده ښادي د انګریز
افغانستان شو لو برباد اف په رشوت د فرنګ
زمونږ سالاره وړاندے شه چه فیرنګے او باسو
دا پاکه زمکه موکنده شوه په لعنت د فرنګ
د پښتنو ځوانانو خدائے سره دا لوظ کړے دے
چه باقي نه مونو په هیڅ شان سلطنت د فرنګ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

انګریز ځکه دي د پاک اسلام او د ملت دے عدو
جرړې به غوسے کړو والله په خیل ځان د فرنګ
د فرنګي تهذیب ځکه دې دیني تهذیب کړو تباه
د انګور سرنه ختمه وو دا تیا دت د فرنګ
په دے سرحد کښې جوړ وو د پښتو حکومت
ځکه کړو په هریو کام مخالفت د فرنګ!
د پښتنو بیرغ به لګ کړو د لندن په ماڼړو
چه اول د لته ختم کړو دا سلطنت د فرنګ
پښتون زغملے هرګز نشي د انګریز غلامي
پښتون آزاد دے نه لري زړه کښې هیبت د فرنګ
پښتون سالار، پښتون لښکر، پښتون با شا جوړ دې
اے هډلؤلي ځکه دے مونږه نه بس نیت د فرنګ

خان عبد الغفار خان او میاں جعفر شاه چه د خپل ځان سره د پېښاور د پښتنو د خوانه کوم امدادي رقم قندهار ته وړے وو. انګریزانو د سوي نه وړاند ے تلوته پرینه بنول نو بیا دا رقم مرحوم محمد اکبر خان خادم ناظم د انجمن اصلاح الافاغنه سپه سالار محمد نادر خان له خوست ته او رسوو. مولوي الله نواز خان مهاجر هم د غازي سالار سره د وطن د نجات په جدوجهد کښې شریک وو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ټګیالی پښتانه

پیرنګی زه په ۸ اپریل سنه ۱۸۲۹ء ایبټ آباد کښې نظربند کړم چه څه وخت سردار شاه ولی خان کابل ویښونو زه آزاد شوم په خوست کښې د وطن د نجات کار په ډیرے تندئ سره روان وو۔ په سمت مشرقی یعنے د جلال آباد صوبه کښې ښاغلی سردار هاشم خان، محمد ګل خان مهمند۔ او کرنل محمد حسین خان سابق فرقه مشر په قامونو را غونډولو بخلا کولو د وطن من نجات له تیارولو کښې مشغول وو۔

ښاغلی محمد ګل خان د قوم اعتماد په لاس کښې واخست د پیرنګیانو هوائی جهاز ونه به په آزادئ سره د افغانستان په هوا کښې الوتل۔ د دے خلاف ښاغلی محمد ګل خان ډیر سخت احتجاج اوکړو۔ او د ټول قام د طرف نه ئے بل اعلان داسے اوکړو ا۔

" ټولو دولتونو او حکومتونو ته دے معلومه شی چه د افغانستان سره د دوستئ نوظنامے کړی دی۔ که څه سیاسی وی اقتصادی وی او که د دوستئ۔ او د امان الله خان په زمانه کښې شوی وی۔ افغانستان د دے ټولو نوظنامو پابند دے۔ د موجوده شورش اختلاف هیڅ اثر او خلل په هغے نه پریوزی۔ دغه ټولے د قدر او احترام په نظر لیدے شی۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ددے لوظنامو دَ کلکوالی په حقله مونږ اعلان کوو چه
که بچه سقه یا امان الله خان یا علی احمد خان یا بل څوک
مدعی دَ سلطنت دَ خپل ذاتی غرض دپاره دَ کاونړی ملکونو
سره څه داسے نوے لوظنامه اوکړی چه دَ افغانستان استقلال
ته تاوان رسوی. دَ افغانستان ملت به هغه هرګز قبوله نکړی
اودَ افغانستان ملت به دَ خپل ټول قوت سره دَ هغے مخالفت
کوی. آزادی تباه کونکے هیڅ تجویز به په عمل کښ راوستونه
پرے نه ښو دے شی۔"

دَ انقلاب سیلاب هرڅوک په مخه کړی وُو. امان الله
خان. بچه سقه. او علی احمد جان هریو دَ خپل ځان ټکولو
دَپاره ګاونړی حکومتونو روس او انګریز ته سترګے وهلے
وا اعلان ځکه اوکړے شو. چه بهرنه څوک دخل ونکړی.
دَ پښتنو سیلګو په سرکښی هزرائل هائی نس سردار
شاه ولی خان دکابل په طرف روان شو. او مرکزی حیثیت
دَ سردار سپه سالار محمد نادرخان وو. چه هغوی به دَ
نوځُ تنظیم دَ غلے تقسیم. دَ جنګ نقشه دَ حملے هدایت
او دَ تبلیغ اشاعت کارکوو. سردار شاه محمود خان دَ بچه سقاؤ
دَ منګل نه آزاد شوے دَ روژے په آخر کښ غازی سپه سالار نه
ځان اورسولو. دَ خوست نه ګردیز نه فوځونه اورسیدل.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ګردیز کښې په ۳۰ دَ حمل (افغانی میاشت) دَ سمت مشرقی نه دَ شینوارو، خوګیانو، مومندو، شلو پښتنو یوه جرګه دَ غازی سپه سالار په خدمت کښې حاضره شوه. دَ دې جرګې مشر ښاغلی محمد ګل خان مهمند وو. دلته دَ سمت جنوبی، سمت مشرقی دواړه خوانه یوشان دَ کابل دَ پاسه دَ حملې کولو صلاح مشوره اوشوه. ګردیزنه قومی لښکر چرخ ته دَ ثور (افغانی میاشت) په دریم تاریخ اورسیدو. دلته یو نوې جوش پیدا شو. په انقلاب کښې راښکته شوې توپې ټوپکونه او کارتوس دَ غازی سپه سالار په خدمت کښې حاضر کړې شو. دَ خوست نه سردار شاه محمود خان زازو ته تلې وُ. سردار صاحب لښکر تیار کړو. او په لوګر کښې دَ حکم په انتظار وو. دَ هدایت رسیدو سره سَمدستی ګردیز ته روان شو. او دَ سقاؤ فوځ ئې په مخه کړو.

سقاؤ یو مهاجر مولوی عبدالطیف په ۲۵ تاریخ دَ ثور دَ کابل نه سپه سالار صاحب ته رااولیږلو. دغه دَ راتلو سره دَ سقاؤ دا پیغام پیش کړو۔ "چه که ته ماته راشې نو زهٔ به تا سره دَ ډیر عزت او اوچت منصب سلوک وکړم. او که ځما مقابله کوې نو ستا دَ خاندان یو کس به هم ژوندې پرې نه ږدم." سردار والا صباله دا سې جواب ورکړو۔ " نهور نشان حبیب الله بچه سقاؤ! ستا دَ پیغام نه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

معلومه شوه چه ستا ملګرو ته بالکل بے خبره ساتلے ئے. ځما
د فکر نه خبر نه ئے. ځما یوازے دا آرزو ده چه د وطن نه اختلاف
لرے شي. او هر خوا امن قایم شي. ځما دے کارکښې چه
هر څوک ما سره ملګرتیا کوي که هغه نه وي نه ئے. ځما
ملګرے دے. دے تا هغه پیغام چه د جنوبي او مشرقي
پښتنو په لاس ما تاله در لیږلے وو. تا قبول نه کړو. په
هغې کښې یو شرط ؤ. چه امن قایم شي. نو د قام په صلاح
به د سلطنت استقرار کوو. اوس وخت تیر شو. نه ته د
سلطنت قابل ئے او نه ملت په تا راضي دے. په دے وجه
به تر آخري وخته تا سره جوړه او نکړم. خو که نه د دے ملت او
مملکت بربادي نه غواړے نو دا ځما پیغام یو ځل بیا واوره
چه بے د دے نه ځما ستا جوړه کیدے نه شي. په دے نزدے
ورځو کښې د پیرو نو مونږ لویه جرګه کیدونکے ده. هغې
جرګے چه څه فیصله اوکړه. ځما پرے عمل دے. تاله به
خبر درکړم. باقي پاتے شو ځما د خاندان واړه لوئے. نو
ما هغه ټول په یو خدائي سپارلي دي. زه په خپله او ځما
خاندان هغه ټول د وطن د امن د پاره نذر. او د دے
انتشار د دفع او د ملت د اتحاد او یو کولو د پاره قربانول
لویه آرزو لرم. خدائ تعالی دِ ځما دا دعا قبوله کړي. په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

آخر کښې تا دَ یاره او ستا دوستانو له دَخدایٔ پاک نه دَ هدایت خواست کوم ـ"

په ګردیز کښې دیر جنګونه او مقابلې اوشوې ـ سقاوُیان په هر ځائې کښې شکست اوخوړو ـ ګردیز نه وړاندې سنجک دې ـ دلته دَ جوزا په ۲۶ تاریخ نادرخانی لښکر اورسیدو ـ هر قدم کښې جنګ او عوږ زنګ ـ په تجربه او ځُمر پوخ ـ په اراده او جوش ځوان سپه سالار محمّد نادرخان په وړاندې روان وو ـ سقاوی تښتیدل او پښتانه ورپسې زغلیدل ـ چه د ځائې نه دَشاه ولی خان لښکر زړه ورد کابل نزدې ته اورسید او چهل ستون کښې قدم کیښود ـ بناغلے محمّد ګل خان مهمند او بناغلے الله نوازخان یوخوا او بل خوا فوځونو باندې افسران وو ـ سقاوُ ارګ او دُکابل هر طرف په توپونو ښه مضبوط کړے وو ـ دُ اوږد یوسو باران ووچه هرخوا اوریده ـ په تپه مرنجان او بالاحصار او کوه شیر دروازه باندې دُ توپونو غړزا دوو ـ آقائے شاه ولی خان خپل فوځونه دَ "چهل ستون" نه "دار الامان" او "کوه اسمائے" باندې خواره کړل ـ هغوله ورځ په بالا حصار جنګ اوشو ـ

دمیزان دَ میاشتې ۱۶ تاریخ دَ قسمت آخری فیصله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کیږدونکے ورځ وه - دَ صبا کیږدو سره دَ کابل دَ فتح نښے سرکندے شوے - بچه سقاؤ خپل آخری داؤ دَ خان اولګاؤ - ټوله ورځ جګړه اوشوه - ماښام خبر راغے چه سقاوی سپه سالار پوردل دهیر فوځ سره کابل ته راروان دے - سردار شاه ولی خان دَ خپل فوځ اراکین یعنے ښاغلے محمّد ګل خان ښاغلے الله نواز خان - ښاغلے عبد الجلیل خان او ښاغلی عبد الغنی خان سره دَ کابل او بازارونو په انتظام او امن جوړولو کښې مشغول وو - سردار شاه محمود خان دَ سقاوی سالار مخے له ورغے -

په ۱۸ میزان دَ سردار سپه سالار دَ خوانه دَ فاتح کابل شاه ولی خان په نوم یو حکم راغے - دے حکم کښې دَ ننګ بزرګ ترین نمونه قیمتی ایثار او بے مثاله قربانئ هدایت وو - او هغه دا چه " یو خو اته ځما بال بچ په ارګ شاهی کښې دَ سقاؤ سره قید دے - دَ هغوئ ژوند به خطره کښې دے دَ پاے تخت تباهی ده - دَ مملکت رسوائی ده - او بل خوا ته سقاؤ دی -

دوطن په عزت دَ آزادئ په آبرو دمملکت په استقلال دَ پښتنو په ننګ او شرف ځما بال بچ هرڅه قربان - صرفه مکړه - شا با مړنے شه - چه وارخطا نه شے "



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ قربانئ دَ ایثار دَ جان نثارئ دَ بال بچ فداکارئ، دے مېړانے او جرأت زیاتونکی حکم راتلو سره قائد منظفر او فاتح کابل ټولو ټولو ته اور ورته کړو. دَ ډېر زړه ور امرے او کړو دَ ارګ دیوالونه اونړیدل. سقاؤ وارخطا شو. بهر او دننه ټول اولس دښمن وو. په ارګ دننه یو ټولے دا سے پیدا شو. چه دَ خاندان نادر شاهی حفاظت دَ پاره سینې ډال کړے په ۱۹ میزان دَ جمعے په ورځ یو قیامتی جګړه جوړه شوه. هغه ارګ شاهی چه همیش د پایۀ تخت او دَ مرکز شان وو. ډېر دَ پریشانئ او تباهئ خوله کښې ګیر ؤ. میګزین او دواحسنت دَ سقاؤ اُمید ونه ټول خاور و کښې ایرے شو. آقا ے شاولی خان حکم اوکړو. چه دا وخت دے دَ مړانے او کامیابئ ټوله ورځ جګړه روانه وه. چه ماښام دَ شپے تور خادر هر خوا ته خور کړو. په دے هنګامه او توره تیاره کښې سقاؤ او تښتید ارګ شاهی فتح شو. تیبیان دَ نادر خانی خاندان واړه زاړه سلامت آزاد شو.

په ۲۳ دَ میزان سردار نامدار غازی وطن دَ پښتنو ډیر لوئ خیر خواه دَ خپل مرکز "علی خیل" نه چهل ستون ته تشریف راوړو.

په ۲۲ دَ میزان دَ کابل نارینه زنانه واړه او لوئ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دقوم نمايندګانو دَ ستړکو فرش عزوړوے دَ خپل همشاله ننګيالى او بريالى قايد دييدن ، هرکلى او سلام له حاضر وو -

کوم وخت چه دَدے پښتون مين خيرخواه دَ ملک او قوم سورلى راورسيده - نو دَ هرخوا نه زنده باد ناجى وطن ، پاينده باد قربان رواے ملت افغانستان ، چغے پورته شوے -

په سلام خانه کښې دَ قوم دَ طرف نه دَ سردار عالى دَ دے لوئے خدمت شکريه ادا کړے شوه -

سردار عالى په جواب کښې اوفرمائل چه دَ الله تعالى بے شماره شکرونه دى - چه هغے خالق لايزال ځمونږ آرزو پوره کړه - او وطن نجات بيا موند - تاسو چه کوم احساسات ښکاره کړى دى - او عامو پښتنو چه کوم جوش سرګند کړے دے - زه په دغه نرژونده هيرنه کړم - دَ شکريے په آخر کښې ئے اوفرمائيل چه زه دَ وطن دَ تباهئ نه ډير متأثر يم او تاسو ته نصيحت کوم - چه ډير ذربه تندئ دَ دے تلافى اوکړئ - د او وطن ستاسو دے - دا ودان کړئ او په وړاندے روان کړئ -

دَ دے تقرير نه پس دَ عام اُولس دَ طرف نه دا اِصرار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوشو. چه دَ دے وطن دَ خدمت په غرض دَ وطن ودانی آبادی ترقیٔ امن سلامتیٔ دَ پاره دَ حکومت بار تاسو په خپلو اوګو واخلیٔ" او دَ هرخوانه زنده باد اعلیٰحضرت محمّد نادرخان بادشاه اوناجی دَ افغانستان استقلال بخش چغے پورته شوے"

دا چغے دا اعلان دَ قوم دَ طرف نه دَ اعلیٰحضرت محمّد نادر خان دَ پاره ډیر اړزونکے، پریشانه کونکے او حیرانه ونکے وے دَ لږ درنګ دَ تردد فکر او غور نه پس هغوئ او فرمائیل چه " ما پرو مے هم په خپل بیانات اعلانات او تقریرونوکښ تاسو خبر کړی یئ. چه دا ملک دَ سقاؤ نه آزاد کړم. غلهٔ اوشړم. الحمدلله چه خدائ تعالےٰ خپله اراده کښ کامیاب کړم. او س پاتے شوه بادشاهی. دَ دے انتخاب ملّت ته پریدم. ځکه چه په خپله بادشاهیٔ ته هرګز آرزونه لرم"

ولے حاضرو خلقو په دے صبر اونکړو. او په ډیر اصرار سره ئے دَ بادشاهیٔ په خدمت مجبور کړو. دَ انتخاب نه پس دَ مبارکیٔ چغے دَ هرخوانه پورته شوے. او سقاؤ خپل انجام ته اورسید.

---



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دَ آزادئ جنګ

پښتون په ځوانمردئ کړيږي جنګ دَ آزادئ
قربان دمال او سر نه وويه ننګ دَ آزادئ

---

که ځمونږ قومي کور ځمونږ په ناپوهئ وران نه وے - که ځمونږ دَ خپله لاسه ځمونږ شيرازه دانه وانه، نه وے - نو څه مجال چه په ۱۸۱۸ء کښ سيکانو ځمونږ داپاله زمکه پليته کړے وے او فيرنګيان به څنګه په ۱۸۴۹ء کښ ځمونږ دے مقدسے خاورے ته رارسيدلي وے -

مونږ دَ نفاق په کودالو خپل قومي کور ورا نه وُو
خلق آباد کړو خپل وطن مونږ ئے لاړنور ورانه وُو

ځمونږ دَ قومي تباهئ شاته دَ "پښتو" ډيرلاس دے - او افسوس چه مونږ دَ "پښتو" او پښتونولئ په معنئ تراوسه ځان پوهه کړے نه دے -

"پښتونولي په حقيقت کښ اصل اسلام دے - پښتو ايمان دے - پښتو غيرت دے - پښتو ننګ او شرافت دے - پښتو نيک



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خصلت دے ـ پښتو غیرت دے ـ پښتو امانت دے ـ پښتو دیانت دے ـ پښتو جرأت دے ـ پښتو ښه خلمیتوب دے ـ پښتو میړانه ده ـ پښتو ځوانمردي ده ـ پښتو همدردي ده ـ پښتو مینه ده ـ پښتو محبت دے ـ پښتو انسانیت دے ـ پښتو لوړ اخلاق دي ـ پښتو لوړ عزم دے ـ پښتو احسان دے ـ پښتو مروت دے ـ پښتو خپل واک دے ـ پښتو استقلال دے ـ پښتو آزادي ده ـ پښتو بلند کردار دے ـ پښتو نیک خوئي ده ـ پښتو میلمه پالل دي ـ پښتو لوظ پوره کول دي ـ پښتو پت پالل دي ـ پښتو سیالي ده ـ پښتو همت دے ـ پښتو قرباني ده ـ پښتو وطنیت دے ـ پښتو قومیت دے ـ پښتو د شرافت انتهاء ده ـ

دا پښتو نه ده هرګز او هیچرې پښتو دانه ده ـ چه په غل مه خوره قتلونه کول، نزبور وژل، خیلونه په جنګ دروستل ـ قوم د نفرت او عداوت په اور تباه کول ـ او د غیر غلامي او خدمت لکه د سپي کول! دا بے ننګي ده بے غیرتي ده ـ ذلیل عمل دے ـ سپک ژوند دے ـ او شرمونکے روزګار ـ که پښتون قوم په شمار شي نو درے کروړه نه په هیڅ حال کم نه دے ـ د هندوستان د پښتنو ریاستونه لکه بهوپال ـ مالیر کوټله ـ جوناګډه ـ رامپور ـ ټونک ـ پالن



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پور، محمد ګګر، دوجانه، ټونک، پلاس تن، سوات، لوهارو چنارۍ، مناوادر، چه دَ هندوانو دَ لاس نه ختم او په بهارت حکومت هضم شو.

پاکستان، سوات، دیر، امب دربند، رياستونه شته. افغانستان خو دَ پښتنو مرکزي وطن او اصلي سرچينه دے.

دَ اسلام دَ ظهور نه اول او دَ اسلام قبلولو نه پس په پښتون قوم ډير انقلابونه راغله. دَ کور جنګي طوفاني سيلئ دربانده راغلے. دَ تمام بربادولو بے شانه ږوبونکے زلزلے پے تيرے شوے. چه تر په خپلو پښو ولاړ دے. نو ځو غرض په لاسونو بياوران و يجاړ دے. هم داوجه ده. کله په دے قوم سيکانو او کله پے فيرنګيانو لوبے او شنے کړے دي.

په ۱۸۳۸ء کښې دے پاکے زمکے ته پيرنګيان راغله. سوال دا دے چه پيرنګيان ځونه دے وطن نه په جنګ او عزور ننګ راغلي دي؟ په زوره او طاقت راغے؟ دَ دے خبرے نه تاريخ چپ دے. دے نه وړاندے دَ شاه شجاع مرحوم سره چه پيرنګيان دَ کوټه قندهار په لار افغانستان ته تلي وو. نو هغوئ په تجربه او عمل دا معلومه کړے وه. چه پښتانه دَ ترکنئ په نوم. دَ ترېورنه دَ بدل احسنتونه جفه دَ مشرئ او اقتدار په لالچ او په بږور شوت ډير زر غوليږي



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او دَ کمرنه پړېوزی. زړه دوکه کیږی. او دَ جنون په حالت کښې دَ قوم تباهۍ له ملا تړی.

انګریز هم دا حمونږ قوم تباه کولو وسله په موږ استعمال کړه. او حمونږ دے وطن له راغے. بیا چه پېرنګیانو د ۱۸۵۷ء دَ آزادۍ جنګ دَ غدارانو په زور اوګټه. دَ ۱۸۵۷ء دَ آزادۍ جهاد ته پیرنګیانو غدر ویلو. او دا نوم د سره مناسب هم دے. ځکه چه که هغه وخت ځینې مسلمانانو، هندوانو، سیکانو قوم او وطن سره غداری نه وے کړے. او دَ پیرنګیانو په ملګرتیا کښې ئے ایمان او غیرت خرڅ کړے نه وے. نو پیرنګیانو به جنګ څنګه ګټلو؟ نو دَ اقتدار په نشه کښې پیرنګیان روړه بے خوره شو. او دا سے غرور واخستل چه شیطان ورته په غوږ ونو لاس کیښودو. یو خو ئے په قبائیل او افغانستان باندے خپل سیاسی اقتدار زیاتولو دَ پاره حملے او رنګارنګ چیلے اختیار کړے. او دَ دے سره دَ پښتون قوم سره ئے انتهائی ذلیل او سپک سلوک روا اخستت. مسلمانانو اته سوه کاله حکومت په هندوستان اوکړو. او چه مستئ واخستل نو دَ زوال اسباب ئے ورله پیدا شو. او انګریز څه کم دوه سوه کاله حکومت دَ انسانیت ړد ایګړے نه بهر کړو او دَ پښتنو وطن کښې خو پیرنګی دوه کم سل (۹۸) کاله کښې لس ځله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

همم په آرام ژوند تیر نکړو.

پښتون قوم یو عجیب. او په اسلامی غیرت کښې عجیب قوم دے. دَ هرچانه زیات په اسلام مئین دے. سوُونه کلونه دَ اسلام او عیسائیت په اَخ و ډب کښې تیر شو. نن نه پنځه څلویښت کاله اول په ۱۹۱۲ء کښې اټلی دَ انګریزانو وغیره په سازش په طرابلس کښې ترکیه باندے حمله اوکړه او ترکی حکومت په غمونو کښې ګیر شو. نو پښتنو وینډیاتِ درد دَ خپلو مسلمانانو رونړو محسوس کړو. د اټلی حمله دکوهاټ خټکل خیل سردار اُستاذ یو نظم اولیکه چه دَ هغے یو څو بیتونه ځما په یاد کښې پاتے دی.

زور د کافرو په سلطان راغے
وخت دَ مهدی آخر زمان راغے
شاهی دبدبه دَ روم مدام اوسه
روس او جرمن دَ ده غلام اوسه

کفر چه زور په طرابلس اوکړه
اټلی ظالم داسے هوس اوکړه
زرے داخل پکښې لښکر کړه
سلطانِ پیس له بے خبر کړه
سلطان فرمان دګمرکس اوکړه
قسم دَ ترکو هر نفس اوکړه
هر یو خپل ځان سد سکندر کړه
کوچے دَ مصر په بندے اوکړه
عرضِ دَ مصر په مجلس اوکړه
لاټِ کچنر بانده وس اوکړه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

لاړے ورنګړه مهم کړان راغے
زور دکا فرو په سلطان راغے
کچیرې پرے نه خوړو لښکر دَ ترکو
واپس له مصره ځي افسر دَ ترکو
لاړ کښې دوزخ مقام اوسه
روس او جرمن دَ ده غلام اوسه

دَدے څو بیتونه اندازه کیدے شي - چه دَ انګریزانو خلاف دَ پښتنو په زړه کښې څومره نفرت عداوت او حقارت وو - په اوم دسمبر سنه ۱۹۱۲ء طرابلس کښې دَ بلقان ترکي او نورو مسلمانانو امداد له د ډاکټر مختار احمد انصاري په مشرۍ کښې یوه جرګه دَ هندوستان علیګړه نه لاړه - په دے جرګه کښې دَ پېښاور عبدالرحمان خان هم لاړو - چه بیا کرنیل او سفیر شو۔

کفر یو ملت دے که هغه په تخ سپین وی لکه پیرنګے او یا تور وی لکه سکه او هندو - انګریز او سکهو دَ یوے اوږدے زمانے راسے دَ پښتنو قومی کور نړولو او پښتون ذلیل کولو دَ پاره رنګارنګ کارونه اختیار کړل - په بډو رشوت - په لمسون او شرارت او په فوځي قوت، غرض دا چه هره وسله ئے دَ پښتنو خلاف استعمال کړه -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)



خدمتگار تحریک بانی خان عبدالغفار خان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په سنه ۱۸۰۹ء کښې دَ مونټ سټوورټ الفنسټن سره کابل ته
جرګه ليږل۔ په سنه ۱۸۳۳ء کښې دَ شاه شجاع دَ احمد؛ دپه نوم
په افغانستان فوځي يلغار کول۔ په سنه ۱۸۳۵ء کښې دَ پښتنو او
سيکانو جنګ کښې دَ هور ټيني امريکائي پښتنو کښې اختلاف
پيدا کول۔ په سنه ۱۸۳۶ء دَ امير دوست محمّد خان دَ خوا نه دَ
واليسراے هند ولارډ اکليند ته دَ سيکانو خلاف دَ شريک
محاذ جوړولو خط ليکل۔ او هغه نامنظوره کيدل۔ په
سنه ۱۸۳۷ء کښې دَ کپتان برنس پيرنګي بيا کابل ته تلل۔
په سنه ۱۸۴۰ء کښې انګريزي او سيکهه فوځونه دَ شاه شجاع ځوئ
شاهزاده تيمور سره په کابل ورختل۔ په سنه ۱۸۴۲ء کښې بل
لښکر کابل ته ليګل۔ په سنه ۱۸۴۳ء کښې دَ کرنل موسلے په
خيبر ننوتل۔ اودَ افريديانو سوک په خوله خوړل او مات
غاښونه بيا په ۲۴ جنوري راستينول۔ په ۱۶ اپريل
بيا په خيبر زغابنت۔ په سنه ۱۸۹۷ء کښې په وزيرستان حمله
کول۔ او دَ نورو قبائلو په يو قطار کښې دَ انګريز خلاف
اودريدل۔ دا هرڅه پيرنګيانو دَ خپلې هغې پاليسئ دَ لاندې
اوکړل چې په فارورډ پاليسئ باندے بدنامه مشهوره
ده۔ ددے خوګ وطن ساتنې دَ پاره په هر سپيځ او هر
ګام پښتنو شاه ځلمو دَ دښمن مقابله اوکړه۔ سـه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګيالي پښتانه

په وينو د پښتون کښې دے لړلے انقلاب
پښتون سره راغلے دے نړلے انقلاب
پښتون ز دا انقلاب راپيدا شوے دے برعون
پښتون په ژوند کښې خوشحال د راوړلے انقلاب

د پښتو ادبيرنګي د پرومبئ ورزے نه په غم لړلے کشاله راپيښه شوه -

پښتون صاحبزاده عبد القيوم مرحوم په خپل رنګ او خپل انداز سره لهمداسے د پښتون قوم خدمت کړے دے. لکه په هندوانو کښې چه سر سيد او جياکر قوم له کړے دے. د انګريز په خواکښې ناست د انګريز په وړه کښې انګريز نه پښتنو د پاره په خوګه خوګه حق اخستل او پښتانه ځوانان د بيدارئ ترقئ او حکومتي آزادئ په لاره بوتلل د صاحبزاده عبدالقيوم خان مرحوم نه شاندار کار دے چه هيڅ انصاف خوښونکے پښتون به د دغې نه انکار ونکړے شي. علم يو داسے مشال دے چه د دغې په رڼا بنيادم الله تعالیٰ. محمد رسول الله خپل ځان جهان او کائنات پيژندے او پيژندے شي. بے علمه سړے انه غوندې سترګے لري هم ړوند دے. ځکه خو حضرت رسول الله صلعم او فرمائيل چه علم زده کړئ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

که هند په چین کښې وے نه وی" علم پوازے عربي کښې نه دے - که د علم نه مراد صرف عربي وے - نو پاک رسول الله به هرګز د صین یعنې چین ذکر نه وو فرمائیلے -

په سرحد کښې حکومت د انګریزو وو - او دفتری راج د هندو په لاس کښې وو - پښتانه ځوانان د علم نه خبرو لو د پاره مرحوم صاحبزاده صاحب سر جارج روس کیپل دے ته تیار کړو چه د اسلامیه کالج جوړولو کښې خیل سرکاری اثر نه کار واخلی - د صاحبزاده صاحب په کوشش به ۱۹ - مارچ ۱۹۱۳ء کښې د کالج بنیاد کیښودے شو - صاحبزاده مرحوم اګرچه اولاد نه لرلو وے نو زرګونه تعلیم یافته پښتانه چه په اسلامیه کالج کښې ئے تعلیم حاصل کړیدے - د هغوی معنوی ځامن دی -

یوه ورځ به ایبټ آباد کښې ما ته اوویل ډهلالی ... تاسو کانګرسیان ما ته ډیر وایئ - نو تا ته د زړه حال وایم " دے کښې شک نشته چه ماله پادری ... تعلیم راکړے ... اوزه نو دے ځائے ته رسیدلے یم - لو درنګ ... سوال د صیح نه اوباسو - که هندوستان کښې د ... او مسلمان جګړه وی - نو زه به د مسلمان په ... اولیدے شم - او که د مسلمان یعنې پنجابی یا بل چا د پښتو ...



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قوم سره جنګ وی. نو ځما لاس به د پښتون د حق د پاره د انګریز هندو او پنجابي مسلمان ضربو ګریوان ته ورګکښ شی. پښتون ځما قوم دے ځما قلم به د پښتون د پاره لیکل او ځما ژبه به د پښتون د پاره ویل کوی.

په سنه ۱۹۳۰ء کښې چه ټولے جیل خانے پښتنو باندے ډک شوے. کانګرس په سول نافرمانئ انګریزان پوزے له راوستل. انګریزی حکومت په سرخپوشو هغه ظلمونه اوکړل چه تاریخ کښې مثال نشته. د خان عبد الغفار خان د بیلځائے نه تللو نه پس د تحریک کمان میاں جعفر شاه کاکاخیل سره وو. میاں صاحب ما ته ویل چه پوځل زه ښځے نه لرم. ما پسے ګرفتاری له سپایان ګرزیدل. صاحبزاده صاحب چه خبر شو. نو هغه یوه شپه زه یوازے اوبللم. د لاهور سر فضل حسین چه د مرکزی حکومت یو وزیر وو هم موجود وو. صاحبزاده صاحب اووے چه زه به تاله د وایسرائے او وزیر خارجه سره ستا د پاره وخت مقرر کړم. زهٔ او دا فضل حسین به د انګریز په خوا کښې ناست یو. او په تا به سترګے راوباسو چه تاسو د پښتنو او مسلمانانو عزت برباد کړو. تاسو مونږ په هندوانو خرڅوئ. تاسو د روس او هندو په شرارت ملک تباه کوئ.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ګوره ټکره شه په خوله دے چه څه راځی نه هم وايه۔ او جوړے نه تیارنه شے۔ انګریزمونږ نرم کړے دے۔ سېټرو او جیسا کرهم په وایسرائے زورا چوے دے۔ خو ګوره چه نرمی اونکړے۔

میاں صاحب وائی چه بله ورز ماښام سهرے راغے وے صاحبزاده صاحب وائی چه په تندئ راشه۔ چه زه ورغلم صاحبزاده صاحب ډیر غمجن ناست وو۔ ځمالیں و سره هغه اوویل " جعفر شاه ډوب شوے کار برباد شو۔ ځینے ناپوهه خلمو ذ یو وکیل په معافی غوختلو کوتے ټکول شروع کړی دی۔ هله په تندئ ځان پېښاورته اورسوه۔ اوځان ګرفتار کړه۔ جیل کښں هغه ناپوهه ځلموته اووایه چه جیل ته را تلئ وئے ؟ چه اوس په شا تښتئ۔ که تا ځان ګرفتار کړو۔ او دا سیلاب دے قلار کړو۔ نورکار به مونږ برابر کړو۔ سبا له په هوائ جهاز کښں سر پیرس چیف کمشنر ذ خاص نا پُلو نوسره شملے نه راځی۔ پاسه پېښاورته زغله۔

جعفر شاه میاں وائی چه زه ذ شملے نه پېښاورته راغلم دلته ګرفتار شوم۔ جیل کښں ما حالات بدل کړل۔ معامله بدل شوه۔ او تحریک بیا په جوش روان شو۔ صاحبزاده



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

صاحب وائسرائے ته اووے چه چیف کمشنر دروغ والي ۔ پښتون
او معافي غوښتل ۔ دا تهمت دے په پښتنو ۔

آخر دا چه وائسرائے لارډ اروِن دے ته تیار شو ۔ چه
ګاندهي سره صلح اوکړي ۔

هم دے سنه ۱۹۳۰ء کښې د سیاسي کشالو د سمون
د پاره برطانوي حکومت د هندوستان د مشرانو یوه
جرګه لندن ته اوغوښته چه په روند ټیبل کانفرنس شهرت
لري ۔ د سرحد د خوا نه صاحبزاده صاحب د پښتنو د سیاسي
ارتقاء او ملي حقوق د پاره د خپل قابلیت ټول طاقت
ختم کړو بیشکه دے صوبے له اصلاحات د پښتنو په قربانۍ
او د صاحبزاده صاحب په بے پناه اخلاصمند کوشش
را غلي وُو ۔

صاحبزاده عبدالقیوم خان د عبدالرؤف صاحبزاده
کره په سنه ... کښې پیدا شو ۔ او په سنه ۱۹۳۷ء
کښې وفات شو ۔

**حاجي صاحب ترنګزو:** هغه ټنګیالے صوفي او مجاهد دے
چه د "ټنګیالي پښتانه" داستان ئے
رنګین ښکاري ۔ حضرت حاجي فضل واحد (جناب فضل")
صاحب کره ترنګزو کښې په سنه ۱۸۵۸ء کښې پیدا شو ۔ د هغه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حضرت نجم الدین اخون زاده نه ئے په قادریه طریقه کښی لاس نیوے اوکړو۔ ټول وخت ئے په امر بالمعروف کښی صرف وو۔ ځائے په ځائے وعظونه او دینی مدرسے، دُ بدُ رسمونو اصلاح، دُ شریعت اجرا، مقدمے جنګونه جګړے کورنئ کښی ختمول، خلق ښکلا کول، په سنګاره خو دا بے ضرره کارو وو۔ دے په حقیقت کښی دحکومت نیلے راوستو له بُنیادی کودالے وے۔ پیرنګے پوهیدو چه دَ پښتون تعمیر دانګریز تخریب دے۔ ے

انګریز پوئ وو په دے راز
دا پښتون به شی ممتاز
دا پښتون که شو آباد
پیرنګے به شی برباد

حضرت حاجی صاحب په ۱۹۱۳ کښی دُ ترنګزو نه بهریه غونډئ دَ یو جماعت بنیاد کیښود۔ زه دُ خپل استاد حضرت مولانا عبدالقادر علیه الرحمة شنواری سره پیاده ټلے وُم۔

۱۹۱۴ء کښی چه دَ سرویه او اسټریا په جنګ کښی جرمنی شریک شو۔ او پیرنګیانو دَ جرمنی خلاف دُ جنګ اعلان اوکړو نو هندوستان کښی ئے سیاسی او مذهبی مشران اونیول۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په حاجي صاحب پسې هم د گرفتارۍ وارنټ جاري شو۔ یو پولیس
افسر وخت د سره حاجي صاحب خبر کړو۔ نو دے د شپې شپې
ډهرۍ چند په لاره رستم بیا بې نیرنه اورسیدو۔ او څه
موده پس مهمند ونه د کړے سره لاړل۔

حاجي صاحب په سنه ۱۹۱۶ء ۔ سنه ۱۹۱۹ء ۔ سنه ۱۹۲۷ء ۔ سنه ۱۹۳۱ء
سنه ۱۹۳۲ء او سنه ۱۹۳۶ء کښې د انګریزانو سره مقابله اوکړه۔
د ایمان پښتنو او پښتونولۍ ننګ او غیرت ئې ښکاره
کړو۔ آخر دا غازي مرحوم په سنه ۱۹۳۷ء کښې وفات او په
غازي آباد کښې دفن شو۔

**هجرت** :- د سنه ۱۹۱۴ء په لوئې جنګ کښې د جرمنۍ
شکست خوړلو سره ترکي هم شکست اوخوړو
کرنیل لارنس انګریز جاسوس چه عرب او ترک خپل
کورکښې اوبم کړل۔ عراق عرب، شام۔ نو فلسطین ټول
عرب د لارنس د شنو باغونو په فریب کښې دا غله۔ او
ترکي حکومت نه ئې بغاوت اوکړو۔ نو کورني جنګ، او
بیروني جنګ د ترکي کورووران کړو۔ د باسفورس
او استنبول په سمندري غاړو باندے انګریز۔ اټلي او
فرانس قبضه اوکړه۔ سلطان وحید الدین قید او ترکي
باندے قبضه اوکړے شوه۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ انګریز دے اقدام او اسلام دښمنئ په ټول هندوستان
اور اولګاوه. انګريزانو دَ فتح په نشه کښ مست هندوستان
کښ یو نوے قانون نافذ کړو. د دے نوم وو "رولټ بل"
دَ دے رولټ ایکټ خلاف په ټول هندوستان کښ یو شریک
احتجاج اوشو. جلسے او جلوسونه شروع شو. په ۷ ر اپریل
پېښاور کښ هړتال وو. ټول ښار بند وو. یو جلوس دَ
قصه خوانئ نه شاهي باغ او عیدګاه نه لاړ. اوده کښ دَ
حکیم عبدالجلیل ندوی. حکیم اسلم سنجری. قاضي عبدالولی
وغیره په تقریرونو مرےُ ګینا سته. په ۱۳ ر اپریل بیا
بل جلوس اووت. ځکه چه په ۶ اپریل امرتسر کښ جرنل ډائر
په عام اولس ګولئ چلولے وے.

دا هنګامه ورز تر ورز زیاتیده. پېښاور بالکل باغي
شوے وو. حکیم اسلم خان سنجری او قاضي عبدالولی
خان دُ ښپے قبائلي علاقے ته لاړل. او پېښاور کښ
ګوره فوځ ډیره شو. دُ پېښاور ښهر دروازے لا دے
کړے پیره بند او بے شانه نوےُ واړه کارکنان ګرفتار
شو. بهر په کلو کښ او خصوصاً اشنغر او تمانړو کښ
یو حرکت پیدا شو. هم دے شپو ورزو کښ دا فغانستان
دَ آنګ ادئ جنګ اونښت. او دَ جرنیل نادرخان تورے دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## پښتون دَقسمت فیصله اوکړه۔

دا هنګامه لا سړه نه وه۔ چه دَ خلافت تالاکیدو او
ترکی حکومت په ورکیدو دَ مسلمانانو په کورونو کښې بے
مړی ماتم شروع شو۔ دَ سیاست په میدان اول ځل
خان عبدالغفارخان را ښکاره شو۔ غالباً دَ سنه ۱۹۱۱ء د
راسے خان موصوف دَ حضرت حاجی صاحب ترنګزو په صحبت
کښې رنګ دَ اسلامی مدرسو نګرانئ او رسم ورواج خلاف
کارکوو۔ زه ر دَ دوستونکو نه معافی غواړم که په دے ضمن
کښې دَ خپل ځان یا نوم ذکر اوکړم۔ ځکه چه زه دَ سنه ۱۹۲۰ء نه
تر سنه ۱۹۴۷ء پورے دَ تحریکونو نه ننداري یم او نه سامع
بلکه دَ تحریک مفکرے او عملی شریک کاری یم۔ نو مجبوراً
دَ واقعات سلسله سره دَ خپلو لیدو او آوریدو : دکولو بیانوم)
چه کله کله ځان له کینم۔ زاړه واقعات را مخکښې کړم۔ نو
دَ تصور سترګے رم دهغه تیره ننداره اوویني۔ چه خان
عبدالغفارخان دَ بوسکی آدرکوټ اچولے وړوکے سپین
پټکے په سر ښکلے ږیره او په خوږه ژبه وعظ او تقریر
کښې دَ قرآن مجید او حدیث نبویؐ عرض پښتنو ته بیانوی
دَ جلسو او تقریرونو په جوش په ټول وطن کښې خوررو
چه یو ناساپه دَ لکهنوَنه مرحوم مولنا عبدالباری ا علا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوکړو چه "انګریزانو چلے ولے وعدے شانه واچولے او د ترکی حکومت باندے قبضه اوکړه. اوس مسلمانانو دَ پاره یا غزا ده او یا هجرت. غزا په موجوده حال کښ ځان له میدان جوړ کړے نه دے. په دے وجه دے مسلمانان افغانستان ته هجرت اوکړی."

مولٰنا عبدالباری مرحوم دَ رئیس الاحرار مولٰنا محمّد علی صاحب پیرو وو. په دے فتویٰ عمل شروع شو. او دَ مسلمانانو یو داسے پر جوش سیلاب دهجرت افغانستان ته روان شو. چه دَ مکے نه مدینے ته دَ هجرت یاد ئے تازه کړو مسلمانانو دَ مال اولاد نه لاس اووینځلو. هر څه ئے لته درکړه. او دَ الله تعالیٰ په توکل کابل ته روان شو. دَ سنده نواب محمّد جانی جو دَ ډیرو سندهی مسلمانانو سره پښاور ته راغے. دَ مانګو منډهئ او دَ حکیم مفتی محمّد ابراهیم مدرسه دَ مهجرتیانو مرکز وو. آغا سید لعل بادشاه مرحوم علی ګل خان. ثمین جان مرحوم. عبدالقیوم خان سواتی آغا قاسم جان. حاجی جان محمّد مرحوم مشران. درضاکارو جرنیل میجر فضل رحمٰن وو. او زه هم دَ افغان یونین کپتان وم. خان عبدالغفار خان او عباس خان دَ اوتمانزو دَ ډیرو پښتنو او سندهیانو سره افغانستان ته هجرت اوکړو. دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هر چا په ژبه دا یو شعر وو۔ سه

سلام لو ہم مسافروں کا　　کہ ہم تو کابل کو جا رہے ہیں
کسی کے ظلم وستم کے ہاتھوں　　وطن کی الفت مٹا رہے ہیں

هم په دے دهله کښې په شاهي باغ کښې یوه بې مثاله جلسه اوشوه۔ دے جلسه کښې د پېښور ښهر د محلهٔ ساربانان لوئ شاعر اُستاد سلطان یو نظم اووے۔ سه

ننګیالیه پاسه مقام د ننګ دے
یورپ له ظلمه عالم ډیر تنګ دے
پاسه مسلمه اوکړه همت نن
قابض یورپ شو په خلافت نن
لاړ د اسلام عزت حرمت نن
په بیت الله لوئ هنګام د جنګ دے

د سلطان استاد اوچت ښکلې آواز او وینا پښتانه داسے اوده کړل لکه پا روچه مارته بیم وهي۔ یا هغه هجرت ووچه مسلمانانو په مینه هر څه پریښودل۔ او یا مونږ بل هجرت په سنه ۱۹۴۸ء کښې ولید چه د یو کروړ نه زیات مسلمانان تباه حالت کښې د بهارت نه دے وطن ته را غلل۔

یو ځل شاهي باغ کښې د هجرت کمیټۍ جلسه اوشوه۔ د پنجاب آغا صفدر سیالکوټي په خپل تقریر کښې اووئیل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه افغانستان نه دے هغه خلق په هجرت لاړشی چه هغه زمیداران وی، اُستکاران وی، انجینران وی، نور علم او فن لری چه دَ افغانستان پښتنو ته فائده هم اورسوی. دَ دے تحریک مولوی عبد الغفور یا سید هغه اوو۔ دا هجرت دے او فرض دے۔ هجرت په ړوند، ګوډ، شل، زوړ ځوان، ښځے نرهر چا باندے فرض دے۔ خلقو دَ مولنٰنا تقریر خوښ کړو۔ حال دا چه قومی حیثیت سره دَ اول مقرر تقریر سود مند وو۔ انګریزانو دا سے پیچ وتاؤ اوکړو چه هجرت ناکام شو۔ زرګونه پښتانه او هندوستانی راستانه شو۔ دَ برتاکال ارباب رضا خان او نورخه کسان افغانستان کښ پاتے شو۔ څه روس او ترکیه ته لاړل۔

**خلافت:-** چه هجرت ناکام شو۔ نو څه میاشتے خو چپه چپیا وه۔ بیا علی برادرانو دَ خلافت تحریک شروع کړو۔ مولنٰنا محمّد علی صاحب په خپلو پر جوشو دورو او زوند پیدا کوونکی تقریرونو باندے دَ سیاست مخ بدل کړو۔ اوس نیغ په نیغ د عام اولس مخ پیرنګی ته اوګرزید۔ دَ پیښاور ښهر خلافت کمیټي جوړه شوه۔ او صوبائی صدارت خان عبد الغفار خان ته اوسپارلے شو۔ خلافت تحریک په کلو کښ خور شو۔ څینو مخالفانو به



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خلافت کمیټۍ نه برخلافت کمیټي وے ۔ هم دے هنګامه کښې خان موصوف دریے کاله قید شو۔ مرزا سلیم خان۔ حاجي جان محمد۔ ملاپ سنګھ۔ امیرچند بمبوال۔ ملک خدا بخش خان وکیل دَ پیرو۔ محمد عثمان۔ عبدالعزیز او نور مشران کشران پرله پسے تر ډېره موده پس ګرفتار او قید شو۔ دَ سرهمیلن ګرانټ نه پس دے د رپجه کښې سرجان میفي چیف کمشنر وو۔

دَ او تمانزو آزاد سکول دَ حاجي صاحب ترنګزو دَ سکولونو یادګار باقي وو۔ نور سکولونه خالص دَ عربي وو۔ او دے کښې تر رسم انګریزي په آزاد طریقه سره جاري وه۔ دَ جامعه ملیه دهلي په طرز دَ دے بنیاد په ۱۹۲۱ء کښې ایښوودے شوے دے۔ ددے سکول هلکان دَ نورو مقابله کښې ډیر ژوندي او دَ اوچت کردار خاوندان وو۔

په پېرنګیانو دا سکول ډیر بد لګیدو۔ چیف کمشنر میفي ترځله بهرام خان مرحوم له ترغیب ورکړو چه خیل ترۍ عبدالغفار خان مجبور کړه چه دا سکول بند کړي۔ خو ناکام شو۔

### عبدالغفار خان ۱-

لکه چه ننګۍ بنه شي اودَ ننشتر و هلو ضرورت وي۔ لکه چه دَ زړګي دتره دَ زرغونے دَپاره حالات برابر کړي۔ لکه چه په سخته تیرے کښې دَ دسترا ضرورت وي او حالات بالکل سازګار دي۔ هم داسے دَ پیرنګی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خلاف دَ نفرت زلمه جوړه شوې وه ـ انګریزی حکومت چه دَ افغانستان ـ آزاد قبائیل ـ ایران ـ عرب او ترکانو سره کوم سلوک دَ وحشت بربریت او بې انسانیت کړې وو ـ هغې دَ هر پښتون او هر مسلمان زړه کښې دَ پیرنګی خلاف دَ نفرت ـ حقارت او عداوت یوه دنیا جوړه کړې وه ـ میدان تیار وو ـ دَ انقلابي ځلمو کاروان روانیدونه ملا تړلې وه ـ صرف دَ یو داسې میر کاروان سالار قافله او تکړه چست او نه ستړې کیدونکی مشر ضرورت پیدا شو ـ چه دَ وطن پښتانه دَ آزادۍ میدان له را غونډ کړي ـ وطني لښکر تیار کړي ـ تنظیم او ترتیب پکښې پیدا کړي او دَ انګریز خلاف دَ جنګ سنګر جوړ کړي ـ

**عبدالغفار خان:** دَ هجرت ناکامۍ نه پس زرګونه خلق افغانستان نه راستون شو ـ خان عبدالغفار خان هم راغې ـ دَ انګریز په لاس دَ خلافت تباهي ـ دَ هجرت تباه کن دور ناکامی او عام اولس سره سپور سلوک دَ پښتنو زړونه پولۍ کړی وُو ـ دَ هر چا زړه داغ داغ وو ـ داوخت که هر چا ملا تړلې وې ـ میدان له را غلې وې او شپه ورځ یې کار یو کړې وې ـ نو دَ لیوړی ببرغ به دَ هغه په لاس وو ـ خان عبدالغفار خان او میاں جعفر شاه کاکا خیل ـ میاں احمد شاه دَ قاضی خیل چارسده ـ میاں عبدالله شاه دَ قاضی خیل چارسده ـ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عبد الاکبر خان دَ عمرزو، تاج محمد خان د چارسدے۔ حاجي
عبد الغفار خان دَ اتمانزو۔ محمد اکبر خان خادم دَ چارسدے
سرفراز خان دَ اتمانزو را غونډ شو۔ دَ قوم په موجوده حالت
باندے ئے غور اوکړو۔ او دَ انجمن اصلاح الافاغنه په نوم باندِ
یوه جرګه جوړه کړه۔ دَ دے جرګے صدر شو حاجي عبد الغفار خان
ناظم خادم محمد اکبر خان۔ او باقی ملګری ممبران شو۔ دے جرګے
دَ اصلاحی کار سره دَ آزاد سکول انسانز و بالنه اوکړه۔ او
چاپیره علاقه کښې دَ اصلاح کار شروع شو۔

**خلافت کميټي:-** دَ پېښاور ښیا دغالباً په شور او غوغا اپيښے شوے دے۔ سکندر یا دَ هغه دَ زمانے نه هم بړه چه د اپېښاور رودان شوے دے۔ نو دَ انقلابونو او هنګامو یو مرکز را غلے دے۔ هم دے پېښاور نه حمونږ په لیډ و ډیر سیاسی اصلاحی او اخلاقی تحریکونه جاری شوی او چاپیره خواره شوی عروجونه رسیدلی دی۔

چه رئیس الاحرار مولانا محمد علی یوسفزی دَ پیر ننګیانو
خلاف دَ آزادے نشان پورته کړو۔ نو ټول وطن کښې یو انقلابي
ژوند پیدا شو۔ دے بهادر او ننګیالی پښتون ټول هندوستان
دَ انګریز دَ پاره دَ نفرت دَ زهرونه ډک کړو۔ رنګون او برما
پورے دَ خلافت تحریک اورسید۔ دا سے زور ئے پيدا شو چه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پیرنګیان ترے په خوب کښې پریدل۔

په سنه ۱۹۲۰ء کښې د پېښاور خلافت کمیټي جوړه شوه۔ آغا مقبول شاه صدر۔ بابو ذکریا نائب صدر۔ چاچا عبدالکریم سیکرټری مقرر شو۔

د ټولے صوبے مجلس خلافت صدر میاں جعفرشاه کاکاخیل جنرل سکتر عبدالقیوم خان سواتی د مانسهرے وو۔

د دے سره یو جماعت جوړ شو "رضا کاران خلافت" د خلافت رضاکارانو په خپله ذمه د اصلاح الرسوم کاروائي په ودونو کښې د کنجرو کبیدل۔ او مړو کښې د زیاتو خرڅونو د لاسه به د کور د خاوند مالي جنازه هم اووته۔ د خلافت رضاکارانو که یو خوا د کنجرو بندیز اوکړو نو ورسره ئے د غم په رسم و رواج کښې هم اصلاح اوکړه۔ او د زرګونو روپو بے ځایه خرڅ نه ئے مسلمانان په امان کړل۔ کله کله خو به د رضا کارانو شمار د زر کسانو نه زیات شو۔

د دښمن دښمن هم دوست وی۔ انګلستان کښې د فنډامنټ پرست پیرنګیانو حکومت وو۔ د مزدور او سرمایه دار کشمکش د یو ے اوږد دے مودے نه راروان دے۔ انګلستان کښې د سرمایه دار پیرنګیانو مخالف ډله مزدور ده۔ د سنه ۱۹۲۱ء د خلافت جوش خروش جلسے جلوسونه وُو چه په دے منځکښې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

دَ لندن نه د مئ دوره چې يو ليهر کرنل وېچ ډيټ دَ هندوستان په دوره راغې. پېښاور يانو داسې شاهانه هرکلے دَ هغه اوکړو چه هغسې به دَ بادشاه استقبال هم شوے نه وی. د پېښاور لوئ واړه ټول سنړی مشی له راوتی وو. دَ ناديشبلی هندوستان ټوله زمکه دَ تيبې دَ مخ په شان دَ اور انګاره وه. کانګرس دملک په جامه کښې داسې کار ونه را خستی وو. چه پير ننګيانو باندې پرغن زاغې. خوب خوراک ور باندې حرام کړو. چه حالات ډير خراب شو. نو دَ اولس خيال بدلولو دَ پاره دَ انګلستان حکومت فيصله اوکړه چه شاهزاده "پرنس آف ويلز" دې په دوره هندوستان ته لاړ شی. پرنس آف ويلز هندوستان ته راغې. خو دَ انقلاب دَ ڇپو سره عام اولس په غصه وو لا په جوش شو. مسلمان، هندو، سِکهـ هريو خپله بے عزتی اوګڼله چه انګريز په مونږ پورې لا ملا خند اناوا خستنه.

مسلمانانو وے چه دَ خلافت په حال کوړو او مونږ سره کړے وعدے نه عملی لباس اچولو په ځاۓ دَ پرنس آف ويلز را تلل لس کروړه مسلمانانو پورے مزيد خنداده. دَ مسلمانانو په زخمونو مالګه دوړول دی. د مسلمانانو دين او مقامات مقدسه پورے ټوقے کول دی.

هندوانو وے مونږ " هوم رول " اندرونی آزادولو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په کُمځائے پرنس آف ویلز د ایډورډ دَ ټول هندوستان سیکار دے دے۔ او مونږ پورے دا خندا او ټوقې دی۔ د دے جذبے په وجه د پیرنګے شهزاده چه هر ښار ته اورسیدو خلقو ورته هرکلے اونکړو۔ او نه دَ ده دَ شان سره مناسب قدر او عزت اوشو۔

په ۱۹۲۲ء دَ مارچ په اول دے پېښاور ته دَ هغه دَ را تللو پروګرام وو۔ چیف کمشنر سر جان میفي ډیر کوشش اوکړو چه پېښاور کښې هرکلے اوشي۔ او زما یدنامی او نه شي۔

غرض را چه په ۱۹۲۲ء دَ مارچ میاشت کښې پرنس آف ویلز پېښاور ته راغے۔ اګرچه چیف کمشنر ډیر کوشش کړے وو۔ چه بازار ورته ښائسته او دوکانونه بارونق شي۔ او دَ دے غرض دَ پاره په شاهي مهمان خانه کښې پرله پسے جلسے اوشوے۔ د اطرافو خانان او دَ ښار لوئ لوئ دوکانداران په دے جلسو کښې را بللے شوي وو۔ په ډیر جرأت د ښار عاشق دوکاندار حکومت ته اووئے چه دَ ښار اولس تاسو نه خفه دے۔ مونږ د دوکانونو پرانستو همت نه لرو۔ آخر دا فیصله اوشوه چه د کلونه به خلق راشي۔

دے خوا ښار کښې دَ خلافت رضا کارانو یو اجلاس کښې دا فیصله اوشوه چه هر څه کیږي خو هړتال به کوو۔ دے دَ پاره یو اشتهار چاپ شو۔ په عنوان دَ "مان نه مان میں تیرا مهمان" به دے اشتهار کښې په پېښاور دَ ټولو



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دوکانو ارانو ته اپیل شوے وو۔ چه دَ پرنس آف ویلز په راتګ هړتال اوکړی۔

رضاکاران دَدے اعلان نه پس میدان ته اووتل۔ او مختلف ټولی ئے جوړے کړل۔ په یو ټولی زه افسر شوم۔ دوئی ته هدایت اوشو چه په پنځم دَ مارچ دَ ښار دَ هړتال اعلان اوکړی دَ اعلان کونکو ددے ټولی گرفتار شو۔ څلورم نمبر زما دَ ټولی وو۔ موږ ټول دَ کابلئی تانړے نه راووتے شو۔ "کراس وېږ" ډپټي کمشنر او سرکاری افسران نوابان راغونډ شو صلاح مشوره ئے خپلو کښې اوکړه۔ بیائے موږ ته ټولو ته اووے چه حکومت تاسو پریږدی صباله ضرور هړتال اوکړئ۔ خو ګټ مه کوئ۔

رضاکاران چه په آزادئ سره تانړے نه راووتل نو بیا خواعلانونه په زوره شو۔ چه اے خلقو! شاباسے تاسو دوکانونه بند کړئ۔ خبردار چه دوکانونه پرانیځئ۔

بله ورځ وختی زرګونه کلی وال د باهر نه راوسیتی په دوکانونو باندے اودروے شو۔ سید بزرګ شاه عبدالعزیز اوماهلاً لی درے کسانو دا فیصله اوکړه چه کوم دَشاهزاده څوک یادګارنه پاشی۔ او هغه ته سپاسنامه پیش کیږی دهغه وخت "مهاتما ګاندهی کی جے" "مولنا محمد علی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زنده باد" "انقلاب زنده باد" نعرې وهل پکار دي۔

دَ پیرنګیانو شهزاده سره دَ ټول هندوستان دَ سي-آئي ډي افسران راغلي وُو- یو مه راته جاسوس افسر داسې هم دَ رنګه شاهزاده وو- او چه دَ پېښاور عبدالعزیز خوش باش دَ خلقو په ټیل ماټیل کښې دَ هغه په مخ تا دکول او ټیل نو بیا خو واه واه تور حبشي وریورې خندل۔

نهه بجې دَ پرنس آف ویلز سورلۍ روانه شوه۔ دَ توپونو سلامي اوشوه۔ خوځ قطار قطار چاپېره سلامي اوکړه۔ دَ هندوانو مشر رائے بهادر کرم چند دَ زرو په مجمه کښې ایښي سپاسنامه دَ شاهزاده حضور ته پیش کړه۔ چه کوم وخت هغه ملاوتیته او سبکته کړه۔ ناسا په سپین بزرګ شان دَ " مهاتما ګاندهي کي جے" "عبدالعزیز" انقلاب زنده باد " او ما دَ " مولانا محمد علي زنده باد" چغې پوره نه کړې۔ دا چغې یو قیامت وُو۔ مونږ خو داسې دَ خلقو په خیو کښې ځانونه ځنګ وسته کړل۔ چه دَ خپله ځانه هم خبر نه وو۔ او غوږ تر غوږه خبر نه شو۔

اخوا دَ چیف کمشنر مېفي او دَ شاهزاده دَ محافظ جرنیل رنګ زیړ شو۔ چه مونږ څه کمزل او څه اوشو۔ دَ دومره انتظام سره دا هنګامه۔ دَ شاهزاده دَ مرګ یره پیدا



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شوه۔ فوځ اوسی آئی ډی قول یو ځائی ته راغونډ شو۔ او په ډیر حفاظت ئے پروګرام ټیمکلړے پورے ایخے دکچهرے دروازے نه بهرشوی واپس لاړل۔ ؎

دادَ عشق لارکګه بیرته کرزیډل نشته

جرم کوی دلته نور نشته توبه استغفار

چیف کمشنر سوخت آخستے وو۔ چه پرنس لاړ نو دخلافت دعهده دارو اورضا کارانو ګرفتاری شروع شوه۔ آغا سید لعل بادشاه۔ سید بزرګ شاه۔ الله بخش یوسفی عبدالعزیز خوش باش۔ محمّد عثمان۔ حاجی کرم الٰهی۔ غلام ربانی وغیره څوک دوه کاله او څوک درے کاله قید شو۔

خان عبدالغفارخان۔ مرزا سلیم خان۔ حاجی جان محمّد ملک خدابخش خان درے درے کاله وړاندے وروستو قید شوی وو۔

دَخلافت رضا کارانو اصلاحی کارونو ته کوتے واچولے دَ مانځهٔ تحریک شروع شو۔ دسید چن بادشاه دا نظم به جلوس کښی ویلے شو ؎

پڑھ لبسم الله اُٹھ پڑ یار

چل مست نماز گذار

بے نمازی گر مر جائے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُس دا جنازه کوئ نه چاځ
پیا روے کتا مردار
چل میت نماز گزار

دَدے اصلاحی جلوسونو کارنامه حواله شوے وو داړو مبی ځل وو. چه دَ پښتو شاعرئ مخ دَ تال سر رقص او سرود په ځائے دقوم او ملّت دُغم او ښادئ کښې کیږون دَپاره باقاعده او منظم طور سره قدم واخست. دے جلوسونو کښې به ماسره ملګرو دا نظم وے:۔ سه

اوباسه تو به مسلمه نیخ جماّله ځه
لږے وړزے ژوند دے بیا به کړے ارمان
بیا دِرا تله نشته دے دغه دې یږوار
بس کوے که ښه کوے دغه دے ستا کار
دلته چه څه اوکړے هغه خرڅ دے دَ کاروان
لږے وړزے ژوند دے بیا به کړے ارمان
اے قوم! تباه کړے دے رسم ورواج
ستا جائداد شو واړه په بد رسم تاراج
مال نه دَ ایمان نه لاړے یوئ نه شوے په ځان
لږے وړزے ژوند دے بیا به کړے ارمان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګيالي پښتانه

دَ رضا کارانو جلوس به دَ شپې دَ چکلے بازار نه تلو۔ زرګونه
مسلمانان به ورسره وو۔ ما به دا نظم ملګرو سره وے۔ س

مه، راځئ ځوانانو! بيا نن دے بازاره
ده دَ دے پرمانو دا کوڅه مرداره
ورک ددوئ له لاسه شو زمونږ ښکلي ځوانان
لږ ےورزے ژوند دے بيا به کړے ارمان

په سنه ۱۹۲۳ء کښې يو بل تحريک پيدا شو۔ او هغه دَ
انګريزي تعليم مقاطعه وه۔ ځائے په ځائے سکولونه او
کالجونه بند شو۔ پنډت مدن موهن مالويه د چلے هندو
يونيورسټئ بنارس ساتنه اوکړه۔ هغه بچ شوه۔ او دَ
عليګړه يونيورسټئ نه هلکان لاړل۔

د پېښاور اسلاميه کالج باندے هم حملے اوشوے۔
خو صاحبزاده عبد القيوم خان په خپل قابليت دا کالج
دَ دے طوفان د حادثے دَ څپيړو نه په امان کړه۔

د تحريک په سلسله کښې جلسے ځائے په ځائے ډيرے
په جوش سره کيدے۔ يو ځل دَ شاهي باغ په قومي جلسه
کښې ما دا نظم ووے۔ س

دَ غلام قوم نه په دُنيا کښې بختورن نشته دے
چه وی آزاد والله دَ هغه نه تورزن نشته دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ټنګيالي پښتانه

زمونږ وطن دے او مزے پرے فيرنګيان کوي
که مونږ ه مرو زمونږ د پاره يو کفن نشته دے

پښتونه پاسه خپل وطن که د انګريز نه آزاد
ويره او خوف مکوه تاله دار رسن نشته دے

پښتونه بے تانه هرقوم وينم آزاد او آباد
ستا وطن په شان ښائيسته ښکلے ګلشن نشته دے

د آزادئ محبوبا تا ته سترګک کوونه وهي
د آزادئ د معشوقے نه ګلبدن نشته دے

د غلامئ دا زنار لرے کړه د غاړے ځينے
د مسلمان بے آزادئ نه بل زيستن نشته دے

اراده کلکه، پوخ کوشش او عمل پرله پسے
دے نه کار وا خله ستا په شان فولادي تن نشته دے

زه هلالي په دے جلسه کښې کړم په زوره اعلان
زمونږ وطن دے پکښې هيڅ کار د بولتن نشته دے

دا انجمن اصلاح الافاغنه اسلامي کار په اصل کښې د انګريز د پاره د تخريب کار وو۔ آزاد سکول يو انقلابي مرکز وو۔ او د انجمن اصلاح الافاغنه ټول کارکنان د قوم د پاره د مال او سر نه تير فدا کار۔ د آزادئ نارے د پاره د خپل سر و مال مهر ورکولو نه تيار۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

**دَ لفام ور ق** :- هندوستان کښې دَ هندوانو مسلمانانو دَ اتحاد توت انګریزانو پیر وار خطا کړی وُه وے دَ انګریز په شان څوک چالاک او تیټه باز دے؟ عین دَ سول نافرمانئ زمانه کښې پیو ټکیانو دَ آریه سماج فرقے لیډرانو شردهانند حرخره کړو۔ دَ جیل نه ئے آزاد کړو۔ هغه دَ جیل نه راوتو سره په ملکانه راجپوتانو علاقه کښې دَ مسلمانانو په هندوانو کولو کوټے پورے کړے۔ آریه سماج تکونه روپئ دَ مسلمانانو په مرتد کولو خرڅ کړے هندوستان کښې زوګ شو۔ هندو مسلمان ته او مسلمان هندو ته برګ شو۔ شردهانند یو اخبار جاری کړو "شدهی"۔ دَ دهلی حسن نظامی تبلیغ ته ملا ادو تړله او "تبلیغ" په نوم ئے اخبار جاری کړو۔ دا دبا پښاور ته هم راغله۔ دے سره راجپال یو کتاب "رنګیله رسول" چاپ کړو۔ بله رساله "ورتمان" کښې دَ حضرت رسول اکرم صلے الله علیه وسلم په ذات اقدس باندے تهمتونه لګولی دو۔ دے دَ اور دُ پاسه دَ تیلو کار اوکړو۔ یو طوفان بے تمیز هر خوا ته خور شو۔ په ډیرو لویو جلسو کښې ما هم دَ هندوانو خلاف نظمونه اوویل۔ چه په هغے کښې پښتنو ته اپیل شوے وو۔ چه دَ هندو ډاکټر، وکیل،



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دوکاندار او زميندار بائيکاټ اوکړي. دے نظمونو يو وختي طور سره چاپيره وطن په هندوانو تنګ کړ. يو ورځ کرنل کيبن ډپټي کمشنر آغا لعل بادشاه، علي ګل خان، آغا قاسم جان الله بخش يوسفي، عثمان او زه بنګله ته اوبللو. درے کرسۍ يو ډپټي کمشنر بله دخان بهادر سعد الله خان او دريمه د نواب دوست محمد خان دپاره ايخے وے. زمونږ دپاره يو بينچ اودرے په چمن کښې خوره وه. زمونږ ملګرو کرسۍ ګنړلے علي ګل خان اردلي ته اووے. صاحب ته دے نورے کرسۍ راوړه. هغه لاړو نورے کرسۍ راوړے. څه درنګ پس کيبن دا شعرانو سره راغے. زه هم پر اوچت شوم. دکيبن خوله توجه مانه وه. دے هلا لي ستا پښے خوږيږي چه اوچت نه شوے؟ ماجواب ورکړو. صاحب! پوازے پښے نه. بلکه زما د ايمان زړه خوږيږي. زما د رسول اعظم توهين کيږي. او ته حکومت نه مجبوره وے چه راجپال غوندے سپي له سزا ورکړي؟

کيبن اووے دا زما د اختيار نه بهر دے. بيا د خلافت د مشرانو او کيبن ترمنځه ډير بحث اوشو. آخر کيبن ما ته اووے. زه د رضا کارانو فوځ نه منم. دا فوځ مات که — ماجواب ورکړو. د رضا کارانو د ناظم په حيثيت زما کار



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا دے - چه د مجلس په نوم را غلی کا غذونه ورته مخکښې کیدام
نه مانه حکم اولیکه - زه به رضا کار مجلس ته په وړاندے کیدام
چه فیصله اوشی تاله به خبر درکړم -

کین اووے زه تاته حکم نه لیکم - ستا جماعت به ئے توړهین
ادکړی - دے خبرے نه پس جرګه ختم شوه - بله ورځ ډندوره
اوغږیده - چه د ډپټی کمشنر په حکم ښارکښې دوه میاشتو
د پاره ۱۴۴ نافذ کیږی - جلوس او جلسے بند -

دے شپو ورځو کښې مولنا عبد الحکیم صاحب پویلزیٔ
د خلافت کمیټئ صدر - علی ګل خان جرنل سکتر او آغا
سید لعل بادشاه مرحوم د مجلس سرپرست وو - شاتم
رسول کنده د هن را جپال د غازی علم دین د لاسه قتل
شو - او هغه د خدائ رسول عاشق د پهانسئ شهادت بیامو
مرکزی حکومت د انبیاء او اولیاؤ احترام د پاره
تعزیرات هند کښې یو دفعه ۱۹۳ زیاته کړه - ځکه چه د عطاء
الله شاه بخاری تقریرونو ټول هندوستان غوزولے وو - او
د حکومت نه ئے یو دوه خطا کړی وو -

په ۱۹۲۶ء کښې د خلافت کمیټئ په دعوت او د صاحبزاده
عبد القیوم خان په مالی امداد پېښاور کښې د ټول هندوستان
د جمعیت العلماء کالیزه جلسه د حضرت مولنا سیّد



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

انورشاه صاحب محدث کشمیری په صدارت کښې اوشوه -
دے جلسے ته په سوونو علماء او لیډران یوشان راغلی وو۔
یخه فضا دے جلسے دا سے توده کړه چه یونوے ژوند ئے پیدا
کړو۔ دَ باچا خان ځامنو عبدالغنی خان او عبدالولی خان
په جلسه کښې یو نظم اووے ۔ سه

دَ خدائے دَ پاره اے عالمانو عوږ کیدی ځنګه دنیا کښې شور دے
مونږ ده ئے لوټ کړو، مونږ ده ئے ورک کړو غل نتوتے زمونږ په کور دے

دا یو بیت زما یاد دے۔ باقی م دذهن نه کوز شوے دے۔
دے بیتونو اودَ غنی خان او ولی خان آوازونو جلسه کښې یوه
زلزله پیدا کړه - دَ مولانا انور شاه صاحب دَ صدارت خطبه
مولانا حفظ الرحمٰن اولوستله ۔ دَ مولانا مدنی مولانا
حسرت موهانی او مولانا ظفر علی خان مولانا محمّد علی
تقریرونو په انګریز اور پورے کړو۔
بل کال دَ مولانا محمّد علی دَ راغو بښتنے انتظام اوشو
دَ مولانا محمّد علی دَ جلوس او هر کلی دَ پاره دا سے انتظام
اوشو چه دَ بادشاهانو نصیب نه شو۔ دَ هغې نه پس هم
پیر جلوسونه وتی دی۔ وے دا سے نه۔ په پیرشان سره
مولانا محمّد علی تشریف راوړو۔ هر کلے اوشو۔ او دَ شپے
مانګو منډهئ کښې جلسه اوشوه۔ ما دَ هغوئ په خدمت



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې يو نظم پيش کړو۔ مولانا صاحب په خپل تقرير کښې دَ هندو او مسلمان دَ اتحاد ذکر اوکړو۔ دا خبره په مسلمانانو بده اولګيده۔ يا په هغه شپه کښې دَ پښې کيښودو ځائے نه وو۔ يا بله شپه جلسه کښې مچان بنړيدل۔

دَ ياد نه مِ اووته چه په خپل ځائے مِ دَ کاکا خيل حميد ګل مياں صاحب ذکر کړے دے۔ حميد ګل مياں صاحب نوحُ کښې په ډيره لويه عهده پنشنر او دَ قيصر هند خطاب لرلو۔ دا خطاب ډير کم ديسي خلقو له ورکړے شوے وو۔ هر کله چه حميد ګل مياں اوليده چه فيرنګيانو اسلامي خلافت تباه کړو۔ او مسلمانانِ ذليل کړل۔ نو هغه انګريزي تمغے او خطابونه هر څه چيف کمشنر ته واپس کړل۔ ټول هندوستان کښې حميد ګل مياں هغه ميني سړے وو۔ چه سرکاري اعزازات او خطابات ئے په لته وهلي دي۔ فيرنګيانو دا خپل توهين اوګڼلو۔ اول خوئے په نرمئ او دلاسه مياں صاحب دے ته مجبوره وو چه تمغے واپس واخلي۔ خو چه هر چا دو منتر بے کاره شو۔ نو بيائے ګرفتار کړو۔ او ملکي بازار ټهانړه کښې ئے بند کړو۔ نه يوازے زيارت کلي بلکه ټوله ضلعه کښې شور غوغا شوه۔ ګرم ګرم جلسے شروع شوے۔ اکبر شاه مياں صاحب مرحوم دحاجي رحيم شاه مياں صاحب مرحوم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دور دَ یو بهادر جرنیل په حیثیت خپل فرض ادا کړل ۔ دَ نوابانو او قوم مطالبے ته انګریز غاړه کیښوده ۔ حمید ګل میاں صاحب آزاد شو ۔ او قوم هغهٔ ته "دَ فخرِ قوم" خطاب ورکړو ۔

دَ آزاد سکول هره کالینه جلسه کښِ به یوه مشاعره کیده ۔ یو ځل دَ مشاعرے دا طرح وه ۔ سه

" جنګ دَ آزادئ له همیشه ځلمی وتلی دی "

په دے طرحه ډیر نظمونه اوویلے شو ۔ دے کوم نظم چه عام اولس او دَ انتظامیه دَ خوانه انعامی کمیټئ خوښ کړ هغه دَ مرغزَ دَ ګل احمد شاعر نظم وو ۔ او دا بیت دَ هغه شاه نزد کښِے شی ۔ سه

" باز که دَ غماز په لاس کښِ ناست دے هیڅ پروا نشته
مونږ دَ زړه په غوښو باتو ران ورنه ساتلی دی "

دباز او باتور مقابلے او تشبیه په شعر کښِ ژوند پیدا کړو او بیا بیا دا بیت خلقو وا ورېدلو ۔

را په یادم شو ۔ چه په ۱۹۲۶ء کښِ دَ خان عبدالغفار خان والد محترم خان بهرام خان دَ پنځه کم سلو کالو په عمر وفات شو ۔ جنازے له زرګونه عالم را غلے وو ۔ ډیر ملایان او طالبان صاحبان ۔ خان موصوف دوالد صاحب په سقاط کښِ زر روپئ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کیښنودے۔ داوے سقاط وو۔ چه پروسبیٔ اودویمه دوره ختم شوه۔ نو په دریمه دوره کښې باچاخان هم کیناست۔ چه سقاط نزدوی راورسیده۔ ادیو ملا صاحب باچاخان ته داپښو دکے ورکړو اوورته ئے اووے" ما تا ته ښبنلے دے" نو باچاخان خپل ځائے ته پاسیدو۔ اوملا یانو صاحبانو ته ئے اووے۔ دا سقاط تاسوما ته ښبنلے دے؟ اکثرو اووے "هو" باچاخان اووے" ستاسو شکریه" مادا روپۍ آزاد سکول ته او ښبنلے۔ ځکه چه په آزاد سکول کښې دا سے نادار هلکان شته۔ چه د کتابونو لاس ئے نه رسی۔ او نه د جامې درک۔ ستاسو دے ډیر لوئے ثواب خدائے نصیب کړی۔

خلق هنوفه کمزله۔ خو خبره ربښتیا شوه۔ هغول طالبان او ملایان صاحبان نښ پائے شو۔ او دوپیٔ باچاخان خندی کړے۔ جنازه خښنه شوه۔ خلق یو خوابل خواته لاړل۔ نو رنګارنګ خبرے شوے۔ چا دے عبد الغفار وهابي شو۔ چا شوے او چا څه۔ چه څو مره خولے دومره خبرے۔ د باچاخان نیت نه خو د ملایانو صاحبانو توهین وو۔ او نه د طالبانو حق وهل۔ بلکه د شرعی حیلے سقاط په شرعی حجت سره همغوئ د سکول د طلبه د امداد دپاره یوه ښکه د دے موقعے نه حاصله کړه۔ که تقسیم شوے وے نو څاڅکے به رسیدلے وو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوپه یو ځائے به په معقول ځائے کښې خرڅ شوی وی۔
خوب نه چه بید ارشی د محکوم ملت ځلمی
بیائے د جادو په ډلو چپ کړی حکمران
د هندوستان د مخالفت طوفان ورز تو ورز زیاتیدو
هره هفته هرتال۔ هره هفته جلسے۔ کارخانے بند۔
ماشین خانے بند۔ ریلونه بند۔ ډاکخانے بند۔ تارخانے
بند۔ د جهازونو روزګار بند۔ دفترونو کښې منځ کانو
دنګل۔ ګویا د حکومت ټوله کارخانه بے کاره ولاړه وه۔ د
تشدد په ځائے عدم تشدد۔ د حضرت عیسٰی علیه السلامؑ
تعلیم را ژوندے کړے شوے وو۔ ګاندهی وے چه اے
کانګرسیانو که یو کس په یو مخ پیرتی در کړی۔ نو بل مخ ورته
مخکښې کړی چه په دے هم ګلن ار راکوه۔ د انګریز تشدد
او د عام اولس او کانګرس جماعت د خوانه عدم تشدد د
انګریزی حکومت بے جوابه کړو۔ نو آخر بله راوا خستنه۔
د انګلستان مشهور سیاستدان او بیرسټر سرجان
سائمن په نوم یو کمیشن مقرر کړو۔ په دے غرض چه
هغه دا معلوم کړی۔ چه د هندوستان خلق آخر غواړی
څه؟ ګویا د انګلستان حکومت کونړ وو۔ هیڅ ئے نه آوریدل
او په غبرګوسټرګو روند وو هیڅ نه لیدل۔ چه سرجان سائمن



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د خپلو ملګرو سره د جهاز نه د بمبئ په بندر پښه کښېښوده۔ ټول هندوستان کښې د خفګان هړتال اوشو۔ او چه هر بنار ته د کمیشن لاړو۔ نو په تورو جنډو سایمن ګو بیک نعرو او هړتال د هغه هرکلی اوشو۔

پېښاور کښې د قاعدے د مخه کانګرس کمیټي تر دے ساعته موجوده نه وه۔ وے د کانګرس ټول پروګرام خلافت کمیټي چلولو۔ سنه ۱۹۲۷ کښې د سایمن کمیشن هندوستان کښې نازل شو۔ د پېښاور دا د مردان خانان راغونډ شو۔ په اسلامیه کلب کښې په ۲۵ جنوری سنه ۱۹۲۸ په دے غرض سره چه د خپلو حقونو ساتنے د پاره کمیشن ته مطالبات وړاندے کړو۔ جلسه د خان بهادر عبدالغفور خان مرحوم د زیدی په صدارت کښې شروع شوه۔ نواب دوست محمد خان مرحوم په اصرار ما نه د یو قومي نظم خواهش اوکړو۔ ډیره لویه جلسه وه۔ ما د هغوی د خواهش په احترام دا نظم اووے۔ ؎

چه خیرخواهي د وطن هغوی له دار دے
او د دار د سر د پاسه بیا سنګسار دے
د وطن مینه چه څوک لري په زړه کښې
د هغه د بسترے لاندے انګار دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پوره نه کړے چه هرچا دَ حق آواز دے
د باطل هغه سره جنګ و پیکار دے

ابراهیمؑ چه آذری کړله اختیاره
نمرودیانو غور زولے په انګار دے

چه اعلان دَ آزادئ ذکریاؑ او کړو
په آره دوه ټوټے کړو سزاوار دے

چه موسیٰؑ دَ آزادئ نشان بلند کړو
دَ فرعون او لښکر ځکه دښمن دار دے

چه عیسیٰؑ دَ آزادئ چغه کړه پوره
یهودیانو وے اوس دار درله پکار دے

محمدﷺ رسول الله دَ خدائ محبوب دے
او په وارو مرسلانو کښې سردار دے

چه بیرغ دَ آزادئ هغوئ اوچت کړو
په غضب ورنه هریو لعین مردار دے

دَ یزید نه آزادی حسینؓ غوښتله
د بال بچ سره شهید شو څه اسرار دے

آزادی غوښتل دا کار دے دَ نبیانو
آزادی یو لوئ نعمت دَ کردګار دے

چه شی مړ په غلامئ کښې نوم ورک شی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

چه په مینه دَ وطن مرشی سردار دے
غدّاران دَ وطن تل مرے چرچے کړی
دَ ننګوس تل دَ مردارو سره کار دے
خدائے دپاره اے پښتونه راپید ارشه
په دنیا کښ بیا را غلے ستا وار دے
دا زنار دَ غلامئ غاړے نه غوس کړه
ستا په پوزه کښ دَ اوښ په شان مهار دے
که ژوندون غواړے پښتونه ځان آزاد کړه
هلالی وائی عزت که ستا پکار دے

دا نظم په عام اولس خو ډیر ښه اولګیدو۔ ولے دَ خانانو صاحبانو پرے تندے تریو شو۔ او جلسه بے مقصده برخاست شوه۔

په دریم فروری ۱۹۲۷ء دَ سحر کاډی کښ دَ سائمن کمیشن ارکان پیښاور ته راتله۔ دَ خلافت کمیټئ په اعلان هړتال ښار بند وو۔ دَ آغا لعل بادشاه په مشرئ کښ یو ډیر لوئ جلوس قصه خوانئ نه اشنغرئ دروازے نه روان شو۔ سائمن ګوبیک۔ سائمن واپس جاؤ۔ نعرو او تورو جنډو سره بے پناه جلوس اشنغرئ نه بهر وتے کچهرئ دروازے ته راغے۔۔ دا موجوده کننګلم پارک چه دے۔ دلته



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په لوئ میدان کښې زرګونه اولس راغونډ شو۔ تقریباً نهه بجے به وے چه ریل ګاډے راغے۔ اوخلقو چغے سورے جوړے کړے۔ سایمن ګوبیک۔ سایمن واپس ځه۔ سایمن واپس جاؤ۔ تورے جنډے خوزیدے۔ اوخلقو نعرے وهلے۔ چه ګاډے تیر شو۔ ذ آغا صاحب صدارت کښې جلسه شروع شوه۔ ما پکښې یو نظم اووے۔ چه د دغے یو دوه بیت داوو۔

؎ زمونږ وطن ته مه راځه اے سایمن ګوبیک
خه به ستنه لندن ته بیا اے سایمن ګوبیک

**سرخپوش:-** اخوا او تمانزو کښې ذ سرخپوش تحریک بنیاد کیښودے شو۔ ذ سرخپوش جماعت صدر سرفراز خان او سالار ربنواز خان او سرے جامے وردی مقرر شوه۔ اشتغر۔ داؤدزی۔ خلیل۔ مهمند۔ نوښار۔ خټک مردان او صوابئ کښې تحریک په تلاوره تلاوره خوریدو۔ او پښتانه شاه ځلمی ذ ګلونو لختے په سرو جامو کښې داسے ښکاریده۔ لکه ذ دادهٔ شاه ځلمی۔ ډول سورنا ذ ځوانانو په زړګونو کښې ذ ننګ غیرت دینه به جوش را وسته۔

ذ باچا خان ذ خانئ نوم۔ شهلے ذ خاوند جامے، ساده خوراک۔ پیاده ګرزیدل۔ سوچه پښتو۔ به شهل الفاظو کښې تقریر یک به تاثیر۔ ذ بربنډو خوارانو خلقو سره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کېناستل - یو ځائے خوړل څکل - ټول قوم له د بیدارئ خوددارئ عزت نفس - آزادئ خپلواکئ وطن دوستئ د وطنی څیزونو استعمال بدلیشی او انګریزی مال بائیکاټ سبق ورکول - جماعتی وجود تنظیم انتظامی ژوند - شریک ژوندون - یو بل سره تعاون د سرخپوشئ مقصد بیانول، ځوانانو له د سرخپوشئ دعوت ورکول - او د وطن په خوارئ بے کسئ غربت او جهالت ته د قوم توجه کرځول قربانئ جان نثاری فداکاری او بے مثال ایثار د پاره ځوانان تیارول - تکلیفونو سره ځوانانو کښې عادت پیدا کول - پښتون یو قوم جوړول - پښتنو نه فرقے پټنے نفرت دښمنئ تربګنئ او عداوت لرے کول - یو قوم یو جماعت یو نظام او یو امام جوړولو تلقین نوم نه کول -

د باچاخان د تقریرونو لوئے عنوانات دغه وو او دغه دی چه کوم بیان شو -

میاں احمد شاه صاحب قاضی خیل چارسده د سرخپوش نوم په ځائ د خدائی خدمتګار لفظ تجویز کړو او جماعت په ډیر شوق دا نوم منظور کړو -

په ۱۹۲۸ء کښې افغانستان کښې سقاؤ کړدی شروع شوه - پښاوریانو د سقاؤ وکیل التجار امام الدین چار کاری باندے پښاور نکه د فیرتنګ کړو -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

افغان ریلیف کمیټي جوړه شوه۔ فاروق شاه میاں د جعفر شاه میاں سره شلو زره روپۍ د پښتنو امداد له ورکړے۔ باچا خان او جعفر شاه میاں تند دهاړنه روان شو۔ خو پیرنګیانو پرینه خود باچا خان کوهاټ۔ هنګو۔ ټل۔ بنوں۔ ډیره اسماعیل او کلاچي ټانک کښې ډیرے لوئې جلسے اوکړے۔ زه دے جلسو کښې ورمرو دم۔ باچا خان پښتانه ډیر ملامت کړل۔ او د بچه سقاؤ خلاف ئے جنګ له ترغیب ورکړو۔ دے دغه جلسه کښې نزدکونه قبائلي وزیر مسیت۔ دوړ۔ زازي۔ منګل۔ علی خیل او سلیمان خیل شریک وو۔ د پیښاور جلسو کښې اکثر مهمند شنواری او افریدي هم شریک وو۔ چه زه واپس راغلم نو ما هم درد افغان کښې ډیر سخت مضامین د انګریزانو خلاف اولیکل۔ او په دے وجه حکومت په اتم اپریل ۱۹۲۸ء ایبټ آباد کښې نظربند کړم۔

**د ځلمو جرګه** :- په ۲۹ ر ستمبر ۱۹۲۹ء اوتمانزو کښې بیا غونډه اوشوه۔ دا جلسه د خوشحال خان باریکاب یاد ډیره اسمٰعیل خان حاجي محمد صفدر خان وکیل په صدارت کښې اوشوه۔ دے جرګه کښې "افغان یوتھ لیګ" یا "د ځلمو جرګه" جوړه شوه۔ د دے جرګے صدر عبدالاکبر خان د عمرزو۔ او جنرل سکتر احمد شاه میاں د قاضي خیل چارسده شو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ خدائي خدمتګار سوګندنامه چه تياره شوه ـ نو دهغې لوئې جزو داؤو. امن قائم ساتل ـ صبر کول ـ خدمت او قرباني کول په جذبه لرے کول ـ دافسر حکم منل ـ دَ آزادئ دَ پاره لمر تکليف زغمل ـ هټول پښتون يو ګڼل ـ دُخدمت بدل کښې دهيڅ بدل انعام طمع نه لرل ـ او نور ـ سه

په ځلمو کښې چه پيدا شي دَ شهباز په شان نظر
دُبانو په شانِ ښيري بيا دَ شاهين ظالم ځيګر
شاه ځلمي چه په ميدان کښې دَ طلب کيږي کامونه
بيا دَ دوئ په اراده کښې برابر وي غرا و ور
دَ درياب سينه کړي ښيرے توربالي په ورانږ درمي
او روان دُ غرهٔ سينې نه کړي درياب په لرو بر
پښتانه ځو انان راوينش شو يا تخته ده او يا تخت
آزادئ نه کله دے خوا په بل ښين کړي نظر
آزادي او پښتون دواړه پيدا شوي دي توام
آزادئ نه پښتون کله په بل ښين خوشحال ځيګر
آزادئ له کفنونه شاه ځلمو دَ سرونه تاؤ کړل
آزادئ پسے په جنګ ځي شاه ځلمي په کرو فر
هلالي دا پښتون تام به يوه ورزے کامران شي
آزادي به په ملک راشي ، غلامي ځي در په در



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ فرورۍ میاشت سنه ۱۹۳۱ء په آخر کښې زه دَ ایبټ آباد نظربندۍ نه آزاد شوے کور ته راغلم - ما بیا م آغا لعل بادشاه سید محمود شاه ، علی ګل خان او نور ملګرو زما غریب خانې ته تشریف راوړو - دَ هر کلی نه پس مے دَ ضلع کانګرس کمیټي دَ جنرل سکتر عهده ما ته پیش کړه - کانګرس څو میاشتے وړاندے جوړه شوے وه - په لنډه هور کښې چه د کانګرس کالینه جلسه وه نو خان عبد الغفار خان - آغا لعل بادشاه علی ګل خان او نورو کانګرسی دوستان هم لنډه هور ته تلی وو - ربښتیا خو دا دَه چه دَ لنډه هور کانګرس لوئ رونق دَ پښنا ور کانګرس رضا کارانو جوړ کړی وو -

دَ مارچ میاشت کښې د باچا خان اطلاع آغا لعل بادشاه له راغله - چه هلته لی مونږ له را او لیږئ - زهٔ او تما نزوله لاړم - او باچا خان سره په جلسو کښې شریک شوم - دا زلمنا او لیدو چه ملک بدل دے - قام بدل دے - ملت بدل دے تاریخ بدل دی - زمانه بدله دی - وړه بدل دی - زا په بدل دی - ځوانان سره - جیوانات سره - زمکه سره او آسمان سور - دَ انقلاب زنده باد - فخر افغان زنده باد نعرهٔ تکبیر - او اسلام بری په نعرو زمکه آسمان او جهان خوزیده -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو ځل د تمین جان خان کلی ته باچا خان جلسے له لاړ۔ چه
صونړ د جلسے نه واپس اتمانزو ته راغلو نو یو څو خانان راغلی
وو۔ په خند اکښی هغوئ ته باچا خان اوویے۔ "په نا ټکانو مو
ډیره سخته ده۔ خو دا ځل به ستاسو نا ټکان زما د ګرفتاری
په قیمت پوره شی۔"

دا ننان جرګے او ځلمو جرګے په شریکه جلسه کښی
فیصله اوشوه چه کالیزه جلسه به ۱۸-۱۹-۲۰ اپریل
کوو۔ د کالیزے جلسے اعلان د میاں احمد شاه د خوا نه
اوشو۔ ورسره دا فیصله هم اوشوه چه یوه مشاعره
او ډرامه کول دی۔ د ډرامے د پاره عبدالاکبر خان اوزه
هلالی جرګے خوښ کړو۔ عبدالاکبر خان اوزه شیرپاؤ ته
د حاجی غلام حیدر خان مرحوم حجرے ته لاړو۔ هلته چیه
چیپا وه۔ عبدالاکبر خان د "خدائی خدمتګار" ډرامے له
متن او عبارت له ترتیب ورکړو۔ او زما په ذمه نظمونه
شو۔ ډرامه تیاره شوه۔ جرګے خوښه کړه۔ بیا د ډرامے
د هلکانو تربیت هم ماته او سپارلے شو۔ ۱۴ یا ۱۶ هلکان
د قدرته ښکلی۔ رنګ نه ښنا یسته۔ آواز ونه مزه دار ماچونړ
کړل۔ اتمانزو نه نزدے ادیره کښی د ډرامے تربیت شروع
شو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ جلسے انتظامات مکمل شو۔ ماسټر ممتاز خان دُ بنوں دَ آزاد سکول دَ امتحانات اعلیٰ نتیجے راسرګند ے کړے۔ دَ ۱۶ تاریخ نه دَ میلمنو راچلیدل شروع شو۔ دُ حکومت وارخا متا شو۔ لارے دَ سیندونو هرڅه ئے بند کړل۔ ورے دَ دوؤ خیبر بنیادمان چا منع کوے شو۔ دَ پېښاور دَ ښار خلق دَ مردان په لارے اتمانزوته اورسیدل۔ اندازه داوه چه اتیا زره پښتنو په دے جلسه کښې شرکت کړے وو۔ په اتلسم اپریل جلسه شروع شوه۔ او ترشلمه جاری وه۔ ډیر تجویزونه پاس شو۔ دَ باچا خان تقریر دَ سرحد دَ سیاست یوه آئینه وه۔ هر تکے په زړونو باندے داسے کیناستو لکه په کانړی باندے کرښه۔ په شلم اپریل ماسپخین نه پس ډرامه شوه۔ دا ډرامه په حقیقت کښې دموجوده حالت آئینه او دَ راتلونکی دور دَ پاره دانقلاب داعی، منادی، او راهنما وه۔ دَ ډرامے په دوران کښې دو راني زمیندار په حوالات کښې زما دا نظم په داسے انداز سره اووئیلو چه خلق ئے اوژړول۔ سه

داسے ذلت دژوند نه مرګ زه او س بهتر ګڼړم
کور دَ دے تحصیل دَ حوالات نه زه بدتر ګڼړم
راغلم حوالات ته ماشومان یې م پاتے شو

## ټکيالي پښتانه

خدايه ته مې مل شې تا خاوند ذ خير و شر ګڼم
نشته دے پېسے ماليه راوړم ډکوم ګما يه زه
درنګ ساعت له زه يګښن ليلام مال او سر ګڼم
اوګے بربنډ ګرځم په خپل ملک کښې د بال بچ سره
مورچه مې بال بچ په ګېډه شي هغه اختر ګڼم
ټيک ذ پيرنګي سپي خوري او ماله سوکړک پياز نشته
عدل ذ انګريز ذ چنګيز ظلم نه بدتر ګڼم
اے هلالي خان نواب هم دلته کښې را تلونکي دي
دے لومه کښې ګير ذ ميان ملک ذ ملا سر ګڼم

ذ دراے په آخر کښې زما خپل پارټي وود قيدي، ذ شراب او ولايتي کپړو د بنديز په جرم کښې وېټي کمشنر د نعه سم کښې درے کاله قيد کړم. انګريزئ په لاس ذ ستيج ذ پاسه زمادے نظم انيا زره خلق اوريزول. سه

بيائ مې زندان له ظالم لاس کښې مې رنځيږدے
زه ذ قوم خدمت کوم بس دا ذ ما تقصير دے
زه انګريز ته وايم ځه لندن ته پريږده داوطن
دائ فيرنګے ته ئے باغي تاله تعزير دے
سپين په مخ اوتوريه زړه دا قوم ذ مير ټکيانو دے
من ذدے ظالم ذ لاسه هر سړے دلګير دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

### ننګیالی پښتانه

نور دَ غلامئ دالعنتي ژوندون تېروم کله

څکه فیرنګے دے په غضب زړونے تاؤ کېږدے

اے پښتونه پاسه داوطن دے یو ګل بیاکه خیل !

څه دی دَ انګریز دا ستا دَ پلار نیکه جاګیر دے

مه ږیږیږه پاسه فیرنګے وطن نه او باســــه !

ستا دُ زور په څکښں دَ انګریز قوت نخچیر دے

خپل قیمت په خپله کړه بدل داسے ځوانان کوی

ملا اوتړه پاسه حکومت دا رپه هوا کیږر دے

نشته په والله زما په زړه کښں دَ انګریزو بیږ

خلق مانه وائی ځلالی نوم رم خا نمیږ دے

دَ جلسے په آخر کښں ما اعلان اوکړو چه په ۲۳۔ اپریل به پښاورکښں سول نافرمانی شروع کیږی۔ جلسه ختم شوه۔ زه په ۲۲۔ اپریل پښاور ته راغلم۔ ماسختن خبر شوم چه دَ شپے به ګرفتاری وی۔ د حاجی عبدالمجید سوداګر چوب په صلاح دَ کهنتړه خوآکښں جومات کښں رم شپه تېره کړه۔ صباچه دَ کانګرس دفتر ته لاړم۔ نوخبر وته راغله علی ګل خان۔ مولنا عبدالرحیم۔ عبدالرحمٰن ریا۔ رحیم بخش غزنوی۔ پیره خان۔ روشن لعل۔ اجرج رام ګرفتار شوی زه۔ الله بخش برقی۔ غلام ربانی دَ آغا لعل بادشاه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کورته روان شو۔ بیا مونږ ټلو د واړه یو بیر جلوس کښې قصه خوانی ته اورسیدو۔ څمونږ د گرفتاری په وخت مټ کاف ډپټی کشنر ژوبل شوے وو۔ گوره موټر سائیکل سوار ژوبل شو۔ انس منگر پولیس جرنیل اول گروالی فوځ ته حکم د فائر ورکړو۔ چه هغوی انکار اوکړو۔ نو بیا گوره فوځ داسے گولئ اوچلولے لکه باران ۔ سوونه پښتانه وغیره شهیدان اوژوبل شو۔

دا خبر چه اتمانزو ته اورسیده نو خان عبدالغفار خان د حال معلوم ولو د پاره په تندئ پیښاور ته راروان شو۔ چه د داؤدزو مخفئ تهانړے ته اورسید ۔ نو پولیس گرفتار کړو۔ اخوا چارسده کښې احمد شاه میاں ۔ عمرزو کښې عبدالاکبر خان۔ او تمانزو کښې سرفراز خان او حاجی شهنواز گرفتار شو۔

جعفر شاه میاں د پیښاور نه کلی ته تلو۔ مخفئ کښې ورته باچا خان جولئ اوغوړوله چه میاں صاحب زه درته لاوړم انقلاب را تلونکے دے۔ څوک د قوم مشر نشته۔ دا قوم د خدائے په آسره تا ته سپارم۔

مونږ د پیښاور جیل خانے نه د پیښاور قلعه بالا حصار ته بوتلے شو۔ ځکه چه جیل کښې قیدیانو څمونږ په سر فساد ونه اوکړل۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په قلعه کښې میجر کاب مونږ دولس کسان درې درې کاله قید کړو.
دمئی میاشت کښې ماذیکر اکبر علی خان ډی. ایس. پی راغے. د
خیریت پښتو سے اوکړو. بیا مامختن درے لاری فوځ راغلے.
مونږ په هغې کښې کینوے شو. اکوړی ریل سټیشن پورے لاړو
اودسولو. او بیا د دغه ځائے نه د شپې یوه بجه ریل ګاډی کښې پنجاب
ته روان شو. صباله پنډئ ته اورسیدو. مونږ نور خلق ځان ته
راګرځولو د یاره اتکوئ غکوے او دا نظم موو د سره وے. سه

آہی غرق کر بیڑا تو برطانوی حکومت کا
جہاں سے میٹ دے نقشہ اسی شیطان حکومت کا

بیا څه نو د سنټر کورټ کښې ټول اولس را او چلیدو. پوهړئ
ګوړئ میوے هرڅه دلئ دلئ شو. بیا په هر سټیشن دا
میله وه. کوز پاسپخین ګجرات سټیشن ته اورسیدو. دلته د
پنجاب پولیس چارج واخست. چه مونږ جیل خانے ته اورسیدو
باچا خان او نورو ملګرو سره مو بیده اوشو نو زړه مو باغ
باغ شو.

**سرپټ ګجرات:-** د ګجرات ښار په دوه وجه مشهور دے. یو دا چه
دے ګجرات کښې د "سهنی مینوال" قیصه تیره
شوے ده. او د فضل شاه تصنیف کړے ښار شهرت زیات
کړے دے. دویم دے ښار کښې یو زیارت دے "پیرشاه دوله"



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

روایت دے چه دے زیارت بانډے چا څوک غوښتے دے۔ نو
هغه ماشوم دَ پیدایش په وخت چواسرے وی۔ دلته تول
ملنګان چواسری وی۔

دګجرات جیل کښې دَ دهلی۔ پنجاب او سرحد سیاسی
لیډران راغونډ شو۔ دا جیل خانه که دَ خوراک په حقله هومره تنګ
وو۔ نو دَ ذهنی تربیت په وجه سیاسی مکتب۔ مولنا کفایت
الله۔ مولنا احمد سعید۔ مولنا ظفر علی خان۔ ډاکټر محمد
عالم۔ مولنا عارف هسوی۔ دیوی داس ګاندهی۔ شنکر
لال۔ ډاکټر ستیه پال۔ ډاکټر ګوپی چند۔ دُنی چند انبالوی۔
وغیره دپنجاب پریس دَ هندوانو په ولقه کښې وو۔ باچا خان
دَ هندوانو سره ډیر نزدے شو۔ جیل خانه کښې دَ شری کرشن
ګیتا او دَ ګورو ګوبند سنګه ګرنتهه اووست۔ غوښته ئے په
ځان بنده کړه۔ په دے وجه هندو اخبارونو بهر دنیا کښې زمونږ
فخر افغان په سرحدی ګاندهی مشهور کړو۔

په جیل خانه کښې به هر ماسپخین مشاعره کیده۔ او یوه
جلسه۔ کله به دَیو لیډر تقریر او کله دبل۔ مازیګر به ډاکټر
انصاری۔ مفتی صاحب او نور لیډران هندوان مسلمانان
راغونډ شو۔ زمونږ پښتنو ننداره ته به کیناستل۔
رحیم بخش غزنوی او غلام ربانی به منګی را واخستل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او مونږ به د میرآ استاد دا غزل شروع کړو۔ ؎

گل دے په زلفو باندے قطار دی
سترگے دے دو اړه مجبو با گلِ انار دی
تی به توبه

دے غزل به دا سے سُر پیدا کړو چه جیلخانه به ئے او خوزوله

## میا جعفر شاه کاکا خیل

په کاکا خیل قبیله کښې رحیم شاه میاں مرحوم د لوئ عزت دولت او شوکت خاوند وو۔ دا سے دیئیس چه سرحد کښې ئے مساوی نه وو جعفر شاه د ده ځوئ دے چه باچا خان جیل ته تلو نو میاں صاحبِ د خپل طرف نه د تحریک مشر کړے وو۔ میان صاحب په پوره قابلیت سره خپل فرض ادا کړل۔ سول نا فرمانئ څول وطن خپله لمن کښې واخست۔ یو خوا ته پښتانه ځوانان۔ بل خوا ته پولیس پرندے په لاس۔ یو خوا ته پښتون د پښتونولئ په نشه مست د آزادئ په نیلی سوارهٔ ځوانان۔ بل خوا د وطن د خپلواکئ دښمنان د اود لمبے وروُنکی۔ یو خوا ته زنانه د آزادئ په مینه بے خوده۔ بل خوا نامرد او بزدل سپایان په ټکر کښې۔ په ۲۸ مئ د پښتون او فیرنگی ټکر او شو۔ مرّنی فیرنگی د مردان اسسټنټ کمشنر ډگو انانو د لاسه سر او خوړو۔ نوکر شاهی په پښتنو باندے د اوربارن او وروله۔ او پاکسان شهیدان او بے شماره ژوبل



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شعر سه

دَ آزادئ په نوم زندان له ځي ځوانان سرخیوش
فخر افغان دے په زندان میر کاروان سرخپوش
پښتانه ځان سیزی په شمع دَ پتنګ په شان
دَ سربازئ جوهر ښکاره کړه په میدان سرخپوش
پښتون دَ نرځلمی په شان اَخلی ګذار په سینه
په قربانئ باندے عالم کړو حیران سرخپوش
یو خواته جبر او بل خواته دَ پښتون صبر دے
دَ سربازئ ثبوت ورکئ مرد میدان سرخپوش
دا آخری فیصله ده دَ فیرنګی او پښتون
دَ آزادئ په نوم به هرڅه کړی قربان سرخپوش
اے هلالی پښتانه نور دا غلامی نه زغمی
دَ پښتنو نوم به دنیا کښ کړی روښان سرخپوش

نو دغه خوړکښ پولیس دکربلا نند اره خلقو ته یاده کړه۔ دَ غلام محمد خان حجرے او کور دَ اوریه لمبو کښ دَ آزادئ سندرے ویلے۔ میاں عیسے۔ کاټلنګ۔ هاتیان۔ تخت بهائی۔ ګوجر ګړهئ۔ جمال ګړهئ۔ میاں خان سنګاو۔ خرکے۔ رستم سدوم۔ مردان۔ صوابئ۔ مانیرئ۔ نوښار۔ خویشکی اکوړے۔ زیارت۔ پبی۔ خلیل۔ مهمند۔ داؤدزی۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شبقدر - کوهاټ - بلی ټنګ - هنګو - توغ - تړ بابا - ټهل
خنګل خیل - لاچی - ټمبر - کرک - متهیا خیل - نمانتی نصرتی
شنوه ګوړی خیل - رومیان - بنوں - باز احمد خان - نورنګ
لکی - مروت - پنیاله - ډیره کل امام - ټانک - هاتی خیل
تول اشنغر دے انقلاب کښی را غلی وو.

غرض دا چه داسے ځائے پاتے نه شو چه د باچا خان
قدم ورسیدلے وی اوډ انقلابی تحریک نه بهر پاتے
شوے وی - قاضی عطاء الله خان - امیر محمد خان ارباب
عبد الغفور خان - زرین خان - راحت خان - پیر شهنشاه -
یعقوب خان - سالار اسلم خان - حاجی رمضان خان ،
حکیم عبد السلام او نور بے شانه بهادر میدان ته را غله -

په دنیا کښی هر نبیؑ او رسول ، هر ولی او بزرګ - او هر
لیډر او راهنما به ډ وړے نه کامیاب شوے نه دے - فرد نه
کامیابیږی جماعت کامیاب شوے دے - ځکه خو هریو
لیډر ځان له پاره پیدا کړے ده - جماعت ئے جوړ کړے دے
نو هغه ډ هغه قوت دنیا خوزولے ده -

باچا خان په محنت او کوشش ځان له ډ خدائی خدمتګار
جماعت جوړ کړو - او په هغه جماعت کښی مینه وه - اخلاص وو
همدردی وه - محبت وو - نیک سلوک وو - دلیرو ډ جماعت



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بوئ وړوکی سره شفقت وو۔ هم دا وجه وه چه خدائی خدمتګاران ڈ پولیس ړنړو ډګورو ګولو او ا ر لیټنل سورانړو نه نښانیولے وے۔ په مړګ رضا په تیښتنرا خوښ ۔بے عزته شو۔ خو بے پته نه شو۔ بے آبرو شو خو بے وقاره نه شو۔ قید شو دربدر شو۔ دا هرڅه ئے قبول کړل خو تحریک پریښودل ورته کفر ښکاریدو۔ ډ پولئ پړق نه کینا ستل خو په قلارنه شو۔ ؎

ډ لیلیٰ لاره کښی خوف ډ سرومال شته

اول شرط دا دے چه ځان ورته مجنون کړے

آزادی هم یو عشق دے۔ او ډ مجازی عشق نه ډیر اوچت عشق دے۔ ډ دے عشق په لاره ډیر آز میښتونه او خطرناک منزلونه شته۔ ؎

لا د عشق په وړاندے شته امتحانونه
لا دے لار کښی شته زړه سنړی منزلونه
لا په دړاندے شته ازغی او ګړنګونه
لا ډ سنتورونه شته پورته جهانونه!
د ځوانانو له په وړاندے آزمیښت شته ډیر
لا ډ صبر او ډ جبر شته دورونه!
لا ډ عشق په لار کښی شته پولئ ډ غنو
لا په وړاندے ډ ځلمو شته جولانونه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګيالي پښتانه

غلامۍ کښې پکار نه دي تقريرونه
کلک يقين غوښي د فولادو کړي زنځيرونه
د ظلمو د زړې سترګې چه رڼا شي
په آسمان کښې ورنه ښکاري منزلونه
حمله لي ويښ ځوانان رسي خپل مقصدته
او غافل وهي مخ سر کوي ويرونه

بهرحال په پښتنو يو قيامت جوړ وو. ميان جعفرشاه ميان عبدالله شاه او ميان فضل کريم کاکا خيل ټټ پټ ټول وطن کښې په يوه پښه ګرزيدل. او انقلابي تحريک ورځ تر ورځ په ځوانئ وو. دے انقلابي دور کښې شاعرانو اديبانو عالمانو مياګانو سيدانو او پښتنو د يو بل نه زياته په مړانه په جرئت په بهادرئ په دليرئ برخه واخستله. عالمان جيل خانه کښې، ماذونان جيل خانه کښې. ميدان جيلخانه کښې. ملکان جيل خانه کښې ځوانان جيل خانه کښې بډاګان جيل خانه کښې.

ځي د آزادۍ ښکلي کاروان نن د زندان په لور
خدا يګو پښتانه ځوانان روان شو د ايمان په لور
لا فخر افغان زندان له ټول پښتون زندان کښې دے
ځکه ځي يو بل نه دوئ په مخکښې د ميدان په لور



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګيالي پښتانه

نوره اوکوتک څه دَ ګوليُ نه هم په شخک نه ځيُ
ولاړ دي ځوانمردان ځيُ يو تربل دَ امتحان په لور
سرې جامې په سرو وينو دُ ځان ځوانانو سرې کړې
هر ځلې دَ بل نه ولاړ دي ځيُ فخر افغان په لور
دا دَ پښتون قوم دے دَ ميدان نه جار وتل نه کا
وخت دِ دَ آزميښت مخے له درومي دَ طوفان په لور
ځيُ دَ پښتنو ځوانان په جنګ دَ جيل خانے په لور
ناوے راولي دآزاديُ ځيُ دَ کاروان په لور
اے هلالي دا دَ پښتون قوم په آزادي آخلي
نه ګوري پښتون دَ آزميښت وخت کښ مال او ځان په لور

دَ ګجرات جيل لا جوړيږي ده۔ يوه ورز عزمه په خاورو بارکړي
يو څو خوره جيل نه راغله۔ دوئ پسے يو سپين سنګے ځلې شليدے
جامے ريږن پټکي په سر څوکه په لاس خرو سره راغے۔ راتلل
سره دَ باچا خان خواله ويڅے۔ دواړه يو طرف شو۔ ديرساعت
خبرے اترے او شوے۔ بيا لاړ۔ څو ورزے پس خبر شو چه
دا عبدالله شاه مياں وو۔ باچا خان ئے د ملک حال نه خبر وو۔
چه پښتون تباه شو۔ "سول اخبار" پراپيګنډا شروع کړي۔
چه سرخپوش دَ بالشويک يو ښاخ دے۔ او سرحد کښ
بالشويزم خوره وي۔ دَ دے تحريک ختمول پکار دي۔ او په



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دے بهانه انګریزانو هغه ظلمونه راخستی دی چه د بیان نه بهر دی۔

مونږ مسلم کانفرنس۔ خلافت کمیټۍ۔ او مسلم لیګ له لاړو۔ یو جماعت هم څمونږ قبلولو ته تیار نه دے۔ صرف یو کانګرس جماعت څمونږ امداد له حاضر دے۔ څه اوکړو؟ اجازت راکړے شو۔ چه هر څوک مونږ قبلوی ورسره شئ۔

یو څو ورزے پس اخبارونو کښې اعلان اوشو۔ چه کانګرس دپېښور د قصه خوانے د ګولئ چلولو تحقیقات د پاره یوه کمیټی جوړه کړے ده۔ او "دے جے بهائی پټیل" د دے جرګے صدر دے۔ دا کمیټی پیرنګیانو د اټک نه دے خوا پورے نه خودو۔

"جے بهائی پټیل" د مرکزی اسمبلئ صدر وو۔ د کانګرس د سول نافرمانئ په وجه هغه د اسمبلئ صدارت پرے خود بیا سلیمان کمیټی راغله۔ سلیمان خیل۔ او پټیل خیل رپورټ جوړ کړو۔ الله بخش یوسفی د "فرنټیر ټریجډی" په نوم یو کتاب چاپ کړو چه ضبط شو۔

د دسمبر په آخر کښې لندن کښې غنډ میز کانفرنس شو۔ دے کانفرنس کښې د مسلمانانو د خوانه مولنا محمد علی جوهر او صاحبزاده عبدالقیوم خان شریک شو۔ مولنا محمد علی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خپل تقریر کښې دَ هندوستان په کامله آزادئ باندې زور دار تقریر اوکړو۔ هغوئ اوویل چه زه غلام هندوستان ته واپس تلونکے نه یَم۔ یا به دَ هندوستان دَ آزادئ پروانه ځما په لاس کښې وی۔ او یا به ځما مړے دلته نه اوچتیږی۔ دا تقریر دَ حق آواز وو دَ صداقت چغه وه۔ دَ ایماندارئ عزم وو۔ په داسے زور مولنا تقریر اوکړو چه شاه ګړسته اوشلیدو۔ او په څلورم جنوری سنه ۱۹۳۱ء همیش دَ پاره دَ غلام هندوستان نه آزاد شو۔ د مولنا مړے هندوستان له راتغے۔ بلکه بیت المقدس ته جنازه لاړه۔ او په مسجدِ عمرؓ کښې ښخ شو۔

دَ ګاندهی او وائسرائے هند لارډ اروِن تر مینځه خبرے اترے کیدے۔ آخر په ۱۰ مارچ "ګاندهی اروِن پیکټ" یعنے جوړه شوه۔ او سول نافرمانی واپس واخستے شوه۔ جیل خانے وزګارے او ښارئے اوکلی بیا ودان شو۔

دَ باچا خان۔ آغه لعل بادشاه۔ علی ګل خان او دَ نورو قومی کارکونکو دَ قوم دَ خوا نه شاندار هرکلے په پېښور کښې اوشو۔

دَ بد قسمتئ نه څو میاشتے پس دَ پېښور کانګرس دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مشرانو او باچاخان ترمينځه اختلاف پيدا شو۔ انډيا کانګرس دَ تحقيق دَپاره ديوی داس ګانډهي مقرر کړو۔ ديوی داس دَ باچا خان په حق کښې رپورټ اوکړو۔

۱۹ اګست بمبئ کښې کانګرس باچاخان له دکانګرس واګے ورکړے۔ باچاخان دورے شروع کړے۔ ټول ملک کښې بيا تحريک تازه شو۔

دَ جولائ مياشت سنه ۱۹۳۱ء کښې ما هلالي حکيم عبدالسلام حاجی فقير خان مولٰنا غلام غوث دَيکملئ دوره اوکړه۔ بفه۔ ملک پور۔ عنايت آباد۔ ترنګړی۔ خاکی بټهل او شينکيارئ کښې زبردستے جلسے اوشوے۔ دَ خدائ خدمتګار تحريک پيدا شو۔ ټلمس په سروجامو دَ پښتو پښتونولئ دوروالی تازه کړه۔ او کانګرس ځائے په ځائے پيدا شو۔ چه مانسهره ميرپور۔ کاکول۔ بانډه پير خان۔ دهمتوړ کښې جلسے اوشوے او نوان شهرته اورسيدو۔ نو زمونږ دَ زبان بندئ حکم ډپټي کمشنر جاری کړو۔

زه پښاور ته راغلم۔ په يکم ستمبر بوټن راغے چه په هغے کښې دَ بفے خدائ خدمتګارانو ګرفتاری او زما دُصفائ شهادت درج وو۔ ما دَ ټن دَپاسه دستخط اوکړو۔ په ۲ ستمبر ايبټ آباد ته روان شوم۔ حويلو کښې ما سره پوليس ملګرے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شو۔ ایبټ آباد کښې زه د لږ ساعت دپاره دحاجي میاں مشرف شاه صاحب کاکاخیل ځائے ته لاړم ۔ بیا کچهرۍ ته د شهادت دپاره روان شوم۔ لاره کښې ارباب عطاء الله خان د بډ هائۍ د پولیس سپاهیانو سره ځنے له راغے ۔ ارباب ایبټ آباد کښې انسپکټر وو لاره کښې ارباب مانه وارنټ د ۱۲۴ الیف ښکاره کړو۔ چه ته گرفتار ئے ۔ چه زه د ډپټی کمشنر کچهرۍ کښې داخل شوم ۔ نو د ټولو خدائی خدمتګار آزاد شو۔ پولیس انګرېزی مانه واچولے کوټ او داچه زه درے کاله قید څلور سوه روپۍ جرم یا شپږ میاشتے مزید قید شوم ۔

په جنورۍ کښې عام سول نافرمانی شروع شوه ۔ داخل د ځوانه هم زیاته سختی په خدائی خدمتګارانو اوشوه ۔ غلام محمد خان اونور ډیر کسان هری پور جیل خانه کښې په بېنځتو او وهلے شو ۔

زه د ایبټ آباد نه بنوں ۔ او د بنوں نه پېښاور جیل ته بدل شوم۔ ۱۹۳۳ء کښې آزاد شوم ۔ په دسمبر ۱۹۳۳ء کښې د هزارے ملک پورکلی حاجي فقیر خان پېښاور ته راغے ۔ مانه ئے وے ۔ څه چه هندوستان ته لاړ شو۔ یو خو به د پښتنو تنظیم اوکړو ۔ بل به د دے موجوده حال نه د هندوستان لیډران خبر کړو۔



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مونږ دواړه لاهور ته لاړو ـ هلته مونږ پریس کانفرنس کښې
د پښتنو حال ډیر دردناک انداز سره خلقو ته ښکاره کړو ـ
ورسره مونږ د پښتنو یوه جرګه جوړه کړه ـ چه د خپل ملک حالات
پنجاب پریس له ورکوی ـ د دغه ځاے نه مونږ دهلی ته روان شو
په دهلی کښې د جمعیة العلماء هند دفتر کښې مونږ ډیره
شو ـ یو ځل مونږ ډاکټر انصاری مرحوم سره اولیدل ـ
او د ملک حال مو هغه ته بیان کړو ـ انصاری مرحوم اووے
زه صبا ماښام ستاسو د ډوډئ کوم ـ او هغے له ګاندهی ،
جواهر لال ـ مولانا آزاد ـ آصف علی ـ مولانا کفایت الله
او ډاکټر حسین راغواړم ـ تاسو دا واقعات د ډوډئ نه پس ګاندهی
ته تیر کړئ ـ

بله ورځ مونږ دواړو مولانا آزاد سره اولیدل ـ او د
سرحد دا دردناک حالات مونږ هغه ته تیر کړه ـ مولانا آزاد
اووے که داسے واقعات تاسو د ګاندهی جی په وړاندے بیان کړو
نو هغه به سول نافرمانی واپس واخلی ـ او ذمه واری به په تاسو
شی ـ مونږ اووے بیا څه چل پکار دے ـ مولانا اووے چه که
تاسو نه ګاندهی تپوس اوکړی نو تاسو جواب ورکړئ چه سالار
نه یئ ـ فیصله کول ستا کار دے ـ

ماسخوتن چه مونږ د ډوډئ نه وزګار شو ـ نو حاجی فقیر خان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خبره شروع کړه. او خاتمه ئې اوکړه. ګاندهي غونډ ایخې وو. چه خبره خلاصه شوه. نو هغه اووے اوس بیا څه کول پکاردی؟ ما جواب ورکړو. زمونږ جرنیل باچا خان جیل کښې دے. اصل فیصله خو به یا ته کوے او یا هغه. مونږ سپایان یو. تا ته مونږ حال مونږ بیان کړو. که نه جنګ کوے. نو پښتانه به تر آخره جنګ جاری ساتی. که هرڅه پرے تیریږی.!

صبا له ګاندهي مونږ ځان سره تر متحرے بوتلو. بیا ډیرے خبرے اوشوے. خو زمونږ بس هم دا یو جواب وو چه جرنیل باچا خان دے. فیصله د هغه په لاس کښې ده. او یا ته سالارے چه څه کوے ستا خوښه.

په دریمه ورځ د پوښنے نه اعلان اوشو. چه ګاندهي اجتماعي او انفرادي سول نافرمانی واپس واخسته.

څلورو ورځې پس لکهنو کښې د مسلمانانو د ټولو سیاسی ډلو یوه لویه جلسه "یونټی کانفرنس" کیدو. بله ورځ ماښام د ډاکټر انصاری صاحب ټیلیفون راغے چه هلالی یا فقیر خان شته؟ مونږ د هغو جواب ورکړو. ډاکټر صاحب اووے. تاسو زما ځائے له راشئ.

چه مونږ ورغلو. نو ډاکټر صاحب اووے. په لکهنو کښې د ټولو مسلمانانو سیاسی او مذهبی جماعتونو جلسه صبا له



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کيد دنګے ده. تاسو کښې پرګس لکهنؤ ته لاړ شئ. د څو ورځو نه
د باجوړ په کونړکی علاقه باندے انګریزی حکومت د سرتور
فقير په ملګرو باندے د هوائی جهازونو ګوله باری کوی.
تاسو هلته په چا باندے د دے ګوله بارئ خلاف يو تجويز پيش
اوپاس کړئ چه دا ګوله باری بند شی."

د حاجی فقيرخان په مشوره زه لکهنؤ ته روان شوم -
"راجه سليم پور هاوس" کښې جلسه وه. د مفتی کفايت الله
صاحب سره په صلاح ډاکټر حماد فاروقی د آله آباد تجويز
مرتب کړو. مفتی صاحب پيش کړو. نورو ليډرانو پرے
تقريرونه اوکړل. تجويز پاس شو. او بله ورځ د اخبارونو
په شور ګوله باری بند شوه.

**بدل:** پښتنو او پښتونولئ کښې د دښمن نه بدل اخستل
يو قومی صفت دے. د پښتو يو متل مشهور
دے. وائی "چه که سل کاله پس چا بدل واخست نو تندی
ئے اوکړه."

پيرنګيانو چه د افغانستان دريم جنګ نه پس د پښتنو آزادی
اومنله. نو د خيبر ريلوے لائن جوړولو کښې د پيرنګيانو پاليسئ
کښې سرګند فرق راغے. د ريلوے جوړولو کښې پيرنګيانو د
سرو سپينو باران په خيبر اوکړو. د دے سره د پيرنګيانو نشه



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زیاته شوه. او که داړه یا ډاکه به را غله. نو آمرانه حکم به اوشو. چه دَ قباتلو هر څوک که په انګریزي علاقه کښې اولیدے شو. نو هغه به ګرفتار کړے شي. دَ قبائیلو عزتمند ملکان په جیل خانه کښې واچولے شو. او په مفرورانو پسے به قبائلي علاقے ته هم ورداورېدل.

یو ځل په اتم اپریل ۱۹۲۳ء میجر اوور او میجر اینډرسن دَ وقت په نشه کښې دَ تواړکې نه خلور میله وړاندے لاړل. نو داوَد شاه او اول خان په ګولئ اوویشتل. او افغانستان ته داورېدل. هم دے شپیو ورزو کښې انګریزان دَ کوهاټ دره کښې ننوتل. نادینه په کورکښې نه وو. دَعجب خان دَ کور بے عزتي ئے اوکړه. عجب خان دَ بیرنګیانو دا حرکت قومي سپکاوے اوګڼړلو. او بدل اخستلو ته ئے ملا اوتړله. کوهاټ ته لاړ او مسز ایلس ئے قتل کړه. دَ هغه لور مس ایلس ژوندے ځان سره بوتله. په اصل کښې عجب خان په میجر ایلس پسے بنګلے ته تلے وو. شپه وه دَ میجر ایلس په ځائے په خطا مسز ایلس قتل شوه. عجب خان دَ پښتو او پښتونولۍ په برابر دَ مس ایلس ډیر عزت اوساته. یو ننګیالے پښتون چه څنګه دَ پردو نورسرو عزت او آبرو ساتي. عجب خان هم داسے اوکړل. انګریزان په دے ډیر غصه شو. قول مشتین



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په حرکت کښې راغے ۔ دَ خپلے پروے جینئ دَ پاره پیرنګیانو په قبایلو
آسمان راکوز کړو۔ ټول پولټیکل طاقت په حرکت کښې شو۔ او
افریدی مجبور کړے شو۔ چه دا جینئ به تاسو خامخاه راولئ ۔
هغوئ عجب خان ته مشوره ورکړه چه جینئ واپس کړی ۔ په اصل
کښې خو عجب خان پیرنګی ته دا ښودل چه انګریزان دَ پښتون
په غیرموجودګئ کښې دَ هغه کورته ننوزی دَ پښتون بے عزتی
کوی ۔ نو پښتون دانګریزی توت طاقت او فوځ باوجود دَ مزن په شان
بدل اخستے شی ۔ ډیرے جرګے او ننواتے اوشوے۔ آخر دا چه
عجب خان مس ایلس په ستنه کړه۔

دے نه پس "شنه وړئ" کوهاټ کښې یوه جرګه راطلب
شوه۔ او قبائلو نه مطالبه اوشوه ۔ چه عجب خان خپلے علاقے
نه اوباسی۔ خو دے جرګے نه پروړاندے عجب خان دَ تیراه نه افغانستان
ته لاړ۔ چه ځما په وجه به ټول قوم آفت راته شی۔ دَ "شنه وړی"
دجرګے تصدیق په ۱۳ مئ ۱۹۲۳ء افریدو هم اوکړو۔

عجب خان دَ پیرنګیانو دَ پاره یوه بلا جوړه شوه ۔ د عجب خان
د هیبت د دهشت اندازه دَ دے نه کیدے شی۔ چه دَ پېښاور
چیف کمشنر دَ خپلے بنګلے ټولے ونے غوسے کړے۔ چه په دے
کښې چرته عجب خان پټ نه شی۔

عجب خان چه افغانستان ته لاړو۔ نو پیرنګیانو دَ افغان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حکومت نه مطالبه اوکړه - چه عجب خان موږ ته او سپارئ - ولے افغان حکومت دَدے نه انکار اوکړو - او عجب خان له ئے په ترکستان کښې ډیره زمکه ورکړه - دَ زمینداری په غرض عجب خان ترکستان ته لاړو -

د پیرنګیانو نیت بیا افغانستان ته بد شو - انګریزی اخبارونو په ډیر زور لیکل شروع کړل - چه دَ افغانستان خارجی تعلقات بیا دَ انګریزانو ماتحت کول پکار دی - د پیرنګیانو او پښتنو تر مینځه دَ خلورم جنګ وریځے ګورے ګورے راخورے شوے دَ هندوستان اخبارونو په ډیره سختئ سره دَدے جنګ مخالفت اوکړو - مولنا شوکت علی دَ آل انډیا دخلافت کمیټي د صدر په حیثیت دسمبر ۱۹۲۳ء کښې په زوردارو الفاظو اعلان اوکړو " زه خپل فرض ګنړم چه انګریزی حکومت دَ مسلمانانو دَ خیالات نه خبر کړم - دَ افغانستان مسلمانان حموږ رونړه دی - موږ غواړو چه هغوئ په آزادئ سره ژوندون تیر کړی - هغوئ په خپل کور کښې آسوده او خوشحاله وی - او موږ خپل کور کښې - ن په سرحد باندے دَ جنګ وریځے ګرزی - یو مسلمان یا هندو لیډر ته اجازت نشته - چه سرحد ته لاړشی - او حالات معلوم کړی - زه په صفا ټکو حکومت ته وئیل غواړم او خبر داروم ئے چه که انګریزان دَ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خیل اغراض دَ پاره زمونږ دَ ممشانه خلاف جنګ کوی۔ نو دَ دے ذمه واری به په انګریزی حکومت وی۔ انګریزان به دَ انګلستان نه روپئ او لښکر راولی۔ هندوستان په داسے ناجایز کار کښ دَ هغوئ امداد ته تیار نه دے۔

(خطبهٔ صدارت مولنا شوکت علی)

په ۲۳۔ اپریل سنه ۱۹۳۰ء چه قصه خوانی کښ پیرنګیانو ګولئ اوچلولے۔ او سوَونه پښتانه شهیدان او ژوبل شو۔ نو افریدیانو په دے ګولئ چلولو خفګان ښکاره کړو۔ او دَ کجوری په توره میره کښ دَ افریدو لښکر راغونډ شو۔ پیرنګیانو په افریدو باندے دَ توپونو باران راښکته کړو۔ انګریزانو توے لارے بندے کړے وے سره دَ دے دومره سختئ دَ غازیانو لښکر په ۵۔ جون سنه ۱۹۳۰ء پېښاور ته راغے۔ او تر مکړی کوډا مَ اورسیدو۔ او په ۷۔ جون په ستنه لاړل۔ انګریزان ډیر په غضب شو۔ لارے بندے کړے۔ افریدی ځوانان لا قار واخستل۔ دَ پښتو او پښتو نولئ ویښے جوش اووهلو۔ او په ۱۴۔ اګست بیا غازیان انګریزی علاقه کښ داخل شو۔ دَ کلو پښتنو ورله دَ سر پناه کولو ځائے او روډئ ورکوله۔ دَ هر پښتون همدردی دَ غازیانو سره وه۔ چاپیره ښار ته کرز کروز وو۔ ان یا نس ورزے دا هنګامه توده وه۔ آخر په شلم دَ اګست غازیان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بیرته ستانه شو. د انګریزانو دارے ډیر خطا کړے وو. صرف
دوه نیم سوه غازیان راګوز شوی وو. یو ځل یو انګریزی
رسالے سره د غازیانو ډغره اوشوه. رسالے خپل مړی
او زخمیان په ځائے پریښودل او په تیښته لاړل. انګریزانو
بیا قلعه کښی دوه. او یا په چهاونړئ کښی په ډیر حفاظت.

انګریز د یو اوږدے زمانے راسے د ګجوړئ د میدان
په فکر کښی وو. غازیان په ګجوړئ کښی ډیره شو. انګریزانو
په ګجوړئ باندے حمله اوکړه. او د سنه ۱۹۳۰ء ټول کال په دے
جنګ وجدل کښی تیر شو. او د سنه ۱۹۳۱ء نیم کال هم په دے
شور غوبل کښی داوریدو. پیرنګیانو د توپو د اوربارانه لاندی
ګجوړئ کښی سړکونه جوړ کړل. په ۳. اکتوبر سنه ۱۹۳۱ء په
جمرود کښی یوه لوظنامه اوشوه. چه افریدیان به سړک
نه ورانه وی. او مواجبونه به په دستور ورکیدے شی.

چه کوم وخت د ګاندهی او وایسرائے اروین لوظنامه
کیده. نو یو قومی کارکن کراچئ کښی ګاندهی نه اووے چه
د ګجوړئ واپس کیدو خبره هم وایسرائے سره اوکړه.
ځکه چه د کانګرس په وجه ګجوړئ د افریدیانو د لاسه وتلے
ده. ګاندهی جواب ورکړو. افریدیانو ته اووایئ چه انګریز کومه
علاقه غواړی نو هغه ورکړئ ولے چه مونږ سوراج یعنے آزادی



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

واخلو نو بیا به په سننه ودرېږو

**ډاکټر خان**

د باچاخان مشر ورور ډاکټر خان صاحب د قصه خوانۍ ګولۍ چلولو نه پس میدان له راغے - د شهیدانو انتظام د زخمیانو علاج به هغوی کښې د خدائی خدمتګارانو خصوصاً کول - او په دے سلسله کښې دے هم هغه ځائے ته د ټول خاندان سره لاړ کوم ځائے ته به چه آزادی غوښتونکی تلل -

په راونډټیبل کانفرنس کښې چه د هندوستان نو لیډران بللی شوی وو - د سرحد د خوانه صاحبزاده عبدالقیوم خان (پیدائیش ۱۸۶۳ء وفات ۱۹۳۷ء) هم شریک شوے وو - دے کانفرنس کښې صوبه سرحد له د ماننټیګو چیمسفورډ اصلاحات ورکولو فیصله اوشوه -

خدائی خدمتګارانو د انتخاب بائیکاټ اوکړو - یو خوا ته سول نافرمانی جاری وه - بل خوا ته انتخاب کیدو - سره د ځه چه زنانه د هم خلقو ته قرآن شریف ښودلی وُو - چه دوٗ ته ونه ئے اچوئ - باچا خان جیل خانه کښې دے - د انتخاب نه پس سر صاحبزاده عبدالقیوم خان اول سرکاری وزیر شو -

په ۱۹۳۴ء کښې باچا خان د هزاری باغ جیل د ټیډ نه آزاد شو - وے د خان دوئړو پنجاب کښې داخله بند شوه -



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او دواړه روڼه څه موده دَ جمنالال بجاز کره وو. سره دَ دے به باچا خان دورے کولے. او دَ گاندهي سره ئے دَ نزدے نه صحبت شروع شو. څه موده پس بیا هزاری باغ کښ نظربند شو. درے کاله لس ورځے نظربندئ نه پس بیا درے کاله قید شو. ۱۹۳۳ء کښ اول ځل دَ کونسل انتخاب اوشو.

په ۱۹۳۶ء کښ بیا عام انتخابات اوشو. دَ کونسل دویم اجلاس ایبټ آباد کښ راو بللے شو. نو ډاکټر خان صاحب په صاحبزاده وزارت دَ عدم اعتماد قرارداد پیش کړو. صاحبزاده صاحب په اوږد تقریر اوکړو. او په آخر کښ ئے اووئیل. چه "په دے هندوستان زر کاله راسے دَ خیبر نه چپاؤ کیدو. اوس به په سرحد او پیښاور باندے دَ هندوستان نه حملے کیږی." سر عبدالقیوم خان وزیر اعظم خان بهادر سعدالله خان وزیر تعلیم او مهر چند کهنه وزیر خزانه وو. قرارداد منظور شو. په اوم ستمبر ۱۹۳۷ء دَ ډاکټر خان صاحب وزارت جوړ شو. ډاکټر خان وزیر اعلیٰ. قاضی عطاء الله خان وزیر تعلیم. محمد عباس خان وزیر صحت. او بهنجو رام گاندهي وزیر خزانه مقرر شو.

هم دغه ورځو کښ مسلم لیګ جوړ شو. قاضی عبدالحکیم دَ ژلوزو ایبټ آباد کښ جلسه اوکړه. بله ورځ هونږ دَ دعوئ خلاف جلسه اوکړه.



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په اګست کښې باچا خان شپږ کاله قید او نظربندۍ تیرولو نه پس په آزادۍ سرحد ته راغې۔

کانګرس بیا "پښتون" اخبار جاری کړو۔ او "ډ پښتنې خدائی خدمتګار" ډرے ورځنے بل جاری کړو۔ د دے اخبار چیف ایډیټر مولوی غلام ربانی صاحب د هزارے۔ او نائب مدیر زه ډم هلالی۔ او ارباب عبدالغفور خان مینیجنګ ډائرکټر۔ بیا چه مولوی صاحب استعفیٰ ورکړه۔ نو زه د "پښتنی خدائی خدمتګار" چیف ایډیټر شوم۔ او چیلا رام نائب ایډیټر۔

د صاحبزاده وزارت کښې ما خپل اخبار "ځلمی پښتون" کښې یو نظم چاپ کړے وو۔ سه

د قوم او وطن هر خدمت له تیار یم
خدائی خدمتګار یم
قربان په وطن او د خپل قام نه زار یم
خدائی خدمتګار یم
ما کړے د خپل وطن سره دا پیمان دے
او دا م ایمان دے
چه څوک قوم فروش وی هغه نه بیزار یم
خدائی خدمتګار یم
د ننګلی دی ما سره خپل قام د پاره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د اسلام د پاره

په سرو وینو لامبم او مرګ ته تیاریم
خدائي خدمتګار یم

غلام دے څه څیز د غلام څه ایمان دے
غلام خو حیوان دے

نو ځکه غلامۍ نه زه تل بیزار یم
خدائي خدمتګار یم

د غل د کاسیر د قاتل زناکار نه
رهزن او بدکار نه

بیزار یم بیزار یم بیزار یم بیزار یم
خدائي خدمتګار یم

زما د پښتون مشر فخر افغان دے
پښتون ترے قربان دے

د دغ تحریک زه هم علمبردار یم
خدائي خدمتګار یم

څه نه اړوم که ما څوک کړي حلال
قربان استقلال

په عشق د ملت کښې بے میو سرشار یم
خدائي خدمتګار یم



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حضرت محمدؐ دے حمونږه رسول

په زړه مو قبول

تعلیم دَ اسلام با ندے تل استوار یُم

خدائی خدمتګار یُم

زهٔ اے هلالی دَ ملت ترجمان یُم

په حقه ګویان یُم

دا ملک مِ دے خپل زه ددے څوکیدار یُم

خدائی خدمتګار یُم

په دے نظم دوه سوه روپئ جرم شوم۔ چه دَ کانګرس وزارت جوړشو۔ نو دَ ارباب عبدالغفور خان په کوشش دا روپئ ماله په سننه را کړے شوے۔

دسنه ۱۹۲۰ء نه ترسنه ۱۹۴۲ء پورے ماد یو سپاهی په حیثیت دَ باچاخان په تنظیم کښې په ډیره وفادارئ دَ جنګ په میدان دَ جیل خانو په کوټنړو او دَ مصیبتونو په دور کښې تیر کړل۔ صرف په دے غرض چه پښتون آزاد شی۔ پښتون ودان شی۔ پښتون بښیرازه شی۔ او دَ پښتون کور جوړ شی۔ دے کوم وخت چه دَ هندوستان دَ ویش سوال پیدا شو۔ د پاکستان دَ بیل مملکت مطالبه اوشوه۔ نو دلته دَ باچا خان او زما نظریه کښې بیلتون راغے۔ باچا خان دَ متحده هندوستان مرسته کوله



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوزه دے نظریه سره متفق نه یم۔ په دے وجه ځمونږ لارے
جدا شوے۔

---

## دَ قیدی آواز

دا دَ پوخ مومن نښه ده دے منی احکام دَ خدائے (تنږ)
وی بنده دَ خدائے، مرے دَ خدائے اوهم غلام دخدائے
سره به دَ شیطان دَ حکومت په وړاندے کوزنه کړی
داسے وی آزاد لیکن غلام وی په هرکام دَ خدائے
هیڅ ‌ا ته خپل سرنه ټیټوی پوخ مسلمان چه وی
خلق دَ ده ادب کړی! اوکوی دے احترام دَ خدائے
ټول جهان دَ ده دَ دبدبے په غږونو کښے بند



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا آزاد مسلم بند مرئیتوب کښې وی په دام دَ خدائے
شرق او غرب جنوب شمال دَده په فرمان تلل کوی
وی دَ هر قانون نه بے پروا منی پیغام دَ خدائے
سر و مال دَ خدائے په لار تالا وی هیڅ پروانه کړی
ځان قربانوی په حق نو بیا اخلی انعام دَ خدائے
مومن ه که دَ خدائ شو هلالی دده کونه دی زمونږ
یو جرګه یو قوم شو، دے زمونږ نعمت تمام دَ خدائے

---

پید اکه دَ خالدؓ په شان ایمان یو ځلے بیا
خبر که دَ اسلام په زور جهان یو ځلے بیا
اندلس دَ پښو دَ لاندے کړه پائمال لکه طارقؒ
په شان دَ صلاح الدینؒ انګلستان یو ځلے بیا
د حق دَ پاره توره په لاس او سر په منګل
یو ځله مه داوزه په میدان یو ځلے بیا
پوهیږے ستا په زړه کښې نور رڼا کړی دَ توحید
رڼا په دغه نور که دا جهان یو ځلے بیا
دَ هر قانون نه ځان ساته او ښکل که قرآن
۴ سر کیږده خدائے ته ولوله قرآن یو ځلے بیا
آزاد شه اے پښتونه غوس که طوق دَ غلامۍ



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## تنکیالي پښتانه

بادشاه شه ذره نه او باسه ارمان یو زلے بیا
کچکول دَ درویزے مات که په چوک کښېږدَ همت
غنی شه په دنیا او که احسان یو زلے بیا
په عدل په انصاف په روروليُ که ملک روښان
په کورد دښمن داوله طوفان یو زلے بیا
دقوم مینه مست زړه ته پرے نه ښوے هلالی
باغي دَ حکومت شوے په زندان یو زلے بیا

---

مخ که سرکند دَ خدائے رسوُله ! داغزبل اوو ینه
ننن مسلمان دَمسلمان دَ لاسه دل اوو ینه
لاس په ګریوان مسلمانان په یو بل خوله نکوی
دَ مسلمان په نظر کښی مسلمان قتل اوو ینه
چه کوم اسلام ؤُ تازه کړے تا په خپلو وینو
دَ نالایق ملیار دَ لاسه ئے خَل بَل اوو ینه
چه کوم اُمّت له دَ قیصر، کسریٰ دولت ورکه تا
ننن دے دَ هغه قوم دے او دَ بل درشل اوو ینه
چه به دَ خدایه حکومت پرے دَ بل هیچا نه وو
دَ مرئ توب نن دَ هغه دَ پاسه خُل اوو ینه
چه به ئے قدم ښکلول مخزوو شاهانو لسره



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

سن دَ هغه، قدم دَ کفر ښکلول ادوینه
یا نبیؐ! هیر به دے یهود او نصاریٰ شی تمام
هلالی عرض که دا یو څو ته په کښې سل اودینه

---

هر یو قوم چه دی غلام خیرن خیچن وی
اوبیتوے به ئے دَ بل مخکښې لمن وی
اتفاق تعلیم هنر چه چا کښې نه وی
په مرض دَ غلامئ کښې به پمن وی
چه مړانه اتفاق اخلاقِ نه وی
که په خوله آزادی غواړی دروغژن وی
آزادی په قربانئ سره موندے شی
ازمی تل پرانه په مخکښې دَ گلشن وی
آزادی هغه ځوان آخلی او ساتی سےَ!
چه نتهے چا په سر باندے کفن وی
نه ویرېږی چه میَن په آزادئ وی
که باران ئے په سینه دَ مشین گن وی
چه دَ قوم په مینه مړشی فخر قوم شی
که هغه دَ پاکستان کابل ختن وی
بختور دَ هغه قوم ځینې کوم قوم دے



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتنانه

چې ئې خپله بادشاهي په خپل وطن وي
خټک ښه ښکاري هغه سالار د قام خپل

چې روانه ورپسې د قام مېلمستن وي
که پښتون چرې راغونډ په یو مرکز شي

یوې ناشي یوئې هم یو چلن وي
بیا حاجت د توپ ټوپک د جهاز نشته

سلامي به موږ ته بیا هر یو دښمن وي
اے پښتونه! که نا خپل ځان آزاد نه کړو

ستا باقي نسل به څول عمر غمجن وي
کېږه سر په تلي، شه کفن په غاړه

که دے خیال د آزادئ د خپل وطن وي
هلالي که دا وطن الله آزاد کړي

پښتانه به خاوندان د خپل وطن وي

---

اے پښتونه دے هنګام د بېدارئ بیا
دے راغلے دوران ستا د سردارئ بیا

هر مغل ته په مېدان کښې ځان شیرشاه که
قدرت واک درکي د ښې شهریارئ بیا

خو که ژوندون دے اتفاق او اتحاد کښې



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالی پښتانه

راغے وخت دَ جرګو دِیښتلو دَ خوارِی بیا
پښتون لوئ قوم دے، عظیم دے ننګیالے دے
خدائے پښتون لره ورکئ تاج دَ واکدارِی بیا
اے پښتونه پوشه، پوشه! هر دښمن ته
ثبوت ورکړه په دُنیا دَ نامدارِی بیا
ستا کوروران دے دښمنو او تښکنو کړو
خپل کور جوړکه په رورئ عزیزدارئ بیا
بدتر بوربه ځائے کښښ اوکړه ملا نړ خپل
رورله ورکه پوزل لاس دَ دلدارِی بیا
لږ خو اوګوره هر قام دے پیئے شکرے
لیونتوب پریږده دے وخت دَ بیدارئ بیا
زَ ژوندون ده یوه لار! دا اتفاق دے
پریږده جهل ګوره خوند دَ هُښیارئ بیا
قام ژوندے په اتفاق دی هلالی تل
قام نه وایه نښے نه دَ واکدارئ بیا

---

الحاج هلالی

۱ ۵/۲۴



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ننګیالي پښتانه

ماوې اے مرشد دا خوب زمونږ ترکومه؟
وے ترڅو چه د پښتون قام بیدار نه شي
ماوې دا زمونږ ذلیل ژوند ون ترکومے؟
وے ځوانان د پښتنو چه هوښیار نه شي
ماوې کله به کاروان د آزادۍ ځي؟
ده وے څو چه شاه ګلي دې تیار نه شي
ماوې څنګ به ترقي پښتانه اوکړي؟
ده وے قام چه د تعلیم طلبګار نه شي
ماوې دا د غلامۍ ژوند ون ترکومے؟
ده وے قام چه آزادۍ له تیار نه شي
ماوې سپک ژوند به زمونږ ختم شي کله؟
ده وے قام چه متحد یو قطار نه شي
ماوې کله به دوران د بنا دے راشي؟
ده وے دا قام چه روان په یو لار نه شي
ماوې دا ژوند د نفاق څنګ دے؟ نو ده وے
زهر زهر که پښتون ترے فلار نه شي
ماوې ښه ورز به پښتون به راشي کله؟
ده وے یو که به عمل په ګفتار نه شي
ماوې څنګه به رڼا په وطن راشي؟



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ننګیالی پښتانه

وے ستا زړه نه لړ دَ جهل چه غبار نه شي
ماوے دا نقلالي پوےکړه چه ژوندئه دے؟
ده وے جګ چه په اخلاق او کردار نه شي

---

اے ځلمیه ستړه ملا

یَو غوغا ده په دنیا　　　　خلق والوت په هوا
په تا شیه په بل صبا　　　　نورتم ستا په بل دنیا
پاسه پاسه هلا لا　　　　ځان له جوړه کړه دنیا

اے ځلمیه ستړه ملا

بدلوی خلق تقدیر　　　　اوکوه نه دَ ځان ویر
دا جهان که خیل جاګیر　　　　په عمل او په تدبیر
ځه میدان ته هواګیر　　　　یو غوغا کړئ په هر ځا

اے ځلمیه ستړه ملا

په نفاق کښې هلاکت　　　　اتفاق کښې برکت
په نفاق کښې دے ذلت　　　　اتفاق کښې دے عزت
اتفاق کښې دے عظمت　　　　دے نفاق کړے رسوا

اے ځلمیه ستړه ملا

راشئ ورکړئ لاس تر لاس　　　　چه زړه وچوی دَ خناس
د نفاق کوز کړئ لباس　　　　دَ توحید تاج په سر باس



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ننګیالی پښتانه

دَ پښتون ولیٔ اساس      بیرغ جګ کړه په هوا

اے ځلمیه ستړه مه شه

زړه نفاق نه کړه خالي      تل دا غږ کړه هلالي

بیدار ځوانو دَ جلالي      ده نفاق کړئ پامالي

توحید شان دے جمالي      دے نفاق کړه رسوا

اے ځلمیه ستړه مه شه

---

اے پښتونه بیا ښکاره که ننګ دَ پښتنو په شان
بیا موټے مضبوط که دَ ننګیالو پښتنو په شان
پرېږده دښمنۍ ترګلې تور په مینه جوړ که بیا
خیل کور ګنبي واکن شه پرېږده ځوند میلمنو په شان
قوم ښیرازه کیږي دَ دورۍ دَ اتفاق په زور
راشه بیا قدم واخله سیالانو ننګیالو په شان
بوٙ شه په یو والی کښې والله چه دَ ځوند مخې دی
ښه استوګنه جوړه کړه ښه کور دَ کورنو په شان
پاسه دَ اخلاق په توره سر دَ نفاق او وهه
لاس ترلاس روان شه په میدان دَ ښاځلمو په شان
وخت دَ امتحان دے هلالي تا ته دا غږ کوي
اے پښتونه ننګ ښکاره که بیا دَ پښتنو په شان



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)